خطباتِ ربانی

از افادات

فصیح اللسان لذیذ البیان

علامہ عبدالحق ربانی صاحب حفظہ اللہ

جلد اول

پسند فرمودہ

قائد انقلاب قرآنی شیخ القرآن والحدیث حضرت

العلامہ مولانا محمد طیب طاہری صاحب

واکابرین اشاعت التوحید والسنہ حفظہم اللہ

مرتب

محمد یعقوب جلسوی عفی عنہ

الناشر دار التوحید والسنۃ

محلہ توحید آباد جلسی، صوابی

رابطہ نمبر: 0315-9487699

خطباتِ ربانی

از افادات

فصیح اللسان لذیذ البیان

علامہ عبدالحق ربانی صاحب حفظہ اللہ

جلد اول

پسند فرمودہ

[illegible] شیخ القرآن والحدیث حضرت

العلامہ مولانا محمد طیب طاہری صاحب

و اکابرین اشاعۃ التوحید والسنۃ حفظہم اللہ

مرتب

محمد یعقوب جلسوی عفی عنہ

الناشر دار التوحید والسنۃ

محلہ توحید آباد، جلسی، صوابی

رابطہ نمبر: 0315-9487699

وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ (سورة يس: 17)

جَمِيعُ الْحُقُوقِ مَحْفُوظَةٌ لِلنَّاشِرِ

دَ کتاب نوم : **خطباتِ ربّاني**

از افادات : فصيح اللسان لذيذ البيان علّامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

مرتب : محمد يعقوب جلسوي عفي عنه

کمپوزنک وستينک : ابو عبد الله ضياءالرحمٰن الحنفّي (مردان)

جلد نمبر : اول

صفحات : 449

طبع : اول 2020ء بمطابق : ۱٤٤۲ھ

استاکسٹ

دارُ التَّوحِيْدِ والسُّنَّه (محلّه تُوحيد آباد، جَلسيء، صَوابي) [رابطه نمبر: 0315-9487699]

دَ ميلاويدو نور ځايونه

1- اسلامي کتب خانه عبد الرحمن پلازه، صوابي

2- مکتبه حسينيه شيوه اده، صوابي

د مضامينو فهرست

صفحه		مضمون

پيش لفظ........ 1
تقريظ........ 5
تقريظ........ 6
تقريظ........ 7
تقريظ........ 9
عاجزانه درخواست........ 11

عذاب قبر.... 13

امام نووي رحمه الله ليکلي دي........ 14
امام بخاري رحمه الله باب قائموي........ 18
امام بخاري رحمه الله بل باب قائموي........ 18
بعضي خلق عقل جلوي........ 19
د مکي د مشرکانو عقيده........ 19
د عذابِ قبر باره کښي د علماء کرامو اقوال........ 20
(1) علامه ابن کثير رحمه الله ليکي........ 20
(2) علامه نيشاپوري رحمه الله ليکي........ 20
(3) امام رازي رحمه الله ليکي........ 20
(4) علامه قاضي بيضاوي رحمه الله ليکي........ 21
(5) علامه خازن رحمه الله ليکي........ 21
(6) علامه ابو البرکات النسفي الحنفي رحمه الله ليکي........ 21
(7) علامه طبري رحمه الله ليکي........ 21
(8) علامه قرطبي رحمه الله ليکي........ 21
(9) علامه آلوسي رحمه الله ليکي........ 22
(10) علامه ابن جزئ رحمه الله ليکي........ 22
(11) امام ابو بکر جصّاص رحمه الله ليکي........ 22
علامه ابن ابي العز حنفي رحمه الله ليکي........ 23
احاديثِ مبارکه د عذابِ قبر باره کښي........ 24
(1) اول راويت........ 24
(2) دويم روايت........ 25
په دي حديث کښي چند خبري دي........ 26
مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله ليکلي دي........ 27

دویمه خبره یوه غلطه نظریه 27
اصل خبره دا ده 27
(3) دریم روایت 28
(4) څلورم روایت 29
(5) پنځم روایت 29
د سیدنا عثمان ﷺ حالت د قبر تیریدو په وخت کښې 30
واقعه 31
(6) شپږم روایت 31
(7) اووم روایت 33
(8) اتم روایت: 35
(9) نهم روایت 36

زنا ګناه کبیره ده.... 38

د اسلام د راتلو نه مخکښې زنا قبیح عمل وو 39
د سیدنا عثمان بن عفان ﷺ واقعه 39
قرآن کریم کښې د زنا مذمت 39
د مؤمنانو صفت 40
شیخ عبد القادر جیلاني ﷫ لیکي: 41
د مؤمنانو دویم صفت 41
د دریو وجونه د مسلمان وژل جائز دي 42
د دوو کسانو واقعه 42
د امام شافعي ﷫ مسلک 43
د امام ابو حنیفه ﷫ مسلک 43
د مؤمنانو دریم صفت 44
د زنا باره کښې احادیث 44
(1) اول روایت 44
واقعه 45
د سزا طریقه 46
دویمه طریقه 46
(2) دویم روایت 46
(3) دریم روایت 47
یو سوال او د هغې جواب 47
(4) څلورم روایت 47
(5) پنځم روایت 49

(6) شپږم روايت 50
د کاونډي دَ حق په باره کښې د نبي ﷺ فرمان 50
(7) اُووم روايت 51
واقعه 52
د مکحول دمشقي رحمه الله قول 53
امام ذهبي رحمه الله "کتاب الکبائر" کښې ليکي 53
فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله ليکي 54
واقعه 55
دامام ذهبي رحمه الله قول 56
(8) اَتم روايت 56
(9) نهم روايت 56
(10) لَسم روايت 57

سود ګناه کبيره ده.... 60

د تفسير معالم التنزيل معنٰى 61
امام ذهبي رحمه الله ليکلي دي 61
سزا ورته الله ولې ورکوي؟ 62
د حرام مال باره کښې د نبي ﷺ فرمان 62
توبې نه پس بيا سود کول 63
سود خور باندې پنځه دفعې 63
(1) اول روايت 64
د سود تعريف 65
شريعت کښې د سود تعريف 65
نبي ﷺ شپږ خيزونه ښودلي دي 65
(2) دويم روايت 66
مسئله 66
مسئله 67
(3) دريم روايت 68
(4) څلورم روايت 69
(5) پنځم روايت 72
(6) شپږم روايت 72
(7) اووم روايت 73
(8) اَتم روايت 74
مسئله زده کول او په هغې عمل کول 74

مسلمان چاته وائي؟ 74
(9) نهم روایت 75
(10) لسم روایت 76
(11) يولسم روایت 77
دَ سیدنا عمر ﷺ قول 77
د سیدنا عبد الله ﷺ دغسې قول 77
د سیدنا علي ﷺ قول 77
د حرام مال سزا 78
د سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ واقعه 78
د سود نمونې 79
ګانړه څۀ ته وائي؟ 80

شراب څکل ګناه کبیره ده 82

په ابتداء د اسلام کښې شراب څکل جائز وو 83
د يو صحابي واقعه 84
د شرابو باره کښې دویم حکم 84
د سیدنا عمر ﷺ واقعه 85
د شرابو باره کښې دریم حکم 85
د شیطان کار 86
یوسف بن اسباط ﷺ وائي 87
د صحابو ﷺ ایمان 87
احادیث مبارکه 88
(1) اول روایت 88
(2) دویم روایت 89
(3) دریم روایت 89
(4) څلورم روایت 90
(5) پنځم روایت 92
(6) شپږم روایت 92
(7) اووم روایت 93
(8) اتم روایت 94
يو صحابي ته نصحت 94
واقعه 95
(9) نهم روایت 96
(10) لسم روایت 97

(11) يوولسم روايت 98
امام ذهبي رحمه الله يو واقعه ذكر كوي 98
د نن دُور د ځوانانو حالت 101
د ځوانۍ باره کښې د نبي ﷺ فرمان 101

په قيامت کښې ارمان.... 104

د قرآن كريم مثال 105
د قرآن كريم باره کښې د نبي ﷺ فرمان 106
قرآن كريم پېريانو کښې انقلاب راوستے دے 106
د انسان پيدائش او د الله مشوره 106
د علماؤ قول 107
ملائک خو عالم الغيب نه دي 107
د جماعت اشاعت التوحيد والسنه عقيده 108
انبياء عليهم السلام عالم الغيب نه دي 108
امام الانبياء محمد ﷺ عالم الغيب نه دے 109
اولياء كرام عالم الغيب نه دي 109
چې خلق ئې را مدد كوي د هغوي حال 110
د ملائكو مشوره 111
قرآن كريم د دريو كسانو ارمان ذكر كړے دے 112
(1) يو ارمان د كافرانو 112
(2) دويم ارمان د نبي ﷺ د تابعدارۍ نه كونكو 113
علماء كرام مختلف معاني كوي 114
ناكاره ملگرے سړے گمراه كوي 116
د دنيا باره کښې د نبي ﷺ فرمان 117
د دې آيت باره کښې اقوال 119
د سهل بن عبد الله قول 119
(3) دريم ارمان چې كوم سړي قرآن باندې عمل نه دے كړے 120
د قيامت په ورځ د نبي ﷺ شكايت 121
د قرآن پرېښودل دوه قسمه دي 121
(1) اول قسم پرېښودل 121
(2) دويم قسم پرېښودل 122
مؤمنانو ته خطاب 122
د مسلمانانو د قرآن كريم نه غفلت 122

سحر او جادو.... 125

د سحر او جادو اولنے ایجاد 126
د سحر تعریف........ 126
د سحر نه انکار 127
د علامه بغوي رحمه الله قول........ 127
مثالونه........ 127
د اهل السنت والجماعت مسلک 128
د سلیمان علیه السلام زمانه........ 128
د ساحر حکم 130
د امام ابو حنیفه رحمه الله مذهب........ 130
د ابو بکر جصاص رحمه الله قول 130
د حسن بصري رحمه الله قول 131
پیریان د سرکش انسان تابع وي........ 133
صحیح دم 133
(1) د سیدنا انس رضي الله عنه روایت 134
(2) د سیده عائشه رضي الله عنها روایت 134
(3) د امّ سلمٰی رضي الله عنها روایت 134
(4) د سیدنا عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روایت 135
د ملا علي قاري رحمه الله قول:........ 137
تارونه دمول........ 137
د امام مالک رحمه الله قول........ 139
د امام مسیب رحمه الله قول........ 139
د امام ضحاک رحمه الله قول 139
امام منذري رحمه الله قول 140
رسول الله ﷺ باندې د سحر اثر........ 140
نبي علیه السلام عالم الغیب نه دے........ 142
سیدنا ابو بکر صدیق رضي الله عنه عالم الغیب نه دے 142
اوس ستا نه تپوس کوم!!!........ 143
د زنانو عمل........ 143
د خلقو خراب عقائد........ 145
د عمران بن حصین رضي الله عنه روایت 145
د سیدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنه روایت 146
خلاصه دا ده 147

د سیدنا قتاده ؒ قول 147
د ستورو درې فائدې 147
د زمیندارو عقیده 148

نبی ﷺ سره د صحابو مینه 151

د نبي ﷺ سره د صحابو محبت 152
د نبي ﷺ فرمان 154
د نبي ﷺ سره د محبت فائده 154
نبي ﷺ ته د قیامت باره کښې تپوس 155
نبي ﷺ سره د سیدنا ابو ذر غفاري ؓ محبت 155
د سیدنا طلحه بن براء ؓ محبت 156
د عبد الله بن خزافه ؓ محبت د نبي ﷺ سره 158
د کعب بن عجره ؓ محبت د نبي ﷺ سره 159
د سیدنا علي ؓ محبت د نبي ﷺ سره 161
د یو صحابي واقعه 162
د سیدنا ابو بکر صدیق ؓ محبت د نبي ﷺ سره 162
د سیدنا عمر فاروق ؓ محبت د نبي ﷺ سره 163
د ترمذي روایت 164
د براء بن عازب ؓ واقعه 164

د ګاونډي حقوق 167

مسلمان رشته دار ګاونډي 167
مسلمان ګاونډي 168
کافر ګاونډي 169
د سیدنا عبد الله بن عباس ؓ قول 170
د ګاونډي د حقوقو باره کښې احادیث مبارکه 173
(1) اول روایت 173
(2) دویم روایت 174
د نبي ﷺ او د صحابه کرامو د اخلاقو اثرات 175
(3) دریم روایت 177
(4) څلورم روایت 178
مؤمن چا ته وائي؟ 178
مسلمان چا ته وائي؟ 178
مهاجر چا ته وائي؟ 179

(5) پنځم روایت 179
(6) شپږم روایت 181
(7) اووم روایت 181
(8) آتم روایت 181
(9) نهم روایت 182
(10) لسم روایت 183

داولاد تربیت.... 186

د الله رب العزت تقسیم 187
د دور جاهلیت حالت 188
د لور د تربیت باره کښې د نبي ﷺ فرمان 188
د سیده فاطمة الزهراء ﷺ باره کښې د نبي ﷺ فرمان 189
علامه قرطبي لیکي دي 190
د بچي پیدائش او د اسلام طریقه 191
د بچي سنت کښې خلقو له دعوت ورکول 192
د بچي په مور پلار حقوق 193
سیدنا عمر ﷺ سره د یو سړي ملاقات 193
د یو عالم قول 196

قطع تعلق.... 199

د مسلمانانو صفت 200
د صبر مقام 201
نبي ﷺ ته د الله حکم 201
دَ ﴿وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ﴾ تفسیر 201
د علماؤ اقوال 202
(1) یو روایت 203
(2) دویم روایت 203
(3) دریم روایت 203
د سیدنا انس ﷺ روایت 205
د نبي ﷺ فرمان مبارک 205
د سیدنا ابو ایوب انصاري ﷺ روایت 207
نبي ﷺ ددي علاج ښائي 207
د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت 208
د نبي ﷺ فرمان مبارک 208

د سیدنا ابن عباس ﷺ روایت 209
د سیدنا ابو خراش ﷺ روایت 210
د نبي ﷺ صحابو کرامو ته بیان 210
د سیدنا جابر ﷺ روایت 211
د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت 212
د درېو کسان باره کښې د نبي ﷺ فرمان 212
د درېو کسانو اعمال بره نهٔ خیژي 214

د صحابه کرامو حالات... 217

زمونږ او ستاسو د پیدائش مقصد 218
اصل ترقي د ایمان 219
د الله رب العزت اعلان 219
د صحابه کرامو ﷺ ایمان زمونږ د ایمان د پاره معیار 220
صحابه کرامو ﷺ نه الله ولې راضي دے؟ 220
د سیدنا نعمان بن بشیر ﷺ روایت 220
د سیدنا نعمان بن بشیر ﷺ بل روایت 221
د سیدنا عمر ﷺ قول 221
د سیده عائشې ﷺ روایت 221
بل روایت 222
د نبي ﷺ دعا 222
د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت 223
د سیده عائشې ﷺ وینا 224
د سیدنا ابو طلحه ﷺ روایت 225
د سیده عائشې ﷺ وینا 227
د أمّ سُلیم ﷺ نبي ﷺ ته شکایت 229
د سیدنا ابو هریره ﷺ د لوږې حالت 229
د ابو هریره ﷺ د لوږې دویم حالت 231
د ابن ابي الدنیا روایت 232

د جنت نعمتونه.... 239

(1) اول روایت 241
کامل بشارت 242
په جنت کښې څلور قسمه نهرونه 243
واقعه 244

د سپي ساتل 307
د سپي ساتلو ځائے 308
د سیدنا ابن عمر ﷺ روایت 308
د ضرورت والا تصویران 309
فضول تصویران 310
د تصویرانو شوق 310
د حیاء باره کښې د نبي ﷺ فرمان 311
د مسلمان صفت 311
خبل خواهشات پرېښودل 312
تصویر لیستونکو له سخته سزا 313
د سیدنا ابن عباس ﷺ روایت 314
مذکوره حدیث مبارک یَو اهمه خبره 315
د علماء کرامو فتوٰی 315
د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت 316
د سیدنا ابن عباس ﷺ خواته د یَو سړي راتلل 316
د سیدنا ابن عباس ﷺ بل روایت 317
تصویر او اُوچت قبر ختمول 318
د تصویر ساتلو گناه ده 319

دقرآن کریم مقام.... 322

د نبي ﷺ یَو صحابي ته نصیحت 324
د قرآن کریم د لوستلو او د عمل فائده 324
د قرآن کریم یَو حرف لوستلو باندې لَس نیکۍ 325
د قرآن کریم یَو آیت د یَوې اُوښې نه بهتر 325
قرآن کریم نیغه لار ده 326
د کافرانو صفت 328
د منافقانو صفت 328
د مسلمانانو صفت 329
د مکې د مشرکانو جګړه 329
د مشرکانو حالت 330
د الله رب العزت نبي ﷺ ته خطاب 331
د الله د طرف نه حفاظت 332
ستا آواز 333
د الله د حکم مثال 333

په هر څه کښې د نبي ﷺ تابعداري 334

د قبر پخول حرام دي... 338

د قبر پخول منع شول ولې؟ 340
احاديث مباركه 342
ددې وجه څه ده؟ 342
مقبرې ته د تلو مقصد 343
سوال 344
جواب 344
د سيدنا عثمان بن عفان ﷺ حالت 345
(2) دويمه وجه د قبر د نه پخولو 346
أوس فائده به کله ميلاو يږي؟ 347
(3) دريم وجه د قبر نه پخولو 348
د سيدنا جابر ﷺ روايت 350
د قبر شرعي مقدار 351
أقوال الفقهاء بمنع تجصيص القبور والأمر بهدمها 352
(1) امام نووي ﷫ ليکلي دي 352
(2) امام محمد ﷫ ليکلي دي 353
قبر سُنّي 354
(3) امام حلبي الحنفي ﷫ ليکي 354
(4) امام قاضي خان الحنفي ﷫ ليکي 354
(5) حافظ ابن الهُمام الحنفي ﷫ ليکلي دي 355
(6) فتاوى عالمکيري کښې ئې ليکلي دي 355
(7) علامه ابن العابدين الحنفي ﷫ ليکلي دي 356
(8) قاضي ثناء الله باني پتي ﷫ ليکلي دي 356
(9) امام ابن حجر مکي الشافعي ﷫ ليکلي دي 358
(10) مُلّا علي القاري الحنفي ﷫ ليکلي دي 358
مسئله 358
(11) علامه آلوسي الحنفي ﷫ ليکلي دي 359
(12) علامه ابن القيم الحنبلي ﷫ ليکلي دي 361

سلام اچول سنت دي... 364

د سلام فضيلت 366
تنبيه 368

آداب او طریقه د عیادت د مریض 370
د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت........ 374
د سیدنا عبد الله بن سلام ﷺ روایت 376
د طفیل بن أبيّ بن کعب ﷺ روایت 379
آداب د سلام او د هغې د کولو طریقه........ 380
د عمران بن حصین ﷺ روایت 382
د سیده عائشې ﷺ روایت........ 382
د صحابي نبي ﷺ ته لږ وخت درې کرتې سلام کول او د هغوي جواب ورکول........ 386
سلام به په څه بانديې اچوې؟........ 388

د کامیابۍ لار... 394

د قارون واقعه........ 396
د فرعون واقعه........ 397
د نمرود واقعه 397
په نسب سړے نۀ خلاصیږي 397
د نوح ﷺ د زوې واقعه........ 397
د لوط ﷺ د بي بي واقعه 398
د عادیانو او ثمودیانو حالت 399
د قیامت په ورځ د پنځو خبرو باره کښې تپوس 399
د یو عالم باره کښې شکایت........ 401
د یو عالم مقوله 402
د تاوان نه د بچ کیدو لار 403
ایمان څۀ ته وائي؟........ 403
د سیدنا ابو الدرداء ﷺ حالت 406
د دُنیا باره کښې د نبي ﷺ فرمان مبارک 406
عمل صالح څۀ ته وائي؟........ 409
د قاضي بیضاوي ﷫ قول........ 409
د امام شافعي ﷫ قول 410
د ښۀ او بد ملګري مثال........ 411
د لقمان حکیم ﷫ خپل بچي ته نصیحت........ 412

د قرآن کریم نه د مخ اړولو سزا.... 414

د نبي ﷺ فرمان مبارک 415
د نبي ﷺ د قرآن کریم لوستل 416

قرآن كريم پربښودل 417
د سيدنا عمر فاروق ﷺ واقعه 418
د صحابه كرامو حالت 419
د قرآن پيغام خلقو ته رسول 421
نجاشي بادشاه كښې د قرآن كريم د وجې نه انقلاب 422
د دُنيا مثال 427
پنځۀ څيزونه غنيمت مڼكښې د پنځو نه 427
(2) دويمه معنى: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ 429
(3) دريمه معنى: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ 430

قرآن کریم پرېښودل 417
د سیدنا عمر فاروق ﷺ واقعه 418
د صحابه کرامو حالت 419
د قرآن پیغام خلقو ته رسول 421
نجاشي بادشاه کښې د قرآن کریم د وجې نه انقلاب 422
د دُنیا مثال 427
ښځهٔ خیزونه غنیمت محکښي د ښځو نه 427
(2) دویمه معنی: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ 429
(3) دریمه معنی: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾ 430

بسم الله الرحمن الرحيم

پيش لفظ

الحمد لله الذي خلق الإنسان علمه البيان، والصلاة والسلام على رسوله المبعوث إلى الإنس والجان.

أما بعد! •

زۀ بنده عاجز پۀ 2003ء کښې پۀ مسجد عمر فاروق رضي الله عنه ضلع صوابي، تحصيل چهوټا لاهور، جلسئ کلي کښې پيش امام او خطيب مقرر شوم.

نو دَ جمعة المباركة پۀ ورځ دَ تقرير اوريدلو دپاره به ډير زيات خلق را تلل نو ما دَ عوامو دَ اصلاح دپاره به هر جمعه باندې مستقل پۀ يَو موضوع بيان کوو.

خو هغه بيان به صرف هغه چا اوريدو چه کوم کسان به حاضر وو، ځکه خاص انتظام دَ ريکارډ کولو نۀ وو.

بيا څۀ وخت بعد زمونږه خوږ وروړ جناب حکيم اسد الله صاحب (ساکن تورډهير) چه هغه وخت کښې دَ هغۀ دَ اسلامي کيسټو دوکان وو، هرې جمعې ته به راتلو او هغه بيان به ئې پۀ کيسټ کښې ريکارډ کولو، نو کوم کسان چې رارسيدے نۀ شو هغوي به دَ کيسټو نه استفاده کوله، تردې چې دَ کيسټو دَ بيانونو کافي ذخيره جناب اسد الله صاحب سره جمع شوه، بيا هغۀ ځپله او جناب انور شير صاحب (صوابي، مانيري) هغه بيانونه ميموري کارډ ته واړول نوره هم آسانه شوه او فائده ئې زياته شوه بيا ډيرو ملګرو ځان دپاره دَ کيسټونه بيانونه جمع کول او د هغې نه به ئې جمعه کښې بيانونه کول.

نو هر يَو تن ته دغه کار ګران وو نو څۀ ملګرو دا مطالبه شروع کړه چه دې

خطباتو ته کتابي شکل ورکړے شي نو دا به ډېر ښه او فائده به نوره هم زياته شي.
خو دَ زياتو مصروفياتو دَ وجې ما دغه کار نۀ شو کولے، نو ډېرو ملګرو زما نه اجازت اوغوښتو چه هغوي به ئې را جمع کړي، خو ما هغوي ته اجازت ور نۀ کړو؛ ځکه زما خيال دا وو چه خطبات ډېر زيات چهاپ شوي دي زما دَ خطباتو ته ضرورت نشته؛ ځکه زمونږ علم او تجربه ډېره کمزورې ده پۀ نسبت دَ هغوي.

خو زمونږ برادر محترم طالب العلم محمد يعقوب جلسوي صاحب پۀ خپل شوق سره يَو جلد را جمع کړےوو، نو ما ته ئې اوخودو او مطالبه دَ چهاپ کولو ئې کوله نو ما دَ هغۀ کړاؤ او محنت ته اوکتل نو زۀ خفه شوم او دَ هغۀ دَ زړۀ دپاره مې هغۀ ته دَ چهاپ کولو اجازت ورکړو؛ ځکه ډېر تکليف ئې برداشت کړے وو.

اګر چه بيانونو کښې دَ ترتيب لحاظ نۀ دے ساتلے شوے، بهتره دا وه چې اول عقيده بيا رد بدعاتو بيا مونځ، زکوٰة، روژه او حج وغيره او اوامر او نواهي وو. خو اميد دے پۀ باقي جلدونو کښې دَ ترتيب لحاظ وساتلے شي.

ما عاجز خو دَ خپل وس او علم مطابق دَ موضوعي او منکرت رواياتو او قصو نه اجتناب او ډډه کړې ده.

البته! کۀ بعض روايات سندًا ضعيف به پکښې وي خو -إن شاء الله- ضعف شديد به نۀ وي چه دَ هغې بيانول بالکل جائز نه وي. او محدثين ذکر کوي چه فضائلو کښې ضعيف حديث پۀ خو شرائطو سره بيانول جائز دي.

لکه امام نووي او امام سيوطي رحمهما الله ذکرکوي:

(ويجوز عند أهل الحديث وغيرهم التساهل في الأسانيد) الضعيفة (ورواية ما سوى الموضوع من الضعيف والعمل به من غير بيان ضعفه في غير صفات الله تعالى)، وما يجوز ويستحيل عليه، وتفسير كلامه، (والأحكام كالحلال والحرام)

وغيرهما، وذلك كالقصص وفضائل الأعمال والمواعظ، وغيرها (مما لا تعلق له بالعقائد والأحكام). في الحلال والحرام شددنا، وإذا روينا في الفضائل ونحوها تساهلنا.

تنبيه: لم يذكر ابن الصلاح والمصنف هنا، وفي سائر كتبه لما ذكر سوى هذا الشرط، وهو كونه في الفضائل ونحوها، وذكر شيخ الإسلام له ثلاثة شروط:

أحدها: أن يكون الضعف غير شديد، فيخرج من انفرد من الكذابين والمتهمين بالكذب، ومن فحش غلطه، نقل العلائي الاتفاق عليه.

الثاني: أن يندرج تحت أصل معمول به.

الثالث: أن لا يعتقد عند العمل به ثبوته، بل يعتقد الاحتياط.[1]

دارنگه امام ابو عمرو عثمان بن عبد الرحمن الشهرزوري المتوفی: (643هـ) ليکي:

يجوز عند أهل الحديث وغيرهم التساهل في الأسانيد ورواية ما سوى الموضوع من أنواع الأحاديث الضعيفة من غير اهتمام ببيان ضعفها فيما سوى صفات الله تعالى وأحكام الشريعة من الحلال والحرام وغيرها. وذلك كالمواعظ، والقصص، وفضائل الأعمال، وسائر فنون الترغيب والترهيب، وسائر ما لا تعلق له بالأحكام والعقائد. وممن روينا عنه التنصيص على التساهل في نحو ذلك عبد الرحمن بن مهدي، وأحمد بن حنبل رضي الله عنهما.[2]

او لاندې په حاشيه باندې ليکي:

قال الزركشي في النكت (245-246) إن الضعيف لا يحتج به في العقائد والأحكام، ويجوز روايته، والعمل به في غير ذلك: كالقصص، وفضائل الأعمال،

(1) [تدريب الراوي: 263-264، طبع: قديمي كتب خانه كراتشي].

(2) [مقدمة ابن الصلاح: 134، طبع: دار الحديث القاهره].

والترغيب والترهيب. ونقل ذلك عن ابن مهدي وأحمد بن حنبل. وروى البيهقي في المدخل: عن عبد الرحمن ابن مهدي أنه قال: إذا روينا عن النبي ﷺ في الحلال والحرام والأحكام شددنا في الأسانيد، وانتقدنا في الرجال، وإذا روينا في فضائل الأعمال، والثواب، والعقاب، سهلنا في الأسانيد، وتسامحنا في الرجال.[1]

دغه شان ډيرو كتابونو ليكلي دي خو مونږه پهٔ دې اكتفاء كوو.

ليكن بيا هم چونكه دَ بيان انداز جُدا وي او دَ كتابت انداز جدا وي. كهٔ معنى كښې تقديم وتاخير شوے وي يا يَوه خبره غير مناسبه وي نو ملګري دَ هغې نه تسامح كوئ، او كهٔ غلطه خبره وي نو دَ هغې خبر را كړئ چه آئنده كښې ئې ترينه لرې كړو. ستاسو به ډيره ډيره مننه وي.

آخر كښې زهٔ ډيره شكريه اداء كوم دَ هغه ټولو ملګرو چه دا بيانونه ئې محفوظ كړي وو، خصوصًا دَ جناب حكيم اسد الله صاحب (ساكن تورډهير)، او دَ مرتب طالب العلم جناب محمد يعقوب جلسوي صاحب او دَ نورو ملګرو چه دَ هغوي دغه اَرمان او مطالبه وه چه دا دې كتابي شكل كښې را جمع كړے شي. الله رب العزت دې ټولو ته اجر عظيم وركړي.

او الله رب العزت دې دا بيانونه زما دپاره، زما دَ والدينو، اُستاذانو او مشائخو دپاره صدقه جاريه اوګرځوي. —آمين يا رب العالمين—

احقر العباد عبد الحق ربّاني

حالًا نزيل جلسيء، صوابي

30/09/2020

(1) [حاشية مقدمة ابن الصلاح: 134، طبع: دار الحديث القاهره].

تقریظ

قائد انقلاب قرآني، شيخ المشائخ

شيخ القرآن والحديث علامه **محمد طيب طاهري** صاحب حفظه الله ورعاه

الحمد لله الذي لم يتخذ ولدا ولم يكن له شريك فی الملك ولم يكن له صاحبه، والصلاة والسلام على من أرسل بالبينات والهدى.

أما بعد!

دَ محترم مولوي عبد الحق صاحب دَ "خطباتِ رباني" چه مولوي محمد يعقوب صاحب ليکلي دي، بعض ځايونه ما اوکتل دَ عام اولس دپاره ډير مفيد او سود مند ښکاري، او ددے دَ شائع کولو به عام خلقو ته ډيره فائده اورسي -إن شاء الله- محترم مولوي عبد الحق صاحب يَو ډير خوش اخلاقه، مخلص، ديندار او با ادبه عالم دے، او قول ئے دَ فعل سره تر دا ساعته برابر دے. دعاکو يم چه الله تعالى دے هميشه دغه شان استقامت او ديندارى نصيب کړي. آمين ثم آمين! او الله تعالى دے مرتّب دَ خطباتو ته اجر عظيم ورکړي. آمين!

احقر طيب طاهري عفي عنه

29-09-2020

تقریظ

مفتی اعظم پاکستان، شیخ القرآن والحدیث علامه مفتی **سراج الدین** صاحب حفظه الله ورعاه

حامدًا ومصلّیًا:

أما بعد!

ما څۀ مواضع دَ "خطباتِ ربّاني" په نوم اوکتل دَ وعظ ونصیحت په باب کښې بهترینه مجموعه ده. ما څو بیانونه هم دَ مولانا عبد الحق ربّاني صاحب اوریدلي دي دَ اخلاص نه ډک بیانونه دي. باري تعالی دِ دغه مجموعه دَ عوامو او طلباؤ دپاره ډیره مفیده اوګرځوي، او دَ مؤلف په صدقاتِ جاریه او اعمالِ صالحه کښې دَ اضافې ذریعه اوګرځوي. آمین یا رب العالمین.

احقر سراج الدین

تقریظ

متكلم اسلام، شيخ القرآن والحديث علامه امداد الحق صاحب حفظه الله ورعاه

الحمد لله مولى النعم، ومُعطى النغم، والصلاة والسلام على صاحب جوامع الكلم!

دَ ژبے فصاحت وبلاغت او دَ مضمون افادیت او سلاست دَ الله دَ طرفه هغه ورکړه ده چه بختورو ته ملاویږي، دَ آواز حلاوت او دَ مضمون جدّت او دَ معلوماتو زیادت او دَ دلائلو وسعت دَ یَو عالِمِ دین دَ خائسته علم بنګله او زینت ګڼړلے شي، دَ دین دَ اهمیت نه خبر شخصیات او دیني طالبعلمان دا ضرورت محسوسوي چه خطباتو، مواعظو او بیاناتو کښې دِ مهارت تر لاسه کړي، بیا دَ بعض مواضعو او خصوصا دَ جمعے دَ ورځے داسے بیانات چه دَ عوامو دَ اصلاح ذریعه جوړه شي، دَ خطیب دَ زړهٔ آواز دَ وخت ضرورت او دَ یَو مخلص مسلمان دَ زړهٔ دَ کومي آواز دے، دا دَ زړهٔ او دَ روح دَ پاکئ او دَ پاکے معاشرے دَ وجود اسبابو کښې اهم سبب دے.

نن صبا مارکیټ کښې پهٔ هره ژبه دَ خطباتو کافي ذخیره موجود ده، لیکن دَ کمّیت اضافے سره سره دَ کیفیّت پهٔ معیار ډیر خطبات برابر نهٔ دي. دَ داسے خطباتو ضرورت محسوس کیږي چې بے سنده قصّے او واقعاتو او دَ بے فائدے لطیفو نه پکښې احتراز شوے وي، فضول بهرتي پکښې نه وي، کمزوري او موضوعي روایات او ما وئیلي تا وئیلي نه محفوظ وي. ان شاء الله دَ محترم مولانا عبد

الحق ربّاني "خطباتِ ربّاني" به دَ قاري دغه تنده ماته کړي. دَ هغوي کړاؤ او سترے قابلِ تحسين وآفرين دے، داسے متوازن خطباتو سره دَ ذهن غوټے پرانستلے شي، او دَ کُل غوټۍ اوسپړدلے شي، دَ دوي دَ خطباتو کافي حصه زما دَ نظره تيره شوه، دَ عام کتونکو او اوريدونکو دَ ذهني سطح سره خۀ برابر او توله روان دے. قدر مند به ئے دَ استفادے نه پس افاديت او اهميت خۀ محسوس کړي، انداز ئے نا اشنا او زړۀ پورے دے، کۀ عام کچه خطيبان دَ عدمِ فرصت دَ وجے دَ جُمعے خطبه نۀ شي مرتب کولے دا به ورله يَوه آسانه، خوږه او ترسخونه نوړۍ شي.

دَ فضائلو دَ بيان ميدان کښې يَو نيم ضعيف حديث نه دَ جمهورو محدثينو پۀ نزد تسامح کيدے شي.

دَ يَو کامياب خطيب دغه ذمه داري وي چې دغسے فکر انگيز نصيحت سره معاشره کښې دَ هر منکر نشاندهي اوکړي. هيله لرم چه آئنده وخت کښې دَ اوسني دور دَ علمي فتنو ترديد به پۀ وسيع پيمانه او خکلي انداز دَ الله پۀ توفيق کوي.

الله دِ دَ مولانا صاحب مدظله پۀ اخلاص واستخلاص سره کړے دا خدمت خپل دربار کښې قبول او منظور کړي، او دَ دوي ژبه، علم، قلم، آواز، سوز، قدم، فهم او فصاحت کښې دِ الله نوره ترقي هم پيدا کړي. وما ذلك على الله بعزيز.

كتبه

امداد الحق أدامه الله على الحق

9ستمبر 2020

تقريظ

ماهر الفنون، مناظر اسلام، مولانا مفتي ابوصفوان صديق اكبر صاحب حفظ الله ورعاه

دَ بهترين عالم دين فصيح اللسان لذيذ البيان غلام حبيب ثاني حضرت العلامه مولانا عبد الحق ربّاني حفظه الله ورعاه ډير قيمتي خطبات وبيانات زمونږه محترم او ډير ګران قدر مند ورور طالب العلم محمد يعقوب جلسوي صاحب په ډير محنت او کړاؤ سره راجمع کړي وو، ما فقير ته ئې حکم اوکړو چې په دې تقريظ اوکړه. نو زۀ به څۀ يم او څۀ به زما تقريظ وي! او بيا دَ ربّاني صاحب په خطباتو باندې خو تقريظ کول داسې دي لکه دَ نمر مخښې ته ډيوه بلول! خو دا دَ مؤلف حُسنِ ظن دے.

بهر حال دا خطبات او بيانات را جمع کول يَو اهم کار وو؛ ځکه علماء کرام او طلباء عظام هر دور او زمانه کښې دا ذمه داري لري چې عوامو ورونړو ته دَ قرآن او سنت په رڼرا کښې په مختلف موضوعاتو او عنواناتو باندې بيانات اوکړي.

علامه ابن عابدين المعروف بـ "الشامي" فرمائي:

التَّذكير على المنابر للوعظ والاتعاظ سنَّةُ الأنبياءِ والمرسلينَ.[1]

او قرآن کريم کښې هم الله رب العزت محمد رسول الله ﷺ ته فرمائي: ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ﴾.[2]

معلومه شوه دَ قرآن دَ نزول او دَ بعثتِ رسول مقصد او هدف بيان وو. خو په هر کتاب کښې دَ هرې موضوع مواد يکجا او غونډ نۀ وي، بلکه موضوع منتشره او خوره وره وي، او راغونډول ئې ډير مشکل وي. دَ محمد يعقوب صاحب دَ محنت دَ وجې به خطيبانو او مقررينو طلباء کرامو ته ډير سهولت او آسانتيا ملاؤ شي. چې په هره موضوع به ورته مستقل مواد مخښې ته راشي.

مثل النهار يزيد أبصار الورى نوراً ويعمي أعين الخفاش

---

(1) [در مختار مع الشامي: 372/5، قبيل إحياء الموات].

(2) [سورة النحل: 44].

اکثر بیانات ما اوکتل تقریبا هر یَو بیان کښې حُسن انتظام دے؛ ځکه هر یَو بیان پهٔ خطبه، تمهید، مقصود او خاتمه باندې مشتمل دے. او دا دَ کامیاب او حاذق خطیب علامه او نښه ده، چې خامخا به ددهٔ بیان پهٔ دې څلورو اجزاؤ باندې مشتمل وي، علاوه لا دا چې هر بیان کښې دَ سُخن شناسي، مردم شناسي او وقت شناسي لحاظ شوے دے.

او -ما شاء الله- دَ کوم خطیب صاحب خطبات چې یعقوب صاحب را جمع کړي دي، نو هغه هم یَو بهترین مایه ناز محقق عالم دین دے. او ښکار هم دا ده چې مقرر به ښهٔ عالم وي. چلاسي بابا فرمائي:

مقرر را از سر منبر باندازکه مقام امر ربانی نه داند

مسند الهند شاه ولي الله رحمه الله فرمائي:

فأما المذكِّر فلابد أن يكون مكلّفا عدلاً محدِّثًا مفسّرًا عالماً بجملةٍ دافيةٍ من أخبار السلف الصالحين وسيرتهم.[1]

الله رب العزت دې ربّاني صاحب او مؤلف محمد یعقوب صاحب له پهٔ دې عظیمه قربانۍ اجر جزیل او ثواب جمیل ورکړي! او الله دې دې خطباتو له قبولیتِ عامّه ورکړي! چې عوام او خواص ترې فائده حاصله کړي.

هذا كتاب لو يباع بوزنه ذهبًا لكان البائع مغبونا
أو ما من الخسران أنك آخذ ذهبًا وتترك جوهرًا مكنونا

لیکوال: صدیق اکبر بن شیر افسر کالوخاني
(12 ذو الحجّه 1441هـ)
وقت: 1:27 یوم الإثنين
بمقام: مدرسه إحیاء العلوم (الغرفة الخامسة)

---

(1) [القول الجميل: 138].

عاجزانه درخواست

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى!

عزتمندو مسلمانانو وروڼړو! دا کوم کتاب چې ستاسو لاسونو ته دَ الله په توفيق را اورسيدو دا دَ ډيرو ملګرو اصرار وو چې دَ رباني صاحب خطبات کتابي شکل کښې چهاپ شي ددې به ډيرو طلباؤ، عوامو، نارينو او زنانو ته فائده اورسي. دَ الله رب العزت احسان وو چې ما له ئې ددې بيانونو دَ ليکلو توفيق را کړو، الله دې دا په خپل دربارِ عاليه کښې قبول او منظور کړي.

بحمد الله! مونږه ددې کتاب په تصحيح کښې خپل پوره کوشش کړے دے خو بيا هم انسان کمزورے دے، که دې کښې څۀ قسم غلطي پاتې شوې وي نو دَ هغې نسبت دې ما ته اوکړے شي، او عاجز بنده ته دِ دَ هغې اطلاع ورکړے شي چې آئنده ايډيشن کښې ئې تصحيح اوکړے شي.

الله ربّ العزت دې دا زما او زما دَ والدينو او خصوصًا دَ ربّاني صاحب، دَ هغوي دَ والدينو او دَ اُستاذانو او مشائخو دپاره صدقه جاريه اوګرځوي. -آمين يا رب العالمين-

محمد يعقوب جلّسوي

02-10-2020

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ا

(سورة المؤمن: 46)

موضوع

عذاب قبر

بتاریخ: 25-05-2007

بمقام جلسئ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامہ عبد الحق ربّانی حفظہ اللہ

عذاب قبر

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ * النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ».[2]

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! ما ستاسو په مخکښې د الله رب العزت د کتاب قرآن کريم نه د سورتِ مؤمن دوه آياتونه تلاوت کړل. او د احاديثو د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ما ستاسو مخکښې يو حديث مبارکه عرض کړو. د ټولو نه اول د الله رب العزت په دربار کښې دعاکويم چې الله رب العزت زما د ځلې نه د قرآن او سنت مطابق خبرې اوباسې او بيا مونږ او تاسو له په هغې باندې د عمل کولو توفيق را نصيب کړې.

---

(1) [سورة المؤمن: 45-46].

(2) [جامع الترمذي: (2460)].

ما چې کوم آیاتونه تلاوت کړل په دي آیاتونو کښې الله د هغې رجلِ مؤمن حال ذکر کوي، چې هغه الله د فرعونیانو د مکر او فریب نه خلاص کړو. او فرعونیانو باندې د الله عذاب نازل شو، سحر او ماښام په هغوي د الله عذاب پیش کیږي، دا رنګه قیامت کښې به هم په هغوي باندې عذاب پیش کیږي، او قیامت کښې به اوئیلے شي ﴿أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾ "دننه کړئ آل د فرعون سخت عذاب ته"

"علماء کرام ددې آیاتونو نه استدلال کوي په عذابِ قبر باندې، چې د دې آیاتونو د مفهوم نه معلومیږي چې د قبر عذاب حق دے، په قبر کښې عذاب او ثواب او راحت میلاویږي".

بعض خلق د عذابِ قبر نه منکر دي، حالانکه د قبر عذاب او راحت حق دے.

امام نووي رحمه الله لیکلي دي

"مذهب أهل السنة والجماعة إثبات عذاب القبر وقد تظاهرت عليه الأدلة من الكتاب والسنة".[1]

وائي: "د اهل سنت والجماعة مذهب او مسلک دا دے چې عذابِ قبر شته، مجرمانو او کافرانو ته به عذاب قبر میلاویږي"

او دغه شان په قبر کښې نعمت او راحت هم شته، نیکانو خلقو ته به میلاویږي، او بیا وائي: په عذاب قبر باندې او د قبر په ثواب باندې او نعمتونو میلاویدو باندې د قرآن کریم آیاتونه او احادیث د رسول الله ﷺ کښې پرې باندې دلائل موجود دي، چې عذابِ قبر شته.

"علماء کرام ذکر کوي چې د قرآن کریم په ډیرو آیاتونو کښې تقریبًا اتلس (18)

(1) [شرح النووي على مسلم: 200/17].

آیاتونو کښې د عذابِ قبر ذکر شته، اشارةً چې علماؤ ذکر کړې چې د دې آیاتونو نه مراد عذابِ قبر دے، نو تقریبًا اتلّس (18) آیاتونه دي".

او احادیثو کښې محدثینو د قبر په عذاب مستقل ابواب قائم کړي دي. چې قبر کښې به عذاب میلاویږي خو اکثر محدثین چې دا ذکر کوي، نو هغوي وائي: "بَابُ إِثْبَاتِ عَذَابِ القَبرِ" یا "بَابُ مَا جَاءَ فِي عذابِ القَبرِ" د نعمت او د خوشحالئ تذکره نهٔ کوي دا ولې؟ علماء کرام ذکر کوي دا ځکه چې اصل کښې دا عذاب چې میلاویږي، نو دا کافرانو له منکرینو او مجرمانو ته میلاویږي نو هغوي منکر دي، نو ځکه اثبات د عذاب قبر وائي، او نعمتونه او خوشحالي خو مؤمنانو ته میلاویږي، نو مؤمن خو عذابِ قبر مني. نو د دې وجې نه د هغويٖ تذکره ئ نهٔ ده کړې، یا عذاب قبر ئې ذکر کړو، نو چې عذاب وي نو راحت به لازمًا وي، اشارةً ترې راحت هم ثابت شو.

بهر حال عذابِ قبر او د ثوابِ قبر د قرآن کریم او د احادیثو د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه ثابت دے.

(1) اول آیت دا دے: ﴿النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾.[1]

پدې کښې الله فرمائي: چې فرعونیانو باندې سخت عذاب نازل شو. هغه ناکاره عذاب څهٔ دے، چې هغوي مړهٔ شول؟ نو الله وائي: اُور پیش کولے شي پهٔ هغوي باندې صبا او بیګا. نو کوم سړے چې عذابِ قبر نهٔ مني، نو قیامت خو له قائم شوے نهٔ دے نو څنګه پهٔ هغوي اُور پیش کولے شي؟ دیته عذابِ قبر وائي، او د قبر نه مراد عالَمِ برزخ دے، هغه ځائے چې د دنیا او د آخرت پهٔ مینځ کښې یوځائے دے، چې هغې ته برزخي

(1) [سورة المؤمن: 46].

زندګي وائي. د دې وجې نه علماء وائي: د قبر نه مراد عالَمِ برزخ دے، او دا جامع تعریف دے.

مثلًا که یَو سړے دے هغه په قبر کښې نه دے ښخ شوے او دَ هغهٔ بدن ځناورو اوخوړو، او دغه سړے مجرم دے نو ده له به عذابِ قبر میلاویږي، او که نه؟ نو د دې انسان جز جز ته به عذاب میلاویږي، اګر چې قبر کښې ښخ نهٔ دے، یَو سړے سمندر کښې څهٔ اوخوړو نو دغې خوړلے شوي بدن ته به عذاب میلاویږي، اګر چې قبر کښې ښخ نهٔ دے. یَو سړے وسوزولے شو او د هغهٔ هغه ایرې سمندر کښې واچولے شوې یا هوا کښې والوزولے شوې، دهغهٔ هغه سوزولے شوي بدن ته به عذاب ورکولے شي.

دې ته عالَمِ برزخ وائي. صرف د قبر سره ئې تعلق نهٔ دے، چې یَو سړے قبر کښې دفن شي، نو هغهٔ ته به عذابِ قبر وي، او که قبر کښې دفن شوے نهٔ دے نو هغهٔ ته به عذابِ قبر نهٔ میلاویږي، نا چې د کوم انسان نه روح اووتو نو په عالَمِ برزخ کښې به هغهٔ ته عذاب میلاویږي، چې بدعمله انسان وي، او که نیک عمله انسان وي نو په عالَمِ برزخ کښې به هغهٔ ته راحت میلاویږي تر قیامته پورې.

بهرحال د دې نه مراد عذابِ قبر او عذابِ برزخ دے؛ ځکه قیامت قائم نهٔ دے، فرعونیانو باندې سحر او ماښام عذاب پیش کولے شي. د دې نه مراد عذابِ قبر دے، او د قیامت په ورځ چې قیامت قائم شي نو الله به اوفرمائي: ﴿أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾ "فرعونیان د جهنم هغه سخت عذاب ته داخل کړئ".

د دې وجې نه امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحیح البخاري کښې باب قائموي "بَابُ مَا جَاءَ فِي عذابِ القبرِ" "باب دے په بیان دَ هغه آیاتونو او روایتونو کښې کوم چې دَ عذابِ قبر باره کښې راغلي دي"، نو په هغې کښې ئې اول دغه آیت ذکر کړے دے.

(2) دویم آیت: ﴿وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُو أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ﴾.[1]

الله وائي: "کچرته ته هغه حالت اوګورې چې کله ظالمان د مرګ په سختو کښې وي، د هغوي ځنکدن وي او ملائک ورسره خوا کښې ناستې وي"، ملائکې ورته وائي: ﴿أَخْرِجُوا أَنفُسَكُمُ﴾ "روحونه مو را بهر کړئ"، لاس ئې په عذاب سره اوږدهٔ کړے وي، ورته وائي روح را اوباسه نن ورځې (يعني اوس) عذاب او سزا درکولے شي تاسو ته د سپکوالي او د ذلت".

نو قيامت خو لا قائم شوے نهٔ دے، او چې ملائک د هغه بدعمله انسان نه روح را اوباسي نو دغه وخت کښې ورته وائي چې اوس به تاله د ذلت عذاب درکولے شي، نو ځنګه ورکولے شي؟ علماء کرام وائي: د دي نه مراد د عالَمِ برزخ هغه عذاب دے.

(3) دريم آيت دا رنګې بيا بل آيت ذکر کوي، چې الله فرمائي: ﴿سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ﴾.[2]

الله وائي: "دي منافقانو له به مونږ دوه ځله عذاب ورکوو". پدې کښې د علماء ډير اقوال دي، خو يَو قول دا دے چې دوه ځله عذاب ځنګه دے؟ يَو ځل عذاب په قبر کښې دے، او دويم ځل عذاب قيامت کښې ميدانِ محشر کښې دے. دا آياتونه امام بخاري رحمه الله په بخاري کښې ذکر کړي دي.[3]

د بخاري شرح ليکي: "قال مقاتل: تُعْرَضُ رُوْحُ كُلِّ كَافِرٍ عَلَىٰ مَنَازِلِهِمْ فِي النَّارِ

---

(1) [سورة الأنعام: 93].

(2) [سورة التوبة: 101].

(3) [صحيح البخاري: 183/1].

مَرَّتَيْنِ، ﴿النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾ (سورة المؤمن: 46)".[1]

امام مقاتل رحمه الله وائي: چې د هر كافر روح دوه ځله د جهنم په اُور پيش كولے شي، او هغې له سزا وركولے شي. د دې نه مراد عذاب د بزرخ دے؛ ځكه قيامت خو لا قائم نهٔ دے، نو څنگه په دوي قيامت كښې عذاب پيش كولے شي؟

امام بخاري رحمه الله باب قائموي

"بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ" "باب دے په بيان د پناه غوښتلو كښې د عذابِ قبر نه".

نو كهٔ عذابِ قبر نهٔ وے نو امام بخاري رحمه الله به په پناه غوښتلو باب نهٔ قائمولے. او بيا اورد حديث ذكر كوي، چې رسول الله ﷺ صحابو ته وئيلې وو، الله پورې پناه اوغواړئ د عذابِ قبر نه، چې الله مونږ له د عذابِ قبر نه پناه راكړي. نو كچرته عذابِ قبر نهٔ وے نو نبي عليه السلام به صحابو رضي الله عنهم ته نهٔ وئيل چې تاسو د عذابِ قبر نه پناه اوغواړئ.

امام بخاري رحمه الله بل باب قائموي

"بَابَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنَ الْغِيبَةِ وَالْبَوْلِ" "باب دے په بيان د دې كښې چې د قبر عذاب ميلاويږي د غيبت د وجې نه او د وړو بولو نه د ځان نهٔ بچ كولو د وجې نه".

د عذابِ قبر نورې وجې هم شته خو څهٔ وجې دا دې چې غيبت كونكے او د وړو بولو نه د ځان نهٔ بچ كولو والا ته به عذاب ميلاويږي. نو كهٔ عذابِ قبر نهٔ وے نو باب به ئې پرې نهٔ قائمولے. معلوميږي دا چې د اهل سنت والجماعت متفقه مسلك دے چې د قبر عذاب شته او د صحيح او متواترو احاديثو نه نه ثابت دے.

(1) [العيني شرح صحيح البخاري: 12/199].

بعضې خلق عقل چلوي

ځکه بعضې خلق په عقل باندې معلوموي چې انسان له څنګه عذاب میلاویږي؟ مخکښې ما اووئیل چې علماء تر دې پورې لیکلي دي "کچرې یَو انسان د هغهٔ بدن پهٔ اُور باندې اوسوزولے شو، او د هغهٔ دا ایره سمندر کښې واچولے شي نو بیا هم ددې انسان بدن ته عذاب او راحت میلاویږي" او بیا هم الله پدې قادر دے چې د انسان دغه اجزاء او اندامونه ژوندي کړي، الله ته د انسان د هر هر جز پته ده.

د مکې د مشرکانو عقیده

د مکې د مشرکانو دا عقیده وه چې ﴿أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ﴾(1) "آیا کله مړهٔ شو مونږه، او شو مونږه خاورې او هډوکي، آیا یقینا مونږه به دوباره دَ قبرونو نه را پورته کیږو؟" نو الله پهٔ هغوي باندې ردّ کوي، الله خپل پیغمبر ته وائي اعلان ورته اُوکړه ﴿قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾(2) "اوایه زما پیغمبره ژوندې کوي به دې لره هغه ذات چې کوم ذات دے پهٔ اول ځله پیدا کړے وو"، کوم ذات چې پهٔ رومبي ځل ستا دا بدن ژوندے کړے وو چې نهٔ دې هډوکي وو، نهٔ دې غوښه وه، نهٔ دې وینا وه، نو هغه ذات دې بیا هم پیدا کولے شي. او کهٔ تهٔ وائي چې زما دا بدن خو خاورې شوے دے او ذره ذره شوے دے نو بیا به ئې څنګه ژوندے کوې" نو الله وائي: ﴿وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ﴾(3) دا الله ستا د بدن پهٔ هر هر جز باندې خبردار دے، او پوهه دے. د الله علم ستا د علم پشان نه دے، تهٔ مخلوق ئې، او الله خالق دے.

---

(1) [سورة المؤمنون: 82].

(2) [سورة يسين: 79].

(3) [سورة يسين: 79].

د عذابِ قبر باره کښې د علماء کرامو اقوال

(1) علامه ابن کثیر رحمه الله لیکي

"فَإِنَّ أَرْوَاحَهُمْ تُعْرَضُ عَلَى النَّارِ صَبَاحًا وَمَسَاءً إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ، فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ اجْتَمَعَتْ أَرْوَاحُهُمْ وَأَجْسَادُهُمْ فِي النَّارِ؛ وَلِهَذَا قَالَ: ﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾...وَهَذِهِ الآيَةُ أَصْلٌ كَبِيرٌ فِي اسْتِدْلَالِ أَهْلِ السُّنَّةِ عَلَى عَذَابِ الْبَرْزَخِ فِي الْقُبُورِ".[1]

"د دغې فرعونیانو روحونه صبا او ماښام تر قیامته پورې د جهنم په اُور پیش کولے شي، کله چې د قیامت ورځ شي دغه فرعونیان او د هغوي روحونه او بدنونه دواړه به د جهنم په اُور کښې را جمع شي؛ ددې وجې نه الله وئیلې دې چې دننه کړئ آل د فرعون سخت عذاب ته او بیا وائي دا آیت لوې دلیل دے د اهل السنت والجماعت دپاره چې هغوي دلیل نیولے دے ددې نه چې برزخ کښې به خلقو له عذاب میلاویږي بدعمله انسانانو ته او نیک عمله انسانانو ته به نعمتونه میلاویږي".

(2) علامه نیشاپوري رحمه الله لیکي

"وَفِي الآيَةِ دَلَالَةٌ ظَاهِرَةٌ عَلَى إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ".[2]

"په دې آیت کښې دلیل دے په اثبات د عذابِ قبر باندې، چې ددې نه عذابِ قبر ثابتیږي".

(3) امام رازي رحمه الله لیکي

"احْتَجَّ أَصْحَابُنَا بِهَذِهِ الآيَةِ عَلَى إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ".[3]

---

(1) [تفسیر ابن کثیر تحت آیة سورة المؤمن: 46].

(2) [تفسیر النشابوري تحت آیة سورة المؤمن: 46].

(3) [تفسیر الکبیر تحت آیة سورة المؤمن: 46].

"زمونږه علماؤ ددې آیت نه په اثبات د عذابِ قبر باندې دلیل نیولے دے چې عذابِ قبر حق دے".

(4) علامه قاضي بیضاوي رحمه الله لیکي

"وَفِيْهِ دَلِيْلٌ عَلٰى بَقَاءِ النَّفْسِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ".(1)

"پدې آیت کښې دلیل دے په بقاء دَ روح باندې چې روح باقي دے، او پدې آیت کښې دلیل دے پدې خبره چې عذابِ قبر به میلاویږي".

(5) علامه خازن رحمه الله لیکي

"وَيُسْتَدَلُّ بِهٰذِهِ الْاٰيَةِ عَلٰى إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ".(2)

"ددې آیت نه دلیل نیولے کیږي په اثبات د عذابِ قبر".

(6) علامه ابو البرکات النسفي الحنفي رحمه الله لیکي

"وَهٰذِهِ الْاٰيَةِ دَلِيْلٌ عَلٰى عَذَابِ الْقَبْرِ".(3)

دا آیت یَو لوې دلیل دے په اثبات د عذابِ قبر چې ددې نه عذاب قبر ثابتیږي.

(7) علامه طبري رحمه الله لیکي

"وَهٰذِهِ الْاٰيَةِ أَصْلٌ فِي اسْتِدْلَالِ عَذَابِ الْقَبْرِ".(4)

"دا آیت یَو لوې دلیل دے په اثبات د عذابِ قبر کښې".

(8) علامه قرطبي رحمه الله لیکي

د امام مجاهد نه، د امام عکرمه، د مقاتل، او محمد بن کعب رَحِمَهُمُ اللّٰهُ نه نقل کوې

---

(1) [تفسير البيضاوي تحت آية سورة المؤمن: 46].

(2) [تفسير الخازن تحت آية سورة المؤمن: 46].

(3) [تفسير النسفي تحت آية سورة المؤمن: 46].

(4) [جامع البيان تحت آية سورة المؤمن: 46].

وائي: "كُلُّهُمْ قَالُوْا: هَذِهِ الآيَةُ تَدُلُّ عَلَى عَذَابِ الْقَبْرِ فِي الدُّنْيَا".[1]

"دا تمام علماء وائي چې دا آيت كريمه دلالت كوي په عذابِ قبر باندې، چې دا به ميلاويږي په دنيا كښې".

(9) علامه آلوسي رحمه الله ليكي

"فَفِيْ هٰذِهِ الآيَةِ دَلِيْلٌ ظَاهِرٌ عَلٰى بَقَاءِ النَّفْسِ وَعَذَابِ الْبَرْزَخِ".[2]

"پدې آيت كريمه كښې ښكاره دليل دے په بقاء د نفس او عذاب د برزخ باندې".

(10) علامه ابن جزئ رحمه الله ليكي

"وَاسْتَدَلَّ أَهْلُ السُّنَّةِ بِذٰلِكَ عَلٰى صِحَّةِ مَا وَرَدَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ".[3]

"ددې آيت نه اهل السنة والجماعة دليل نيولے دے په صحت دَ هغې چې راغلي دي په باره دَ عذابِ قبر كښې".

(11) امام ابو بكر جصّاص رحمه الله ليكي

"هَذِهِ الآيَةُ تَدُلُّ عَلَى عَذَابِ الْقَبْرِ".[4]

"دا آيت كريمه دليل دے په اثبات د عذابِ قبر باندې".

نور هم ګڼ آياتونه شته، چې د هغې نه اثبات د عذابِ قبر كيږي.

(4) څلورم آيت قرآن كريم كښې الله فرمائي: ﴿وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾.[5]

(1) [تفسير القرطبي تحت آية سورة المؤمن: 46].

(2) [روح المعاني تحت آية سورة المؤمن: 46].

(3) [التسهيل لابن الجزي تحت آية سورة المؤمن: 46].

(4) [أحكام القرآن للجصاص تحت آية سورة المؤمن: 46].

(5) [سورة الم السجده: 21].

الله وائي: "مونږ به دوي له د هغې لوې عذاب نه مخکښې معمولي عذاب نزدې عذاب څکوو ددې دپاره چې دوي مونږ ته را اوګرځي".

علماء کرامو پکښې ډير اقوال ذکر کړي دي، خو يَو قول پکښې تفسير مدارک ليکلے دے چې مراد ددې نه عذابِ قبر دے. تفسير زاد المسير ليکي: "چې ددې آيت نه مراد عذابِ قبر دے".[1]

(5) پنځم آيت په اثبات د عذابِ قبر، قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ﴾.[2] الله تعالى فرمائي: "چا چې زما د کتاب نه مخ واړولو نو د هغهٔ زندګي به تنګه وي، او د قيامت په ورځ به ئې ړوند را اوچت کړم".

علماء کرام ددې مختلف معاني کوي، ليکن يَو معنیٰ د عبد الله بن عباس ﷺ نه زاد الميسر نقل کړې ده "چې مراد ددې نه عذابِ قبر دے، چې الله وائي چا چې زما کتاب ته شا کړه، نو قبر کښې به ددې انسان زندګي ډيره تنګه وي".[3]

دا رنګه نور آياتونه سورت انعام 93، سورت محمد 27، سورت طور 47 په آياتونو هم علماء په اثبات د عذابِ قبر باندې استدلال کوي.

علامه ابن ابي العز حنفي ﷫ ليکي

"وَقَدْ تَوَاتَرَتِ الْأَخْبَارُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ ثُبُوْتِ عَذَابِ الْقَبْرِ وَنَعِيْمِه لِمَنْ كَانَ لِذَالِكَ أَهْلاً".[4]

---

(1) [تفسير مدارك، وزاد المسير تحت آية الم السجده: 21].

(2) [سورة طه: 124].

(3) [زاد المسير تحت سورة طه آية: 124].

(4) [شرح العقيدة الطحاوية: 399].

وائي: "په تحقيق سره په تواتر سره اخبار او خبرونه راغلي دي د رسول الله نه په ثبوت د عذابِ قبر كښې؛ چې عذابِ قبر حق دے، او د هغې نعمتونه د نبي ﷺ نه ثابت دي په تواتر سره د هغه چا دپاره چې څوک ددې نعمتونو لائق وي".

بيا ليكي: "وَسُؤَالُ الْمَلَكَيْنِ فَيَجِبُ اعْتِقَادُ ثُبُوْتِ ذَالِكَ وَالْإِيْمَانُ بِه وَلَا نَتَكَلَّمُ فِيْ كَيْفِيَّتِه".[1]

وائي: "دا تواتر سره د نبي ﷺ نه ثابت دي چې په قبر كښې د انسان سره د ملائكو سوال او جواب كيږي، او واجب دي چې دا عقيده به ساتي او پدې به ايمان لري، او مونږ د هغې په كيفيت او طريقه كښې خبرې نه كوو، چې څنګه عذاب ميلاويږي؟

بيا ليكي: "إِذْ لَيْسَ لِلْعَقْلِ" [2]. ځكه د انسان عقل د هغې په كيفيت نه پوهيږي. نو معلومه دا شوه چې عذابِ قبر حق دے، ددې عقيده ساتل واجب دي، ددې نه انكار كولو والا سړے د احاديثو متواترو نه انكار كولو والا ګرځي. دا د علماء كرامو اقوال ذكر شول.

احاديثِ مباركه د عذابِ قبر باره كښې

مشكوٰة المصابيح صفحه 24 كښې باب قائموي "بَابُ إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبرِ" "باب دے په بيان د اثبات د عذابِ قبر كښې".

(1) اول راويت

براء بن عازب ﷺ روايت كوي چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: «اَلْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ

(1) [شرح العقيدة الطحاوية: 399].
(2) [شرح العقيدة الطحاوية: 399].

فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ فَذَلِكَ قَوْلُهُ ﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾».[1]

نبي ﷺ فرمائي: "مؤمن سړے کله چې د هغه نه تپوس اوشي د هغه په قبر کښې نو هغه چې دا ګواهي اوکړي "لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله" نو فرمائي: چې دا ددې قول تصديق دے چې ﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ "هغه کسان چې هغوي ايمان راوړے دے مضبوطءِ هغوي په وينا د توحيد باندې په دنيا کښې هم او آخرت کښې هم""، نو قبر کښې هم هغوي په جواب کښې کامياب وي او دنيا کښې هم کامياب وي.

(2) دويم روايت

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ أنه حدثهم أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِه فَيَقُولَانِ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا قَالَ قَتَادَةُ وَذكر لنا أنه يفسح لَهُ فِي قبره ثُمَّ رَجَعَ إِلَى حَدِيثِ أنس قَالَ وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ لَا أَدْرِي كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ فَيُقَالُ لَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ».[2]

"د انس ﷺ روايت دے چې نبي ﷺ وئيلي دي يقينًا بنده چې څه وخت په قبر کيخودلے شي، او ددهٔ خپلوان واپس شي نو هغه د دوي د پيزار آواز اوري، چې دي

(1) [صحيح البخاري: (4699)، سنن أبي داود: (4750)].

(2) [صحيح البخاري: (1374)].

مړي له دوه فرښتې راشي، او دا مړے کېنوي، او ورته اوائي چې ددې سړي (محمد ﷺ) متعلق ته څه وائې؟ نو مؤمن بنده ورته اوائي چې زه ګواهي کوم چې دا د الله بنده او د الله رسول دے، هغه ته به اوونيلے شي، چې خپل د دوزخ ځائے ته اوګوره، الله هغه د جنت په ځائے بدل کړو، هغه دغه ځايونو ته ګوري، او منافق او کافر ته چې اوونيلے شي، ته ددې سړي (محمد ﷺ) متعلق ته څه وائې؟ هغه به اوائي زه نه پوهيږم، خلقو چې څه وئيل ما هم هغه وئيل، بس ورته به اوونيلے شي چې ته نه پوهيدې او نه دې لوستل، او د اُسپنې په ګرزونو به وهلے شي، هغه به چغې وهي چې د پيريانو او انسانانو نه ما سيوا هر څه ئې اوري".

په دې حديث کښې چند خبرې دي

اوله خبره: چې کله مړے قبر کښې کېښودلے شي، نو هغه د ژوندو خلقو د پښو کشار اوري، چې دوه فرښتې ورته راشي.

يَو سوال دے: چې هغه خو مړے دے نو څنګه د ژوندو خلقو د خپو کشار اوري، او مړے خو په خبره باندې نه پوهيږي، مړے خو څه نه اوري؟

ددې وجې نه علماء کرام ذکر کوي، کۀ چرته يَو سړي اووئيل چې زما دې قسم وي کۀ د فلانکې سړي سره مې خبرې اوکړې، نو کۀ د هغه انسان سره په ژوند خبرې اوکړې، نو د قسم کفاره پرې لازم شوه، د خپل قسم کفاره به ورکوي، کفاره ئې څۀ ده؟ يا به سحر او مابښام لَس مسکينان مړوي، يا به درې ورځې پرله پسې روژې نيسي، يا به لَسو مسکينانو له کپړې اخلي. اوس يَو سړي قسم کړے دے چې زۀ به فلانکې سړي سره خبرې نۀ کوم، او چې کله هغه انسان مړۀ شو، نو دے راغے او د هغه کټ سره اودريدو، او هغه ته لګيا دے خبرې ورته کوي، نو تمام علماء کرام ذکر کوي چې ددې سړي قسم مات نه دے، سړے په قسم کښې حانث نۀ دے، ولې په

قسم کښې حانث نهٔ دے؟ فتح القدير کښې علامه ابن الهمام رحمه الله هم ليکلي دي، او د احنافو تمام علماءِ کرامو ليکلي دي: چې د سړي قسم څکهٔ نه دے مات شوے؛ چې دے خبرې کوې خو ليکن هغه ئې نه اورې، او هغه پرې نه پوهيږي، نو ځکه په قسم کښې حانث نه دے، نو مړے نه اورې، او نه وينې. نو څنګه مړے دَ ژوندو خلقو د خپو کشار اورې؟ نو ددې څهٔ مطلب دے؟ علماءِ کرام ذکر کوې، چې اصل کښې دا کنايه ده دَ سُرعتِ اتيان دَ ملائکو نه. مطلب دا دے: کچرته هلته د قبر خوا کښې يَو ژوندے انسان کينولے شوے وے، او هلته ناست وے، او نور خلق واپس روان وے، نو دې ناست انسان به د راتلونکو خلقو د خپو آواز اوريدلے، چې دي مړې له به ملائک را رسيدلے وے.

مولانا رشيد احمد گنګوهي رحمه الله ليکلي دي

چې دا د مجهول صيغه ده "إِنَّهُ لَيُسْمَعُ قَرْعُ نِعَالِهِمْ"[1] ددې خلقو د خپو کشار به اوريدلے شي، يعني کهٔ د قبر خوا کښې څوک ناست وي، چې دهٔ له ملائک رارسيدلي وي، او هغه دواړه ملائک دا مړے قبر کښې کينوې او تپوس ترې کوې، چې ستا څهٔ خيال وو ددې سړي باره کښې ، مراد ترې رسول الله ﷺ دے.

دويمه خبره يَوه غلطه نظريه

بعضي خلق وائي: چې دغې قبر له رسول الله ﷺ حاضريږي. دا خبره غلطه ده، هر قبر له نبي ﷺ حاضريږي. بعضي خلق وائي چې د رسول الله ﷺ تصوير ورسره وي. دا خبره هم صحيح نه ده.

اصل خبره دا ده

«مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ» د نبي ﷺ نښې ورته بيان کړې، د هغهٔ صفات ورته

(1) [الكوكب الدرّي على جامع الترمذي].

بیان کړي، چې تاسو کښې کوم پیغمبر راغلے وو، د هغه باره کښې ستا څه عقیده ده؟ نو که دا مؤمن انسان وي، نو دے به ورته اووائي، چې زما دا عقیده ده، چې دا د الله بنده او د الله پیغمبر دے، إله نهٔ وو، او مونږ ته ئې رالیګلے وو.

او چې د کافر نه تپوس اوشي، نو هغه به ورته اووائي چې ماته پته نشته، زهٔ خو نه وم خبر، ما خو به هغه وئیل کوم چې به خلقو وئیل، زهٔ خو به د هر چا سره ناست ووم، کهٔ د مسلمان سره به کیناستم نو د هغه سره به ملګرے ووم، او کافر سره به د هغه ملګرے ووم، زما خپله څهٔ عقیده او خپل څهٔ خیال نهٔ وو. دغي مړي ته به اووئیلے شي، چې نهٔ خو تاته علم شته، او نهٔ تا څهٔ لوستلي دي. یعني دُنیا کښې تا د حق پرستو خلقو تابعداري نه وه کړي. نبي ﷺ فرمائي: دغه منافق او کافر مړے به د اوسپنې په ګروز یو ګوزار به اووهلے شي، دے به دومره چغه اوهي، چې د انسانانو او پیریانو نه ما سیوا هر څهٔ به ئې اوري.

(3) دریم روایت

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، يُقَالُ: هَذَا مَقْعَدُكَ، حَتَّى يَبْعَثَكَ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».[1]

د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے، چې نبي ﷺ فرمائي: په تاسو کښې چې څوک مړهٔ شي، نو سحر او ماښام د هغهٔ هغه ځائے هغهٔ ته پیش کولے شي، که جنتي وي، نو جنت ورته پیش کولے شي، او کهٔ جهنمي وي نو جهنم ورته پیش کولے شي (په عالَمِ برزخ کښې) قیامت له قائم نهٔ دے، ددې نه مراد عذابِ قبر دے، (عالَمِ برزخ کښې چې کوم میلاویږي) چې ستا دغه ځائے دے، چې کله قیامت کښې راپاسې نو دغه ځائے ته

(1) [صحیح البخاري: (1379)، مسلم: (2866)].

به ورځي. او قبر کښې عذاب خو جُدا دے. ددې نه معلومه شوه چې عذابِ قبر حق دے.

(4) څلورم روايت

د سيده عائشه ﷺ نه روايت دے أَنَّ يَهُودِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ فَقَالَتْ لَهَا أَعَاذَكِ اللهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَقَالَ: «نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ قَالَتْ عَائِشَةَ ﷺ فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعدُ صَلَّى صَلاَةً إِلاَّ تعوذ من عَذَابِ الْقَبْرِ».[1]

سيده عائشه ﷺ خوا ته د يهودو يَو زنانه راغله، سيده عائشي ﷺ سره ناسته وه، نو د عذابِ قبر تذکره ئې شروع کړه، د يهودو هغې زنانه سيده عائشي ﷺ ته ئې اووئيل الله دې تا له د عذابِ قبر نه پناه درکړې، سيده عائشي ﷺ ته پته نه وه چې عذابِ قبر شته، ځکۀ نبي ﷺ تر دغه وخته پورې د عذابِ قبر باره کښې څۀ نه وو وئيلې او يهودو ته خو پته وه؛ ځکه تورات کښې دا مسئله وه چې قبر کښې به عذاب وي، نو حضرت عائشي ﷺ د نبي ﷺ نه تپوس اوکړو چې اے د الله پيغمبره ﷺ! چې عذابِ قبر شته او کنه؟ نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل چې آؤ عذابِ قبر حق دے، سيده عائشه ﷺ فرمائي: ددې خبرې نه ورستو ما چرې نبي ﷺ نه دے ليدلے چې هغۀ مونځ کړے دے مګر خامخا نبي ﷺ به د عذابِ قبر نه پناه غوښته. نو چې د الله پيغمبر ﷺ د عذابِ قبر نه پناه غواړې، نو مونږ له خو بطريق اولیٰ پکار دې، چې مونږ د عذابِ قبر نه پناه اوغواړو.

(5) پنځم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ».[2]

"قبر خو د جنت د باغيچو نه يَوه باغيچه ده، يا د جهنم د کندو نه يَوه کنده ده".

---

(1) [صحيح البخاري: (1372) والفظ له، مسلم: (903)].

(2) [جامع الترمذي: (2460)].

کۀ انسان نیک عمله وي نو قبر د هغۀ دپاره دجنت یَوه باغیچه ده، او کۀ انسان بد عمله وي نو قبر د هغۀ دپاره د جهنم د کندو نه یَوه کنده ده.

د سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ قول

«مَنْ دَخَلَ الْقَبْرَ بِلَا زَادٍ فَكَأَنَّمَا رَكِبَ الْبَحْرَ بِلَا سَفِينَةٍ».

کوم سړے چې بغیر د نیک عمل نه مړۀ شو او قبر ته لاړو، نو د هغه داسې مثال دے، لکه یَو سړے دے او لامبو ورله نه ورځي، او تا سمندر ته ورواوغورځولو.

د سیدنا عثمان ﷺ حالت د قبر تیریدو په وخت کښې

د سیدنا عثمان ﷺ باره کښې راځي چې کله به هغه د مقبرې په خوا تیریدو دومره زیات به ئې اوژړل چې ګیره به ئې تړوله په اوښکو لونده شوه. چا ترې تپوس اوکړو چې تۀ د جنت تذکرې کوې نو تۀ نه ژاړې، د جهنم تذکرې کوې نو تۀ نه ژاړې، لیکن چې کله په قبر تیریږې نو ژاړې، دا ولې؟ سیدنا عثمان ﷺ ورته اوفرمائیل: دا ځکه چې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: «إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ».[1] قبر د آخرت د منزلونو نه اولنے منزل دے، ځکه د دې نه ورستو بیا ډیر منازل راځي، نو قبر کښې یا راحت میلاویږي، یا عذاب میلاویږي؛ ځکه چې انسان میدانِ محشر کښې راپاسې نو تول د اعمالو جُدا منزل دے، تقسیم د اعمالو جُدا منزل دے، په پلِ صراط تیریدل جُدا منزل دے. لیکن د آخرت په منزلونو کښې اولنے منزل دا دے، چې د انسان نه روح اوتو او مړۀ شو، دا قبر د هغه اولنے منزل شروع شو، څوک چې مړۀ شي بس د هغه قیامت شروع شو. نو سیدنا عثمان اوئیل: قبر اولنے منزل دے، څوک چې په دې منزل کښې کامیاب شو، ددې نه ورستو ټول منازل آسان دي، او که یَو سړے په دې منزل کښې کامیاب نه شو نو د دې نه ورستو ټول منازل ګران دي، نو ما سره غم

(1) [جامع الترمذي: (2308)].

دے چې په دې منزل کښې به کامیاب شم او که ناکام. ددې وجې نه سیدنا عثمان ﷺ وائي: ما د نبي ﷺ نه اوریدلي دي «مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلاَّ وَالقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ».[1] ما داسې یَو منظر نه دے لیدلے مګر قبر د هغې نه زیات د هیبت والا مقام دے. په ټولو منظرونو کښې قبر زیات د هیبت والا منظر دے، ځکه دا اولنے منظر دے.

نو د قبر عذاب حق دے. او چې کوم انسان مړ شو بس د هغهٔ قیامت قائم شو.

واقعه

د ادب په کتابونو کښې واقعه راځي چې یَو سړي کیدړ نیولے وو، نو هغه کیدړ ورته اوونیل ما پریده، او کهٔ زهٔ دې مړهٔ کړم نو قیامت راځي، نو هغه ساده سړے وو، چې د کیدړ په مرګ قیامت راځي، نو ولې ئې مړه کوم. نو کیدړ ئې پریخودو نو کیدړ لرې لاړو، او دهٔ طرف ته ئې مخ کړو، او دهٔ ته ئې اوئیل کهٔ پهٔ نور چا قیامت راتلو او کنهٔ، په ما خو خامخا راتلو.

نو چې څوک مړهٔ شو نو د هغهٔ قیامت قائم شو.

(6) شپږم روایت

زید بن ثابت ﷺ فرمائي: چې یَو ځل مونږ د نبي ﷺ سره د بنو نجّار د باغ په خوا کښې وو او نبي ﷺ په قچره باندې سُور وو، او مونږ د نبي ﷺ سره روان وو، ناسپه د نبي ﷺ قچرې توپونه شروع کړل، نزدې وَو چې نبي ﷺ د قچرې نه غورزیدلے وے، ناڅاپه چې مونږ اوکتل نو د هغې قچرې خوا کښې پنځهٔ یا شپږ قبرونه وو، نو نبي ﷺ اوفرمائیل: چې څوک دا قبرونو والا پیژني؟ نو یَو سړي اووئیل: د الله پیغمبره ﷺ آو دا زهٔ پیژنم، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: دا څهٔ وخت کښې وفات شوي دي؟ هغه ورته اووئیل: اے د الله پیغمبره ﷺ! دا د شرک په زمانه کښې وفات شوي دي، داسې وخت کښې وفات

(1) [جامع الترمذي: (2308)].

شوې دې چې ایمان ئې نهٔ وو راوړے، نبي ﷺ اوفرمائیل: یقینًا دا امت په دوې باندې په قبرونو کښې امتحان کولے شي. (اُمت نه مراد ټول خلق دے) کچرته دا یره او غم نه وے چې تاسو به خپل مړې مقبرو کښې نه دفن کوئ، نو ما به د الله نه سوال کړے وے چې الله تاسو ته ښودلے وے، چې څنګه طریقې سره الله دې مړو له عذاب ورکوي. نبي ﷺ ته معجزتًا الله اوښودل، کله به الله داسې کول چې بعضې عذابونه الله خپل پیغمبر ﷺ ته ښودل (د معراج واقعه کښې به راشي چې څومره عذابونه نبي ﷺ لیدلي وو).

وائي: بیا رسول الله ﷺ مونږ ته مخامخ شو، او نبي ﷺ اوفرمائیل: الله پورې پناه اوغواړئ د عذاب د اُور نه، صحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل: مونږ پناه غواړو الله پورې د عذاب د اُور نه. بیا رسول الله اوفرمائیل: پناه اوغواړئ د الله پورې د عذابِ قبر نه، صحابه کرامو ﷺ اووئیل: مونږ پناه غواړو الله پورې د عذابِ قبر نه، بیا نبي ﷺ اوفرمائیل: اے زما صحابو! د فتنو نه پناه اوغواړئ، صحابه کرامو اووئیل: مونږ الله پورې پناه غواړو د ښکاره فتنو نه او د پټو فتنو نه، بیا نبي ﷺ اوفرمائیل: پناه اوغواړئ د الله پورې د فتنې د دجّال نه.

دجّال څهٔ شے دے؟ دا هغه علامات دې د قیامت د قائمیدو، چې کله قیامت قائمیږي نو دا به هغه دُور کښې وي، او دے به دعوٰی کوي چې زهٔ رب یم، او دے چې څهٔ وائي نو هغه به کیږي، ځان سره به ئې خپل مصنوعي جنت او جهنم جوړ کړے وي، او خلقو ته به وائي چې دا جنت دے، او دا جهنم دے، کهٔ چا د هغهٔ خبره اومنله هغهٔ به جنت ته دننه کوي، او چې څوک د هغهٔ خبره نهٔ مني نو هغه به جهنم ته اوغورځوي.

نبي ﷺ فرمائي: دوه شکلونه به وي یَو د جنت او یَو د جهنم نو کهٔ تاسو مجبور وي، نو دغې جنت ته مهٔ دننه کیږئ دا ظاهر کښې جنت دے، او باطن کښې اُور دے، او دا بل چې ظاهر کښې اُور دے، نو دننه پدې کښې جنت دے. نبي ﷺ فرمائي: کله چې

تاسو د دجّال په ډُور کښې یې نو هغهٔ اُور طرف ته ورځئ؛ ځکه دننه پکښې جنت دے. دے به د خدایئ دعوٰی کوي، باران به وروي، او اودروي به ئې، دا به الله ده له ورکړے وي، چې خلق گمراه شي. الله امتحان کوې پدې خلقو باندې، خو د هغه نښه به دا وي چې نبي ﷺ فرمائي: د هغهٔ سمه سترگه به ړنده وي، او ستاسو رب ړوند نهٔ دے، تاسو به ئې پدې باندې پیژنئ، او د هغهٔ په تندې به لیکلے شوې وي "ک، ف، ر" یعني کافر، دا لویه فتنه ده. الله دې مونږ ددې فتنو نه اوساتي.

نبي ﷺ اووئیل: د دجّال د فتنو نه پناه اوغواړئ. صحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل: مونږ د دجّال د فتنې نه پناه اوغوښته.

(7) اووم روایت

د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت دے، چې رسول الله فرمائیلي دي: کله چې یَو مړے په قبر کښې دننه کړے شي، دوه ملائکې ورته راشي، تکې تورې ملائکې وي، او خړې سترگې ئې وي، (او دا کنایه ده د نهایتِ هیبت د حالت نه) یَو ته "منکَر" وئیلے کیږي، او بلې ته "نکیر" وئیلے کیږي، هغهٔ ملائکې ورته وائي: تا څهٔ وئیل ددې سړي باره کښې، (یعني د نبي ﷺ باره کښې) کهٔ چرته دے مومن وي نو دے به ورته وائي: چې دے د الله بنده او د الله پیغمبر دے، او بیا به وائي: چې دا گواهي کوم چې د الله نه ماسیوا بل حاجت روا نشته او محمد ﷺ د الله بنده او د الله پیغمبر دے، چې کله دے دا اووائي نو ملائک به ورته وائي: مونږ ته پته وه چې تهٔ به مونږ له داسې جواب راکوې.(1)

نو ملائکو ته څهٔ پته وه، ملائک خو عالم الغیب نه دې، دا زمونږ عقیده ده. کهٔ د چا دا عقیده وي چې ملائک عالم الغیب دې، نو دا عقیده د کفر ده. نو ملائک څنگه پوهیدل؟

---

(1) [جامع الترمذي: (1071)].

نو علماء کرام ذکر کوي: ملائکو ته دا پته وه چې کله ددې انسان نه روح وتو نو هغه روح د انسان علّیین ته تلے وو، هغې وخت نه ملائکو ته پته لګیدلې وه، چې دا نیک عمله انسان دے، یا ملائکې چې راغلې، او ددهٔ شکل ته ئې اوکتل نو ددهٔ د شکل نه دا معلومیده چې دا نیک عمله انسان دے، د نیک عمله انسان د شکل نه پته لګي، چې دا نیک عمله دے.

حدیث کښې راځي: چې کُوم یَو انسان چې نیک عمله وي، د هغهٔ دا مخ به تک سپین وي د قیامت په ورځ باندې، سپین پرق به وهي. قرآن کښې وائي: ﴿يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞ﴾[1]، نو چې ملائک ددهٔ مخ ته اوګورې نو ملائک به پوهه شي، چې دا نیک عمله انسان دے.

نبي ﷺ فرمائي: بیا به دې نیک عمله انسان ته قبر کُولاؤ کړے شي اویا (70) ګزه یَو طرف ته، اویا (70) ګزه بل طرف ته، او بیا به ورته د جنت د طرف نه رنړا راوستے شي، او بیا به ورته اوائي: اودهٔ شه پدې قبر کښې دا ستا د آرام ځائے دے. دے به ورته وائي: ما پرېږدئ چې زهٔ خپل اهل ته واپس شم، چې ورته اووایم چې زهٔ خو ډیر پهٔ مزو کښې یم، او هغوي په دې باندې خبر کړم، فرښتې به ورته وائي: نا نا، اودهٔ شه داسې اودهٔ شه لکه څنګه چې ناوې اودهٔ وي، د هیڅ تکلیف او مصیبت نه مهٔ یریږه.

او چې کله بد عمله انسان وي، او منافق انسان وي، او هغه مړهٔ شي، نو هغه فرشتې ترې تپوس کوي چې د نبي ﷺ باره کښې څهٔ وائې؟ دے ورته وائي: چې دُنیا کښې به خلقو څهٔ وائیل، نو ما به هم هغه شان اوئیل.

چې چا سره به لا ړم نو هغه شان به ما وئیل، زما څهٔ خپل خیال نهٔ وو، زما څهٔ

(1) [سورة آل عمران: 106].

خپله نظریه نهٔ وه. نو نبي ﷺ فرمائي: دغه فرشتې به ورته وائي: چې مونږ ته پته وه چې تهٔ به دغسې وائې، بیا به زمکې ته حکم اوشي، چې راجوخته شه پهٔ دهٔ باندې، نو زمکه به پرې راجوخته شي او پوښتۍ به ئې یَو بل کښې ننوځي، دهٔ ته به تر قیامته پورې عذاب ورکولے شي، ترڅو پورې چې قیامت نهٔ دے قائم شوے.[1]

(8) آتم روایت:

یَو حدیث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: پهٔ کافر او ګناهګار انسان به قبر کښې یَو فرشته مقرر شي، اول به ددهٔ دپاره د جهنم د بسترونه یَو بستره اوغوړولے شي، د جهنم دروازه به ورته ګولاؤ کړے شي، او د جهنم هغه ګرمي به ورته راځي، قبر به وربانديې تنګ شي، چې پوښتۍ به ئې یَو بل کښې ننوځي، او یَو فرشته به پرې مقرر شي، چې په سترګو به ړندهٔ وي، او په غوږونو به کڼړه وه.

دا ولې؟ علماء کرام ذکر کوې: ړنده به ځکه وي؛ چې دا پته ورته نه لګي چې دا ګوم ځائے دے، کهٔ پهٔ هر ځائے ورته ګزار ورکړو، سر او خپو ته به ئې نه ګورې، کهٔ هر ځائے باندې اووهلو، رحم او ترس به ئې پرې نهٔ راځي.

او پهٔ غوږونو به هغه فرشته کڼړه وي؛ ځکه چې دے چغې وهي نو کیدے شي چې رحم ئې پرې راغلے وے، ددهٔ هغه چغې به نهٔ اوري.

او نبي ﷺ فرمائي: د هغې فرشتې سره به د اوسپنې ګرز وي، او داسې ګرز به وي کهٔ پهٔ هغې باندې غر اوهلے شي نو هغهٔ غر به خاورې شي، چې کله پرې دا مړے اووهې نو دومره تیز آواز به کوي، چې د مشرق نه تر مغرب پورې هر څهٔ به ئې اورې، صرف انسانان او پیریان به ئې نهٔ اورې، او بیا نبي ﷺ اوفرمائیل: چې کله دې مړې ته هغه ګرز راخلاص کړي نو دا مړے به خاورې شي، بیا به ددې انسان پهٔ بدن کښې

---

(1) [صحیح المسلم: (2867)].

روح واچولے شي، دوباره به پهکښې ساه واچولے شي، بیا به بدن روغ شي، او بیا به سزا ورکولے شي.[1]

دېر زیات احادیث علماؤ راجمع کړي دي په اثبات د عذابِ قبر باندې چې عذابِ قبر حق دے، د عذابِ قبر نه منکر کافر دے.

(9) نهم روایت

حدیث کښې راځي، نبي ﷺ په څهٔ قبرونو تېرېدو، او د هغهٔ قبرونو والو له عذاب ورکولے شو، نبي ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائیل: دي دواړو قبرونو والو ته عذاب ورکولے شي، او دا عذاب چې ورکولے شي نو دا پهٔ یَو لویه ګناه کښې ورکولے نهٔ شي، د یَو سړي کار دا وو چې هغهٔ به چغلي کوله، ده له څکه عذاب ورکولے شي، او دا بل انسان چې وو دهٔ به د وړو بولو نه ځان نهٔ بچ کولو، دهٔ له څکه عذاب ورکولے شي.

بیا نبي ﷺ یَو لونده لخته را واغسته پهٔ مینځ ئې ماته کړه، نیمه ئې پهٔ یَو قبر کیښوده او نیمه ئې پهٔ بل قبر کیښوده. نبي ﷺ اوفرمائیل: چې تر څو پورې دا لختې لوندې وي تر هغې به الله عذاب کښې سپک والے راولي.[2]

نو ددې دومره آیاتونو او احادیثو نه دا خبره ثابته شوه چې عذابِ قبر حق دے.

الله ربِ العزت دي مونږ له د قبر د عذاب نه پناه راکړي. (آمین)

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

---

(1) [سنن أبي داود: (4751)].

(2) [صحيح البخاري: (271، و1378، و6052، و6055)، سنن أبي داود: (20) سنن النسائي: (31)].

بسم الله الرحمن الرحيم

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا

(سورة بني إسرائيل: 32)

موضوع

زنا ګناهِ کبیره ده

بمقام جلسۍ

خطيب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

زنا ګناه کبیره ده

اَلْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سِيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سِيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سِيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدَهُ وَرَسُوْلَهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا﴾.[1]

وقال تعالى في مقام آخر: ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا﴾.[2]

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «مَنْ زَنٰى أَوْ شَرِبَ الْخَمْرَ نَزَعَ اللهُ مِنْهُ الْإِيمَانَ كَمَا يَخْلَعُ الْإِنْسَانُ الْقَمِيصَ مِنْ رَأْسِهِ».[3]

عزت مندو مسلمانانو رونړو! مخکښې جمعو کښې د بعضې لويو ګناهونو ذکر شوے وو، د هغې سزاګانې، او د هغې عذابونه بيان شوې وو. اوس يوه بله ګناه کبيره چې هغه هم پۀ خلقو کښې کۀ عامه نۀ ده نو عام کيدو والا ده.

او خلق ديته نۀ ګورې چې دا ګناه ده، ډير کم خلق به ئې ددې وجې نۀ کوې

(1) [سورة بني إسرائيل: 32].

(2) [سورة الفرقان: 68].

(3) [سورة الفرقان: 68].

چې دا گناه ده، اکثر د یرې د وجې نه یا د عدم وجود د وجې نه دا گناه نۀ کوې، هغۀ گناهِ کبیره هغه زنا ده. زنا هم پۀ گناهونو کښې یَوه لویه گناه ده، چې یَو مسلمان د مسلمانې زنانه سره یا د یَو کافرې زنانه سره زنا کوې بغیر د نکاح نه نو دیته زنا وائي.

د اسلام دَ راتلو نه مخکښې زنا قبیح عمل وو

د اسلام نه مخکښې زنا یَو قبیح عمل وو، او گنده عمل وو، د اسلام نهِ مخکښې هم خلقو دا عمل ناکاره گنړلو، د سپکو خلقو او د رذیله خلقو کار وو، او پۀ اسلام کښې هم زنا یَو قبیح عمل دے.

د سیدنا عثمان بن عفان ﷺواقعه

کله چې سیدنا عثمان بن عفان ﷺ محاصره کړے شو، او د هغۀ نه دښمنان چار چاپیره وو، هغه د خپلې کوټې چت ته اوختو، او هغۀ یَو څو خبرې کړې وې، هغۀ اووئیل: پۀ اسلام کښې د مسلمان قتل پۀ دریو خبرو جائز دے. (1) یَو دا چې کله مسلمان د اسلام نه واوړي او مرتد شي نو ددۀ مرگ او قتل جائز دے. او زۀ د اسلام نه مرتد شوے نۀ یم. (2) دویم دا چې د یَو مسلمان د لاس نه بل مسلمان قتل شي. زما د لاس نه څوک مسلمان قتل شوے نه دے. (3) دریم دا چې څوک زِنا اوکړې او وادۀ والا وي، نو هغه رجم کولے شي. سیدنا عثمان ﷺ ورته اوفرمائیل: «مَا زَنَیْتُ فِيْ جَاهِلِيَّةٍ وَلَا فِيْ إِسْلَامٍ» ما نۀ د اسلام پۀ حالت کښې زنا کړې ده، او نۀ مې د اسلام نه مخکښې زنا کړې ده. نو تاسو ما پۀ څۀ باندې وژنئ؟

نو په دُورِ جاهلیت کښې هم زنا د سپکو خلقو کار وو، نو زنا لویه گناه ده.

قرآن کریم کښې د زنا مذمت

قرآن کریم کښې الله فرمائي، مؤمنانو صفت کوي نو الله فرمائي: ﴿وَلَا يَزْنُونَ﴾ "زنا نۀ کوي".

بل آیت کښې الله فرمائي: ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا﴾.[1]

"زنا ته مهٔ نزدې کيږئ". يعني ګُوم ځائے کښې چې زنا کيږي، ګُوم ځائے کښې چې زنا کار خلق دے، د زنا داسې دواعې دې چې د هغې نه زنا پيدا کيږي، نو هغې ځائے ته مهٔ ځئ. يَو ځائے کښې زنا نشته خو هغې ځائے کښې ناستې سره د انسان زنا ته ميلان کيږي، نو هغې ځائے ته مهٔ ځه، د کومو اسبابو نه چې زنا پيدا کيږي، نو هغې اسبابو طرف ته رغبت او ميلان مهٔ کوئ، دومره کلک حکم الله کوي، زنا کول خو ورستو دي، د زنا ځائے ته به هم نهٔ نزدې کيږي؛ ځکه ﴿إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا﴾ (سورة بني إسرائيل: 32) "يقينًا دا ډير د بے حيا کار دے او ډيره ناکاره لار ده".

د مسلمان د شان سره مناسب نهٔ ده، کچرته د مسلمان نه خطايئ سره زنا شوې وي نو الله ته دې توبه اوباسي، او آئنده کښې دې زړه کښې راولې چې زنا د مسلمان شان نهٔ دے، زهٔ مسلمان يم بيا به زنا نهٔ ګُوم، نو کيدے شي چې الله ئې معاف کړي، او کهٔ يَو سړے وائي چې زهٔ زنا نهٔ کوم، او هغه ددې وجې نهٔ کوي چې هغه له زنا نهٔ ميلاويږي نو دا کمال نهٔ دے، او دا د مسلمان شان نهٔ دے.

د مؤمنانو صفت

قرآن کريم کښې الله د عباد الرحمن نښې او صفتونه ذکر کوي، الله فرمائي: ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ﴾.

"زما نيکان بنديګان دا هغه کسان دي چې نهٔ را مدد کوي د الله سره بل حاجت روا".

د الله سره څوک شريک نهٔ پيدا کوي. د "إلٰه" په معنی ډير خلق نهٔ پوهيږي، بعضې خلق وائي دې نيکانو بنديګانو ته خو مونږ "ألٰهه" نهٔ دي وئيلي، مونږ ورته خدايان نهٔ دي وئيلي.

(1) [سورة بني إسرائيل: 32].

شیخ عبد القادر جیلاني ﷫ لیکي:

"كُلُّ مَا تَعْتَمِدُ عَلَيْهِ فَهُوَ إِلٰهُكَ وَكُلُّ شَيْءٍ تَخَافُ مِنْهُ وَتَرْجُوْهُ فَهُوَ إِلٰهُكَ".[1]

" هر هغه شے چې ته پرې اعتماد کوې ستا دا یقین دے چې دے زما نه شر لرې کوې، ماله فائده را رسوې نو هغه ستا إله دے". او هر هغه شے چې ته د هغه نه یره کوې (بغیر د ظاهرې اسبابو نه) دا ستا إله دے، او هر هغه شے چې ته د هغه نه طمع کوې (بغیر د ظاهرې اسبابو) هغه ستا إله دے نو نیکان بندګان اګر چې تا ورته خدایان نۀ دې وئیلې، لیکن ستا د افعالو او کارونو نه او اقوالونو نه معلومیږي چې تا ورته خدایان وئیلي دي؛ ځکه د هغوي په لاس کښې اولاد ورکول نشته، او ته د هغوي نه اولاد غواړې، نو ستا ترې طمع ده، د هغوي پۀ لاس کښې فائده او نقصان نشته. ته ورزې او د هغوي نه سوال کوې، چې ما نه تکلیف لرې کړه، او یره ترې کوې کۀ زۀ ورته خوا ته لاړ نه شم ما ته تکلیف را رسوي. نو د مسلمان صفت دا دے چې د الله سره بل څوک نۀ رامدد کوي.

د مؤمنانو دویم صفت

﴿وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ﴾ "او نۀ وژني هغه نفس چې الله د هغۀ وژل حرام کړي دي مګر پۀ حق باندې". پۀ حق باندې ئې مړۀ کوئ پۀ ناحقه باندې مړک مۀ کوئ. او پۀ حق باندې مړک دا هم دے چې د وادۀ والا کس زنا اوکړي، نو حق دا دے چې هغه رجم کړه.

یَو حدیث کښې راځي نبي ﷺ فرمائي: یَو مسلمان چې د هغۀ په الله باندې ایمان وي او د الله پیغمبر ﷺ باندې ایمان وي، چې ددې خبرې ګواهي ورکوي چې

(1) [الفتح الرباني: 87].

"أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ" ددې مسلمان وژل حرام دي،

د دريو وجونه د مسلمان وژل جائز دي

(1) يَو ددې وجې نه چې يَو سړے د دينِ اسلام نه مرتد شي اسلام ئې راوړے وو، بيا کافر شو، د اسلام دعوت ورته ورکړه، کهٔ اسلام ئې قبول کړو نو خه ده، او کهٔ اسلام ئې قبول نهٔ کړو نو ددې انسان مرګ پهٔ اسلام کښې جائز دے.

(3) دويم ددې وجې نه چې هغهٔ بل مسلمان قتل کړے وي او د هغهٔ بدل کښې دے قتلوې نو ددهٔ مرګ روا دے.

(4) دريم ددې وجې نه د يَو سړي مرګ روا دے چې هغهٔ زنا اوکړه او وادهٔ ئې کړے وو نو هغه به رجم کولے شي، او کهٔ وادهٔ ئې نه وو کړے نو هغه نه به دُورې ورکولے شي.

د دوو کسانو واقعه

دوه کسان راغلل نبي عليه السلام ته وائي زمونږ پهٔ مينځ کښې د الله په کتاب باندې صحيح فيصله اوکړه، نبي عليه السلام ورته اووئيل: خه، هغوي کښې يَو کس اووئيل: د الله پيغمبره فيصله د الله په کتاب باندې اوکړه، ليکن ماله اختيار او اجازت راکړه، چې زهٔ خپله خبره اُوکړم، نبي عليه السلام ورته افرمائيل: خپله خبره اُوکړه، هغه کس ورته اووئيل: زما زوے وو هغهٔ وادهٔ نهٔ وو کړے او ددې سړي سره نوکر وو، کډې او بيزې به ئې څرولې ددې سړي د ښځې سره ئې زنا اُوکړه، نو دهٔ ما ته اووئيل: چې ستا زوې خو داسې کار کړے دے، وائي: ما ورته اووئيل: چې څهٔ به کوو؟ وائي: ده ماته اووئيل: چې ستا زوې به رجم کوو، ځکه تورات کښې دا مسئله وه، وائي: ما ورته اووئيل: کهٔ نه ئې رجم کوو نو بيا به څهٔ کوو، وائي: ما ته ئې اووئيل: چې يَو جينئ او سل کډې راوله، نو خلاص به شي، نو وائي: ما ورته يَو جينئ او سل کډې ورکړې، وائي: بيا ما د علماؤ نه تپوس اُوکړو،

چې دا مسئله څنګه ده؟ وائي: ما ته علماؤ اووئيل: چې ستا زوي باندې يَو جينئ او سل کړې نشته، ستا د زوي دپاره سل دُورې دي، او يَو کال دپاره به ئې د کلي نه اُوباسي، او ددۀ ښځه هغه به رجم کولے شي، ددۀ ښځې زنا کړې وه، نو هغه وادۀ وه، او ستا زوي خو وادۀ نۀ وو کړے، ددۀ ښځه به رجم کولے شي. نبي ﷺ ته ئې اووئيل مونږ تا له راغلې يو تۀ زمونږ فيصله اوکړه، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: زما دې د الله پۀ ذات قسم وي، چې زۀ به ستاسو مينځ کښې د الله پۀ قانون فيصله کوم، او فيصله ئې ورته دا اُوکړه، د هغې هلک پلار ته ئې اووئيل وائي: ستا زوي وادۀ نۀ دے کړے نو پۀ هغه باندې پۀ اسلامي قانون کښې سل دُورې دي، ستا نه چې سل ګډې او يَو جينئ اغستې ده، دا دې تاله واپس درکړې، او ستا زوي له به سل دُورې ورکولے شي، او د يَو کال دپاره به د کلي نه ويستلے شي، او ددې بل سړي دا ښځه به رجم کولے شي، نبي ﷺ سيدنا اُنيس رضي الله عنه ته اووئيل: سحر وختې لاړ شه او ددۀ د ښځې نه اقرار واخله، کۀ ښځې اقرار اوکړو چې آؤ ما ورسره زنا کړې ده نو ښځه به پۀ هغه ځائے رجم کوې، هغه لاړو او هغه ښځه ئې رجم کړه، د الله قانون دے چې مسلمان به پدې دريو کارونو قتلولے شي، يَو چې وادۀ ئې کړے دے او زنا ئې اُوکړه.[1]

د امام شافعي رحمه الله مسلک

هغه وائي: چې کله يَو سړي زنا اُوکړه، او غير شادي شده دے، نو يَو کال دپاره هغه د کلي نه اوباسلے شي، او بهر به اوسيږي، او سل دُوري به هم ورکولے شي.

د امام ابو حنيفه رحمه الله مسلک

هغه وائي: چې نا سل دُورې به ورکولے شي، او د يَو کال دپاره بهر ويستل دا پۀ حد کښې داخل نۀ دي، آؤ کۀ حاکم وقت د مصلحت دپاره دا ښۀ اوګنړل چې دا هلک

(1) [صحيح البخاري: (6827)، سنن أبي داود: (1433)، سنن النسائي: (4511)].

کلي کښې اوسيږي نو ښهٔ نهٔ دے، نو د يَو کال دپاره ئې د کلي نه بهر کړه، خو د هر چا دپاره دا قانون نهٔ دے، او سل دُورې د هر چا دپاره دي.

د مؤمنانو دريم صفت

﴿وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا﴾ "زنا نهٔ کوي چا چې دا کار اُوکړو نو د خپلې گناه سره به ميلاؤ شي".

﴿يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ۞ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا﴾.[1]

دوچند به شي د هغه دپاره عذاب د قيامت په ورځ باندې هميشه دپاره به پدې جهنم کښې ذليله او رسوا پروت وي، چې کله ئې زنا ته جائز وئيلې وي مگر هغه خلق به الله د سزا نه بچ کړي، چې په غلطئ سره ترې زنا اوشوه، توبه ئې ويستله او ايمان ئې راوړو، او د هغې نه بعد ئې خپل عمل برابر کړو، نو الله وائي: زهٔ به ئې معاف کړم نو دا د مسلمان شان نهٔ دے چې هغه به زنا کوي.

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾.[2]

"زنا کار سړے او زنا کاره ښځه اووهئ هر يَو د هغوي نه سل سل دُورې". خو دا هغه وخت کښې چې کله ئې وادهٔ نهٔ وي کړے، او چې وادهٔ ئې کړے وي نو د احاديثو د نبي ﷺ نه ثابت دي چې رسول الله ﷺ، او صحابه کرامو هغه رجم کړي دي.

د زنا باره کښې احاديث

(1) اول روايت

سيدنا ماعز بن مالک ﷺ راغے او رسول الله ﷺ ته وائي: «يَا رَسُوْلَ اللهِ! طَهِّرْنِي» د

(1) [سورة الفرقان: 69-70].

(2) [سورة النور: 2].

اے د الله پیغمبره! ما پاک کړه، نبي ﷺ ترې بل طرف ته مخ واړولو، بیا هغه اووئیل: «یَا رَسُوْلَ اللهِ! طَهِّرْنِيْ» د اے د الله پیغمبره! ما پاک کړه، نبي ﷺ صحابو ته اوفرمائیل: په دۀ څۀ اوشو، نشه ئې کړې ده؟ صحابو ورته اووئیل نشه ئې نه ده کړې، په سوچ باندې خبره کوې، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: ولې څۀ چل دې کړے دے؟ هغه اووئیل: د الله پیغمبره ما زنا کړې ده، په ما د الله قانون جارې کړه، نبي ﷺ صحابو ته اوفرمائیل: دے بوځئ او رجم ئې کړئ، صحابو بوتلو او رجم ئې کړو. او نبي ﷺ چې په قبر مسئله او بیان کولو نو د هغۀ صفت ئې ذکر کړو.

او په دغه روایت کښې راځي نبي ﷺ اوفرمائیل: سیدنا ماعز ﷺ داسې توبه الله ته ویستله کۀ ددۀ دا توبه په تمامه دُنیا کښې خومره ګناهګار دې په هغوي تقسیم شې نو ددې نه هم سیوا کیږي[1]. داسې د اخلاص نه ډکه توبه ئې ویستله.

نو دا د سَل دُررو حکم د هغه چا دپاره دے چې هغه غیر شادي شده وي، او چې شادي شده وي نو د هغۀ دپاره اسلام کښې رجم دے، خو چونکه زمونږ په ملک کښې اسلامي قانون نشته، نو دا اختیار بل چاله نشته چې هغه چاله دُورې ورکړې، یا څوک رجم کړې، دا د اسلامي حاکم کار دے، او کۀ هغه دا کار نۀ کوي نو زما او ستا نه الله دا تپوس نۀ کوي، دا تپوس به د هغۀ نه کوي، چې تا په ملک کښې اسلامي قانون ولې نۀ وو نافذ کړے.

واقعه

یَو زنانه راغله وائي د الله پیغمبره د الله قانون را باندې جارې کړه، ما زنا کړې ده، رسول الله ﷺ هغه رجم کړه.

---

(1) [صحیح المسلم: (1695)].

نو مقصد دا دے چې وادۀ والا دے او زنا ئې اوکړه نو هغه به رجم کولے شي، او غیر وادۀ والا چې دے نو هغۀ له به سَل دُورې ورکولے شي.

د سزا طریقه

﴿وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ﴾.[1]

"اودې نۀ نیسي تاسو لره پدې دواړو باندې نرمي د الله د قانون پۀ جارې کولو کښې". کچرته دې سړي او ښځې له سزا ورکوئ نو دا به نۀ وايئ چې پۀ مزه مزه به ئې اووهو هسې نه چې درد مند شي الله وائي: نا زړۀ به پرې نه سوزوئ مضبوطه او سخته سزا ورله ورکړئ چې بیا زنا نۀ کوي.

دويمه طریقه

﴿وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾.[2]

"حاضر دي شي سزا ددې دواړو ته يَو ډله د مؤمنانو نه". پکار دا دي چې عام اعلان اوکړے شي چې فلانکې سړي او ښځې له سزا ورکولے شي یا رجم کولے شي یا هغوي له دُورې ورکولے شي نو تاسو را جمع شئ، چې د هغوي تماشه اُوکړئ، دا خلق ددې دپاره راجمع کولے شي چې دا خلق د هغوي نه عبرت واخلي چې څوک داسې کار نۀ کوي دا د الله قانون دے.

(2) دويم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «لاَ يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَسْرِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَشْرَبُ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ».[3]

---

(1) [سورة النور: 2].

(2) [سورة النور: 2].

(3) [رواه البخاري: (2475، و5578، و6772، و6782، و6810)].

کوم وخت چې زناکار زنا کوي نو دے مؤمن نهٔ دے، کوم وخت چې يَو سړے غلا کوي نو دے مؤمن نهٔ دے، کوم وخت چې يَو سړے شراب څکي نو دے مؤمن نهٔ دے، پدې وخت کښې دے د ايمان نه پاک دے، دا زنا دومره لويه ګناه ده چې کله ددې ګناه نه واپس شي نو ايمان ورته بيا واپس راشي.

(3) دريم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «إِذَا زَنَى الرَّجُلُ خَرَجَ مِنْهُ الْإِيمَانُ كَانَ عَلَيْهِ كَالظُّلَّةِ، فَإِذَا انْقَطَعَ رَجَعَ إِلَيْهِ الْإِيمَانُ».[1]

کله چې يَو سړے زنا اُوکړي نو د هغهٔ نه ايمان اوځي، دا ايمان د هغهٔ پهٔ سر باندې د يَو چترۍ يا د وريځې پشان وي، کچرې دے د زنا پهٔ حالت کښې مړ شو بے ايمانه مړ شو، او کهٔ دے د زنا نه واپس شو نو ايمان ورته بيا واپس شي.

يَو سوال او د هغې جواب

يَو سړے د زنا پهٔ حالت کښې مړ شو نو هغه باندې جنازه څنګه ده؟

نو علماء کرام ذکر کوي چې تهيک ده، عظيم ګناهګار دے حساب کتاب به ورسره الله کوي، خو ليکن دے د اسلام نه بهر شوے نهٔ دے؛ ځکه مرتکِب د ګناه کبيره د اهل السنت والجماعت مسلک دے چې د اسلام نه بهر کيږي نه، نو لوې ګناهګار دے، الله به ورته سزا ورکوي.

(4) څلورم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ».

درې کسان داسې دي چې نه به ورسره الله خبرې کوي او نهٔ به ورته الله د

---

(1) [رواه أبو داود: (4690)].

رحمت پۀ نظر کورې او نۀ به ئې د ګناهونو نه پاک کړې، او الله به ورته دردناک عذاب اوسزا ورکوې، هغه درې کسان کوم دې؟

(1) یو نبي ﷺ فرمائي: «شَيْخٌ زَانٍ» یا واده کړې زنا کونکې هغه بوډا چې د بوډا والې پۀ حالت کښې زنا کوې، هغه بوډا چې الله له د هغه د سپینې ګیرې نه حیاء ورځې، او دے زنا کوې، او صرف زنا نۀ ده هر بوډا چې د بوډا والې پۀ حالت کښې هره ګناه کوې نو د هغۀ سزا د ځوان نۀ زیاته ده، کۀ بوډا دے او جوارې کوې نو ددۀ سزا د نورو جوار کرو نه زیاته ده، یا دغسې د بوډا والې پۀ حالت کښې غلا کوې، نو ددۀ سزا د نورو غلا کرو نه زیاته ده، پکار ده چې دے خو ځان له مرګ مخې ته کړې.

حدیث کښې راځې نبي ﷺ فرمائي: د هغې انسان عذر د قیامت پۀ ورځ د الله دربار کښې نۀ قبلیږي چې الله ورته شپیتۀ (60) کاله زندګي ورکړې ده، او پۀ شپیتو کالو کښې هم دے سم نۀ دے، نو دے کۀ د قیامت په ورځ عذر پیش کوې چې الله زۀ خبر نۀ ووم، ماته پته نۀ وه، الله به ورته وائي ستا عذر زما دربار کښې قبول نۀ دے.

(2) دویم نبي ﷺ فرمائي: «وَمَلِكٌ كَذَّابٌ» هغه بادشاه چې هغه دروغ وائي، سره د بادشاهت نه دروغ وائي، ددۀ سره به الله نه خبرې کوې، نۀ به ورته د رحمت پۀ نظر کورې، او الله به ورته دردناک عذاب ورکوې.

(3) « وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ» هغه فقیر او غریب چې هغه سره د فقر او غریبۍ نه تکبر کوې، نو ددې انسان سره به الله نۀ خبرې اوکړې، نۀ به ورته د رحمت پۀ نظر اوګورې، او دردناک عذاب به ورکوې.[1]

نو زنا لویه ګناه ده پکار دادې چې هر مسلمان نارینه او زنانه ددې قبیح عمل نه ځان اوساتي.

(1) [رواه مسلم: (107)].

(5) پنځم روایت

مځکښې چې ما کوم آیت لوستے وو ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ﴾

ددې په ضمن کښې مفسرین یو حدیث ذکر کوي، چې یو صحابي راغے او رسول الله ﷺ ته وائي: "أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ؟ قَالَ: «أَنْ تَجْعَلَ لله نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ»" اے د الله پیغمبره په ګناهونو کښې لویه ګناه کومه یوه ده؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمائیل: لویه ګناه دا ده چې ته د الله سره شریک پیدا کړې، او حال دا دے چې ته الله پیدا کړے ئې، رزق الله در کوي، زمکه درته الله پیدا کړې ده، آسمان درته الله پیدا کړے دے ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا﴾.[1]

"دا الله هغه ذات دے چې څومره خیزونه په زمکه کښې دي دا ټول ئې ستاسو د فائدې دپاره پیدا کړې دي". هر څه د الله دي زمکه د الله ده، آسمان د الله دے، حکومت او نظام پرې د الله دے، او د هغې باوجود ته الله پریږدې، او دهغه سره نور برابر وي، نو دا لویه ګناه ده.

بیا هغه صحابي تپوس کوي "ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «وَأَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ تَخَافُ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ»" بیا ددې نه پس لویه ګناه کومه یوه ده؟ نبي عليه السلام اوفرمائیل: دویم نمبر لویه ګناه دا ده چې ته خپل بچي ددې وجې نه وژنې چې صبا به ده له څوک ډوډۍ ورکوي، خپل بچي ددې وجې نه قتل کوې، دا دویمه لویه ګناه ده. الله فرمائي: ﴿وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾.[2]

(1) [سورة البقره: 29].

(2) [رواه أحمد في "مسنده": (23854)].

"داسې يَو زنده سَر پهٔ زمکه کښې نشته مګر پهٔ الله باندې د هغهٔ رزق دے".
څومره مخلوق چې الله پيدا کړے دے ټولو له الله رزق ورکوي، بيا هغه صحابي تپوس اوکړو "ثُمَّ أَيُّ؟ قَالَ: «أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ»" وائي ما اووئيل: ددې نه پس لويه ګناه کومه يَوه ده؟ وائي: نبي ﷺ اوفرمائيل: چې ستا د ګاونډي ښځه ده او تهٔ د هغې سره زنا اوکړې، نو دا لويه ګناه ده.[1]

پکار خو دا وه چې تا د ګاونډي د ښځې خيال ساتلے وے، او تا د ګاونډي ښځې ته د خپلې مور او خور پهٔ نظر کتلے وے.

(6) شپږم روايت

رسول الله ﷺ صحابؤ ته اوفرمائيل: چې اے زما صحابؤ! ستاسو د زنا باره کښې څهٔ خيال دے، چې زنا څنګه کار دے؟ صحابه کرامو ورته اوفرمائيل: زنا حرامه ده، الله حرامه کړې ده، او دا به تر قيامته پورې حرامه وي، چې صحابو دا اووئيل نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: زنا خو حرامه ده، خو ياد ساتئ! کهٔ يَو سړے لَس زناکانې اوکړي، هغه لَس زناکانې دومره ګناه والا نهٔ دي، لکه څومره چې د ګاونډي د ښځې سره زنا ګناه ده، چې بل ځائے زنا اوکړي نو هغه هم ګناه ده، ليکن د ګاونډي د ښځې سره زنا زياته ګناه ده، او ددې وجه دا ده چې د ګاونډي حفاظت په تا باندې لازم دے.[2]

د ګاونډي دَ حق پهٔ باره کښې د نبي ﷺ فرمان

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ».[3]

تر هغې وخته پورې يَو سړے مؤمن نهٔ شي کيدے چې تر څو پورې د هغهٔ

(1) [رواه البخاري: (4477، و6001، و6811، و7532)، ومسلم: 86].

(2) [رواه البخاري في "الأدب المفرد": (121)، ومسلم: (46)].

(3) [رواه البخاري في "الأدب المفرد": (121)، ومسلم: (46)].

ګاونډي د هغهٔ د شر او فساد نه پهٔ امن شوے نهٔ وي.

نن مسلمانان داسې حد له رسيدلې دې چې يَو ګانډې پهٔ بل ګاونډي اعتماد نهٔ کوې، د بهر د خلقو نه نهٔ يريږي او د ګاونډي نه يريږي.

رسول الله ﷺ فرمائي: بهر دي لَس کرتې غلاګانې اُوکړې هغه هم ګناه ده، سړے د ايمان نه خلاصيږي، خو د يَو ګاونډي د کور نه غلا کول دا د لَسو غلاګانو برابر دې، دومره لويه ګناه ده.

ايمان خو ديته وائي چې تهٔ د خپل ګاونډي د ښځې حفاظت اُوکړې، د ګاونډي د مال او عزت خيال اُوساتې، دا د ايمان تقاضا ده.

دا ايمان نهٔ دے چې تهٔ موقع ګورې چې څهٔ وخت به زما ګاونډي د کور نه اُوځي، چې زهٔ ددهٔ مال او کور کښې خيانت اُوکړم.

(7) اُووم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: چې ما پهٔ خوب کښې اوليدل، ... نو ما ډير زيات عذابونه اُوکتل، يَو عذاب مې دا اُوليدو، ما د تنور پهٔ شکل يَو ځائے اوليدو، چې ښکته نه کولاؤ وو، او د پاسه نه ئې خلهٔ تنګه وه، وائي: مونږ هغې ته ورښکاره شو، نو هغهٔ تنور کښې اُور بليدو، او سړي او ښځې پکښې بربنډ کړوړ پراتهٔ وو، دوي ته به د لاندې د اُور لمبې را اُوچتيدلې، دوي به ئې بره سرته راوچت کړل او دوي به چغې وهلې، وائي: ما تپوس اُوکړو چې دا کوم خلق دي؟ نبي عليه السلام وائي ما ته جبرائيل عليه السلام او ميکائيل عليه السلام اوفرمائيل: دا هغه زناکار سړي او زناکارې ښځې دي چې دوي دنيا کښې زناګانې کړې وي، نن څکه الله پدې اُور کښې يَوځائے غورځولې دې.[1] زنا دومره لويه ګناه ده. مسلمانانو له پکار دې چې ددې ګناه نه ځان اُوساتې.

(1) [رواه البخاري: (1386)].

واقعه

امام منذري رحمه الله په "الترغيب والترهيب" کښې يَوه واقعه ذکر کړې ده، استدلال ترې نۀ کيږي، خو هغوي ذکر کړې ده. وائي: بنې اسرائيلو کښې يَو عابد وو، چې هغۀ شپيتۀ (60) کاله د الله عبادت کړے وو او راهب وو، ځان له به ئې کوټه کښې عبادت کولو، بهر به نۀ راووتو، (بنې اسرائيلو کښې ډير لوې عابدان تير شوې دې، د هغوي په دين کښې رهبانيت وو، زمونږ په دين کښې رهبانيت نشته، چې شپه او ورځ کوټه کښې ناست يا، او بهر مۀ را اُوځه، او صرف ذکر و اذکار کوه، داسې رهبانيت نشته، نبي عليه السلام فرمائي: زما د اُمت رهبانيت توره اغستل دې، او ميدانِ جهاد کښې جهاد کول دې)، نو هغه راهب شپه او ورځ عبادت کولو، ډير نيک بنده وو، يَوه ورځ د هغۀ په ذهن کښې راغلل چې باران شوے دے او بهر موسم ډير مزيدار دے، بهر دې چمن کښې به کينم، او د الله ذکر به کوم، هغه راهب د خپلې عبادت خانې نه را اُووتو، او هغه چمن کښې ئې د الله ذکر کولو، د لارې غاړه وه، يَو زنانه پدې لار تيريدله، نو دې راهب او هغې زنانه د يَو بل سره خبرې اُوکړې، خبرې زياتې شوې، تردې چې هغه راهب ددې زنانه سره زنا اُوکړه، هغه راهب پوهه شو، چې دا خو ما يَو لويه ګناه اُوکړه، نو هغه بے هوشه شو، چې کله کوزيدو، نو ځان سره ئې دوه ډوډۍ کوزې کړې وې، دوه ډوډۍ ورسره وې، بے هوشه شو، را اُوغوځيدو، يَو سول کونکے پۀ لاره تيريدو ددۀ نه ئې سوال اُوکړو، دۀ ورته اشارتًا اووئيل: چې نور څۀ شے نشته، دغه ډوډۍ پرتې دې، دا دواړه واخله، هغه سوال کونکے لاړو، او دے مړۀ شو، چې کله مړۀ شو نو الله ورسره حساب کتاب شروع کړو، ددۀ د شپيتو (60) کالو عبادت ئې يَو طرف ته کيښودو او هغه يَوه زنا ئې بل طرف ته کيښوده، د شپيتو کالو هغه عبادت سپک شو، او هغه يَوه زنا پرې درنه شوه، نو تاوانې شو. وائي: چې هغه سائل له ئې دوه ډوډۍ ورکړې وې نو وائي: د

زنا نه ورستو ئې دا ډېر کار د نیکۍ کړے وو، دهغې دوړۍ اجر او ثواب راوړلے شو نو هغه نیکۍ ئې درنې شوې، نو الله معاف کړو، او د هغې په وجه جنت ته لاړو.

نو زنا ډیر قبیح عمل دے. ددې وجې نه علماء ذکر کوې ﴿لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ﴾.(1)

پۀ دې آیت باندې عطاء بن ابي رباح ؒ ذکر کوې چې د جهنم اُووۀ دروازې دي. وائي: پدې ټولو دروازو کښې سخته دروازه او ناکاره دروازه په اعتبار د غم سره، په اعتبار د تکلیف سره، په اعتبار د گرمائش سره، او په اعتبار د بدبوئې سره، هغه دروازه به وي چې پۀ کومه دروازه زناکار سړي او زناکارې ښځې دننه کیږي، چې هغوي د خپل عزت او د بل د عزت خیال نۀ دے ساتلے.

د مکحول دمشقي ؒ قول

د قیامت پۀ ورځ زناکار سړي او زناکارې ښځې به جهنم کښې وي، جهنمیان به تنګ شي چې الله د جهنم د اُور دا سزا خو ډېر طرف ته خو ددې بدبوئې نه تنګ شوې یو، چې دا بدبوئې د کوم ځائے نه راځي، وائي: چې دوئ اوګورې نو دا بدبوئي به د زناکارو سړو او ښځو نه را روانه وي، چې ټول جهنمیان به د هغه بدبوۍ نه تنګ وي.(2)

نو زنا دومره قبیح عمل دے، پۀ تمامو ادیانو کښې دا زنا ډیر ناکاره عمل دے، او پۀ تمامو کارونو کښې شیطان ته خوښ عمل هغه زنا ده.

امام ذهبي ؒ "کتاب الکبائر" کښې لیکي

چې شیطان خپلې لښکرې اولیګې، چې خوارۀ شي او دا خلق ګمراه کړي، نو هغه لښکر کرځي، او خلق ګمراه کوې، زیات خوښ د شیطان هغه اولاد وي، چې هغه خلق زیات ګمراه کوې ډېر راشي هغه ورته وائي: زۀ لاړم د فلانکي سړي پسې اخته

(1) [سورة الحجر: 44].

(2) [کتاب الکبائر: 54].

وو، هغه مې دې ته تيار کړو چې هغه خپلې ښځې له طلاق ورکړوم هغه ورته وائي: تا خو هډو څۀ کار نۀ دے کړے.

بل راشي هغه ورته وائي: زۀ لا ړم تر دې پورې چې د هغۀ او د هغۀ د وروړ پۀ مينځ کښې مې دشمني پيدا کړه، دوئ دواړه مې د يَو بل دشمنۍ ته تيار کړل، شيطان ورته وائي: تا خو هډو څۀ کار نۀ دے کړے، بل شيطان ورته وائي: زۀ د فلانکې سړي سره انختے ووم، تر دې پورې چې هغۀ زنا اوکړه، وائي: "فَيَقُوْلُ إِبْلِيْسُ: نِعْمَ مَا فَعَلْتَ فَيُدْنِيْهِ مِنْهُ وَيَضَعُ التَّاجَ عَلٰى رَأْسِهٖ" شيطان ورته وائي: چې دا تا کوم کار کړے، تا ډير ښۀ کار کړے دے، ستا دا کار مې ډير زيات خوښ دے، ځان سره ئې جوخت کړي، او بيا د شيطانۍ هغه تاج د هغۀ پۀ سر باندې کيدې چې تا ډير ښۀ کار اُوکړو.[1]

فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله ليکي

چې د مونځ وخت شي نو شيطان خپل فوجونه اوليږي، چې خبردار اذان اوشو، مسلمانان به مونځ له ځي، خو چې مونځ له درنه لا ړ نۀ شي، نو دے راشي نو چې کوم سړے مونځ ته نۀ دے تلے، نو د هغۀ پۀ زړۀ کښې د دُنيا عظمت پيدا کړي، ورته وائي: دا کار اُوکړه، نو مونځ ته به لا ړ شے، دا کار اُوکړه، نو پدې چل ئې د جُمعې د مونځ نه حصار کړي، دوکاندار له ورشي، او دغه وخت کښې پرې ګاهک رامات کړي، ورته وائي: ده له سودا ورکړه، دے بل له سودا ورکړه، مونځ ته له وخت شته، چې هغه راځي نو مونځ ترې شوے وي، لاره کوڅه کښې دوه کسان ناست دې نو پۀ هغوي دا کپ شپ دومره مزيدار کړي، چې د هغې په ورجه ئې د جُمعې د مونځ نه پاتې کړي، خو چې مسلمان بنده وي، او د شيطان دا وسوسه اونۀ مني، او جومات ته راشي، نو شيطان

(1) [کتاب الکبائر للذهبي 1: 52].

وریسې هم جومات ته راشي، وائي: بهر رانه خلاص شو نو چې اودس کوې نو په هغې کښې ورته وسوسې اچوې، چې دا اندام دې دوه ځله اووینځلو او دا بل اندام دې یَو ځل اووینځلو نو اودس کښې ورته شک پیدا کړي.

دا وسوسې ورته اچوې چې ددې نه هم بچ شې، نو بیا چې کله په مونځ باندې اودریږي نو بیا ورته وسوسې اچوي، نو ولاړ په مونځ باندې وي، او سوچونه ئې بهر وي، څوک د دوکان سوچ کوي، څوک د پټي سوچ کوي، دا د شیطان هغه وسوسې دي، چې دهٔ ته دا پته هم نهٔ وي، چې ما څو رکعتونه اوکړل؟ او مونځ کښې مې څهٔ اووئیل.[1]

واقعه

یَو سړے وو هغه خیرات کړے وو، خپل نوکر ته ئې اووئیل: جومات ته لاړ شه، او چې څومره مونځ ګزار دي، هغه ټول خیرات له راوله، نوکر جومات ته راغے، جومات د خلقو ډک وو، د جومات دروازه کښې اودریدو، او د یَو یَو کس نه به ئې تپوس کولو چې مونځ دې اُوکړو؟ هغهٔ به وائیل: چې آؤ، وائي: امام صاحب پهٔ مونځ کښې کُوم کُوم سورتونه وئیلې وو؟ هغهٔ به ورته وئیل: زما خو سورتونو ته خیال نهٔ وو، دغسې یَو یَو کس نه به ئې تپوس کولو، پهٔ جومات کښې درې څلور کسان وو چې هغوي ته پته وه چې امام صاحب پهٔ مونځ کښې دا سورتونه وئیلې وو، هغه درې څلور کسان ئې بوتلل، هغه مالک ورته اووئیل: تا څوک خیرات له رانهٔ وستل؟ هغهٔ ورته اووئیل: دا کسان مې راوستل، وائي: جومات کښې نور څوک نهٔ وو؟ هغه نوکر ورته اووئیل: نور خلق وو، خو هغوي هسې راغلې وو، مونځ پکښې صرف دې درې څلورو کسانو کړے وو. نو دا ټولې د شیطان وسوسې دې، ددې پهٔ ذریعې سره انسانان ګمراه کوي.

علماء کرام ذکر کوې چې کله یَو سړے پهٔ پردئ زنانه لاس کیدې، نو دا لاس

---

(1) [تنبیه الغافلین].

کیخودل ورته پهٔ پردئ زنانه جائز نهٔ دي.

دامام ذهبي رحمه الله قول

د کوم انسان چې د پردئ زنانه سره پهٔ غلطئ لاس اولګیدو، د قیامت پهٔ ورځ به راوستے شي، او دواړه لاسونه به ئې د سټ سره تړلے شوي وي، او ټول خلق به ئې پیژني چې دا هغه سړے دے چې پردئ زنانه له ئې پهٔ غلط خیال لاس نزدې کړے وو.

او چې کله یَو سړے پردئ زنانه ښکل کړي نو د قیامت پهٔ ورځ به راشي، او د جهنم پهٔ اُور کښې به ددهٔ نه شونډې کټ کولے شي.[1]

(8) آتم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: غوږونه زنا کوي، د غوږونو زنا دا ده چې د پردو زنانو خبرې پرې اورې، سترګې زنا کوي، د سترګو زنا دا ده، چې پردو زنانو ته پرې ګورې.[2]

پردو زنانو ته کتل حرام دي.

بعضې خلق وائي: زړهٔ صفا ساتل غواړي، نو زړهٔ کهٔ صفا کول غواړې، نو پردو زنانو ته مهٔ ګورئ، ددې سره زړهٔ صفا کیږي او کهٔ یَو سړے پردو ښځو ته ګوري، نو ددهٔ زړه صفا نه دے؛ ځکه دې کښې ګناه ده، زړهٔ هله صفا کیږي، چې کله تهٔ ګناه نهٔ کوې، او چې ګناه کوے نو ددې سره زړهٔ توریږي، د لاسونو زنا دا ده چې سړے خپل لاس پردئ زنانه له یَوسي.

(9) نهم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: د قیامت پهٔ ورځ به یَو سړے راوستے شي، د هغهٔ عورت به پهٔ هغه باندې ګواهي کوي چې دهٔ زنا کړې ده، دے به انکار کوي چې ما زنا نهٔ ده

---

(1) [کتاب الکبائر للذهبي 1: 56].

(2) [رواه البخاري: رقم: (6243)].

کړي، چې کله دے انکار اوکړي، الله به دده په خله باندې مهر اووهي، خله به ئې بنده شي، نو يَو يَو اندام به دده ګواهي کوي. نبي ﷺ فرمائي: دده ژبه به په دۀ باندې ګواهي شروع کړي، چې الله هغه خبرې چې ما له جائز نۀ وي ما هغه خبرې کړے وي، لاسونه به وائي: يا الله هغه شے چې د هغۀ راغستل ما له حرام وو، ما هغه څيزونه راغستي وو، سترګې به وائي: يا الله هغه ځايونه چې هغې له کتل ناروا وو، ما هغې ته کتل وو.

(10) لَسم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ والْمَنْظُورَ إِلَيْهِ».(1)

"الله دې په کتونکي باندې هم لعنت را اوليږلې، او چې کوم انسان له کتلے شي، په هغۀ دې هم الله لعنت رواليږلې".

نو د انسان سترګې د انسان غوږونه د انسان لاسونه د انسان، خپې دا به پدې انسان ګواهي کوي، او کومې ملائکې چې د انسان سره دې، د انسان د حفاظت دپاره د انسان سره ګرځي هغه به ورته وائي: چې يا الله ما اوريدلې دې، چې کله ده دا خبرې کولے، او هغه ملائکې چې ليکل کوي "کرامًا کاتبين" چې د انسان نيک او بد اعمال ليکي، هغه به وائي: يا الله دده دا جُرم او ګناه ما ليکلې ده، نو دده د خلاصيدو ځائے خو نشته، د هر طرف نه ګواهي ده، د ليکلو فرشتې ګواهي کوي، د حفاظت فرشتې ګواهي کوي لاس ګواهي کوي، خپې ګواهي کوي، ژبه او سترګې ګواهي کوي، هر اندام ګواهي کوي، الله به پرې په خپله ګواهي کوي، واه انسانه زۀ په تا پوهه ووم، چې تا دا ګناه کړې وه، ليکن دُنيا کښې ما تا باندې پرده اچولې وه، اوس زۀ په تا نوره پرده نۀ اچوم، اوس به تا له سزا درکوم، الله به فرشتو ته وائي: واه زما ملائکو زما دا بنده اونيسئ، او زما سخته سزا ورته ورکړئ؛ ځکه زما ئې سخت خلاف کړے دے، بيا به

(1) [رواه البيهقي في شعب الإيمان: رقم: (7699)].

الله وائي: زما غصه به هغه چا ډیره سخته وي چې زما نه حیا نۀ کوي.

نن دُور کښې چې انسان اوګورې چې څوک نشته نو هغه وخت کښې زنا کوي، لیکن یَو زناکار دا سوچ نۀ دے کړے چې زۀ هغه ذات نه څنګه پټیدے شم، چې هغه هر وخت ما وینې ﴿لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ﴾.[1]

الله وائي: "ستا د رب نه هیڅ شے نۀ شې پټیدے".

پۀ پټو هم الله پوهیږي په ښکارو هم الله پوهیږي کۀ د شپې یَو ګناه کوې الله ته ئې پته ده، کۀ د ورځې یَو ګناه کوې الله ته ئې پته ده، کوم ځائے چې تاسو ئې الله پۀ تاسو خبردار دے، دومره خبردار او پوهه ذات دے چې الله فرمائي: ﴿وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا﴾.[2]

"کۀ د اُونې نه یَو پانړه غورځیږي الله ته ئې پته ده"، او کۀ زمکه کښې دې دانه اوغورځوله الله ته ئې پته ده، کۀ وچ دې او کۀ لوانده دې، الله ته ئې پته ده. نو ستا ددې زنا او د غلا نه هم خبردار دے، هغې انسان له به الله سخته سزا ورکوي، چې هغه د الله نه حیا نۀ کوي، کامل ایمان خو دیته وائي: چې سړے د خپل ځان نه هم حیا کوي، او چې تۀ د بل نه هم حیا نۀ کوې، نو دا خو هډو ایمان نۀ دے، نو مقصد دا دے چې زنا ګناه کبیره ده. الله دې مونږ ددې ګناه نه بچ کړي. (آمین)

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

(1) [سورة سبا: 3].

(2) [سورة الأنعام: 59].

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ...الخ

(سورة البقرة: 275)

موضوع

سود گناهِ کبیره ده

بمقام جلسۂ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سود ګناه کبیره ده

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لاَ أَوَّلَ لَهٗ وَلاَ آخِرَ لَهٗ لاَ ضِدَّ لَهٗ وَلاَ نِدَّ لَهٗ وَلاَ مُمِدَّ لَهٗ وَلاَ بَشِيْرَ لَهٗ وَلاَ نَذِيْرَ لَهٗ وَلاَ وَزِيْرَ لَهٗ وَلاَ مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلاَنَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ * يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَنَ اللهُ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهٗ، وَشَاهِدَيْهِ، وكَاتِبَهٗ»، وَقَالَ: «هُمْ سَوَاءٌ»،[2] وفِي رِوَايَةٍ: عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: «لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهٗ، وكَاتِبَهٗ، وَشَاهِدَيْهِ»، وَقَالَ: «هُمْ سَوَاءٌ».[3]

زما عزتمندو مسلمانانو ورونړو! ما چې کوم آیاتونه مبارکه اولوستل، پدې آیاتونو کښې الله د سود قباحت ذکر کوې، او چې کوم خلق سود کوې، او سود خورې، د سود لین دین کوې د هغوي حال الله رب العزت ذکر کوې.

---

(1) [سورة البقرة: 275-276].

(2) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (3809)].

(3) [رواه مسلم: رقم: 1597].

﴿الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ﴾

"هغه كسان چې هغوي د سود مال خوري د قيامت په ورځ به پانسې د خپلو قبرونو نه مكر پښان د پاسيدو د هغې سړي چې ګډوډ كړے دے هغه لره شيطان د ليونتوب نه".

يعني سود كونكې خلق كوم خلق چې سود كوي، بعض خلق وائي مونږ سود كوو، خو خورو ئې نه، وائي: د سود پيسې حرام مې دي، مونږ خو حلالې پيسې خورو، حرامې پيسې خو مونږ په حرامو ځايونو كښې لګوو.

د تفسير معالم التنزيل معنىٰ

امام بغوي رحمه الله د ﴿يَأْكُلُونَ الرِّبَا﴾ معنى كوي "يُعَامِلُوْنَ مُعَامَلَةَ الرِّبَا" د سود معامله كوي، د سود لين دين كوي، دَ ﴿يَأْكُلُونَ الرِّبَا﴾ معنىٰ كوي "يَأْخُذُوْنَ الرِّبَا" چې سود اخلي، كه خور ئې او كه نه ئې خوري، خو چې سود كوي نو د قيامت په ورځ چې دا سړے راپاسي نو داسې به راپاسي لكه يَو پيريانے سړے چې پاسي، دے به راغوزيږي، او بيا به اودريږي، دا به ددهٔ نښه وي، خلق به ئې پيژني چې دا سود خور سړے دے.

امام ذهبي رحمه الله ليكلي دي

يَو روايت ذكر كوي، وائي: رسول الله ﷺ فرمائي: زهٔ چې د معراج په شپه لاړم نو ما بعضې خلق اوليدل چې د هغوي خيټې ډيرې زياتې غټې وي، او د هغوي دا خيټې ډيرې درنې وي؛ ځكه حرام مال پكښې پروت وو، نو دوئ به پاسيدل او بيا به پريوتل، او هغه فرعونيان چې سحر او ماښام په هغوي عذاب پيش كيږي، هغوي به پرې د پاسه تلل راتلل، نبي عليه السلام وائي: ما تپوس اوكړو چې دا كوم خلق دے؟ وائي: راته اووئيلے شو چې دا هغه خلق دے چې دنيا كښې د سود مال خوړو.[1]

(1) [كتاب الكبائر للذهبي: 64].

نو دوئ به د ليونو پشان د قبرونو نه پاسي، څنګه چې ليونے پاسي، نو راغورزيږي دغسې به دا سود خور پاسي او راغورزيږي به.

سزا ورته الله ولې ورکوي؟

ددې وجه قرآن ذکر کوي ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا﴾ دا ځکه چې دوي سود خوړو، او دا به ئې وئيل؛ چې سودا کړې هم د سود په شان يَو کار دے. لکه اوس چې خلق وائي: سودا کړې او سود خو يَو شے دے مقصد پيسې ګټل دي، نو سود هم يَو کټه ده، الله وائي: نه يَو شے چرته دے؟

الله سودا کړې حلاله کړې ده، او سود ئې حرام کړے دے. دواړه يَو شے نۀ دے، خو پدې هغه سړے پوهيږي چې هغه مسلمان وي، چې يَو سړي کښې ايمان نۀ وي نو هغه د حلالو او حرامو تميز نۀ کوي، هغه وائي کټه پکار ده کۀ حرامه وي او کۀ حلاله وي.

د حرام مال باره کښې د نبي ﷺ فرمان

رسول الله ﷺ فرمائي: «من لم يبال من أين اكتسب المال لم يبال الله من أي باب أدخلهُ النّار».[1]

"کوم خلق چې دا پروا نۀ ساتي چې حلالې پيسې ئې اوګټلې او کۀ حرامې خو را جمع کوې ئې، نو نبي ﷺ فرمائي: د قيامت په ورځ به الله دا پروا نۀ ساتي چې د کومې دروازې د جهنم نه ئې جهنم ته اوغورځوي، نو غورځوي به ئې".

د مسلمان شان دا دے چې دے به د حلالو او حرامو تميز کوي.

اوس يَو سړے خبر شو، چې سود دومره لويه ګناه ده، او ما سود کړے دے، نو دے بۀ څۀ کوي؟ نو الله فرمائي: ﴿فَمَن جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىٰ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ﴾

(1) [كتاب الكبائر للذهبي: 119، طبع دار الندوة الجديدة - بيروت].

كوم سړے چې هغهٔ ته نصيحت راغے پوهه ورته راغله، مسئله ئې واوريده، د هغې نه پس ئې سود پرېخودو، نو کوم سود چې دهٔ مخکښې کړے وو هغه به ورته الله تعالى معاف کړي، خو بيا به سود نهٔ کوي.

توبې نه پس بيا سود کول

﴿وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾ کوم سړے چې دوباره سود ته را وګرځيدو، پته ورته اولګيده، د هغې نه بعد هم سود کوي. نن اکثر خلق وائي: دا مُليان هسې د ورې خبرې نه لويه خبره جوړوي، دوي هسې خلق يَروي، او بيا دے پدې خپل سود کښې مبتلا دے، او دا ئې خيال دے چې دا ګناه نهٔ ده، جائز ورته وائي، او دا ځکه وايو، کهٔ يَو سړے سود کوي، خو جائز ورته نهٔ وائي، ګناهګار دے، خو کافر نهٔ دے، ځکه کافر به هميشه دپاره جهنم کښې وي، نو چې جائز ورته اووئ نو دا سود والا جهنميان دي، او دوي به هميشه پهٔ جهنم کښې پراتهٔ وي، ددې نه مراد هغه سود خوارهٔ دي، چې سو کوي او سود ته حلال وائي، او کله چې يَو سړے حلال څيز ته حرام اووائي، يا حرام څيز ته حلال اووائي نو سړے کافر کيږي، نو سود قطعًا حرام دے. قرآن کريم او د احاديثو نه ددې حرمت ثابت دے، او نن اکثر مسلمانان پدې کښې مبتلا دي.

سود خور باندې پنځهٔ دفعې

قرآن کريم په سود خور باندې پنځهٔ دفعې لګوي.

(1) اوله دفع: الله فرمائي: ﴿لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ﴾ "سود خوارهٔ خلق به د قيامت پهٔ ورځ د قبرونو نه راپاسي نو داسې به راپاسي لکه يَو سړے چې ليونے دے"، کله يو ځائے غوزيږي او کله بل ځائے غورزيږي، دغسې به دا سود خور کله کينې او کله به پاسي.

(2) دويمه دفع: دا سود خوارهٔ خلق جهنميان دي، دوي به هميشه دپاره جهنم کښې

پراتهٔ وي، چې سود ته حلال وائي.

(3) دریمه دفع: الله فرمائي: ﴿وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ﴾ الله مینه نهٔ ساتې د هر کافر سره کله چې دے سود ته حلال وائي، نو دے کافر شو، او الله د کافرانو سره مینه نهٔ ساتي.

(4) څلورمه دفع: الله رب العزت فرمائي: ﴿أَثِيمٍ﴾ دا لوی گناهکار دے، چې سود کوي.

(5) پنځمهٔ دفع: الله رب العزت فرمائي: ﴿فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾.[1]

الله فرمائي: "سود کونکو خلقو که تاسو د سود نه منع نهٔ شوئ نو بیا د الله او د الله د پیغمبر ﷺ مقابلې ته تیار شئ". بیا د الله سره جنگ اوکړئ. سود خوارهٔ د الله دشمنان دي، الله دوي سره د جنگ اعلان کړے دے، دومره لويه گناه دے.

قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾[2]

"اے مؤمنانو! مهٔ خورئ مال د سود لره دوچند پهٔ دوچند کیدلو ډیرو باندې، د الله نه ویریږئ ددې دپاره چې تاسو کامیاب شئ".

(1) اول روایت

سیدنا عبد الله بن عباس ﷺ ذکر کوې چې د قیامت په ورځ به الله سود خورو خلقو ته وائي: چې واه سود خورو خلقو پاسئ "خُذْ سَلَاحَكَ لِلْحَرْبِ".[3]

"خپله اسحله را واخله او زما سره اوجنگیږه". نو د الله سره څوک جنگ نهٔ شي کولے، نو سود خور د الله دشمن دے.

(1) [سورة البقرة: 279].

(2) [سورة آل عمران: 130].

(3) [تفسير البغوي تحت آية سورة البقرة 279].

د سود تعریف

په لغت کښې "ربوا" سود زیادت ته وائي.

شریعت کښې د سود تعریف

چې یَو سړے یَو مسلمان له قرض ورکړي، او بیا په هغې باندې د هغهٔ نه سیوا مال غواړي، نو دیته سود وائي.

سود په شریعت کښې په دوه قسمه دے: (1) یَو سود دا دے چې یَو سړي له دې قرض شے ورکړے دے او ورته دې وئیلې دې چې کهٔ دومره ورځو کښې دې ماله دا پیسې واپس نهٔ کړې، بیا به درنه دومره غواړم، دومره سود به ورېسې راکوې، دا په قرض کښې سود دے. (2) دویم سود لاس په لاس دے، او هغهٔ نبي ﷺ شپږ څیزونه ښودلي دي، مثلاً یَو سړے دے سرهٔ زر په سرو زرو بدلوي، کچرې دا سرهٔ په سرهٔ وي او په یَو وخت کښې وي، چې دا راکړه او دا واخله نو صحیح دہ، او کهٔ نه سرهٔ زر په سرو بدلوي کهٔ لږ کمے پکښې هم وي نو دا هم سود دے. سرهٔ په سرو زرو باندې بدلوي، یَو ته وائي چې تهٔ نن راکړه، او زهٔ بهٔ صبا درکړم، دا سود دے.

نبي ﷺ شپږ څیزونه ښودلي دي

«الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ، وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ، مِثْلًا بِمِثْلٍ، يَدًا بِيَدٍ، فَمَنْ زَادَ، أَوِ اسْتَزَادَ، فَقَدْ أَرْبَى، الْآخِذُ وَالْمُعْطِي فِيهِ سَوَاءٌ».[1]

سرهٔ په سرو باندې بدلوئ نو برابر برابر به ورکوې، کهٔ کم او زیات وي نو سود دے، او کهٔ نقد نقد ورکوې کهٔ یَو تن نن ورکوي او بل بله ورځ ورکوي، نو سود دے،

(1) [رواه مسلم: رقم: (1584)].

سپین زر په سپینو زرو بدلوې نو برابر برابر به وي، که کم او زيات وي نو سود دے، غنم په غنمو بدلوئ چې کله پکښې زيادت وي، نو سود دے.

اوس که يو سړے وائي: چې د يو سړي غنم ښه دي، او د بل بيکاره دي، نو دا خو ضرورې خبره ده، چې هغه ښه گران دي، او هغه بيکاره ارزان دي، نو دا يو سړے به زيات ورکوي، دا سړے به دا خپل غنم په پيسو باندې خرڅ کړي نو د هغه بل سړي نه به په پيسو باندې غنم واخلي، د دوو کسانو غنم شوې دي، خو د يو سړي غنم ښه دي، او د بل سړي غنم بيکاره دي، دواړه د يو بل سره غنم بدلوي نو دا به سر په سر بدلوي، او چې دا بدلوي، نو لاس په لاس به بدلوي، کچرې داسې کوي چې ته ماله نن غنم راکړه، او زه به درله مياشت پس درکړم، نو دا هم سود دے، او کچرې داسې کوي چې زما غنم گنده دي، نو ته وريسې ماله دوه سيره سيوا راکړه، نو دا هم سود دے.

(2) دويم روايت

رسول الله ﷺ ته يو صحابي د خيبر کجورې راوړې او هغه ډيرې گره او مزيدارې کجورې وي، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: ستاسو د علاقې (يعني د خيبر) تولې کجورې داسې دي؟ هغه ورته اووئيل: نا د الله پيغمبره تولې کجورې داسې نه دي، دا پکښې اعلیٰ کجورې دي، مونږه دا اصلي کجورې يو صاع واخلو، او هغه بے کاره پرې دوه صاعه ورکوو، نبي ﷺ ورته اووئيل: داسې مه کوئ تاسو داسې کوئ چې دا بے کاره کجورې په پيسو باندې خرڅوئ او بيا پرې هغه ښې کجورې اخلئ، او که داسې ئې بدلوئ نو بيا به يو برابر بدلوئ.[1]

مسئله

اکثر زميندارانو داسې کوي، چې د يو زميندار غنم دي، او بل زميندار سره غنم ختم شوې دي، نو هغه يو ورته وائي: ماله غنم راکړه، چې زما غنم راورسي نو زه به تاله

(1) [رواه البخاري: رقم: (2201)، ومسلم: رقم: (1593)].

غنم درکړم، دا جائز دي. ددې بدلول مقصد نهٔ دے، دا سړے ئې خرڅوي نهٔ، کهٔ خرڅولے نو پهٔ دوکاندار به ئې خرڅ کړې وے، ددې سړي مطلب دا دے چې دې سړي له زهٔ قرض ورکوم، لکه څنګه چې پیسې ورکولے شې، دغسې غنم قرض ورکولے شې، اګر چې دا اختلافي مسئله ده، خو احسن الفتاوٰی لیکلي دي چې دا جائز دي.

داسې قرض جائز دے، چې یَو سړے بل له غنم ورکړي، چې دا غنم واخله او چې ستا غنم را ورسې نو بیا به ماله غنم راکړې، نو دا جائز دي.

دا رنګه اوربشې دي، نو کهٔ د یَو سړي اوربشې ښې دې او د بل بیکاره دي، نو برابر به ئې بدلوې، کهٔ نهٔ وي نو سود دے. او لاس پهٔ لاس به ئې ورکوې، او کهٔ لاس پهٔ لاس ئې نهٔ ورکوې، نو سود دے.

«وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ» کجورې چې بدلوئ نو یَو برابر به ئې بدلوئ، مالګه چې بدلوئ نو پهٔ مالګه به ئې بدلوې، کهٔ څهٔ کمه وي او څهٔ زیاته وي، نو بیا به هم سود دے.

مسئله

ګاونډیان د یَو بل نه پهٔ لوښو باندې څهٔ شے اوړي، زنانه چې مالګه ورکره ختمه شي، نو لوښي ورکړي، وائي: دې کښې مونږ له مالګه راکړئ، اوړهٔ هم د یَو بل نه پهٔ لوښې باندې راوړي، نو پهٔ دې کښې دواړه خبرې راتلے شې، قرض پکښې هم راغے، مثال یَو زنانه نن مالګه ورکړي، او هغه بله زنانه دوه ورځې پس مالګه ورکړي، نو پدې کښې خو قرض راغے، دا رنګه څهٔ لږ زیاتے پکښې هم راغے یا به پکښې کمے هم راغلے وي، نو د عُرف د وجې نه دا شے جائز دے. رسول الله ﷺ دیته جائز وئیلې دې.

دا رنګه اکثر زنانه ډوډئ د یَو بل نه اوړي، وائي: مونږ کره میلمانهٔ راغلي دي، تاسو له به بیا ډوډئ درکړو، نو هغوي ورله ډوډئ ورکړي، نو دا جائز دي، نو دا څیزونه

جائز دي، ددې نه ماسيوا لوې لوې سوداګانې جائز نهٔ دي.

نبي ﷺ فرمائي: چې کله سړے داسې څيزونه بدلوي، نو دوه څيزونه پکښې لازمي دي، يَو برابر به وي، سودا به لاس پهٔ لاس وي، دا واخله او دا راکړه، کهٔ قرض پکښې راولي نو هم سود دے، او کهٔ زياتوالے پکښې راولي نو هم سود دے.

سود اغستونکے او ورکونکے دواړه ګناهګار دي، خو پهٔ يَو صورت کښې سود ورکونکے ګناهګار نهٔ دے، دا پهٔ هغه وخت کښې چې د هغهٔ ضرورت دے، او هغه ته بغير د سود نه پيسې نهٔ ميلاويږي، نو بيا هغه ګناهګار نهٔ دے، خو هغه ضرورت چې شرعي ضرورت وي، دا نهٔ چې دے پرې دوکانونه چلوي، يا پرې نور کاروبار کوي، او دے وائي: چې زما ضرورت دے، نو دا ضرورت نهٔ دے، ضرورت دا دے چې تهٔ بيمار ئې، او هسپتال کښې دې مريض پروت دے، او څوک درته قرض نهٔ درکوي، نو سود باندې پيسې را واخله، تهٔ نهٔ ئې ګنانګار، او چې څوک سود اخلي نو هغه ګناهګار دے، ضرورت دا دے چې تهٔ بالکل د لوږې مړهٔ کيږې، او نور څهٔ انتظام دې نهٔ وي، نو چا نه په سود پيسې را واخله، بيا ورته ورکړه، تهٔ ګناهګار نهٔ ئې، او هغه بل سړے ګنانګار دے.

او کوم چې زمونږ خلق وائي: چې زما ضرورت دے، زهٔ پرې ځان له کاروبار چلوم، داسې کاروبار کول يا د بينک نه پيسې را ويستل، دا قطعًا حرام دي. (فتاوى رحيميه)

(3) دريم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَكَاتِبَهُ، وَشَاهِدَيْهِ»، وَقَالَ: «هُمْ سَوَاءٌ».[1]

نبي ﷺ لعنت وئيلے دے د سود پهٔ لين دين کونکې باندې، کوم سړے چې د

[1] [رواه مسلم: رقم: 1597].

سود کار کوي، سودي معامله کوي، او کوم سړے چې د سود مال خوري، په سود خوړونکي باندې هم نبي ﷺ لعنت وئيلے دے.

او د سود په ليکونکي باندې هم، نبي ﷺ لعنت وئيلے دے، يعني چې دوه کسان سود کوي، نو ته به د هغوي کهاته نه ليکې؛ ځکه ته ورسره هم په ګناه کښې برابر ئې، او کوم خلق چې ددې ګواهان دي، نو هغوي هم پدې ګناه کښې برابر دي، او نبي ﷺ فرمائي: دا ټول هم پدې ګناه کښې يَو برابر دي.

دا خبره ياد اُوساتئ! چې کوم خلق د سود کاروبار کوي او د سود معامله کوي، نو هغوي سره به ليکل نه کوئ، هغوي سره به مُنشي توب نه کوئ؛ ځکه قرآن کښې الله فرمائي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾.[1]

"امداد اوکړئ د يَو بل سره په نيکئ او پرهيزګارئ باندې، يَو بل سره به په ګناه او زياتې باندې امداد مه کوئ، د ګناه په کار کښې به د يَو مسلمان سره امداد نه کوې".

او کچرې تا د ګناه په کار کښې د يَو مسلمان سره امداد اُوکړو، نو نبي ﷺ فرمائي: ته او هغه دواړه په دې ګناه کښې يَو برابر يئ.

ددې وجې نه علماء کرام ذکر کوي: چې په بينک کښې نوکرې کول دا هم ګناه ده؛ ځکه چې دے د سود کونکو خلقو معامله ليکي، او دے په هغې باندې تنخواه اخلي، نو دا حرامه ده، دغه شان بينک کښې خپلې پيسې کيخودل دا هم ګناه ده.

(4) څلورم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: د اووه (7) هغه څيزونو نه ځان بچ کړئ چې هغه سړے تباه کوي، صحابه کرامو اوفرمائيل: چې د الله پيغمبره هغه اووه (7) څيزونه څه دي؟

---

(1) [سورة المائدة: 2].

(1) يو «الشرْكُ بِاللهِ» د الله سره شرک کول دي، په ذات کښې يا په صفاتو کښې، دا د انسان د هلاکت لوې سبب دے.

(2) دويم نبي ﷺ فرمائي: «وَالسِّحْرُ» جادو او منتر کول دي، ددې سره سړے د هلاکت والا جوړيږي، او ددې سره سړے د ايمان نه خلاصيږي، چې کله پکښې شرکي الفاظ وي.

(3) دريم «وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالحَقِّ» هغه مسلمان وژل چې الله د هغه مرګ ناجائز کړے دے، مګر په حق باندې دهغه مرګ جائز دے، نبي ﷺ فرمائي: چې توله دنيا ورانه کړې، الله دومره نه غصه کيږي، لکه څومره چې الله د مسلمان په وژلو خفه کيږي.

(4) څلورم د هلاکت سبب «وَأَكْلُ الرِّبَا» د سود مال خوړل د سود لين دين کول د سود معامله کول دا سبب د هلاکت دے.

(5) پنځم «وَأَكْلُ مَالِ اليَتِيم» د يتيم مال خوړل دا سبب د هلاکت دے، او سخته سزا ئې ده، الله فرمائي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾[1]

"يقينًا هغه کسان چې هغوي د يتيمانانو مال په ظلم او زياتي باندې خوري، نو الله وائي: دوي خيټه کښې اُور واچولو"، د قيامت په ورځ به د داسې سړي د خُلې نه او سترګو نه او غوږونو نه د اُور لمبې خيژي.

(6) «وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ» ميدانِ جهاد کښې مسلمانان او کافران جنګيږي او دغه وخت کښې چې کوم سړے وتختيدو، دا سړے غټ ګناهګار دے، لويه ګناه ئې

---

(1) [سورة النساء: 15].

اوکړه، يَو مسلمان کۀ د دوو کافرانو نه وتختيدو نو دا سړے کۀ مړۀ شو يا واپس شو دا سړے پۀ غضب اخته شو ﴿وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾[1]

چې کوم سړے د دشمن نه وتختيدو، کافر ته ئې شا کړه (دوه شرطونو جائز دي) يا خپلې ډلې ته را وتختيدو يا ئې چل ول کولو، چې زۀ به لږه منډه اووهم او دے به ماپسې را بهر شي نو زۀ به وريسې واپس شم، هلته به ئې قتل کړم، چل ول نا جائز دے خو پۀ جنګ کښې جائز دے «اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ»[2] جنګ ټول پۀ چل ول کيږي.

بعض ناجائز څيزونه پۀ بعضې وخت کښې جائز وي، تکبر ناجائز او حرام دے، ليکن مجاهد دې بنۀ تکبر کښې جهاد له ځي، خو مسلمانانو له به ځان کښې تکبر نۀ راولي، کافرانو له به ځان کښې تکبر راولي، چې کافرانو باندې ددۀ رعب او دبدبه وي.

لکه صحابه چې د مدينې نه راغلل نو کافرانو اووئيل: دا صحابه دوي مونږ سره جنګ نۀ شي کولے، نو الله نبي ﷺ ته اووئيل: چې کله تاسو د بيت الله شريف نه طواف کوئ نو تاسو پکښې بنه پهلواني کوئ، حالانکه هغه خو د عاجزئ ځائے دے، خو چې مقابل او دشمن باندې رعب راولے، نو بيا پکښې پهلواني اوکړه، چې دشمن باندې رعب راشي، نو يَو مسلمان به د دوو کافرانو نه نۀ تختي.

(7) اووم نبي ﷺ فرمائي: «وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلاَتِ» پۀ پاکدامنو زنانو باندې بدنامه لګول، الزام لګول چې دوي زنا کړې ده، دوي غلا کړې ده، نو دا ګناه کبيره ده.[3]

---

(1) [سورة الأنفال: 16].

(2) [رواه البخاري: رقم: (3029)].

(3) [رواه البخاري: رقم: (2766)].

دا اووۀ (7) څيزونه د انسان د هلاکت دپاره لوې څيزونه دې، پدې اووۀ (7) څيزونو کښې يَو سود کول وو، سود کول دا ګناه کبيره ده.

(5) پنځم روايت

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: «بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ يَظْهر الرِّبَا وَالزِّنَا وَالْخَمرُ».[1]

کله چې قيامت نزدې شي، دغه وخت کښې به خلقو کښې سود زيات شي، خلقو کښې به زنا زياته شي، او شراب څکل به عام شي. دا د قيامت نښې دې.

(6) شپږم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «الرِّبَا ثَلاَث وَسَبْعُونَ بَابا أيسرها مثل أن يَنْكح الرجل أُمّه».[2]

رسول الله ﷺ فرمائي: "د سود درې اويا ګناهونه دۀ درې اويا حصې دې، وړه ګناه ئې دومره ده لکه يَو سړے چې د خپلې مور سره نکاح اوکړي".

نو کۀ يَو سړے د مور سره نکاح اوکړي، نو خلق ورته پۀ بد نظر ګوري، خو چې يَو سړے سود کوي، نو هغه ته هيڅا پۀ بد نظر اُونۀ کتل، يا خو د نبي ﷺ پدې خبرو زمونږ يقين نشته، يا دا د قيامت هغه نښې دې.

نن مسلمانان سود کوي، او ديته ګناه نۀ وائي، مسلمان خو ديته وائي: چې دے به د الله او د الله د پيغمبر تابعدار وي.

نو نبي ﷺ فرمائي: د سود وړه ګناه دومره ده لکه سړے چې د خپلې مور سره نکاح اوکړي، نو کۀ يَو سړے د خپلې مور سره نکاح اوکړي نو هر سړے ورته کنځلې کوي، حالانکه شريعت کښې دا دې چې کوم سړے د خپلې مور سره نکاح اُوکړي،

(1) [رواه الترغيب والترهيب: رقم: (2860)].

(2) [رواه الترغيب والترهيب: رقم: (2845)].

نو نبي ﷺ صحابي لیږلے دے، چې ورشهٔ ماله دِ هغهٔ سَر راوړه سَر ترې کټ کړه.

سود خور سود کوي، د سود معامله کوي، او معاشره کښې د هغهٔ ښهٔ عزت دے. هڅو څوک پروا نهٔ کوي، بلکه خلق د هغهٔ صفتونه کوي چې دا ډېر ښهٔ سړے دے، نو چې سود کوي نو دهٔ کښې څهٔ ښهٔ پاتې شول؟ نن به داسې کم خلق وي چې هغوي به د سود نه بچ وي، څوک پهٔ یَو طریقه او څوک په بله طریقه د سود مال حاصلوي.

(7) اووم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا أَكِلُ الرِّبَا، فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ».[1]

داسې وخت به راشي چې هیڅوک به داسې پاتې نهٔ شي مګر هغه به سود خوړلے وي، او کهٔ چا نهٔ وي خوړلے یا به هغهٔ ته ګردِ غبار رسیدلے وي، ددې اثرات به ورته خامخا رسیدلې وي.

مثال زهٔ سود نهٔ کوم، او تهٔ سود کوې، او زهٔ تا سره لاړم شم ستا دا کهاته مې ولیکله، زهٔ تا سره پدې ګناه کښې شریک شوم، یا تا سره لاړم او شهادت مې درسره اُوکړو، نو زهٔ سود نهٔ کوم خو تا سره دې ګناه کښې شریک شوم.

علماء لیکلې دي کهٔ یَو سړے سود نهٔ کوي، خو دے به د چا میمله شوے وي، نو دهٔ له د سود هغه ګرد غبار وررسیدو، د حرام خور مال خوړل دا هم ګناه، د غریب دپاره جائز دي، مالدار سړے به د سود مال نهٔ خوري، او کهٔ غریب باندې د سود مال خوري د ثواب پهٔ نیت به پرې نهٔ خوري، ستا به دا خیال وي چې دا یَو پلیت مال دے، چې زهٔ ترې خلاص شم، نو مسلمانانو له پکار دي چې د سود معاملې ختمې کړي.

(1) [رواه أبو داود: رقم: (3331)].

(8) آتم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «دِرْهَمٌ رِبَا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ، أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً».[1]

د سود يَوه روپۍ چې سړے خوري، او ورته پته ده چې دا د سود روپۍ ده، نو نبي ﷺ فرمائي: دا يَوه روپۍ د سود د شپږو ديرشو زناګانو نه زياته ګناه ده.

نو سود دومره لويه ګناه ده، لکه چې شپږ ديرش زناګانې دي اُوکړي، نو زمونږ معاشره کښې چې يَو سړے زنا اُوکړي، نو هغه بد نام وي، او کۀ يَو سړے سود کوي نو هغۀ نه څوک نفرت نۀ کوي، او څوک ورته بد نۀ ګوري.

زمونږ په ملک کښې په حکومت کښې دا قانون شته چې کۀ يَو سړے زنا اُوکړي، نو د هغۀ دپاره سزا شته، کۀ ښځه او سړے زنا اُوکړي، نو د ښځې دپاره سزا شته، او کۀ يَو سړے سود اُوکړي نو نۀ ورته حکومت څۀ وائي، او نۀ ورته معاشره کښې څوک بد ګوري، بلکه حکومت د هغوي دپاره داسې طريقې را اوباسې چې دا خلق پۀ سود کښې مبتلا شي.

مسئله زده کول او پۀ هغې عمل کول

رسول الله ﷺ فرمائي: کومه خبره دې واورديده د قيامت پۀ ورځ به درنه الله تپوس کوي، چې تا پدې څومره عمل کړے وو؟ دا نۀ چې الله دې د عمل کولو توفيق راکړي، د نن زمانې خلقو آسان چل موندلے دے، چې تۀ ورته اووائې چې ګناه مۀ کوه، نو دے وائي: الله دې د عمل کولو توفيق راکړي.

مسلمان چاته وائي؟

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ

---

(1) [رواه أحمد: رقم: (21957)].

﴿يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾[1]

"د مسلمان سړي او مسلماني ښځې دپاره جائز نۀ دي، چې کله الله او پيغمبر د الله د يَو کار فيصله اُوکړي، چې دے پکښې بيا خپل اختيارات چلوي".

نن کۀ مسلمان ته اووائي چې سود مۀ کوه، وائي: الله دې راله څۀ لار کولاؤ کړي، وائي: الله مو ددې ضلالت نه خلاص کړي، زۀ کله کله وايم دا خلق د عمل توفيق غواړي، نو دا عمل څۀ شے دے؟ ددې خلقو دا خيال دے چې دا عمل څۀ ځناور دے، او دا به خلقو باندې راځي، نو هله به عمل کوي، خو دغه عمل دے چې تا يَو مسئله واوريده، چې دا ګناه ده، نو د هغې نه توبه اُوباسه دا عمل دے، کۀ ورته وائي: چې ګيره مۀ خروه، دا د نبي ﷺ د سنتو خلاف دي، وائي: الله دي راله توفيق راکړي، نو توفيق ئې درله در کړے دے، عقل ئې درله در کړے دے، او دا ئې درته وئيلي دي، چې دا زما د نبي ﷺ د سنتو مخالفت دے، او چې تۀ د عمل توفيق غواړې، نو قبر کښې خو د عمل توفيق نۀ نصيب کيږي، دا ژوند چې الله در کړے دے، خو ددې دپاره ئې در کړے دے چې دا د الله او د نبي ﷺ د طريقې مطابق تير کړه.

(9) نهم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «أَرْبَعٌ حَقٌّ عَلَى اللهِ أَنْ لَا يُدْخِلَهُمَ الجَنَّةَ، وَلَا يُذِيقَهُمْ نَعِيمَهَا»

څلور کسان دي، الله وائي: ما باندې لازم دي، چې دوي به زۀ جنت ته نۀ داخلوم، او نۀ به ورته الله د جنت نعمتونه اوڅکوي.

(1) يَو «مُدْمِنُ الخَمْرِ» يَو هغه کس دے، چې هغه هميشه دپاره شراب څکي،

---

(1) [سورة الأحزاب: 36].

داسې سړي به الله چرې هم جنت ته داخل نهٔ کړي، په اول ځل باندې، اول به سخته سزا ورکوي، د هغې نه پس به ئې جنت ته داخلوي. او نبي ﷺ فرمائي: چا چې دُنيا کښې شراب اُوڅکل، الله به پرې د جنت شراب نهٔ څکي.

(2) دويم «وَآكِلُ الرِّبَا» د سود مال خوړونکے د سود معامله کونکے، داسې سړے به الله جنت ته نهٔ داخلوي، الله به ورته د جنت نعمتونه او مزې نهٔ ښائي.

(3) دريم «وَآكِلُ مالِ اليتيمِ بِغَيْرِ حَقٍّ» هغه سړے به الله جنت ته نهٔ داخلوي، چې هغه د يتيم مال خوړونکے وي، پهٔ ناجائز طريقې باندې.

(4) څلورم «وَالْعاقُّ لِوَالِدَيْهِ» هغه سړے به الله جنت ته نهٔ داخلوي، چې هغه د مور پلار نافرمان وي، کچرې توبه ئې ويستله، نو الله به ئې جنت ته داخل کړي.[1]

(10) لَسم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: زهٔ چې کله معراج ته لاړم نو زهٔ د څهٔ خلقو پهٔ خوا تير شوم، چې يَو سړے پهٔ نِهر کښې لامبې، او بل سړے ورسره ولاړ دے، او هغه نِهر داسې دے، چې تکې سرې وينې دې، نو دا يَو سړے لامبو وهي، چې کله ستړے شي، اړخ ته شي، پدې اړخ يَو سړے ولاړ دے، چې هغهٔ سره د ګټو ډيرے لګيدلے دے، دا ګټه را واخلي، او ددې بل سړي خُلهٔ پرې اُولي، نو هغه بيا پدې نِهر کښې واپس شي، چې کله ډير ستړے شي، نو بيا اړخ ته راشي، نو بيا ئې هغه سړے پهٔ خُلهٔ باندې اُولي، پهٔ دې عذاب کښې مبتلا وو، نبي ﷺ فرمائي: ما تپوس اُوکړو، چې دا کوم خلق دے؟ وائي: ما ته ئې اووئيل: چې دا هغه خلق دے چې دُنيا کښې ئې سود خوړو.[2]

---

(1) [رواه الترغيب والترهيب: رقم: (2844)].

(2) [رواه البخاري: رقم: (1386)].

(11) يَوَلَسم روايت

نبي ﷺ فرمائي: زۀ چې کله معراج له لاړم نو ما څۀ خلق اُوليدل، چې د هغوي غټې غټې خيټې وي، او هغې کښې دننه ماران پراتۀ وو، او د خيټې هغه پوستکے دومره نرے وو، چې هغه ماران پکښې د بَهر نه ښکاريدل، او داسې خيټې وي، لکه د کوټو پشان، نبي ﷺ فرمائي: ما تپوس اُوکړو، چې دا کوم خلق دے، وائي: ما ته جبرائيل ﷺ اوفرمائيل: چې دا هغه سود خوراۀ خلق دي، چې دُنيا کښې سود کولو، نن د دوي دا سزا ده.[1]

دَ سيدنا عمر ﷺ قول

«تَرَكْنَا تِسْعَةَ أَعْشَارِ الْحَلَالِ مَخَافَةَ الرِّبَا».[2]

سيدنا عمر ﷺ فرمائي: "مونږه پۀ دُنيا کښې نهۀ حصې کاروبار ددې وجې پريخودے دے، چې سود کښې واقع نۀ شو".

د سيدنا عبد الله ﷺ دغسې قول

چې مونږه نهۀ حصې کاروبار ددې وجې نه پريخودے وو، چې هسې نه سود کښې واقع شو.

د سيدنا علي ﷺ قول

سيدنا علي ﷺ فرمائي: چې کوم سړے پۀ دين نۀ پوهيږي، او تجارت کوي، دا سړے پۀ سود کښې غرق شو، دا سړے پۀ سود کښې غرق شو، دا سړے پۀ سود کښې غرق شو، پۀ صحيح او فاسده بيع نۀ پوهيږي، پۀ سود او غير سود باندې نۀ پوهيږي، او کاروبار کوي نو دا سړے پۀ سود کښې تباه شو.

---

(1) [رواه الترغيب والترهيب: رقم: (2858)].

(2) [رواه الصنعاني في مصنفه: رقم: (14683)].

د حرام مال سزا

رسول الله ﷺ فرمائي: «مَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَفِي ثَوْبِهِ دِرْهَمٌ مِنْ حَرَامٍ لَا يَقْبَلُ اللهُ لَهُ صَلَاةً مَا دَامَ عَلَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ».[1]

"چا چې په لَس دراهمو يَو جامه واخستله، او په دغه جامه کښې يَو درهم هُم دَ حرامو نه وو، الله دَ دغه انسان نۀ قبلوي ترڅو چې دا کپړا په دۀ باندې وي".

د سيدنا ابو بكر صديق ﷛ واقعه

سيدنا ابو بكر صديق ﷛ له غلام يئ راوړۀ، هغۀ يئ اوخکل، هغه ترې تپوس ونۀ کړو، چې دا دې د کوم ځائے نه راوړۀ؟ هغه ورته اووئيل: چې تا خو زما نه تپوس ونۀ کړو، چې دا يئ دې د کوم ځائے نه راوړل؟ ابو بكر ﷛ ورته اووئيل: دا د څۀ يئ وو، هغه غلام ورته اووئيل: دا يئ چې وو نو دا ما يَو کهانت کړے وو، چاله مې کوډې او منترې کړې وې، په زمانۀ د جاهليت کښې د هغې هغۀ سرے ښۀ شوے وو، نو دا ئې ما له د هغې د وجې نه راکړې وو، سيدنا ابو بكر صديق ﷛ ورته اووئيل: حرام يئ دې ما باندې اوخکل، گوته ئې خُلۀ کښې دننه کړه، او اُلټئ ئې شروع کړې، اُلټئ چرته کيدې؛ ځکه اوږے وو، دغه لږ يئ ئې څکلې وو، چا ورته اووئيل: دا اُلټئ دغه شان نۀ کيږي، تۀ زياتې اوبۀ اوڅکه، نو بيا به اُلټئ اُوشي، چې اوبۀ ئې وڅکلې، نو اُلټئ اُشوې، يَو سړي ورته اووئيل: دا خو هسې هم تير شوې وو، دا دومره تكليف دې څۀ له کولو؟ هغۀ ورته اووئيل: دا خو ما په اُلټو سره را اُويستل، کچرې دا يئ زما د ساه وتلو سره راوتل، نو دا حرام يئ به ما خپل بدن کښې نۀ وو پريخې؛ ځکه ما د نبي ﷺ نه اوريدلې دې، چې د کومې غوښې تربيت په حرام مال اوشو، د جهنم اُور د هغې دپاره ډير لائق دے.[2]

---

(1) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان": رقم: (5707)، واللفظ له، وأحمد في "مسنده"، رقم: (5732)].

(2) [رواه أبو بكر أحمد بن مروان المالكي في "المجالسة": رقم: (1391)].

نن مسلمانان پهٔ حرام مال کښې مبتلا دي، د قبر د چنجو دپاره خپل بدن مهٔ غټوه، حلال مال اُوخوره، چې د قبر د عذاب نه هم بچ شې، او د جهنم د اُور نه هم بچ شې.

د سود نمونې

په بینک کښې پیسې داخلول، او پهٔ هغې سود اغستل قطعًا حرام دي، سود دے. یَو سړے بینک کښې پیسې داخلې کړې، او دے وائي: زهٔ پرې سود نهٔ اخلم، صرف د حفاظت دپاره مې پیسې بینک کښې کیښودې، دا هم گناه دے.[1]

او کهٔ تهٔ پرې دا سود نهٔ اخلې نو هغوي ستا دا پیسې د سود پهٔ کهاته کښې چلوې، کهٔ تهٔ دا پیسې هغوي ته پریدې، نو دا هم گناه دے، او کهٔ اخلې نو هم گناه ده.

اوس یَو سړے مسئله باندې خبردار شو، پیسې هم بَهر کړه، او سود هم بَهر کړه، هغه سود پهٔ غریبانانو خلقو باندې تقسیم کړه، خو د ثواب نیت به پکښې نهٔ کوې، کهٔ یَو سړے حرام مال کښې د ثواب نیت کوې، نو سړے کافر کیږي؛ ځکه پهٔ حرام مال ثواب نهٔ میلاویږي.

یَو طریقه بعضې علماؤ لیکلې ده، کهٔ یَو سړے د حفاظت دپاره بینک کښې پیسې کیدې، نو هغې کښې یَو کهاته داسې ده، چې هغې باندې سود نهٔ راځي، او نهٔ هغوي ستا نه سود کټ کوې، او نهٔ هغوي دا پیسې چلوې، نو کهٔ داسې وي نو بیا صحیح ده.

او کهٔ داسې نهٔ وي، تهٔ پرې سود نهٔ اخلې، خو هغوي ستا دا پیسې چلوې، نو بیا هم گناه ده؛ ځکه دا د هغوي سره د گناه پهٔ کار کښې امداد دے.

بعضې خلق قرض اخلې، خو دا خلق د قرض د ثواب نه خبر نهٔ دي، چې یَو مسلمان له قرض ورکړې نو څومره لوې ثواب لرې.

(1) [أحسن الفتاوى].

دوې هسې چا له قرض نهٔ ورکوې، خو کهٔ زمکه ورسره ګانړه کوې، نو قرض درکوې، او کهٔ زمکه ورسره نهٔ ګانړه کوې، نو قرض نهٔ درکوې، ګانړه پهٔ شریعت کښې جائز ده.
بعضې خلق وائي: ګانړهٔ حرامه ده، ګانړه حرامه نهٔ ده، ګانړهٔ پهٔ شریعت کښې جائز ده.

ګانړه څهٔ ته وائي؟

ګانړه دیته وائي: چې یَو سړي ستا نه پیسې واغستې، او تهٔ وائي چې زما پدې سړي اعتماد نشته، دے به ما له دا پیسې راکولے شې، یا نهٔ، هسې نهٔ چې نهٔ ئې راکوې، نو د هغهٔ نه پهٔ هغه پیسو کښې یَو شے ځان سره امانت کړه، چې کله تا ما له پیسې راکړې، نو دا شے به زهٔ تا ته واپس درکوم، دیته ګانړه وائي، دا جائز دې، ددې مطلب دا دے چې دا شے تر هغې پورې تا سره امانت پروت دے، چې تر څو پورې تا ما له پیسې نهٔ دې راکړې، ددې نه به تهٔ فائده نهٔ اخلې، او کهٔ ددې نه تهٔ فائده اخلې، نو دا سود دے، او ګناه دے.

د یَو سړي نه تا زمکه ګانړه کړه، دا زمکه به شاړه پرته وي، دا زمکه به تهٔ ګرې نهٔ او کهٔ پدې زمکه کښې تهٔ څهٔ ګرې نو دا تهٔ سود کوې.

علماؤ لیکلې دي، چې کهٔ د یَو سړي نه دي، ګړئ واغسته نو کهٔ دا ګړئ په لاس کښې وي، نو هم چلیږي، او کهٔ صندوق کښې وي، نو هم چلیږي، کهٔ دا ګړئ تا لاس کښې واچوله، او وخت پرې معلوموې نو دا تهٔ سود کوې؛ ځکه د هغې نه تهٔ فائده اخلې.

الله دې تول مسلمانان د سود د ګناه بچ کړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ

(سورة المائدة: 90)

موضوع

شراب څکل ګناهِ کبیره ده

بتاریخ: 04-08-2006

بمقام جلسئ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

شراب څکل ګناه کبیره ده

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ * إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾.[1]

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ، لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ».[2]

زما عزتمندو مسلمانانو رونړو ځکښې جمعو کښې د بعضې لويو ګناهونو تذکره تاسو اوريدلې وه، په ګناهونو کبيرو کښې يو ګناه کبيره هغه د "شرابو څکل" دې، شراب څکل دا په ګناهونو کښې لويه ګناه ده، او د شرابو د څکلو حُرمت او حرام والے ددې وجې نه دے، چې د انسان او د ځناورو په مابين کښې فرق او تميز او جدائې الله راوستې ده، نو په عقل او سوچ او فکر ئې راوستې ده، ځناور بے

(1) [سورة المائدة: 90-91].

(2) [رواه مسلم: رقم: (2003)، والترمذي: رقم: (1861)].

عقله دي، بے سوچه او بے فکره دي، انسان له الله عقل ورکړے دے، او پوهه ئې ورکړې ده، نو چې کله انسان حرام او د نشې والا څيزونه څکې، شراب وغيره څکې، ددې انسان ذهن او عقل ختميږي، نو دے هم د څناورو سره يَو شان شو، ددې وجې نه د شرابو څکل حرام شول، عقل يَو ډير بهترين نعمت دے، کله چې د انسان عقل پهٔ يَو شي ختميږي نو د هغې څکل حرام او ناروا دي.

پهٔ ابتداء د اسلام کښې شراب څکل جائز وو

د اسلام نه مخکښې په عربو کښې شراب څکل ډير زيات عام وو، او د خلقو رواج وو، چې هغوي به شراب څکل، کله چې اسلام راغے، قرآن کريم راغے، نبي ﷺ راغے، الله رب العزت آياتونه را اوليږل: ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا﴾.[1]

دا خلق ستا نه تپوس کوي په باره د شرابو او جوارئ کښې چې دا حلال دي، او کهٔ حرام دي، نو الله ورته وائي: چې تهٔ ورته اووايه چې د شرابو پهٔ څکلو کښې گناه هم ډيره ده، او فائدې پکښې هم د خلقو دپاره شته.

دا ابتدائي حکم وو، او د الله احساناتو ته اُوگوره، چې خلق د شرابو سره عادت وو، نو پهٔ يَو ځل پرې الله شراب نهٔ دي حرام کړې، پهٔ مزه مزه حکم کرانيدو، نو وړومبے حکم دا راغے، چې شراب څکل پدې کښې گناه هم شته، او د بدن فائدې پکښې هم شته، نو بعضې خلقو چې به گناه ته کتل نو شراب به ئې نهٔ څکل، او چا به وئيل: چې شراب څکل خو دومره لويه گناه نهٔ ده بدن ښهٔ کوي نو شراب به ئې څکل دا عادت شروع وو.

---

(1) [سورة البقرة: 219].

د يَو صحابي واقعه

يَو صحابي پهٔ مونځ باندې ولاړ وو، شراب ئې څکلې وو، او مونځ ئې کولو، نو پهٔ مونځ کښې ﴿قُلْ يَاأَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ لوستلو، نو پدې کښې غلط شو؛ ځکه نشه وو، نو هغهٔ اووئيل: "قُلْ يَاأَيُّهَا الكَافِرُونَ * أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ" د ﴿لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ﴾ پهٔ ځائے ئې "أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ" اووئيل،[1] تاسو چې څنګه عبادت کوئ داسې عبادت زهٔ هم کوم، معنٰى خو دا وه "چې تاسو څنګه عبادت کوئ زه داسې عبادت نهٔ کوم" زهٔ مسلمان يم، او تاسو کافران يئ، ليکن هغهٔ ترې "لَا" کټ کړو، نو د هغې معنٰى دا شوه "چې تاسو څنګه عبادت کوئ داسې عبادت زهٔ هم کوم".

د شرابو باره کښې دويم حکم

الله رب العزت فرمائي: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُوا﴾.[2]

اے مؤمنانو! چې کله مو نشه کړې وي، شراب مو څکلي وي، نو دغه وخت کښې مونځ مهٔ کوئ، تر دې پورې چې پهٔ خُلهٔ کوم الفاظ وايئ، چې پهٔ هغې پوهيږئ؛ ځکه د نشې پهٔ حالت کښې يَو سړے نهٔ پوهيږي پهٔ خپله خبره باندې، خبره يَو شان کوې، او د خُلې نه بل شان خبره را اوځي.

چې نشه اُوکړې، نو هغه بيا خپلې ښځې ته خُور وائي، يَو سړي چرس څکلې وو، نو کور ته راغلو، نو ښځې ته وائي، خُور زما خواته راشه، دغې وخت کښې سړے پهٔ ځان نهٔ پوهيږي، نو الله حکم را اوليږلو چې د نشې پهٔ حالت کښې به مونځ ته نهٔ نزدې کيږئ.

---

(1) [تفسير البغوي، تحت آية سورة النساء: 43].

(2) [سورة النساء: 43].

د سیدنا عمر ﷺ واقعه

سیدنا عمر ﷺ اُوفرمائیل: «أَللّٰهُمَّ بَيِّنْ لَنَا بَيَانًا شَافِيًا».

"الله مونږ ته دَ شرابو باره کښې يَو واضحه او صفا حکم را اوليږه". يا وايه چې څکئ يا اووايه چې مهٔ څکئ، چې يا حلال شي يا حرام شي.

د شرابو باره کښي دريم حکم

الله رب العزت فرمائي: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾.[1]

"اے مؤمنانو! يقينًا شراب او جوارې او عبادت د درګاهونو کول او خپل قسمت معلومول پهٔ غشو باندې دا ګند دے د کار د شيطان نه، ځان ترې بچ کړئ، ددې دپاره چې تاسو کامياب شئ".

نو خپل ځان به د شرابو او جوارئ نه بچ کوې، دا رنګه خپل ځان به د درګاهونو د عبادت نه بچ کوې.

﴿وَالْأَزْلَامُ﴾ قسمت معلومول پهٔ غشو، خپل قسمت به پهٔ غشو باندې نهٔ معلومے، دورِ جاهليت کښې دا عادت وو کله به چې يَو سړے د خپل کور نه روان شو، سوچ به ئې کولو چې زما دا سفر ما دپاره د فائدې والا دے يا د نقصان والا دے؟ نو هغې وخت کښې به څهٔ خلق ناست وو هغوي به قسمت کتلو.

اوس ئې لاسو کښې کورې، وائي لاس اوښايه چې قسمت دې څنګه دے؟ نو دے ورته ورشې، وائي: زما قسمت اوګوره چې څهٔ دي پکښې؟ رسول الله ﷺ فرمائي: کوم سړے چې د داسې خلقو خواته راغے چې قسمت ورته کورې، چې

---

(1) [سورة المائدة: 90].

اوکوره چې بنۀ دے او کۀ خراب دے، زما دا کار به اوشي، او کۀ اوبه نۀ شي؟ نبي ﷺ دا سړے پۀ هغه کتاب کافر دے، کوم کتاب چې الله ما باندې د آسمان نه نازل کړے دے. نو پۀ دورِ جاهلیت کښې به ئې داسې کول چې درې غشي به ئې ساتلي وو، هغه به ئې يَو لوښي کښې کېښودې وو، پۀ هغې به ئې دا کول چې کوم سړے به بهر پۀ سفر تلو، نو هغې خپلو منجورانو له به راغلو، چې زما دا قسمت اوکورئ، نو قسمت به ئې ورته اوکتو. (1) په يَو غشي باندې ئې ليکلي وو "أَمَرَنِيْ رَبِّيْ" زما رب ما ته حکم کړے دے چې لاړ شه، (2) په دويم غشي باندې به ئې ليکلي وو "نَهَانِيْ رَبِّيْ" زما رب زۀ منع کړے يم، چې ستا دا تلل بنۀ نۀ دي، (3) دريم غشي به خالي وو، چې خالي به را اوختو نو دۀ به ورته اوونيل چې زما قسمت بيا اُوکوره، کچرته به ئې ليکلي وو چې څه د الله حکم دے، نو تلو به او کۀ ليکلي به ئې وو، چې مۀ ځه نو بيا به پاتې شو، نو دا قسمت معلومول پۀ غشو باندې جائز نۀ دي.

د شيطان کار

الله رب العزت قرآن کريم کښې فرمائي: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾.[1]

"يقينًا شيطان غواړي چې واچوي ستاسو پۀ مينځ کښې دشمني او بُغض او حسد لره دا کار د شيطان دے، چې د انسانانو مينځ کښې بُغض او حسد راولي، پۀ څکلو د شرابو او جوارئ کښې شيطان دا غواړي چې تۀ شراب اوڅکې، او تۀ جوارې اوکړې، او بندوي شيطان تاسو لره د ذکر او مونځ نه آيا يئ تاسو منع کيدونکي؟".

(1) [سورة المائدة: 91].

يوسف بن اسباط رحمه الله وائي

هغه وائي چې کله شيطان خپل فوج اوليږي چې لاړ شئ دا خلق ګمراه کړئ، يَو ځوان سړے عابد وي، او د الله عبادت کوي، نو دا شيطان هغهٔ ته وائي: خپلو لښکرو ته وائي تاسو لاړ شئ، دا ځوان سړے چې د الله عبادت کوي، دے به پهٔ څهٔ طريقه باندې د الله د عبادت نه اړوئ، خو تاسو مخکښې ددهٔ خوراک څکاک ته اوګورئ کهٔ ددهٔ خوارک څکاک لين دين صحيح وو، بيا ورپسې اونخلئ، چې عبادت درنه اونهٔ کړي، د عبادت نه ئې واړوئ، او کهٔ چرته ددهٔ خوراک څکاک ددهٔ لين دين هغه د حرامو وو، بيا ئې پريدئ، چې عبادت کوي، ددهٔ عبادت هسې هم نهٔ قبليږي. [1] د شيطان هميشه دپاره دا کوشش دے چې سړے د مونځ او ذکر نه پاتې کړي.

﴿فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ آيا يئ تاسو منع کيدونکي د شرابو او جوارئ نه؟ مطلب دا دے منع شئ د شرابو او جوارئ نه. سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه پاسيدو، او هغهٔ اوونئيل "اَللّٰهُمَّ انْتَهَيْنَا انْتَهَيْنَا" الله مونږ د شرابو څکلو نه منع شو، مونږ د شرابو څکلو نه منع شو.

صحابي پاسيدو نبي ﷺ اوليږلو چې تهٔ اوګرځه، او هغه آوازونه شروع کړل، چې اے خلقو! شراب حرام دي، نن نه پس به شراب نهٔ څکئ.

د صحابو رضي الله عنهم ايمان

د صحابو ايمان داسې وو، او هغې وخت کښې قيمتي شے شراب وو، د شرابو ورسره لوښې ډک وو، چاټئ او متکئ ورسره د شرابو ډک دي، صحابه کرام هغه راوړې او هغه ماتوې او نالو کښې ئې بَيَوي، دا نه وائي چې دا به خرڅ کړو، يا دا شتهٔ شراب به اوڅکم، نور به بيا نهٔ څکم.

---

(1) [كتاب الكبائر للذهبي: 125].

نن خو که يَو شے حرام او ناروا دے، او ورته وائي: چې دا مۀ کوه، نو وائي: الله دي د عمل کولو توفيق راکړي، نو نور درته څنګه د عمل کولو توفيق درکړي، عقل ئې درکړے دے، سترګې او غوږونه ئې درکړي دي، سوچ ئې درکړے دے، او لوې نعمت ئې درکړے دے چې ايمان دے، او تا اقرار کړے دے، چې الله زما رب دے، او نبي ﷺ زما پيغمبر دے، نو نور درته څنګه توفيق درکړي؟ دا خو د الله عادت نۀ دے چې څوک د لاس نه اونيسي، او ورته اووائي، چې دا کار به نۀ کوې، دا يَو خبره ياد اوساتئ چې کله قيامت نزدې شي، او ګناهونه زيات شي، نو الله به فورًا سزا ورکوي، چا باندې به د کاڼړو بارانونه کوي، چا باندې به زمکه اُلټه کوي، د چا به شکلونه ورانوي، خو الله مهلت ورکوي، خو تا له ئې دُنيا کښې مهلت درکړے دے، نو تا د هغې مهلت نه غلطه فائده اغستې ده، صحابو ته خو چې حکم اوشو نو د هغې نه بعد هغوي شراب نۀ دي څکلي.

احاديثِ مبارکه

(1) اول روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَهْدًا لِمَنْ شَرِبَ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ».[1]

د الله تعالى وعده ده د هغه چا دپاره چې هغۀ شراب اوڅکل، يعني د نشې والا شے ئې اوڅکلو، نبي ﷺ فرمائي: الله به پۀ دې انسان باندې د جهنميانو وينې زوې څکي.

---

(1) [رواه مسلم: رقم: (2002)].

(2) دویم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ».[1]

هر د نشې والا شے، دا نۀ چې صرف شراب حرام دي، هر هغه شے چې هغه سري باندې نشه راولي، نو هغه شے حرام دے، هر هغه شے چې هغه د انسان په عقل کښې فرق راولي نو هغه حرام دے.

"خَمر" د "مُخامري" نه دے، "مُخامره" دیته وائي: چې عقل باندې پرده راشي، چې يَو سړے سمه او خرابه خبره نۀ پيژني، او د سړي پۀ تلو کښې کډود والے راشي او سړي ته پته لګي چې دۀ نشه کړې ده، نو نشه د يَو سړي خبرو کښې فرق راولي، نو دیته خمر وائي، چې کوم يَو شے د انسان سره داسې کار کوي، نو هغه شے حرام دے، دا اوس عام دي کۀ هغه چرس دي نو هغه هم حرام دي، او کۀ هغه فوډر دي نو هغه هم حرام دي.

علماء کرام ذکر کوي، د دوائي دپاره افیوم جائز دي، لیکن د نشي دپاره جائز نۀ دي، نو هر هغه شے چې هغه د انسان عقل خرابوي د انسان سوچ او فکر خرابوي نو د هغې څکل حرام او ناروا دي.

(3) دریم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: چا چې دُنيا کښې نشې والا شے اوڅکلو، او هغه دُنيا نه لا ړو، او توبه ئې اونۀ ويستله، او دے هميشه دپاره پدې ګناه کښې مبتلا وو، نو د جنت شراب به پرې الله نۀ څکي، (ددې دا مطلب نۀ دے چې جنت ته به ئې بوځي، او صرف شراب به پرې نۀ څکي) يعني الله به ئې جنت ته نۀ دننه کوي، چې دے د جنت شراب اوڅکي.[2]

(1) [رواه مسلم: رقم: (2003)، والترمذي: رقم: (1861)].

(2) [رواه مسلم: رقم: (2003)، والترمذي: رقم: (1861)].

اوس جنت چې د الله لوی نعمت دے، ددې دُنیا مزو مونږ دهغې نه غافله کړې يو، نو د دُنیا شراب د الله د يرې نه پریږده، الله به دربانديې د جنت شراب اوڅکي.

(4) څلورم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى بَعَثَنِي رَحْمَةً للعالمينَ وهُدىً للْعَالَمِينَ وَأَمَرَنِي رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ وَالأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَحَلَفَ رَبِّيْ عزَّ وجلَّ: بِعِزَّتِي لاَ يشربُ عبدٌ منْ عَبِيدِي جرعة خَمْرٍ إِلاَّ سَقَيْتُهُ مِنَ الصَّدِيدِ مِثْلَهَا وَلاَ يَتْرُكُهَا مِنْ مَخَافَتِي إِلاَّ سَقَيْتُهُ مِنْ حِيَاضِ الْقُدُسِ».[1]

الله تعالیٰ زهٔ رالیږلے يم رحمت او هدایت د تمام مخلوقاتو دپاره، د الله پیغمبر ﷺ زمونږ د ټولو دپاره رحمت او هدایت دے، مونږ الله نهٔ پیژاندو، مونږ د الله کتاب نهٔ پیژاندو، مونږ خپل مور پلار نهٔ پیژندل، مونږ جنت او جهنم نهٔ پیژاندل، الله مونږ ته پیغمبر ﷺ را اولیږلو، او داسې پیغمبر چې قرآن کښې الله وائي: ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾.[2] نبي عليه السلام مؤمنانو باندې د مؤمنانو د نفسونو نه زیات مهربانه دے، دومره پهٔ مؤمنانو باندې مئین پیغمبر دے چې مؤمنان پهٔ خپل ځان دومره مئین نهٔ دي، لکه څومره چې وربانديې د الله پیغمبر مئین دے، او ددې مئین کیدو وجه ئې دا ده:

چې حدیث کښې راځي چې کله د قیامت ورځ شي، نو هغه به ډیر سخت منظر وي، هر يو پیغمبر به آواز کوي «نَفْسِيْ نَفْسِيْ نَفْسِيْ» "یا الله زما نفس ته خیر کړه، زما نفس ته خیر کړه، زما نفس ته خیر کړه"، هر يو پیغمبر سره به د ځان غم وي، او زمونږ

---

(1) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (1861)].

(2) [سورة التوبة: 128].

پیغمبر جناب رسول الله ﷺ به وائي: «أُمَّتِي يَا رَبِّ، أُمَّتِي يَا رَبِّ، أُمَّتِي يَا رَبِّ» "يا الله زما اُمت ته خير کړه، يا الله زما اُمت ته خير کړه"،[1] څومره مهربان پیغمبر دے.

الله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ﴾.[2]

"نۀ دے لیږلے مونږ تا لره مګر رحمت د مخلوقاتو دپاره". ستا لیږل د نور مخلوق دپاره یَو رحمت دے، نبي ﷺ فرمائي: زۀ الله یَو رحمت رالیږلے یم.

الله رب العزت فرمائي: ﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ﴾.[3]

"په تحقیق سره احسان کړے دے الله په مؤمنانو باندې کله چې الله د دوي د نفسونو نه په دوي کښې پیغمبر را اولیږلو". الله وائي: دا زما لوې احسان دے مؤمنانو باندې.

نو نبي ﷺ وائي: زۀ الله رحمت رالیږلے یم «وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ وَالْأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ» زۀ الله ددې دپاره رالیږلے یم چې زۀ ګانې بجانې او دمتوب ختم کړم، او د جاهلیت د دور هغه رسمونه او رواجونه ختم کړم، او د اسلام هغه صحیح طریقې خلقو ته اوښایم «وَحَلَفَ رَبِّي عَزَّ وجلَّ: بِعِزَّتِي» نبي ﷺ فرمائي: زما رب چې ډیر اوچت دے په خپل عزت باندې قسم خوړې «لَا يشربُ عبدٌ منْ عَبِيدِي جرعة خَمْرٍ إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنَ الصَّدِيدِ مِثْلَهَا» چې زما یَو بنده په دُنیا کښې، د شرابو یَو ګوټ نۀ څکې مګر زۀ به ورباندې د جهنم د وینو

(1) [رواه البخاري: رقم: (4712)، والترمذي: رقم: (2434)].

(2) [سورة الأنبياء: 107].

(3) [سورة آل عمران: 164].

زرو نه څکم، «وَلاَ يَتْرُكُهَا مِنْ مَخَافَتِي إِلاَّ سَقَيْتُهُ مِنْ حِيَاضِ الْقُدسِ» او چې يَو بنده چې زما د يرې نه د شرابو څکل پرېږدي نو نبي ﷺ فرمائي: الله قسم خورې چې زهٔ به ورباندې د جنت شراب څکم.

(5) پنځم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: «ثَلاَثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ: مُدْمِنُ الْخَمْرِ، وَالْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ، وَالدَّيُّوثُ، الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ».[1]

درې کسان داسې دي چې الله پهٔ هغوي جنت حرام کړے دے:

(1) يَو «مُدْمِنُ الْخَمْرِ» هميشه دپاره شراب څکونکے ټول عمر شراب څکي نو الله پهٔ دهٔ باندې جنت حرام کړے دے.

(2) دويم «وَالْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ» د مور پلار خلاف کونکے، پهٔ دهٔ باندې الله جنت حرام کړے دے، جنت ته به هله ځي، چې اول ورته سزا ميلاؤ شي.

(3) دريم «وَالدَّيُّوثُ» هغه انسان چې ديّوث دے، ديّوث چا ته وائي؟ نو حديث کښې راځي «الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ» چې د هغهٔ بي بي زناکاره ده، او دے ورته څهٔ نهٔ وائي، دهٔ پرې ځان خاموشه کړے دے. نو داسې ديّوث جنت ته نهٔ شي تللے.

(6) شپږم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: د جنت پهٔ دوروازه ئې ليکلې دي، چې اے جنته تهٔ پهٔ بے غيرته انسان باندې حرام ئې، داسې بے غيرته چې د هغهٔ کور والا زناګانې کوي، او دهٔ کښې غيرت نهٔ راځي، داسې بے غيرته خلق الله جنت ته نهٔ دننه کوي.[2]

---

(1) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (5372)].

(2) [الكبائر للذهبي: 54، طبع دار الندوة الجديدة-بيروت].

(7) اُووم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: «ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ لَهُمْ صَلَاةٌ، وَلَا يَصْعَدُ لَهُمْ إِلَى اللهِ حَسَنَةٌ، وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا، وَالْعَبْدُ الْآبِقُ حَتَّى يَرْجِعَ فَيَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِ مَوَالِيهِ، السَّكْرَانُ حَتَّى يَصْحُوَ». (1)

درې کسان داسې دي، چې الله د هغوي يَو مونځ هم نهٔ قبلوې، نهٔ ئې الله يَو نيکي آسمان طرف ته اوچتوې، دا درې کسان څوک دي؟ نبي ﷺ فرمائي:

(1) «السَّكْرَانُ حَتَّى يَصْحُوَ» هغه د نشې والا خلق چې هغوي نشه کوې، تر څومره وخته پورې چې هغوي نشه کوې، د هغوي مونځ نهٔ قبليږي، او کهٔ صحيح شو، الله نه ئې معافي اوغوښته نو مونځ به ئې قبول شي.

(2) دويم «وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا» هغه ښځه چې د هغې نه خپل خاوند خفه دے، تر هغه وخته پورې ددې ښځې يَو عمل هم نهٔ قبليږي تر څو پورې ئې چې خپل خاوند رضا کړے نهٔ دے.

(3) دريم «وَالْعَبْدُ الْآبِقُ حَتَّى يَرْجِعَ فَيَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِ مَوَالِيهِ» هغه غلام چې هغه د خپل مالک نه تختيدلے دے، مالک ترې خفه دے، او دے بغير د اجازت نه لاړو، ترڅو پورې چې دے واپس نهٔ دے راغلے، د خپل مالک پهٔ لاس کښې لاس نهٔ دے ايخے، او د هغهٔ نه ئې معافي نهٔ ده غوښتې تر هغې پورې ددهٔ يَو عمل هم نهٔ قبليږي. غلام هغه چا ته وائي: چې د کافرانو نه به ئې را وستل، يَو سړي به پيسو باندې اغستے وو، د هغهٔ نوکر او خدمت کار به وو، پهٔ پيسو به خرڅيدل، د غلام اغستل او خرڅول جائز دي، اصيل سړي اغستل او خرڅول حرام دي، کهٔ اوس څوک داسې کوې چې

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (9231)].

خپل زوې خرڅوې يا خپله لور خرڅوې نو حرامې پيسې به اخلې، نو چې هغه غلام به ئې واغستو نو هغهٔ به د مالک خدمت کولو، نو دا غلام بغير د اجازت د مالک نه اوتختيدو، نو ددهٔ يَو عمل هم نهٔ قبليږي.

نو مسلمانانو له پکار دي، چې ددې ګناهونو نه ځان بچ کړې، نن خو پته نهٔ لګي، کهٔ چا خيټې ته حرام واچول، او کهٔ حلال ئې واچول خو داسې ورځ را روانه ده، چې الله فرمائي: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ * وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾.[1]

"چا چې د ذرې برابر نيک عمل اوکړو، هغه به ورته ښکاره شي، او چا چې د ذرې برابر بد عمل اوکړو، هغه به ورته ښکاره شي". دا پته به قيامت کښې لګي، او پهٔ هغه ورځ به افسوس فائده نهٔ ورکوي.

(8) اتم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «اجْتَنِبُوا الْخَمْرَ فَإِنَّهَا أُمُّ الْخَبَائِثِ».[2]

د شرابو نه ځان بچ کړئ؛ ځکه دا د تمامو ګناهونو جرړه ده، ټول ګناهونه د دې خيژونو نه پيدا کيږي.

يَو صحابي ته نصحت

يَو صحابي دے، رسول الله ﷺ ته وائي: ما ته لږ نصيحت اوکړه، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: «لاَ تُشْرِكَ بِاللهِ شَيْئًا وَإِنْ قُطِّعْتَ وَحُرِّقْتَ وَلاَ تَتْرُكْ صَلاَةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمدا فَمن تَرَكهَا مُتَعَمدا فقد بَرِئَتْ مِنهُ الذِّمَّةُ وَلاَ تَشْرَبِ الْخَمْرَ فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كل شَرّ».[3]

د الله سره شريک مهٔ پيدا کوه، اګر کهٔ تهٔ ټوټې ټوټې شې، يا په اُور باندې

[1] [سورة الزلزال: 7-8].

[2] [رواه النسائي، رقم: (5666)].

[3] [رواه ابن ماجة، رقم: (4034)].

اوسوزولے شي. شرک دومره لویه ګناه ده.

مونځ مهٔ پریږده، ځکه مونځ د الله سره یَو لَوظ دے او ذمه ده، چا چې مونځ پریخودو، نو الله ترې خپله عده کټ کړه، الله ورسره خپل تعلق پریخودو، او شراب مهٔ څکه، ځکه دا د ټولو ګناهونو جرړه ده.

واقعه

امام منذري رحمه الله پهٔ الترغیب والترهیب کښې لیکي، وائي: بني اسرائیلو کښې یَو عابد وو، ډیر زیات عبادت به ئې کولو، یَو زنانه وه، هغې زنانه ورته خبر ورکړو، چې تهٔ راشه زمونږ څهٔ فیصله ده، چې تهٔ زمونږ مینځ کښې شاهد او ګواه شې، او شهادت او ګواه کیدل ښهٔ کار دے، هغه پدې خیال لاړو، چې زهٔ به شهادت اُوکړم، عابد را روان دے، او چې پهٔ کومه دروازه دننه کیږي، نو دروازه ورپسې بندوي، تردې پورې چې د هغې زنانه خواته ئې اورسولو، هغه زنانه ناسته ده، یَو لوښې کښې ورسره شراب دي، او ورسره یَو غُلام هلک ناست دے، ورته وائي: پدې دِرېُو څیزونو کښې چې کوم یَو کوې نو هغه اوکړه، کهٔ ما سره زنا کوې، کهٔ دا ماشوم قتل کوې، او کهٔ شراب څکې، او کهٔ دا کارونه نهٔ کوې نو اوس به اووایم چې دا عابد صاحب زما خواته څهٔ دپاره راغلے دے؟ عابد حیران شو، چې اوس څهٔ اوکړم؟ کهٔ دا کارونه نهٔ کوم، نو دا ښځه ما باندې پهٔ دروغه الزام لګوي، چې دے ما سره د زنا دپاره راغلے دے، زهٔ خو د شهادت دپاره راغلے یم، او کهٔ دا کارونه کوم نو ګناه کښې راځم، نو سوچ ئې اوکړو، کهٔ زنا کوم، نو دا هم ګناه کبیره ده، او کهٔ دا ماشوم وژنم نو دا هم لویه ګناه ده، او کهٔ شراب څکم نو دا هم ګناه ده، نو ذهن کښې ئې دا سوچ اوکړو، چې دا شراب به اوڅکم نو دا به زما د نفس خپله ګناه شي، نو شراب به اوڅکم دا راته ښهٔ دي، چې شراب ئې اوڅکل نو هغې کښې خو ډیره مزه وه، چې هغه ئې اوڅکل، وائي: لږ نور

راته راکړئ، لږ ئې پرې نور اوڅکل، نو نشه شو، نو هغه هلک ئې هم مړۀ کړو، او د هغې ښځې سره ئې زنا هم اوکړه.[1]

هغې ښځې خو ورته وئیلي وو، چې پدې دریو کارونو کښې يَو کار اوکړه، خو چې شراب ئې اوڅکل نو درې واړو کارونو کښې مبتلا شو.

اوس چې پدې معاشره کښې سوچ اوکړې، چې کوم سړے چرس، شراب او فوډر څکې او غریب وي، نو هغه د خلقو نه هر څۀ پټوي، بیا غلا ته تیار شي، چې پیسې وکټي، چې ځان له پرې چرس او فوډر واخلي، او آخر کښې د هغې ښکلي ځوان نه لیونے جوړ شي؛ ځکه نشه دا د تمام ګناهونو جرړه ده، ددې د څکلو سره سړے پۀ نورو ګناهونو کښې مبتلا کیږي، د پیسو دپاره دروغ وائي، د پیسو دپاره مرکونه کوي، د مسلمان نه غلا کوي، تردې چې د خپل مور پلار نه هم غلا کوي.

(9) نهم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: کله چې غلا کر غلا کوي، نو دے مؤمن نۀ دے څۀ وخت چې زناکار زنا کوي نو د زنا پۀ وخت کښې دے مؤمن نۀ دے، او کله چې څوک شراب څکي، نو دغه وخت کښې دے مؤمن نۀ دے.[2]

نو چې شراب دې څکلي دي، نو الله ته توبه اوباسه، الله به دې معاف کړي، او چې غلا دې کړې ده نو الله ته به توبه هم اوباسې، او چې د کوم بنده نه دې غلا کړې ده، د هغه زړۀ دې آزار کړے دے، نو هغه نه به هم معافي غواړې؛ ځکه الله رب العزت خپل حق معاف کوي، خو پردے حق الله نۀ معاف کوي، زنا دې کړې ده، نو دا هم د الله حق دے ګناه ده؛ ځکه چې د چا سره دې زنا کړې ده،

(1) [الترغيب والترهيب].

(2) [رواه البخاري، رقم: (5578)، ومسلم، رقم: (57)].

نو د هغې ښځې نه خو معافي نۀ شي غوښتے، او نۀ ورته خاوند ته وئيلے شي، چې ستا د ښځې سره مې زنا کړې ده، معاف مې کړه، دا هم ستا او د الله پۀ مينځ کښې راز دے، الله ته اوژاړه، الله تا را باندې دُنيا کښې پرده واچوله، الله ما معاف کړه، نو الله به دې معاف کړي.

(10) لَسم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: شراب د لَسو وجونه حرام دي:

(1) يَوه وجه «لَعَنَ اللهُ الْخَمْرَ» شراب پخپله باندې هم پۀ لعنت دي، يعني شراب پخپله هم د لعنت نه ډک دي.

(2) دويمه وجه «وَشَارِبَهَا» د شرابو څکونکے هم پۀ لعنت دے.

(3) دريمه وجه «وَسَاقِيَهَا» کوم سړے چې ورباندې شراب څکي، هغه هم پۀ لعنت دے.

(4) څلورمه وجه «وَبَائِعَهَا» د شرابو خرڅونکے هم ګناهګار دے.

(5) پنځمه وجه «وَمُبْتَاعَهَا» د شرابو اغستونکے هم ګناهګار دے.

(6) شپږم وجه «وَعَاصِرَهَا» د شرابو نچوړونکے هم ګناهګار دے.

(7) اُوومه وجه «وَمُعْتَصِرَهَا» چې د چا دپاره شراب جوړوي، هغه هم پۀ لعنت دے.

(8) اَتمه وجه «وَحَامِلَهَا» د شرابو اُوړونکے هم پۀ لعنت دے.

(9) نهمه وجه «وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ» چا له چې شراب اُوړي، هغه هم پۀ لعنت دے.

(10) لَسمه وجه «وَآكِلِ ثَمَنِهَا» څوک چې د شرابو پيسې خوري، هغه هم پۀ لعنت دے، دا ټول د لعنت نه ډک دي.[1]

---

(1) [رواه أبو داود، رقم: (3674)].

(11) يوولسم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «مَا مِنْ قَوْمٍ اجْتَمَعُوا عَلَى مُنْكَرٍ فِي الدُّنْيَا إِلاَّ جَمَعَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ فَيُقْبِلُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ يَتَلاَوَمُونَ يَقُولُ أَحَدُهُمْ لِلآخَرِ يَا فُلاَنُ لاَ جَزَاكَ اللهُ عَنِّي خَيْرًا فَأَنْتَ الَّذِي أَوْرَدْتَنِي هَذَا الْمَوْرِدَ فَيَقُولُ لَهُ الآخَرُ مِثْلَ ذَلِكَ».[1]

كله چې د دُنيا يَو قوم په حرام ځيز او د نشې په ځيز راجمع شي، دغسې به ئې الله په قيامت كښې په جهنم كښې راجمع كوي.

لكه نن چې دُنيا كښې نشه كوي، نو يَو ځائے ته راجمع شي، دغسې به ئې قيامت كښې الله په اُور كښې راجمع كوي، او يَو بل به ملامته كوي، يَو به وائي: دا تا زهٔ په شرابو عادت كړے ووم، بل به ورته وائي: تا پرې عادت كړے ووم، نو دا ملامتيا بيا فائده نهٔ وركوي.

امام ذهبي رحمه الله يَو واقعه ذكر كوي

عبد الملك بن مروان ته يَو ځوان راغلے، او هغه ژړل، او ډير غمژن وو، ورته وائي: امير المؤمنين يَو ډيرې لوې ګناه كښې مبتلا ووم، چې الله به راته ګناه معاف كړي او كهٔ نهٔ؟ هغهٔ ورته اووئيل: څهٔ چل دې كړے دے؟ هغهٔ ورته اووئيل: ډيره لويه ګناه مې كړې ده، هغه ورته اووئيل: الله به دې توبه قبوله كړي، خو كهٔ تا الله ته توبه ويستله.

حديث قدسي دے، نبي عليه السلام فرمائي: الله پخپله وائي: ابن آدمه كهٔ دومره لوې ګناهګار ئې چې كهٔ د زمكې نهٔ واخله او تر آسمانه پورې دا ټوله فضا يَواځې ستا د ګناهونو نه ډكه شي، دومره ګناهونه دې كړې دې، او د زړه د اخلاص نه توبه اوباسې، چې الله ما معاف كړي، الله وائي: زهٔ به دې معاف كړم، زما پرې هيڅ پروا

---

(1) [كتاب الكبائر للذهبي: 85، طبع دار الندوة الجديدة-بيروت].

نشته دے، چې ته دومره هم اووائې: چې الله بغير ستا د در نه بل در نشته، نو د الله مينه د اويا ميندو نه سيوا ده، معاف به دې کړي.

نو هغه ځوان اووئيل: ډير لوې ګناهونه مې کړي دي، اوس به مې الله معاف کړي او که نه؟ عبد الملک بن مروان ورته اووئيل: الله به دې معاف کړي، خو څه ګناه دې کړې ده؟ هغه ورته اووئيل: زما کار دا وو، چې کله به يو انسان وفات شو، نو ما د هغه نه کفن اويستلو، او هغه به مې ځان له خرڅ کړو، وائي: ما يو څو قبرونه وليدل چې د هغې د وجې نه څه ويريدم، عبد الملک بن مروان ورته اووئيل: څنګه ويريدې؟ وائي: يو قبر مې يو شپه کولاؤ کړو، يو سړے مې اوکتلو چې د هغه مخ د قبلې نه اړولے شوے وو، وائي: زه ويريدم نو را اوتختيدم، نو ماله د هغې قبر نه آواز اوشو، چې ددې سړي د حال تپوس اوکړه، چې دده دا مخ ولې د قبلې نه اړولے شوے دے؟ وائي: ما په هغې مَنده کښې تپوس اوکړو، چې دده دا مخ ولې د قبلې نه اړولے شوے دے؟ وائي: ما ته اووئيلے شول: دا هغه سړے وو، چې ده دُنيا کښې مونځ ته سپک کتل، د مونځ څه اهميت او قدر ورسره نه وو، نن دده مخ څکه د قبلې نه اړولے شوے دے، څکه مونځ کښې سړے قبلې طرف ته مخ کوي.

وائي: بله شپه بيا راغلم، بل قبر مې کولاؤ کړو، د هغه قبر هغه مړے مې اوکتلو چې د هغه شکل د خنزير په شان جوړ شوے وو، د هغه په سټ کښې زنځيرونه او لوې لوې توقونه وو، زه ډير زيات ويريدم، او د هغه نه روان شوم، وائي: ما ته د هغه قبر نه آواز اوشو، چې دده تپوس اوکړه، چې دے ولې په داسې حالت کښې دے؟ وائي: ما تپوس اُوکړو، چې دا ولې دده نه خنزير جوړ شوے دے، او سټ کښې ئې زنځيرونه

او توقونه اچولے شوې دي؟ وائي: ما ته ئې اووئيل: چې دا هغه سړے وو، چې دۀ به دُنيا کښې شراب څکل، او چې مړۀ کيدو، نو توبه ئې نۀ وه ايستې، دا ددۀ سزا ده، نن د دۀ نه قبر کښې خنزير جوړ شوے دے.

وائي: بل قبر له لاړم چې بل قبر مې کولاؤ کړو، نو هغه سړي باندې قبر کښې د اُور ميخونه لګيدلي وو، او ژبه ئې راوتې وه، او پۀ سخت باندې پرته وه، او نهايت د رُعب پۀ حالت کښې وو، وائي: زۀ روان شوم، وائي: ما ته آواز اوشو، چې تپوس اُوکړه، چې دے ولې پۀ داسې حالت کښې دے؟ وائي: ما تپوس اوکړو، چې دۀ څۀ داسې ګناه کړې ده، چې دۀ له عذاب ورکولے شي؟ وائي: ددۀ دا ګناه وه، چې دۀ به د وړو بولو نۀ ځان نۀ بچ کولو، او دويم کار ئې دا وو، چې دۀ به د خلقو مينځ کښې خبرې اُوړې راوړې، وائي: ددۀ دا سزا ده چې نن ددۀ ژبه راوتې ده، او پۀ سخت پرته ده.

وائي: د هغه نه راغلم بل قبر مې کولاؤ کړو، چې هغې کښې يَو انسان پرُوت دے، چې د هغۀ پۀ ټول بدن اُور بليږي، زۀ اوتختيدم، وائي: آواز اوشو، چې تپوس اُوکړه چې دۀ له ولې دا سزا ورکولے شي؟ ددۀ څۀ ګناه ده؟ وائي: ما تپوس اوکړو چې دۀ له ولې دا سزا ورکولے کيږي؟ وائي: ما ته اووئيلے شو، چې دا هغه سړے وو، چې بالکل ئې مونځ نۀ کولو، ددۀ دا سزا ده، چې ټول بدن باندې ئې اُور بليږي.

وائي: بل قبر له راغلم، چې قبر مې کولاؤ کړو، نو هغه قبر پۀ مړي ډير زيات کولاؤ وو، ډير فراخه وو، څومره پورې چې نظر لګيدو، نو دومره پورې فراخۀ قبر وو، (کله کله الله دا د عبرت دپاره ښائي) وائي: چې مې اوکتل پۀ هغې کښې ډيرې خائسته رڼړا ګانې وې، دا مړے يَو بهترين پالنګ دپاسه پرُوت دے، او ډيرې خائسته

خوشبویانې د هغهٔ نه راروانې وي، وائي: زهٔ د هغهٔ نه هم ویریدم، چې مړے خو پهٔ داسې حالت کښې نهٔ وي، نو زهٔ د هغهٔ نه هم واپس روان شوم، وائي: ما ته ئې آواز اُوکړو، چې دا څوک دے، او دے ولې پهٔ دومره نعمتونو کښې دے؟ تهٔ دا تپوس نهٔ کوې؟ وائي: ما تپوس اُوکړو، چې دا څوک دے؟ وائي: ما ته ئې اووئیل: چې دا هغه ځوان دے، چې دهٔ توله ځوانې د الله پهٔ اطاعت او تابعدارئ کښې تیره کړې وه، نن ددهٔ دا حالت دے، چې پهٔ دومره نعمتونو کښې دے، او ددهٔ قبر ددهٔ دپاره فراخه شوے دے.[1]

د نن دُور د ځوانانو حالت

نن د ځوانئ دُور دے، د سړي کله یَو ګناه ته خیال کیږي، او کله بلې ګناه ته، خو چې کله یَو ځوان خپله ځوانې د الله پهٔ عبادت کښې تیره کړه، نو د هغهٔ به آخرت کښې ډیر خائسته حالت وي. حدیث کښې راځي:نبي ﷺ فرمائي: د قیامت پهٔ ورځ به الله اووهٔ (7) کسان د خپل د عرش د سُورې لاندې اودرئ، پهٔ هغه ورځ چې سخته ګرمي به وي، او صرف د الله د رحمت سُورے به وي، پهٔ هغه اووهٔ (7) کسانو کښې یَو کس هغه دے، چې تۆله ځوانې ئې د الله عبادت کښې تیره کړه. ددې زمانې ځوان نه تپوس اوکړه، زنا به کوې، شراب به څکې، چرس او فوډر به څکې، ګیره به خرئي، کهٔ ورته وائې: چې دا ګناه مهٔ کوه، نو وائي: الله دې توفیق راکړي، نو چې بوډا شي، نو ګیره به پریږدي، څهٔ کوې الله له دهوکه ورکوې؟ ددې ځوانئ باره کښې به الله تپوس کوي.

د ځوانئ باره کښې د نبي ﷺ فرمان

حدیث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: الله به د ځوانئ باره کښې تپوس کوي، چې

(1) [کتاب الکبائر للذهبي: 90-91].

ځواني زما يَو جدا نعمت وو، تا له مې ځوانۍ درکړې وه، دا تا په څهٔ کښې تيره کړې وه؟ نو ځوان تو له ځوانۍ ګناهونو کښې تيره کړې وي، نو چې بوډا شي، نو د ځان نه ښهٔ سرے جوړ کړي. په ځوانۍ کښې توبه ايستل پکار دي؛ ځکه "اَلْمَوتُ يَأْتِيْ بَغْتَةً" مرګ ناساپه راځي.

نبي ﷺ صحابي ته فرمائي: «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ». [1]

"په دُنيا کښې داسې ژوند تير کړه لکه چې مسافر ئې، يا په لاره تيريدونکے". چې سحر شي، نو دا مهٔ وايه چې ماښام له به رسم، او چې ماښام شي، نو دا مهٔ وايه چه سحر ته به اُورسم، او چې مونځ کوې، نو داسې مونځ اوکړه، چې تهٔ وائې: دا زما آخرې مونځ دے، چې بل مونځ ته به اُورسم او کهٔ نهٔ؟ او کهٔ اوږد اوږد اُميدونه کوې، نو بيا دين ته نهٔ اوزګارېږې.

حديث کښې راځي، نبي ﷺ يَو کرښه جوړه کړه، څلور ګوټه يَو کرښه ئې د هغې نه بهر ويستله، مينځ کښې وړې وړې کرښې جوړې کړې، بيا ئې اووئيل: دا څلور کوټه کرښه دا د انسان اجل او نيته ده، دا مينځ کښې وړې وړې کرښې، نبي ﷺ فرمائيلي دي چې دا په انسان باندې تکاليف دي، چې دا تکليف به پدې انسان باندې راځي، او دا اوږده کرښه چې ده، دا د انسان اُميد دے. نو انسان پدې خپل عمر کښې روان دے، او دلته ئې نيته ده، ددې نه خو مخکښې تلے نهٔ شي، او اُميد هغه ځائے کښې دے، اوس ددهٔ اُميد ډير اوږد دے، خو نيته ورباندې راغله، او مړهٔ شو. [2]

د انسان زړهٔ کښې ډير اوږدهٔ اوږدهٔ اُميدونه دي، نو مرګ ناساپه په سري باندې راځي، د مرګ نه مخکښې الله رب العزت ته توبه ويستل پکار دي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

---

[1] [رواه البخاري، رقم: (6416)].

[2] [رواه البخاري، رقم: (6417)].

بسم الله الرحمن الرحيم

وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا

(سورة الفرقان: 27)

موضوع

پۀ قيامت کښې ارمان

بتاريخ: 2007-03-08

بمقام: جلبئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربآني حفظه الله

پهٔ قیامت کښې ارمان

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ الله الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا * يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا * لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولًا * وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ». (أو كما قال رسول الله ﷺ).[2]

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! ما ستاسو په مخکښې د الله رب العزت د کتاب قرآن کريم نه د سورتِ فرقان يَو څو آياتونه تلاوت کړل، او د احاديثو د رسول الله ﷺ نه ما ستاسو وړاندې يَو حديث اولوستو، د الله پهٔ دربادر کښې دعا ده، چې زما د خُلې نه د قرآن او حديث مطابق خبرې اُباسې، او بيا څهٔ هغې باندې مونږ او تاسو له د عمل کولو توفيق راکړې، پدې جامع مسجد کښې مونږ ډير څله حاضرې اُوکړه، او بيانونه اوشول، او زمونږ د امير محترم مولانا عبد المقدس باچا صاحب بيانونه تاسو هر

---

(1) [سورة الفرقان: 27-30].

(2) [رواه مسلم، رقم: (223)، والترمذي، رقم: (3517)، والنسائي، رقم: (2437)، وابن ماجة، رقم: (280)].

وخت اورئ، د هغې د دومره قیمتي بیان نه ورستو زما د بیان ضرورت نشته، خو دا د ملګرو یَو مینه وي، او د ملګرو سره ملاقات اوشي، او په هغې کښې د قال الله او قال الرسول خبرې هم اوشي، او زما دا یقین دے، چې تاسو د هرې مسئلې نه ښۀ خبر یئ، ځکه دا ځائے د دین مرکز دے، او د ډیر وخت نه د دین خدمت شروع دے.

نن چې مونږ او تاسو په کوم پروګرام کښې راجمع شوي یُو، چې یَو ماشوم د الله رب العزت کتاب ختم کړے دے، د هغې په خوشحالئ کښې دا پروګرام مقرر شوے دے.

حقیقت دا دے چې الله رب العزت قرآن کریم یَو داسې جامع کتاب رالیږلے دے، چې داسې کتاب په آسماني کتابونو کښې بل نۀ دے نازل شوے، په تمامو آسماني کتابونو کښې دا اوچت شان والا د اوچت مقام والا کتاب هغه صرف قرآن کریم دے، دومره عظیم الشان کتاب چې د قرآن کریم د نزول په وجه باندې الله ﷻ کښې تمام آسماني کتابونه منسوخ کړل، دومره عظیم الشان کتاب چې د قرآن کریم وئیل هم ثواب دے، قرآن کریم ته کتل هم ثواب دے، قرآن کریم چې کوم ځائے بیانیږي هغه محفل کښې کیناستل هم ثواب دے، د خیر او برکت نه ډک کتاب دے، تمامو علومو نه ډک کتاب هغه قرآن کریم دے، داسې یَو جامع کتاب چې د هرې مسئلې حل پکښې کورې نو هغه پکښې شته، شعر:

جمیع العلم في القرآن لکن　　　تقاصر عنه أفهام الرجال

تمام علوم په قرآن کریم کښې دي، لیکن د خلقو ذهن کمزورے دے، څوک ترې لږ اخذ اُوکړي، او څوک ترې ډیر اخذ اُوکړي.

د قرآن کریم مثال

د قرآن کریم مثال د یَو دریاب دے، د خلقو د ذهن مثال د یَو لوښي دے، دریاب کښې اوبۀ نۀ ختمیږي، او سړے د خپل لوښي متعلق د هغې نه اوبۀ راخلي، چا سره

پیالئ دہ، نو پیالئ کښې اوبۀ راخلې، څوک لپه کښې اوبۀ راخلې، څوک بالټې کښې اوبۀ راخلې، قرآن کريم د علومو يَو درياب دے، د هر انسان چې څومره ذهن دے، او څومره وس او کوشش ئې دے، نو د هغې مطابق د هغې نه اخذ کوي، د قرآن کريم علوم د نۀ ختميدو والا دي، د قرآن کريم خوند او لذت نۀ ختميږي.

د قرآن کريم باره کښې د نبي ﷺ فرمان

رسول الله ﷺ فرمائي: دا هغه کتاب دے چې «وَلاَ يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ».(1)

"د قرآن کريم د بيان او وعظ نه علماء نۀ مړيږي".

د قرآن کريم عجائب او لذتونه او خوندونه نۀ ختميږي، نو داسې عظيم الشان کتاب دے.

قرآن کريم پيړيانو کښې انقلاب راوستے دے

چې پيړيانو کله قرآن کريم واوريدو نو هغوي کښې ئې انقلاب راوستو، او هغوي وائي: مونږه يَو نا اشنا کتاب واوريدو، او چې کله ئې قرآن اوريدلے دے، نو بيا ئې خپل قوم له دعوت ورکړے دے، کله چې يَو انسان د زړۀ په سترګو قرآن واوري، نو په انسان کښې هم انقلاب راولي، خو کاش چې انسان د زړۀ په سترګو د الله کتاب واوري.

د انسان پيدائش او د الله مشوره

کله چې الله دا انسانان پيدا کول نو الله د ملائکو نه مشوره اخلې، او ملائکو ته وائي: چې زۀ دنيا کښې يَو انسان پيدا کوم، داسې قوم پيدا کوم چې دنيا کښې به اوسيږي، او زما عبادت به کوي، ملائک ورته وائي: مۀ ئې پيدا کوه، الله د هغې تذکره کوي ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾.(2)

---

(1) [رواه رواه الترمذي، رقم: (2906)].

(2) [سورة البقرة: 30].

"یاد کړه هغه وخت کله چې اووئیل ستا رب ملائکو ته چې زهٔ دنیا کښې یَو خلیفه پیدا کوم، یَو داسې قوم پیدا کوم چې یَو بل پسې به پیدا کیږي، او زما د دین خدمت به کوي، ملائکو ورته اووئیل آیا ته پیدا کوې پدې زمکه کښې هغې چا لره چې هغه به پدې زمکه کښې فساد کوي، او د یَو بل وینې به توییٔ". نو مهٔ ئې پیدا کوه.

د علماؤ قول

علماء کرام ذکر کوي، چې الله خو هر کار پهٔ خپله کوي، د چا نه مجبوره نهٔ دے، ملائکو نه ئې ولې تپوس کولو؟ دا ما او تا له سبق راکوي چې تاسو به خپل مینځ کښې د یَو بل سره مشوره کوئ، د الله مشورې ته ضرورت نشته، لیکن الله د ملائکو نه مشوره اغستې ده، دا ما او تاله تعلیم راکوي، چې الله احکم الحاکمین دے، هیچا ته محتاج نهٔ دے، لیکن بیا هم د ملائکو رائے معلوموي، نو تاسو به هم خپل مینځ کښې مشوره کوئ.

او د مشورې طریقه او طرز درته ښائي، چې یَو سړي رائے درکړه، نو خامخا د هغهٔ هغه رائے به منې، نه کهٔ د هغهٔ رائے صحیح ده، نو اومنه، او کهٔ صحیح نهٔ ده، نو مهٔ منه، ملائکو مشوره پیش کړه، چې انسان مهٔ پیدا کوه، نو الله ورته وائي ﴿إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾.

"زهٔ ښهٔ پوهیږم پهٔ هغه څهٔ چې تاسو پرې نهٔ پوهیږئ".

ملائک خو عالم الغیب نهٔ دي

اوس دا یَو مسئله ده، چې ملائک خو عالم الغیب نهٔ دي، نو ملائکو څنګه الله ته اووئیل چې انسانان مهٔ پیدا کوه، دوي به شر او فساد کوي، نو ملائکو ته څهٔ پته وه؟ علماء کرام ذکر کوي، ملائکو له څکه پته وه، چې د انسانانو نه مخکښې پدې زمکه پیریان اوسیدل نو پیریانو به شر او فساد کولو، او د یَو بل وینې به ئې تویولې، نو

ملائکو اووئیل کۀ دا انسانان پیدا شي، نو دوي به هم شر او فساد کوي.

لیکن الله رب العزت "مَا کان وما یکون" باندې پوهیدو، الله وئیلي وو، چې زۀ به دوي له داسې یَو قانون او نظام رالیږم، کچرې دوي پۀ هغې قانون او نظام باندې برابر چلیږي، نو دوي به شر او فساد نۀ کوي، دوي به خلاف کار نۀ کوي، نو ملائک عالم الغیب نۀ وو، ملائکو ته د پیریانو حال معلوم وو، پۀ هغوي باندې ئي قیاس اوکړو.

د جماعت اشاعت التوحید والسنه عقیده

زمونږ دا عقیده ده، چې الله نه ما سیوا بل څوک پۀ غیبو باندې نۀ پوهیږي، عالم الغیب صرف یَو الله دے، ملائک عالم الغیب نۀ دي، ځکه ملائک څۀ وائي؟ چې کله الله آدم ﷺ پیدا کړو، اسماء او نومونه ئي ورته اوښودل، ملائکو ته نۀ وو معلوم، نو ملائکو اووئیل: ﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ﴾.[1]

پاکي ده تا لره، تۀ د هر قسمه شریک او حصه دار نه پاک یې، یا الله مونږ ته علم نشته، مونږ پۀ هغه څۀ پوهیږو چې تا راته ښودلي دي، یقینًا تۀ پوهه او حکمت والا ذات یې. یَواځې تۀ پوهه یې، او ستا پۀ هر کار کښې حکمت دے، د انسانانو پیدا کولو کښې ستا خپل حکمت دے، نو ملائک عالم الغیب نه دي.

انبیاء علیهم السلام عالم الغیب نۀ دي

قرآن کریم کښې د تمامو انبیاؤ نه نفي د علم غیب کوي، ﴿يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ﴾.[2]

کله چې الله دا تمام انبیاء میدان محشر کښې را جمع کړي، الله رب العزت به

(1) [سورة البقرة: 32].

(2) [سورة المائدة: 109].

تپوس کوي، اے انبياء! تاسو لۀ ستاسو د قومونو د طرف نه څۀ جواب در کړے شوے وو؟ انبياء عليهم السلام به وائي: يا الله مونږ ته پته نشته. نو انبياء عليهم السلام عالم الغيب نۀ دي، عالم الغيب صرف يَو الله دے.

امام الانبياء محمد ﷺ عالم الغيب نۀ دے

نبي ﷺ عالم الغيب نۀ دے، حاضر ناظر نۀ دے، د چا د حال نه خبر نۀ دے. الله نبي ﷺ ته وائي: چې دي خلقو ته اووايه: ﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾.[1]

"کچرې زۀ پۀ غيبو باندې پوهيدم، ما به ځان دپاره ډير خير جمع کړے وے، او ماته به هيڅ قسم تکليف او مصيت نۀ وے رسيدلے، ليکن ماته د غيبو پته نشته".

الله خپل پيغمبر ﷺ ته وائي: ﴿وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ۝ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ﴾.[2]

زما پيغمبره چې يَو کار کوې دا مۀ وايه چې زۀ به دا کار صبا کوم، مګر مخکښې د هغې نه ان شاء الله وايه؛ ځکه تا ته پته نشته چې تۀ صبا پورې رسيدے شې او کۀ نۀ. عالم الغيب صرف يَو الله دے. نو چې انبياء عليهم السلام عالم الغيب نۀ دي، ملائک عالم الغيب نۀ دي، نو بل څوک دے چې هغه به پۀ پټو باندې پوهه شي.

اولياء کرام عالم الغيب نۀ دي

اصحاب کهف د دنيا لوې اولياء کرام دي، د هغوي ولايت د قرآن نه ثابت دے، لوې اولياء کرام دي، مړۀ هم نۀ دي، ژوندي دي، او اودۀ دي، ليکن د اصحاب کهفو

(1) [سورة الأعراف: 188].

(2) [سورة الكهف: 23-24].

واقعه چې قرآن ذکر کوي، نو الله وائي: نهۀ دپاسه درې سوه (309) کاله ئې غار کښې تیر کړل، چې کله راپاسیدل، د ځان د حال نه خبردار نۀ دې، چې کله بیدار شول یو کس د بل نه تپوس کوي ﴿قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ﴾.[1]

"اووئیل یو ویونکې څومره وخت مو تیر کړو؟ هغه بل ورته اووئیل: یا مو یو ورځ تیره کړه، یا مو نیمه ورځ تیره کړه". او الله فرمائي: ﴿وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا﴾.[2]

نهۀ دپاسه درې سوه (309) کاله غار کښې پراتۀ دې، او د ځان د حال نه خبر نۀ دې، نۀ پۀ ورځ او نۀ پۀ شپه پوهیږي، او نۀ پۀ کال تیریدو پوهیږي، او نۀ د دنیا د حال نه خبردار دي.

چې خلق ئې را مدد کوي د هغوي حال

کوم خلق چې نور چاله آوازونه کوي، نور چاله ژړا او فریاد کوي، نور څوک را مدد کوي، د هغوي حال قرآن ذکر کوي، چې نیکانو بندګانو ته ئې چغې وهلې وي، نو چې قیامت کښې راژوندې شي، نو الله رب العزت فرمائي: ﴿وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ أَنْتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَاؤُهُمْ مَا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ﴾.[3]

پۀ کومه ورځ چې مونږ دوي ټول راجمع کړو، بیا به ورته مونږه اووایو هغه کسانو ته چې هغوي شرک کړے وو، پۀ خپل ځائے باندې اودریږئ، تاسو هم او ستاسو د برخې هغه خاوندان دې هم اودریږي، حساب کتاب درسره کوو، مونږ به د دوي پۀ مینځ کښې جدا والے راولو، پیران یو خوا او مریدان بل خوا، عابدان یو طرف ته او معبودان بل طرف ته به اودرو، او به وائي د دوي د برخې هغه خاوندان د چا پۀ نوم ئې

(1) [سورة الكهف: 19].

(2) [سورة الكهف: 25].

(3) [سورة يونس: 28].

چې نذرانې ورکولې، چا ته چې په حاجتونو کښې را مدد شې وئيل، هغوي به ورته وائي: نه وئ تاسو خاص مونږ لره عبادت کوونکي، هغه به وائي: نا نا مونږ خو ستاسو عبادت کړے وو، ما درته فلانے شے راوړے وو، بل وائي: ما ستاسو د دربار مالکه خوړلې وه، هغوي به ورته وائي: ﴿فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ﴾.[1]

"کافي دے الله ګواه زمونږ او ستاسو مينځ کښې يقينًا وو مونږ د عبادت ستاسو نه خامخا نا خبره". او دوي وائي: زمونږ د حال نه خبردار دي، هغوي به قسم خوري چې مونږ ستاسو د حال نه ناخبره وو، نو عالم الغيب صرف يو الله دے.

د ملائکو مشوره

ملائکو چې مشوره ورکوله، نو هغوي عالم الغيب نه وو، خو هغوي د پيريانو حال معلوم کړے وو، قياس ئې کړے وو، چې پيريان شر او فساد کوي، نو انسان به هم دغسې کوي.

نو الله ورته اووئيل: ﴿إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾

"اے زما ملائکو! زه پوهيږم په هغه څه چې تاسو ورباندې نه پوهيږئ".

د دوي دپاره ما سره قانون شته، دوي به په هغې قانون عمل کوي، نو دوي به د شر او فساد نه بچ وي. الله به پيغمبران راليږل او هغوي له به ئې کتاب ورکولو، دا سلسله شروع وه، تر دې پورې چې آخرې پيغمبر جناب محمد رسول الله ﷺ الله رب العزت را اوليږلو، او آخرې کتاب قرآن کريم ئې ورکړو، او قرآن کريم کښې ددې حکم اوکړو، چې ددې پيغمبر حکم اومنئ، دا زما پيغمبر دے، او ما راليږلے دے، چا چې دنيا کښې د الله او د رسول الله تابعدارې اوکړه، دے به دنيا کښې هم خوشحاله وي، او آخرت

(1) [سورة يونس: 29].

کښې به هم خوشحاله وي، او چا چې د الله کتاب پرېښودو، د الله د پيغمبر تابعدارۍ ئې پرېښوده، په دنيا کښې به هم ذليله وي، او آخرت کښې به هم ذليله وي.

قرآن کريم د دريو کسانو ارمان ذکر کړے دے

چې دنيا کښې خو دا خلق په مزو او تماشو کښې دي، او د ځان د حال نه خبر نهٔ دي، خو کله چې د قيامت ورځ شي، او ميدان محشر وي، درې کسان داسې دي چې هغوي به افسوس او ارمان کوي، خو بيا به د هغوي نه هغه وخت تلے وي.

(1) يَو ارمان د کافرانو

چې نن خو کافر د دنيا په مزو او خوندونو کښې دے، او مسلمان ورته ساده او بے وقوفه ښکارې، مسلمان ورته دهشت گرد ښکارې، ليکن په قيامت کښې به دا کافران ارمان کوي، کاش! کهٔ مونږ مسلمانان وے.

او دا ارمان به هغه وخت کوي، چې کله الله مؤمنان د جهنم نه بَهر کوي، چې هغه کس د جهنم نه بَهر کړئ، چې هغه "لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ" وئيلې وي، د هغهٔ په زړهٔ کښې د اُورې د دانې هومره ايمان وي، نو د جهنم نه ئې بَهر کړئ، نو کافران به دغه وخت کښې وائي: هائے افسوس!!! کهٔ دا لږ ايمان را کښې وے، نو ښهٔ به وے. الله فرمائي: ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ﴾.[1]

"ډير کرتې خوښه به کنړې په قيامت کښې کافران کهٔ دوي وے په دنيا کښې مسلمانان". دا ارمان به کوي خو بيا به ترې وخت تير وي، افسوس به کوي، چې مونږ په دنيا کښې ايمان راوړے وے، نو نن به مونږ هميشه دپاره جهنم کښې نهٔ وو.

(1) [سورة الحجر: 2].

(2) دویم ارمان د نبي ﷺ د تابعدارئ نه کونکو

هغه سړے به ارمان کوي، چې کوم سړي دنیا کښې د الله د پیغمبر ﷺ د طریقې خلاف کړے وو، کوم سړي چې دنیا کښې د الله د پیغمبر ﷺ په طریقه ژوند نۀ وو تیر کړے، د خپلې مرضئ ژوند ئې تیر کړے وو، بیا به قیامت کښې افسوس او ارمان کوي. الله فرمائي: ﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا﴾.[1]

"په هغه ورځ باندې چې ظالم سړے به چک لګوي په خپل لاس باندې، وائي به: هائے هائے افسوس دے ما لره ارمان دے مالره!!! چې ما نیولے وے، په تابعدارئ د پیغمبر کښې لاره".

چې دنیا کښې مې د الله د پیغمبر تابعداري کړے وے، نو نن به زۀ جهنم کښې نۀ وے، بیا به په دې خپلو لاسونو باندې چکونه لګوي، خو وخت به تېر تلے وي. دا چکونه به ولې لګوي؟، ځکه ډیر کارونه د شریعت هغه سړے په لاس باندې کوي، او دۀ د شریعت کار نۀ وو کړے، نو ځکه به پرې چکونه لګوي. یا چک به لګوي؛ ځکه چې دا د پښیمانتیا یَو نښه ده، کله چې یَو سړے په خپل کار باندې خفه وي، نو دے خپله خُلۀ کښې ګوته ورکړي، او په هغوي چکونه لګوي، نو دے به ډیر زیات خفه وي، خو لیکن هغه وخت به ددۀ نه تلے وي. یا چک به ځکه لګوي؛ چې دنیا کښې خپل لاس د پیغمبر ﷺ خلاف اوچت کړے وو، او په هغۀ ئې ګُزارونه کړي وو، خپل لاس ئې حق پرست باندې اوچت کړے وو؛ ځکه به پدې خپل لاس چک لګوي.

قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ﴾.[2]

چې کله ورته پیغمبران په واضحه واضحه دلائلو باندې راغلل، د الله د کتاب

---

(1) [سورة الفرقان: 27].

(2) [سورة إبراهيم: 9].

بیان ئې کولو، نو کار ددې خلقو به دا وو، چې دې کافرانو به دا خپل لاسونه د انبیاء علیهم السلام په خُلهٔ باندې کېښودل، د هغهٔ خُلهٔ به ئې چپ کوله.

علماء کرام مختلف معاني کوي

(1) یَو معنیٰ دا ده: ﴿فَرَدُّوٓا۟ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ﴾

واپس به کړل دې خلقو خپل لاسونه په خپلو خُلو کښې د وجې د غصې نه. چې انبیاء علیهم السلام ته به ډیر غصه وو، او په هغوي به ئې وس نهٔ رسیدو، نو په خپل لاس به ئې چک لګولو، نو الله وائي: قیامت کښې به پدې خپل لاس د افسوس د وجې نه چک لګوي. قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْا۟ عَضُّوا۟ عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ مِنَ ٱلْغَيْظِ﴾.[1]

"دا منافقان او یهود چې تاسو سره میلاؤ شي، وائي: مونږه ایمان راوړے دے، او چې کله ستاسو د خوانه لاړ شي، نو بیا د ډیرې غصې د وجې نه په خپلو ګوتو باندې چکونه لګوي". چې څهٔ اوکړو، وړځ پهٔ وړځ سیوا کیږي، او ملګرې ئې ډیریږي، دا د بعضې سړي عادت وي، چې کله ئې حق پرستو باندې وس نهٔ رسي، نو د ډیرې غصې نه پهٔ خپل لاس چک لګوي، نو قیامت کښې به پدې خپلو لاسونو د افسوس د وجې نه چکونه لګوي.

(2) دویمه معنیٰ ﴿فَرَدُّوٓا۟ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ﴾

واپس به کړل دې خلقو خپل لاسونه خپلو خُلو ته. اشاره به وه دیته چې چپ شئ. کله چې به انبیاؤ بیان کولو، نو دوي به هغوي ته وئیل چې چپ شئ، پهٔ خپلې خُلې به ئې ورته لاس کېښودو. اشاره وه چپ کولو ته.

(1) ...

لکه يَو سړے چا ته وائي: چې چپ شه، نو هغه په خپله خُلهٔ لاس کيږدي، او هغهٔ ته وائي: چپ شه، دغسې به دې خلقو انبياء عليهم السلام ته وئيل چې چپ شئ، نو الله وائي: چې قيامت کښې به پدې لاسونو چک لګوي.

(3) دريمه معنی زاد المسير کړې ده ﴿فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ﴾

چې کله به انبياء عليهم السلام بيان کولو، نو دوي به دا خپل لاسونه په خپلو خُلو باندې کيښودل د خندا د وجې نه. بعضې سړے چې خاندې، او خندا ورشي نو هغهٔ له ځان بد ښکاري؛ ځکه خُلهٔ ئې ډيره وازه وي، نو هغه د خپلې خُلې د پټولو دپاره خپل لاس په خُلهٔ باندې کيږدي.

نو دې مخالفينو بهٔ انبياؤ عليهم السلام پورې دومره خاندل، چې خُلې به ئې ډيرې کولاؤ شوې، نو په خُلو به ئې لاس کيښودو. نو الله وائي: قيامت کښې به هم په دغه لاس چک لګوي.

(4) څلورمه معنی ﴿فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ﴾

واپس به ئې کړل لاسونه خپل په خُلو د انبياء عليهم السلام باندې، چې کله به انبياء عليهم السلام تقرير کولو، نو دے به راغے او دا خپل لاس به ئې د پيغمبر پهٔ خُلهٔ باندې کيښودو، چې بس کړه، بله خبره ونهٔ کړې. نو قيامت کښې به دا ظالم پدې خپلو لاسونو باندې چکونه لګوي.

نو قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا﴾.[1]

"پهٔ هغه ورځ باندې چې ظالم سړے به چک لګوي پهٔ خپل لاس باندې، وائي به:

(1) [سورة الفرقان: 27].

هائے هائے افسوس دے ما لره ارمان دے ماله!!! چې ما نیولے وے، پۀ تابعدارئ د پیغمبر کښې لاره". ﴿يَاوَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا﴾.[1]

هائے افسوس دے ما لره هائے تباهي ده!!! چې نۀ وے زۀ چې نۀ وے نیولے ما فلانکے سرے دوست. دا خو ما د فلانکي سړي د ملګرتوب د وجې نه د نبي ﷺ خلاف کړے وو، کۀ ما دنیا کښې د هغۀ ملګرتوب نۀ وے کړے نو دا به ډیره ښه وے.

ناکاره ملګرے سړے ګمراه کوي

قرآن کریم کښې ددې ډیر قباحت بیان شوے دے، چې د ناکاره خلقو د ملګرتوب نه ځان وساتئ، لکه سورتِ فرقان کښې تیرشول چې دے به وائي: زۀ د ناکاره ملګرې د وجې نه جهنم ته راغلم. نو دے به وائي: ﴿لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنْسَانِ خَذُولًا﴾.[2]

"پۀ تحقیق سره اړولے وو هغۀ ما لره د الله د کتاب نه کله چې ما ته راغے، نو قیامت کښې به دا ارمان کوي، چې دنیا کښې ما ددۀ تابعدارې نۀ وه کړې، نو دا به ډیره ښه وے.

نن خو خلق د ډلې د وجې نه، د رشته دارئ د وجې نه، د ملګرتوب د وجې نه د دین نه لرې شول، قرآن کریم ددې تذکره کوي.

﴿يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَالَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا﴾.[3]

"پۀ هغه ورځ چې اړولے راړولے به شي مخونه د دوي پۀ اُور د جهنم کښې، وائي: به هائے هائے افسوس دے مونږ لره!!! چې مونږ دنیا کښې د الله خبره منلے وے، او د الله د پیغمبر ﷺ خبره مو منلے وے". د جهنم پۀ اُور کښې به سوزي، او دا ارمان به

(1) [سورة الفرقان: 28].

(2) [سورة الفرقان: 29].

(3) [سورة الأحزاب: 66].

کوي، خو بيا دنيا ته راتلل نشته.

د دنيا باره کښې د نبي ﷺ فرمان

«فَإِنَّكُمُ الْيَوْمَ فِي دَارِ الْعَمَلِ وَلَا حِسَابَ، وَأَنْتُمْ غَدًا فِي دَارِ الْحِسَابِ وَلَا عَمَلَ».(1)

"نن تاسو د عمل په ميدان کښې يئ حساب کتاب نشته، صبا به تاسو د حساب کتاب په ميدان کښې يئ بيا عمل نه کيږي". بيا به افسوسونه کوي، نو بيا فائده نۀ ورکوي، نو دا کافران به جهنم کښې پراته وي، او دا ارمان به کوي: ﴿يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا﴾ "هائے افسوس دے مونږ لره!!! چې مونږه تابعداري د الله کړے وے، او تابعداري مو د الله د پيغمبر ﷺ کړے وے". ﴿وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا﴾.(2)

"وائي به دوي: اے زمونږه ربه! يقينًا مونږ تابعداري کړې وه د خپلو مشرانو او د خپلو ناکاره مُليانو نو مونږه ئې ګمراه کړو، د سمې لارې نه".

بيا به وائي: ﴿رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا﴾.(3)

"اے زمونږه ربه! ورکړې دوي ته دوچند عذاب او پۀ لعنت کړي دوي لره پۀ لعنت لوې باندې".

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾.(4)

"اے مؤمنانو! يقينًا ډير د ناکاره مُليانو نه او ډير د ناکاره پيرانو نه خامخا خُوري

(1) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (10132)].

(2) [سورة الأحزاب: 67].

(3) [سورة الأحزاب: 68].

(4) [سورة التوبه: 34].

مالونه د خلقو په غلطې طريقې سره او بندوې خلقو لره د الله د لارې نه".

يعني د الله د كتاب نه. د الله كتاب دروغ نهٔ وائي، مُليانو كښې هم ښهٔ او بد خلق شته، او پيرانو كښې هم ښهٔ او بد خلق شته. نو تهٔ به د ښهٔ او بد تميز كوې، بازار ته چې يَو كس لاړ شي، او سبزي اخلي نو هغې كښې كورې چې دا صفا ده، او دا گنده ده، دا سبزي ارزانه ده، او دا گرانه ده، يَو سړے پيزار (كپړۀ) اخلي، نو هغې كښې قيمتي او بے كاره گورې، او د دين په خبره كښې چې هر چا پسې چې لاړے، نو خير دے، نه د دين په كار كښې به حق او باطل گورې، او دا خو كيدے نهٔ شي، چې هر يَو دې حق وي.

نو هغه سړے به ارمان او افسوس كوې، چې چا د الله د پيغمبر خلاف كړے دے، او دا خبره ياد وساتئ چې هغه عمل نهٔ قبليږي چې هغه په طريقه د نبي ﷺ باندې نهٔ وي.

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ».[1]

تاسو كښې يَو سړے د كامل ايمان والا نهٔ شي جوړيدے، ترڅو پورې چې د هغه تمام خواهشات د هغه دين نهٔ وي تابع شوے كوم دين چې ما راوړے دے. هر سړے ځان ته وفادار د محمد رسول الله ﷺ وائي، هر سړے وائي چې زما د الله سره مينه ده، زما د الله د پيغمبر سره مينه ده، او عمل مهٔ كوه، صرف په دعوى باندې كار نهٔ كيږي، الله وائي: ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾.[2]

اے زما پيغمبره! دې خپل امت ته اعلان اوكړه، كهٔ تاسو د الله سره مينه كول غواړئ، نو هسې محبت منظور نهٔ دے، هغه محبت به منظور وي، كوم محبت چې په طريقه د نبي ﷺ باندې وي، نو ستاسو محبت به د الله سره هله صحيح كيږي، چې تاسو زما تابعدارې اوكړئ، نو الله به تاسو سره محبت اُوكړي، او الله به ستاسو گناهونه

---

(1) [رواه البغوي في "شرح السنة"، رقم: (104)].
(2) [سورة آل عمران: 31].

معاف کړي، يقيناً الله بخښونکی او مهربانه دی.

د دې آيت باره کښې اقوال

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ...إلخ﴾ دې آيت باره کښې تفسير ابن کثير وائي: "هَذِهِ الآيَةُ الْكَرِيمَةُ حَاكِمَةٌ عَلَى كُلِّ مَنِ ادَّعَى مَحَبَّةَ اللهِ، وَلَيْسَ هُوَ عَلَى الطَّرِيقَةِ الْمُحَمَّدِيَّةِ فَإِنَّهُ كَاذِبٌ فِي دَعْوَاهُ فِي نَفْسِ الْأَمْرِ، حَتَّى يَتَّبِعَ الشَّرْعَ الْمُحَمَّدِيَّ وَالدِّينَ النَّبَوِيَّ فِي جَمِيعِ أَقْوَالِهِ وَأَحْوَالِهِ".[1]

وائي: دا آيت کريمه حاکم او فيصله کونکی دی، په هغه چا باندې، چې کوم سړی دعوی کوي، چې زما د الله سره مينه ده، او دا سړی په طريقه د محمد رسول الله باندې روان نه دی، دا سړی پدې خپله دعوی کښې دروغژن دی، تر هغې پورې چې دهٔ د شريعتِ محمدي ﷺ تابعداري نهٔ ده کړې، په ټول دين کښې په ټولو اقوالو افعالو او احوالو کښې، تر هغې پورې ددې سړي خبره رشتيا کيدی نهٔ شي.

د سهل بن عبد الله قول

"عَلَامَةُ حُبِّ اللهِ حُبُّ الْقُرْآنِ، وعَلَامَةُ حُبِّ الْقُرْآنِ حُبُّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَلَامَةُ حُبِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُبُّ السُّنَّةِ".[2]

د الله سره د محبت نښه دا ده، چې د يو سړي د الله سره مينه ده، هغه به د الله د پيغمبر سره مينه ساتي، او د الله سره د محبت نښه دا ده، چې د قرآن سره به ئې مينه وي، او څوک چې د الله د کتاب سره مينه کوي، د هغې نښه دا ده، چې د الله د پيغمبر سره به ئې مينه وي، او څوک چې د الله پيغمبر سره مينه کوي، د هغې نښه به دا وي، چې د نبي ﷺ د طريقې سره به ئې مينه وي. نو دويم ارمان به هغه څوک کوي، چې هغه دنيا

(1) [تفسير ابن كثير: تحت آية سورة آل عمران: 31].

(2) [تفسير القرطبي: تحت آية سورة آل عمران: 31].

کښې د نبي ﷺ تابعداري نهٔ وه کړې.

(3) دریم ارمان چې کوم سړي قرآن باندې عمل نهٔ دے کړے

کوم سړي چې دنیا کښې د الله کتاب نهٔ اورېدلےوو، او نهٔ ئې پرې عمل کړے وو، او نهٔ ئې پرې ځان پوهه کړے وو، او نهٔ ئې د الله کتاب له وخت ورکړے وو، نو دا سړے به افسوس او ارمان کوي.

قرآن کریم کښې الله ددې خلقو د ارمان ذکر کوي: ﴿كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَذِيرٞ﴾.(1)

"کله چې جنهم کښې یَوه ډله د جهنمیانو اوغورزولے شي، نو د جهنم هغه څوکیداران به ترې تپوس کوي، تاسو له څوک یرونکے پهٔ دنیا کښې نهٔ وو راغلے؟"

﴿قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ﴾.(2)

"دوي به ورته وائي: آؤ! ډیر یرونکي راغلې وو، حق پرست خلق راغلې وو، لیکن مونږ د هغوي تکذیب کړے وو، او مونږ ورته وئیلي وو، چې اَلله هیڅ شے نهٔ دے رالیږلے. ملائک به ورته وائي: نهٔ وئ تاسو مګر لویه ګمراهئ کښې".

چې کله دا خلق جهنم کښې اوغورزولے شي، نو دوي به وائي: ﴿وَقَالُواْ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ أَوۡ نَعۡقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ﴾.(3)

"وائي به دا جهنمیان: هائے افسوس دے مونږ لره!!! کچرې مونږ دنیا کښې د الله کتاب اورېدلے وے، یا مو د الله کتاب باندې ځان پوهه کړے وے، نو نن به مونږ جهنم ته نهٔ وو راغلې".

---

(1) [سورة الملک: 8].

(2) [سورة الملک: 9].

(3) [سورة الملک: 10].

بیا به قیامت کښې دا افسوس او ارمان کوي، خو بیا به دا موقع زمونږ نه تللې وي، څومره د هیبت وخت به وي؟ چې میدانِ محشر به وي، او میدانِ محشر د شفاعت مقام دے، او هغه وخت کښې به هر سړے د شفاعت په طمع وي، چې څوک پیدا شي چې زما شفاعت اُوکړي، او قرآن کریم به زما او ستا خلاف وي، او د الله پیغمبر ﷺ به زما او ستا خلاف وي، نو زمونږه د خلاصون به کومه یَوه لار وي؟

د قیامت په ورځ د نبي ﷺ شکایت

الله رب العزت قرآن کریم کښې فرمائي: ﴿وَقَالَ الرَّسُولُ يَارَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا﴾.[1]

بعض علماء وائي: دا ﴿قَالَ﴾ د ماضي صیغه ده، نبي ﷺ په مکه کښې وئیلې وو، او څوک وائي: نه ﴿قَالَ﴾ ماضي ده په معنی د مضارع باندې، یعنې قیامت کښې به نبي ﷺ دا شهادت کوي، قیامت کښې به نبي ﷺ وائي: اے زما ربه! زما دې قوم ستا دا کتاب پرېښودے وو، الله ستا په کتاب ئې عمل نۀ وو کړے، نو چې نبي ﷺ داسې ریورټ کوي، نو زمونږ به څۀ حال وي.

د قرآن پرېښودل دوه قسمه دي

(1) اول قسم پرېښودل

د الله د کتاب پرېښودل څۀ دي، یَو هغه پرېښودل چې په لویه درجه کښې کافرانو پرېښودے وو، چې د الله کتاب ئې نۀ اوریدو، الله د کافرانو حال بیانوي: ﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ﴾.[2]

---

(1) [سورة الفرقان: 30].

(2) [سورة حم السجدة: 26].

"وئيل به کافرانو! چې دا قرآن مه اورئ، کله چې دا قرآن بيانيږي، نو تاسو شور کوئ، ددې دپاره چې تاسو غالبه شئ".

اوس هم د بعضې جاهلانو دا کار وي، چې کوم ځائے د الله کتاب بيانيږي، او نور وس ئې نه رسي، نو لوډ سپيکر باندې، نعتونه شروع کړي، او چې کوم سړي باندې د قرآن آواز بد لګي، نو هغه سړے به يا کافر وي، يا به منافق وي.

(2) دويم قسم پريښودل

د قرآن دويم قسم پريښودل، ابن كثير ليكلي دي: "وَتَرْكُ الْإِيمَانِ بِهِ وَتَصْدِيقِهِ مِنْ هِجْرَانِهِ، وَتَرْكُ تَدَبُّرِهِ وَتَفَهُّمِهِ مِنْ هِجْرَانِهِ".[1]

"قرآن كريم باندې ايمان نه راوړل، د قرآن تصديق نه کول، دا د قرآن پريښودل دي، قرآن كريم باندې ځان نه پوهه کول، قرآن كريم کښې سوچ او فکر نه کول، دا د قرآن پريښودل دي".

مؤمنانو ته خطاب

مؤمنانو ته الله ډير په عجيب انداز سره خطاب کوي: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾.[2]

"اے مؤمنانو! کله چې قرآن كريم بيانيږي نو تاسو غوږ کيدئ قرآن ته، او چپ شئ، ددې دپاره چې په تاسو مهرباني اوکړے شي. که د الله رحم غواړې نو چپ شه، او قرآن ته غوږ کيده، چې الله درباندې رحم اوکړي".

د مسلمانانو د قرآن كريم نه غفلت

نن د مسلمانانو دا حالت دے، چې په سلو کسانو کښې يَو کس هم د قرآن نه

(1) [تفسير ابن كثير: تحت آية سورة الفرقان: 30].

(2) [سورة الأعراف: 204].

ځان نهٔ خبروي، د داسې خلقو مقابله کښې به قرآن او نبي ﷺ ولاړ وي، چې الله دا هغه خلق وو، چې قرآن ئې پرېښودے وو، قرآن کريم الله د سوچ او فکر دپاره نازل کړے وو، نن مونږ قرآن پرېښودو، کهٔ مونږ د قرآن نه ځان خبر کړو، نو قرآن به زمونږ دپاره سفارش کوي، او کهٔ مونږ قرآن ته شاه کړه نو دا قرآن به زمونږ خلاف ګواهي ورکوي. الله دې زمونږ تعلق د قرآن سره پيدا کړي. (آمين)

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ

(سورة البقرة؛ 102)

موضوع

سحر او جادو

بمقام: جلسئ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سحر او جادو

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ به وَنَتَوكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بالله منْ شُرُوْر أَنْفُسنَا وَمنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، وَنَعُوْذُ بالله منْ شُرُوْر أَنْفُسنَا وَمنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، وَنَعُوْذُ بالله منْ شُرُوْر أَنْفُسنَا وَمنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، منْ يَّهْده اللهُ فَلَا مُضلَّ لَهُ وَمَنْ يَّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آله وَأَصْحَابه وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عَقَدَ عُقْدَةً، ثُمَّ نَفَثَ فِيهَا فَقَدْ سَحَرَ، وَمَنْ سَحَرَ فَقَدْ أَشْرَكَ، وَمَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ».[2]

عزت مندو مسلمانانو رونړو ما ستاسو په وړاندې د قرآن کریم یو آیت اولوستو، او د احادیثو د رسول الله ﷺ نه ما یو حدیث اولوستو، پدې جمعه کښې د یو بلې ګناه کبیره تذکره کوو، چې هغې ته سحر او جادو وائي. سحر او جادو، کوډې او منترې دا ګناهِ کبیره ده، په ګناهونو کښې لویه ګناه ده، او نن وخت کښې زیات خلق په دې ګناه

(1) [سورة البقرة: 102].

(2) [رواه النسائي رقم: (4079)].

کښې مبتلا دي، څوک د سحر والا عمل زده کوي دي کار ته ناست دے، او په دې باندې پيسې اخلي، او خلقو له ئې کوي، او بعض خلق داسې دي چې هغه وائي: چې کوم ځائے به داسې استاذ وي چې هغه ما له کودې اوکړي، چې زما د فلانکې سره ورانه شي، يا زما د فلانکي سره محبت پيدا شي، او دده دا مال ختم شي، دده دا عزت ختم شي، او دوي مونږ ته محتاج شي، څوک په چا باندې کودې کوي، او څوک په چا باندې، زيات تر خلق پدې ګناه کښې مبتلا دي، او خبر نهٔ دي چې داسې کار کول دا په اسلام کښې څنګه دے؟ حقيقت دا دے چې سحر او جادو کول دا ګناهِ کبيره ده.

د سحر او جادو اولنے ايجاد

د سحر او جادو اولنے ايجاد شيطانانو کړے دے، د دې وجې نه په سحر کولو سره انسان شيطان ته نزدې کيږي؛ ځکه دا د شيطان عمل دے.

د سحر تعريف

سحر او جادو څهٔ ته وائي؟ "والسحر علم بألفاظ واعمال يتقرب بها الإنسان الى الشياطين تصير بها الشياطين مسخرات له فيعينونه على ما يريد وتؤثر تلك الألفاظ والأعمال في النفوس والأبدان بالأمراض والموت والجنون".[1]

"سحر دا په يَو داسې الفاظو باندې عمل حاصلول دي، داسې اعمال کول چې په هغې الفاظو او اعمالو انسان شيطان ته نزدې کيږي، او ددې سحر په وجه بيا شيطانان ددې انسان تابع شي چې دے ورباندې څهٔ کوي، نو هغوي به هغه د دهٔ دپاره کوي. لکه بعض خلقو پيريان ځان له تابع ګرځولي دي، بيا چې دے څهٔ غواړي نو هغه ورباندې کوي، دغه الفاظ دغه اعمال د انسان په نفس کښې هم اثر کوي، چا باندې چې دغه

(1) [التفسير المظهري: تحت آية سورة البقرة: 102].

سحر اوشي دغه کوډي اوشي، نو د هغهٔ بدن کښې نقصان پيدا شي بيمارۍ ورباندې راشي، مرګ پرې راشي، ليونتوب پرې راشي، دماغ ئې خراب شي". دا رنګه د هغهٔ پهٔ دماغو کښې وهم راځي، او دا د سحر هغه کارونه دي.

د سحر نه انکار

بعض خلق وائي: سحر او جادو نشته. مسئله دا ده چې ابو بکر جصاص رحمه الله او نورو علماؤ ذکر کړي دي، چې د سحر حقيقت د اهل السنت والجماعت پهٔ نزد باندې شته سحر اثر کولے شي.[1]

د علامه بغوي رحمه الله قول

"وَالسِّحْرُ وُجُودُهٗ حَقِيقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ السُّنَّةِ، وَعَلَيْهِ أَكْثَرُ الْأُمَمِ، وَلَكِنَّ الْعَمَلَ بِهِ كُفْرٌ".[2]

"سحر ددې حقيقت شته د اهل السنت والجماعت پهٔ نزد باندې، ليکن پهٔ سحر باندې عمل کول د سحر کار کول دا کفر دے. دا سحر کار کوې خو ليکن دا د کفر والا کار دے".

مثالونه

بعض خلق وائي: نظر کار نهٔ کوي، وائي: خلق وائي چې دا شے د نظره شو، نو وائي: دا هسې دروغ وائي. تفسير قرطبي وائي: ددې نه انکار هغه خلق کوي چې هغوي جاهلان دي، چې علم ورسره نشته، نظر کار کوي، او بيا ئې حديث ذکر کړے دے، کهٔ د الله پهٔ عرش باندې څهٔ شي اثر کولے اول به پرې نظر کړے وے.

نبي عليه السلام فرمائي: «اَلْعَيْنُ حَقٌّ».[3]

---

(1) [أحكام القرآن].

(2) [تفسير معالم التنزيل: تحت آية سورة البقرة: 102].

(3) [رواه البخاري، رقم: (5740، و5944)، ومسلم، رقم: (2187، و2188)، والترمذي، رقم: (2061)، وأبو داود،=

"نظر حق دے، یعنې د انسان نظر لګي". د هغې نه سرے بیماریږي.

یَو روایت کښې راځي یَو صحابي لامبل بل صحابي ورته اوکتل، ورته وائي: څومره خائسته بدن دے، نو په هغه صحابي هغه ځائے کښې تبه (بخار) راغله، نبي ﷺ ته چا خبر را اولیږو، چې تاسو راشئ، فلانکے بیمار دے، وائي: ولې؟ وائي: دغسې چل اوشو، پیغمبر ﷺ ورغلے، او وې وئیل تاسو داسې ورور مسلمان ته ولې تکلیف رسوئ؟ چې تا لیدلے وے، نو تا به ددهٔ دپاره د برکت سوال کړے وے، "اللهم بَارِكْ فِيْهِ" به دې وئیلے وے، چې الله دهٔ له پدې بدن کښې خیر او برکت واچوې، نو بیا به دې نظر اثر نهٔ کولے، بیا نبي ﷺ هغهٔ ته اووئیل تهٔ غسل اوکړه، یا چار اندام اوکړه، نو چې کله په هغې اوبو سرے اولامبي، نو د هغهٔ نه د نظر هغه اثر ختمیږي.

بعض خلق نظر نهٔ مني، وائي: دا نظر پکښې چا را وستے دے؟ بعض خلق سحر او جادو نهٔ مني.

د اهل السنت والجماعت مسلک

د اهل السنت والجماعت مسلک دا دے چې د سحر جادو اثر شته، خو دا خبره ده، چې د سحر کول کفر دے، سړے پرې د ایمان نه خلاصیږي.

د سلیمان ﷺ زمانه

سلیمان ﷺ بادشاه وو، انسانان، پیریان او مارغان هر څهٔ ددهٔ تابع وو. کله چې سلیمان ﷺ وفات شو، شیطان د انسان په شکل کښې راغے، اول ئې یَو کتاب اولیکلو، د سحر او جادو، او د سلیمان ﷺ د تخت د لاندې ئې خخ کړو، او بیا ئې خلقو ته بیان شروع کړو، چې خلقو سلیمان ﷺ چې بادشاهي کوله، دا ئې په جادو باندې کوله، او

=رقم: (3879)، وابن ماجة، رقم: (3506)].

کۀ زما خبره نۀ منئ، نو د تخت د لاندې دا ځائے اولټوئ نو تاسو ته به خپله پته اولګي، خلقو چې هغه ځائے اولټولو، نو هغې کښې واقعې چې کتابونه خخ وو، نو خلقو اووئيل: دا سليمان عليه السلام چې بادشاه وو، په انسانانو ئې هم بادشاهي وه، په پيريانو ئې هم بادشاهي وه، او په مارغانو ئې هم بادشاهي وه، دا خو دغه وجه وه، چې جادو ورسره وو، نو خلقو جادو زده کول شروع کړل. حقيقت دا وو، چې دا د شيطان يَو چال وو، سليمان عليه السلام جادو گر نۀ وو.

يَو حديث کښې راځي، نبي عليه السلام فرمائي: د اووۀ (7) هغه گناهونو نه ځان اوساتئ! هغه گناهونه چې سبب د هلاکت د انسان دپاره کرځي، هغه داسې گناهونه دي چې د هغې د وجې نه انسان تباه کيږي، صحابه کرامو تپوس اوکړو، هغه اووۀ (7) کوم غټ غټ گناهونه دي. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل:

(1) «الشِّرْكُ بِاللهِ» يَو د الله سره شريک کرځول، دا لويه گناه ده.

(2) «وَالسِّحْرُ» دويم سحر او جادو کول، دا لويه گناه ده.

(3) «وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالحَقِّ» دريم مسلمان بنده بغير د څۀ جرم نه وژل، دا لويه گناه ده.

(4) «وَأَكْلُ الرِّبَا» څلورم د سود مال خوړل.

(5) «وَأَكْلُ مَالِ اليَتِيمِ» پنځم د يتيمانانو مال خوړل.

(6) «وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ» ميدانِ جهاد کښې تيښته کول.

(7) «وَقَذْفُ المُحْصَنَاتِ المُؤْمِنَاتِ الغَافِلاَتِ» په پاکدامنو مؤمنانو زنانو باندې بدنامه لګول.[1]

(1) [رواه البخاري: رقم: (2766)].

نو يَو ګناه پکښې دا وه جادو کول، نو دا لويه ګناه ده، او دومره لويه ګناه ده، چې سړے پرې د ايمان نه خلاصيږي.

د ساحر حکم

د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب

امام ابو حنيفه رحمه الله وائي: چې جادو کر اونيولے شو، او سحر او جادو ئې کړے وو، ګواهان ورباندې پيش شول، يا هغهٔ پخپله اقرار اوکړو، نو هغه به وژلے شي، او توبه به ئې نهٔ شي قبلولے. خو دا زهٔ او تهٔ نهٔ شو وژلے، دا د مسلمان حاکم او بادشاه کار دے.

د ابو بکر جصاص رحمه الله قول

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: «مَنْ أَتَى كَاهِنًا أَوْ عَرَّافًا أَوْ سَاحِرًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ».[1] سيدنا عبد الله رضي الله عنه وائي: کوم سړے چې عرّاف ته راغے، (عرّاف هغه چا ته وائي چې د چا نه غلا شوې وي، او هغهٔ ته هغه غلا معلوموي، چې دا غلا درنه فلانکې سړي کړې ده) يا کاهن ته راغے (کاهن هغه سړي ته وائي چې يَو کار له شوے نهٔ دے، او دے وائي: چې صبا به داسې کار کيږي، يا پهٔ بل څهٔ معلومول کوي) يا ساحر سړي له راغے، هغه ورته سحر اوکړو، او هغهٔ ورته اووئيل: چې دغسې به کيږي. او دهٔ پهٔ دې دريو واړو کسانو کښې د يَو کس تصديق اوکړو، چې آؤ، بالکل رشتيا وائي، نو دې سړي کفر اوکړو، پهٔ هغه کتاب کوم کتاب چې الله پهٔ رسول الله ﷺ باندې راليږلے دے. دا سړے کافر دے، چې د داسې غلطو خلقو تصديق کوي.

علامه تفتازاني ذکر کوي: "وکان فی العرب کهنة يدعون معرفة الأمور فمنهم من کان يزعم أن له

(1) [رواه اللالكائي، في "شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة"، رقم: (1900)، والجصاص في أحكام القرآن، باب اختلاف الفقهاء في حكم الساحر وقول السلف فيه: 60/1، دار الكتب العلمية بيروت - لبنان-].

رئيا من الجن (أي: رفيقا) وتابعة يلقى إليه الأخبار، ومنهم من كان يزعم أنه يستدرك الأمور بفهم أعطيه".[1]

بيا هغه ذکر کوي چې د داسې خلقو قتل پکار دے خو حاکمِ وقت به ئې قتل کوي، دے وائي: سيدنا عبد الله هغه روايت نقل کوي، د نافع نه، هغه د عبد الله بن عمر ﷺ نه نقل کوي، چې د سيده حفصې ﷺ يَوه وينځه وه، چې هغې سحر او جادو کړے وو، نو د هغې هغه سحر ئې اوموندلو، بيا ئې د هغې نه تپوس اوکړو، چې دا جادو تا کړے دے؟ هغې ورته اووئيل: چې آؤ، ما کړے دے. اقرار ئې خپل ځان باندې اوکړو. نو سيده حفصې ﷺ عبد الرحمن بن زيد ﷺ ته اووئيل: چې دا قتل کړه، نو هغهٔ بوتله او قتل ئې کړه، چې کله ئې قتل کړه، نو د سيدنا عثمان ﷺ دورِ خلافت وو، چې هغهٔ ته پته اولګيده، نو هغه خفه شو، چې دا ئې ولې قتل کړې ده؟

علامه جصاص ليکي: چې هغهٔ پدې وجه نهٔ وو، خفه چې تا ولې قتل کړې ده، هغه پدې وجه خفه وو، چې زما د اجازت نه بغير دي ولې قتل کړې ده؟ يعنې حاکمِ وقت به ئې قتل کوي، داسې ساحر که سړے وي، او که ښځه وي. نو مسلمان بادشاه له پکار دي، چې داسې خلق د ملک نه ختم کړي، چې هغه خلقو له نقصان رسوي.

د حسن بصري ﷺ قول

ابو عاصم د اشعث نه ذکر کوي، هغه د حسن بصري ﷺ نه ذکر کوي: "يُقْتَلُ السَّاحِرُ وَلَا يُسْتَتَابُ".[2]

"ساحر سړے به وژلے کيږي، او د هغهٔ توبه به نهٔ شي قبلولے".

---

(1) [شرح العقائد].

(2) [أحكام القرآن للجصاص، باب اختلاف الفقهاء في حكم الساحر وقول السلف فيه: 60/1، دار الكتب العلمية بيروت لبنان-].

بیا وائي: «أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَخَذَ سَاحِراً فَدَفَنَهُ إِلَى صَدْرِهِ ثُمَّ تَرَكَهُ حَتَّى مَاتَ».[1]

"عمر ﷺ يَو ځل يَو ساحر اونيولو، او تر سينې پورې ورته كنده وكنستے شوه، تر سينې پورې ئې خخ كړو، بيا ئې پرېښودو، نو په دغه حالت كښې هغه مړ شو. داسې د ذلت په مرگ ئې مړه كړو". په شريعت كښې د ساحرانو دا سزا ده.

بيا وائي: قيس بن سعد ﷺ دا په يَو علاقه باندې امير وو، نو دده چې كومه پټه خبره وه، او چې سحر (صُبح) به پاسيدو، نو هغه به ټول ملک كښې خوره وه، هغه پټ راز به ئې خوريدو، او خلقو له به رسيدو، وائي: دا معلومات كول چې زما دا رازونه څوک خوروي؟ زما د مشورې خلق امانتدار خلق دے، زما ملكرې خو دا خبرې نه خورې، چا ورته اووئيل: چې فلانكې ځائے كښې يَو جادو گر دے، او هغه ستا دا رازونه خلقو ته بيانوي، هغه جادو گر ئې را اوغوښتو، ورته ئې اووئيل: چې دا راته اووايه چې دا رازونه ته خلقو ته څنگه ښكاره كوې؟ هغه ورته اووئيل: كله چې تاسو دا كتاب كولاؤ كړئ، نو مونږ چې ورته اوگورو، نو مونږ پرې پوهه شو، هغه پيرياڼو وو، او چې كله بند وي، نو مونږ ورباندې نه پوهيږو، نو ددې وجې نه چې مونږ كله ستاسو دا كتاب اوگورو، نو بيا مونږ دا خلقو ته بيانوو، هغه هغه سړے اونيولو او قتل ئې كړو.[2]

اكثر پدې ميلو كښې داسې خلق ناست وي، چې په مخ ئې كپړا خوره كړې وي، او تاته به وائي: ستا څه مقصد دے؟ ستا څه ضرورت دے؟ دا ولا ړ كس ورته وائي: زما خو يَو كار دے، چې هغه به اوشي او كه نه؟ نو دے ورته وائي: ستا كار به اوشي. خبردار!!! د الله نه ما سيوا په غيبو هيڅ څوک نه پوهيږي.

---

[1] [رواه عبد الرزاق في ومصنفه، رقم: (18755)].

[2] [أحكام القرآن للجصاص، باب اختلاف الفقهاء في حكم الساحر وقول السلف فيه: 60/1، دار الكتب العلمية بيروت -لبنان-].

پیریان د سرکش انسان تابع وي

پیریان چې اکثر تابع کیږي، نو د هغه انسان تابع کیږي، چې هغه سرکش وي، او د پیریانو د تابع کیدو وظیفې چې څوک کوي، نو هغه اکثر شرکي الفاظ وائي، کله به درته وائي چې په حالت د جنابت کښې به گرځې، کله به درته وائي دومره ورځې به مونځونه نهٔ کوې، چې اول دې د ایمان نه خلاص کړي، نو بیا به درسره دوي ملګري شي. کله کله د صحیح سړي سره هم ملګري شي، خو اکثر د سرکش انسان تابع کیږي. نو سحر او جادو ددې زده کول حرام دي.

نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ عَقَدَ عُقْدَةً، ثُمَّ نَفَثَ فِيهَا فَقَدْ سَحَرَ، وَمَنْ سَحَرَ فَقَدْ أَشْرَكَ، وَمَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ».[1]

چا چې تار له غټه ورکړه، بیا ئې په هغې کښې پوکے اُوکړو، نو دغه سړي سحر اُوکړو، چا چې سحر او جادو اُوکړو، نو یقینًا دې سړي شرک اُوکړو، چا چې ځان له کوم شے زوړند کړو، نو دا سړے هغه شي ته اوسپارے شو.

پدې حدیث کښې لږ غور پکار دے، چې د الله پیغمبر ﷺ وائي: چې سحر ئې اُوکړو، نو دهٔ شرک اُوکړو.

صحیح دم

یَو صحیح دم دے، چې هغه د قرآن او حدیث نه ثابت دے، یا په هغه دعاګانو باندې چې هغه دعاګانې د احادیثو نه ثابت دي، نو دا دم جائز دے.

(1) [رواه النسائي، رقم: (4079)، و"السنن الكبرى"، رقم: (3528)، والطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (1469)].

(1) د سیدنا انس ﷺ روایت

سیدنا انس ﷺ فرمائي: «رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ، وَالْحُمَةِ، وَالنَّمْلَةِ».[1]

د الله پیغمبر ﷺ مونږ دپاره اجازت را کړے وو، چې مونږ دم اچوو د سترګو د نظر نه، یَو سړے د نظره شو، نو نبي ﷺ مونږ له د دم اجازت را کړے وو، دا رنګه یَو سړي باندې تبه (بخار) ده، نونبي ﷺ مونږ له اجازت را کړے دے، چې هغهٔ باندې دم اچوو، یَو سړي باندې ننکئ او دانې دي نو نبي ﷺ مونږ له اجازت راکړے دے چې هغهٔ باندې دم واچوو. چې د قرآن او د سنتو نه ثابت وي، نو هغه دم جائز دے.

(2) د سیده عائشه ﷺ روایت

سیده عائشه ﷺ فرمائي: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُهَا أَنْ تَسْتَرْقِيَ مِنَ الْعَيْنِ».[2]

سیده عائشه ﷺ فرمائي: چې د الله پیغمبر ﷺ مونږ له اجازت راکړے دے، چې یَو سړے د نظره شي، او مونږ پهٔ هغهٔ باندې دم واچوو. نو نبي ﷺ مونږ ته اجازت راکړے دے.

(3) د امّ سلمٰی ﷺ روایت

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِهَا جَارِيَةً فِي وَجْهِهَا سَفْعَةٌ، فَقَالَ: «اسْتَرْقُوا لَهَا، فَإِنَّ بِهَا النَّظْرَةَ».[3]

د اُمّ سلمی ﷺ نه روایت دے، نبي ﷺ د هغې په کور کښې یَوه جینئ اولیده چې

---

(1) [راوه مسلم، رقم: (2196)، وأحمد في "مسنده"، رقم: (12282)].

(2) [راوه مسلم، رقم: (2195)، وابن حبان، رقم: (6103، و6109)].

(3) [رواه البخاري، رقم: (5739)، والبيهقي في "السنن الكبرى"، رقم: (19585)، والحاكم في "المستدرك"، رقم: (7486)].

د هغې په مخ زيړے غوندې وو، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: دا دم کړئ، پس يقينًا پدې باندې د نظر اثر دے.

دم چې د قرآن او سنت سره برابر وي، نو هغه مونږ منو، بعض خلق دم نۀ مني، وائي: پدې چپ چپ باندې څۀ کيږي؟ دم د قرآن کريم او د صحيح احاديثو نه ثابت دے.

(4) د سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ روايت

سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالشِّفَاءَيْنِ: الْعَسَلِ وَالْقُرْآنِ».[1]

نبي ﷺ فرمائي: لازم دې په تاسو باندې علاج کول په دوو څيزونو باندې، چې هغه دواړه د شفاء نه ډک دي، يَو ګبين دے او بل قرآن کريم دے. ګبين د شفاء دپاره استعمال کړئ، او بل د قرآن آياتونه په دې سره به الله تاسو له شفاء درکوي؛ څکه الله فرمائي: ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا﴾.[2]

راليږو مونږ د قرآن کريم نه هغه آياتونه چې هغه شفاء ده، او رحمت دے د مؤمنانو دپاره، قرآن کريم کښې شفاء ده، او نۀ زياتوي ظالمانو لره مګر تاوان.

احاديثو کښې راځي: سيدنا عبد الملک بن عمير ﷺ فرمائي: چې رسول الله فرمائي: «فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ».[3]

د سورت فاتحې لوستو کښې د هر مرض نه شفاء ده.

حديث کښې راځي صحابه کرام ﷺ بهر وتلي وو، يَو ځائے باندې تلل يَو کافر

---

(1) [رواه ابن ماجة، رقم: (3452)، والبيهقي في "السنن الكبرى"، رقم: (19565)].

(2) [سورة الإسراء: 82].

(3) [رواه الدارمي في "سننه"، رقم: (3691)، والبيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (2154)].

لږ چیچلے وو، صحابه کرامو ﷺ نه ئې تپوس اُوکړو چې تاسو کښې څوک دم اچولو والا شته؟ چې ما باندې دم واچوې، صحابو ﷺ ورته اووئیل: آؤ، دم اچولو والا شته، خو هغې کافرانو صحابو ﷺ له میلماستوب نهٔ وو ورکړے، صحابو ﷺ ورته اووئیل: دم در باندې اچوو خو دومره کډې به موږ له راکوې، کډې ترې واغستې سورت فاتحه برې لوسته تردې چې هغه روغ شو، کډې ترې څان سره راوستې، نو هغوي ووئیل دا نهٔ خورو؛ څکه موږ پهٔ قرآن باندې اغستل اُوکړل، نو چې دا به جائز وي او کهٔ نه؟ نبي ﷺ ته راغلل، نبي ﷺ ورته اُووئیل تاسو چې پهٔ کوم شي اغستل اُوکړل نو دا ډیر زیات ښهٔ وو، او نبي ﷺ ورته اُووئیل: چې ما له ترې هم راکړئ، نو معلومه شوه، چې سورت فاتحه کښې شفاء ده.

خو کهٔ یَو سړے نور شرکي الفاظ وائي، نو دا دم جائز نهٔ دے، ټول علماء د داسې دم خلاف دي.

بله خبره دا ده چې پښتو کښې دم اچول نشته، اکثر خلق چې دم اچوي، نو هغوي وائي: "پهٔ دُرخهٔ د فلانکي بابا، او پهٔ دُرخهٔ د فلانکي بابا" نو داسې دم نه څان ساتل پکار دي، دا هم یَو قسم منتر دے، بعض خلق پهٔ پښتو کښې د نظر دم اچوي نو هغوي د لارو کوڅو نهٔ خسرې راجمع کړې، وائي: "د سرو سترګو، د شنو سترګو، د تورو سترګو د فلانکي نظر مات" دا دمونه د ښځو کار دے، دا دمونه شریعت کښې نشته. کله داسې اُوکړې چې د څان نه دم جوړ کړي ﴿وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُهُۥ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ﴾[1]

وائي: دا د نظر دم دے، د نظر دم پهٔ احادیثو کښې شته، پهٔ قرآن کریم کښې صحیح

(1) [سورة البقرة: 270].

دمونه شته، او دلته په آیت کښې ﴿نَذْرٍ﴾ لفظ راغلے دے، خو خلق وائي: دا د نظر دم دے، "نذر" منختې ته وائي. نو بهر حال هغه دم جائز نۀ دے، چې هغه پښتو کښې وي.

د ملا علي قاري ﷫ قول:

"إِنَّ الرُّقَى يُكْرَهُ مِنْهَا مَا كَانَ بِغَيْرِ اللِّسَانِ الْعَرَبِيِّ، وَبِغَيْرِ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى وَصِفَاتِهِ وكَلَامِهِ فِي كُتُبِهِ الْمُنَزَّلَةِ ".(1)

هغه دم مکروه دے چې هغه بغیر د عربۍ د ژبې نه وي، او هغه دمونه هم مکروه دي چې بغیر د الله د نوم نه وي، او بغیر د هغۀ د صفاتو نه وي، او دَ هغۀ دَ رالیږلے شوو کتابونو دَ کلام نه وي.

بعض مداریان چې کوم دم وائي، نو هغه نۀ عربي دہ، نۀ پښتو دہ، نۀ اُردو دہ، هغه بل څۀ شے دے، داسې دم وئیل مکروه دي.

تارونه دمول

تارونه دمول، تارونو له غوټې ورکول، کونجکې دمول، او هغه غاړه کښې اچول دا هم مکروه دي. يَو حدیث کښې راځي سیده زینب ﷺ د عبد الله بن مسعود ﷺ بي بي دہ، هغه فرمائي: زما په غاړه کښې يَو تار وو، هغه تار عبد الله بن مسعود ﷺ اولیدو، نو هغه راپاسیدو او هغه تار ئې زما د غاړې نه اوشلولو، او هغه ئې اوغوزولو، بیا ئې اوفرمائیل: اے د عبد الله بن مسعود د کور خلقه تاسو د شرک نه بالکل بچ يئ، تاسو ولې شرک کوئ؟ او بیا ئې اوفرمائیل: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ الرُّقَى، وَالتَّمَائِمَ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ».(2)

---

(1) [مرقاة المفاتيح: 2869/7، طبع: دار الفكر، بيروت - لبنان].

(2) [رواه أبو داود، رقم: (3883)].

ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي، چې نبي ﷺ به فرمائيل: يقينًا دم اجول (دم نه مراد بغير د الله د كتاب نه) او كونجكي اويزاندول.

"بعضې خلق د تمائم نه مراد هر څۀ اغستې دې، وائي: تعويذ غاړه كښې اچول گناه ده" تعويذ استعمالول جائز دي، خو هغه تعويذ چې هغې كښې د قرآن كريم آياتونه وي، يا هغه دعاګاني وي، چې هغه د صحيح احاديثو نه ثابت وي.

حديث كښې راځي سيدنا عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائي: چې كله يَو سړے په خوب كښې ويريږي، نو هغۀ دې دا كلمات اووئي: «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ، مِنْ غَضَبِهِ وَ عِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ».[1]

"پناه غواړم د الله كلمو پورې چې هغه بالكل پوره دي، د الله د غضب نه د الله د ناكاره عذاب نه او د الله تعالى د ناكاره بندګانو نه او د شيطانانو د وسوسو نه، چې هغوي ماته راجمع شي. دا دعا دې اووائي".

وائي: عمرو بن العاص ﷺ چې وو، د هغۀ چې كوم ځامن بالغان وو، نو خپلو بالغانو ځامنو ته ئې دا دعا ياده كړې وه، او چې د هغۀ كوم ځامن نا بالغه وو، ماشومان وو، هغوي نۀ شوه يادولے، نو دا دعا به ئې كاغذ كښې اوليكله او د هغۀ په غاړه به ئې اويزانده كړه، تعويذ به ئې ترې جوړ كړو، او د هغۀ په غاړه كښې به ئې واچولو.[2]

نو چې كوم خلق وائي: چې تعويذ اويزاندول شرك دے، نو عمرو بن العاص ﷺ چې اويزان كړے وو.

---

(1) [رواه الترمذي، رقم: (3528)، أبو داود، رقم: (3893)].

(2) [تفسير القرطبي: تحت آية سورة الإسراء: 82].

د امام مالک رحمه الله قول

"لَا بَأْسَ بِتَعْلِيقِ الْكُتُبِ الَّتِي فِيهَا أَسْمَاءُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أَعْنَاقِ الْمَرْضَى عَلَى وَجْهِ التَّبَرُّكِ بِهَا إِذَا لَمْ يُرِدْ مُعَلِّقُهَا بِتَعْلِيقِهَا مُدَافَعَةَ الْعَيْنِ".(1)

هيڅ ګناه نشته په زوړندلو د هغې تعويذونو کښې چې هغې کښې د الله د کتاب آياتونه ليکلي شوې وي، او د الله نومونه پکښې ليکلے شوې وي، نو کۀ مريض له ئې سټ کښي واچوې، نو څۀ ګناه پکښې نشته د تبرک دپاره، دا عقيده به دې نۀ وي، چې دا تعويذ به نظر دفع کوي، نو بيا شرک نۀ دے.

د امام مسيب رحمه الله قول

علامه قرطبي وائي: چې د امام مسيب رحمه الله نه چا تپوس اوکړو، چې غاړه کښې تعويذ اويزاندول څنګه دي؟ نو هغۀ ورته اوونيل: "إِذَا كَانَ فِي قَصَبَةٍ أَوْ رُقْعَةٍ يُحْرَزُ فَلَا بَأْسَ بِهِ".(2)

"کله چې تعويذ په يو نَل کښې دے، يا په کاغذ کښې دے، او هغۀ د اوبو او د ګندګۍ نه بچ کولے شي، نو بيا د هغې غاړه کښې اويزاندول جائز دي".

د امام ضحاک رحمه الله قول

"أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يَرَى بَأْسًا أَنْ يُعَلِّقَ الرَّجُلُ الشَّيْءَ مِنْ كِتَابِ اللهِ إِذَا وَضَعَهُ عِنْدَ الْجِمَاعِ وَعِنْدَ الْغَائِطِ".(3)

"يو سړے د قرآن کريم څۀ الفاظ غاړې ته اويزان کړې، نو هغې کښې ګناه نشته، خو چې کله ئې د جماع او د لويو بولو وخت کښې کيدي".

نو تميمه څۀ ته وائي؟ نو د تميمې معنٰى هغه کونجکې دې، چې د جهالت دور

(1) [تفسير القرطبي: تحت آية سورة الإسراء: 82].
(2) [تفسير القرطبي: تحت آية سورة الإسراء: 82].
(3) [تفسير القرطبي: تحت آية سورة الإسراء: 82].

کنبې به خلقو خپلو بچو ته زوړندولې. تفسیر قرطبي معنی کوي: قَالَ الْخَلِيلُ بْنُ أَحْمَدَ: "التَّمِيمَةُ قِلَادَةٌ فِيهَا عُوَذٌ، وَالْوَدَعَةُ خَرَزٌ".(1)

تمیمه هغې کونجکو ته وائي، هغې ځیزونو ته وائي، چې عربو به د جهالت په دور کنبې خپلو بچو ته اویزاندول. اوس هم اکثر خلق داسې کوي، چې خپلو بچو ته کونجکې اچوي، پدې خیال چې دے به د نظر نه بچ شي؛ پدې خیال ماشومانو ته کونجکې اچول شرک دے. څوک ماشومانو ته خپو کنبې جرسونه اچوي. حدیث کنبې راځي: «الْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ».(2)

"جرس د شیطان شپیلۍ ده". مسلمانانو له پکار دې چې د خپلو ماشومانو د لاسونو او خپو نه دا ځیزونه اُوباسي.

امام منذري رحمه الله قول

"التَّمِيمَةُ يُقَالُ إِنَّهَا خَرَزَة كَانُوا يُعَلِّقُونَهَا يَرَوْنَ أَنَّهَا تَدْفَعُ عَنْهُمُ الآفَاتُ".(3)

تمیمه دا هغه کونجکو ته وائي: چې هغوي به خپلو بچو ته زوړندولې، او د هغوي دا عقیده وه چې پدې باندې د هغوي نه مصیبتونه لرې کیږي، تعویذ ته تمیمه نۀ وائي، او کۀ وائي نو په یَو قول کنبې به وائي. خو هغه تعویذ چې هغه د الله د کتاب او د احادیثو د نبي ﷺ نه وي نو هغه زوړندول جائز دي.

رسول الله ﷺ باندې د سحر اثر

رسول الله ﷺ باندې سحر شوے وو، او رسول الله ﷺ ته پته نۀ وه. رسول الله ﷺ باندې چې کله سحر اوشو. حدیث کنبې راځي نبي ﷺ فرمائي: زۀ د دین په کارونو

(1) [تفسير القرطبي: تحت آية سورة الإسراء: 82].

(2) [رواه مسلم، رقم: (2114)].

(3) [الترغيب والترهيب: 157/4، طبع دار الكتب العلمية - بيروت].

کښېږ خو تهیک ووم، د دنیا په کارونو کښېږ داسې ووم، چې ما به یَو کار کړے وو، نو زما ذهن کښېږ به دا وو، چې ما دا کار نهٔ دے کړے، او چې کله به مې یَو کار نهٔ وو کړے، نو ما به اووئیل چې ما دا کار کړے دے، وائي: زهٔ یَو شپه اودهٔ ووم، (خو نبي ﷺ ته پته نهٔ وه چې ما باندې چا جادو کړے دے) وائي: دې کښېږ دوه ملائکې راغلې، وائي: ملائکې وائي چې پدې سرې باندې چا جادو کړے دے، (د سړو په شکل کښېږ راغلې وې، او د نبي ﷺ صفت دا وو چې سترګې به ئې پټې وې، خو زړهٔ به ئې بیدار وو) وائي: ملائکې یَو بل ته وائي: چې دا سړے بیمار دے، دهٔ باندې چا جادو کړے دے، وائي: هغه یَوه ملائکې بلې ته ملائکې ته وائي: چې دا جادو وورباندې چا کړے دے؟ وائي: دهٔ باندې جادو لبید بن اعصم، او د هغهٔ لُوریانو کړے دے، دا تپوس ددې دپاره کوې، چې نبي ﷺ ته پته اولګې، هغه بله ملائکه ورته وائي: چې کوم ځائے پرې کړے دے، او کوم ځائے کښېږ پروت دے؟ هغه بله ملائکه ورته وائي: بئر زروان کښېږ پروت دے، بئر زروان کښېږ څهٔ کښېږ پروت دے؟ وائي: د منګز (کمنز) په غابنونو کښېږ د نبي ویښتهٔ ئې پکښېږ لګولې دې، نبي ﷺ چې راپاسیدو، صحابه کرام ﷺ ئې اولیږل چې تاسو لاړ شئ، تاسو بئر زروان کښېږ اوګورئ، چې هغوي راغلل، نو هغه منګز (کمنز) ئې را اُویستهٔ او هغهٔ ویښتهٔ ئې هم را ویستل، صحابي ﷺ ذکر کوې چې مونږ لاړو، نو د هغې کوهې اُوبهٔ تکې سپینې وې، ددې سحر او جادو د وجې نه زیړې شوې وې، لکه چې سړے پکښېږ د نکریزو کپړې او سر اووینځې، هغه منګز (کمنز) او ویښتهٔ مو نبي ﷺ ته راوړل، او دا دوه سورتونه آخرې نازل شول، چې ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ یوولس آیاتونه دې، او هغې له ئې یوولس غوټې ورکړې وې، نبي ﷺ یَو یَو آیت وائي، چې یوولس آیاتونه ختم شول، یوولس غوټې کهولاؤ کړے شوې، د پیغمبر ﷺ بدن روغ شو.

نبي ﷺ باندې سحر شوی دی، نبي ﷺ ته پته نشته چې ما باندې چا سحر کړې دی، کله ئې کړی دی، او کوم ځائې کښې کینبودی دی، نو بل څوک پیر دی، بل څوک مُلا دی چې هغهٔ ته پته ولګي، چې فلانکي درباندې سحر کړې دی، دا تولې دهوکې دي.

نبي ﷺ عالم الغیب نهٔ دی

رسول الله ﷺ عالم الغیب نهٔ دی، د نبي ﷺ بي بي ده، سیده عائشه ؓ د نبي ﷺ سره پهٔ سفر کښې ده، د سیده عائشي ؓ هار (امیل) اوشلیدو، او د هغې هار (امیل) دپاسه اوښ ناست دی، نبي ﷺ چې سید الانبیاء دی، او پته ورته نشته چې کوم ځائې پریوتې دی، نبي ﷺ پهٔ خپله هغه هار (امیل) پسې ګرځي.

سیدنا ابو بکر صدیق ؓ عالم الغیب نهٔ دی

سیدنا ابو بکر صدیق ؓ چې صحابو کښې لوې مقام والا صحابي دی، چې د هغهٔ د صحابیت نهٔ څوک انکار کوي نو هغه سړی کافر دی؛ ځکه چې د هغهٔ صحابیت د قرآن نه ثابت دی؛ ځکه قرآن کښې راځي: ﴿إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا﴾.(1)

ابو بکر صدیق ؓ د نبي ﷺ صاحب او ملګری دی. او کهٔ څوک ترې انکار کوي، نو سړی کافر کیږي، دومره لوې صحابي دی. لیکن ابو بکر صدیق ؓ ته پته نشته، چې د سیده عائشي ؓ هار (امیل) کوم ځائې کښې غورځیدلی دی، نور صحابه ورسره هم دي، خو هیچا ته پته نشته، د سیده عائشې ؓ د غاړې نه هار (امیل) پریوتې دی، ام المؤمنین ده د مؤمنانو مور ده، پته ورته نشته د نبي ﷺ بي بي ده،

(1) [سورة التوبة: 40].

پته ورته نشته، چې کله روانيدل، او اوښ پاسيدو نو هار (اميل) د اوښ دلاندې وو.

اوس ستا نه تپوس کوم!!!

چې رسول الله ﷺ سردار د انبياء عليهم السلام دے، هغهٔ ته د هار (اميل) پته نهٔ لګي چې خوا کښې ورسره ورک شوے دے، او د خپلې بي بي نه ئې ورک شوے دے، او پته ورته نشته، نو هغه سړي ته څنګه پته لګي؟ چې تهٔ د يَو کلي نه روان شې، او بل کلي ته ورپسې ځې، او تهٔ ورته وائې چې زما د کور نه بيګا چا غلا کړې ده، چې چا به کړې وي، تا ته څهٔ پته شته، نو ولې هغهٔ عالم الغيب دے؟ يا خو دا (تهٔ چې چاله ځې، او هغه تا ته وائې چې فلانکې طرف ته ئې بوتلې ده) نو پدې خبره خو هغه کافر دے؛ څکه عالم الغيب خو يَو الله دے، او يا دا چې دا سړے بخپله غل دے، او يا دا چې دا سړے به د غلو ملګرے وي، دے به ورسره پدې غلا کښې شريک وي، چې دا څاروے فلانکې طرف ته بوځو؛ څکه ده ته پته ده، هسې دهٔ ته څنګه پته اوليګيده؟ چې دا شے فلانکې طرف ته تلے دے، دا صرف د پيسو دپاره چل دے، پدې طريقه ستا نه پيسې اخلي.

د زنانو عمل

کله چې د چا نه څهٔ شے ورک شي، نو وړوکے ماشوم راولې، او هغهٔ له لاس تور کړې، نو هغهٔ ته وائې ديکښې اوګوره چې دې کښې څوک شته؟ نو هغه ماشوم ورته وائي: آؤ، يَو سړے يا يَوه ښځه پکښې ښکارې، نو پهٔ تور لاس کښې به تهٔ څنګه څوک معلوم کړې، خو بس هسې څهٔ شکل غوندې ورله ښکاره شي، او پهٔ هغې ترې پيسې واخلې، او دے وائي دا هغه فلانکے وو، نو هغه پکښې هسې راولې، او هغه کار هغهٔ نهٔ وي کړے.

يَو حديث کښې راځي: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ».[1]

(1) [رواه البخاري، رقم: (2038، و3281)، ومسلم، رقم: (2174، 2175)، وأبو داود، رقم: (2470، 4719)،

"شيطان د انسان په بدن کښې رګونو کښې ګرځي، لکه څنګه چې وينه بدن کښې ګرځي". د انسان د زړهٔ حال معلومولے شي، د انسان په بدن د هغهٔ پوره تسلط دے.

نو چې کله د يَو انسان په زړهٔ کښې دا شک دے، چې زما نه غلا فلانکي سړي کړې ده، نو چې کله دے عرّاف (ترويتي، پالګر) له لاړ شي، نو هغهٔ سره خو پيريان تابع وي، نو هغهٔ ته وائي: زما نه چا څهٔ شے پټ کړے دے، چې دا به چا پټ کړے وي؟ تاسو ما دپاره کتاب اوګورئ، ولې پدې کښې د هغه غل نوم ليکلے شوے دے؟ چې دا فلانکي غلا کړې ده، دومره نا پوهه خلق دے، بيا وائي: چې کتاب ئې راکولاؤ کړو، نو د فلانکي نوم ئې پکښې را اوباسو، چې دا فلانکي پټ کړے دے، نو دا خيز فلانکي پټ کړے نهٔ دے، خو اصل وجه دا ده چې د هغهٔ سره پيريان تابع دي، نو ددې سړي زړهٔ کښې شک وي، چې دا شے زما نه فلانکي سړي پټ کړے دے. نو پيريانو خو د انسان په زړهٔ پوهيږي، نو دے ددهٔ د زړهٔ هغه خبره کوي، وائي: ستاسو کلي کښې يَو سړے دے داسې نوم ئې دے، نو دے وائي: آؤ، زما پوره پوره پدې سړي باندې شک وو، نو دے شک دا سړے تباه کړو، هغه شک ئې ورته ښکاره کړو، نو دے ورته پيسې ورکړې، او چې کلي ته راشي، نو د هغه سړي سره دشمني شروع کړي.

د پټو څيزونو علم خو صرف يَو الله ته دے، نو د سحر او جادو نه ځان ساتل پکار دي، دغه شان ماشومانو له تارونه زوړندول دا ناروا دي، او شرک دے. صحيح تعويذ چې قرآن او د احاديثو نه ثابت دعاګانې وي، نو د هغې اچول جائز دي.

خو په نن دُور کښې د هغې نه هم ځان ساتل پکار دي؛ ځکه د اکثرو خلقو عقائد خراب دي، د ثواب په ځائے په ګناه کښې مبتلا شي.

[4994.

د خلقو خراب عقائد

بعضې خلق داسې کوي، چې هغوی د خپلو کورونو مخې ته سپیاکې کیدې په دې خیال چې پدې به د خلقو نظر لګې او زمونږ کور به نهٔ د نظره کیږي، نو دا شرک دے.

بعضې خلق د خاروو ښکر راوړي، او هغه د خپلو کورونو په دروازو باندې اودروي، نو ددې سړي دا خیال وي چې دا به زما د کور نه نظر دفع کوي.

نو ستا نظریه خو هغه شان شوه، څنګه چې د هغه خلقو عقیده وه چې هغوی د غُوا عبادت کولو، چې د غوا ښکر به زمونږ د کور نه نظر لرې کوي، او دا ددې دپاره چې اول نظر به پدې ښکر باندې لګي، بیا به کور باندې لګي، نو بیا به نظر کور ته نقصان نهٔ ورکوي.

او دا خو ډیره بے کاره عقیده ده، چې اول نظر به په ښکر لګي او بیا به کور باندې لګي، خلق خو اول ښهٔ شي ته ګوري، او چې تا پرې ښکرونه لګولي دي، نو خلق به وائي: چې څومره ښکلې بنګله ده، خو پدې ښکرونو ئې شرمولې ده.

د بعضې خلقو دا عادت دے، چې هغوی زړې کتوئ د خپل کور دپاسه کیدي، وائي: ددې سره نظر دفع کیږي، دا ګنده څیزونه چې د کور نه لرې کړي، نو ان شاء الله چې بیمارئ به درکره ختمې شي.

صرف د الله پهٔ ذات عقیده جوړه کړه، څومره چې دې د الله پهٔ ذات اعتماد وي، دومره به دې الله د هر شر او فساد نه بچ کوي، او څومره چې د هر شي نه یریږي نو دومره به هر مصیبت کښې مبتلا کیږي.

د عمران بن حصین رضی الله عنه روایت

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَطَيَّرَ أَوْ تُطُيِّرَ لَهُ، أَوْ تَكَهَّنَ أَوْ تُكُهِّنَ لَهُ، أَوْ سَحَرَ أَوْ سُحِرَ لَهُ، وَمَنْ عَقَدَ عُقْدَةً - أَوْ قَالَ: مَنْ عَقَدَ عُقْدَةً - وَمَنْ أَتَى كَاهِنًا

فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ».[1]

نبي ﷺ وئيلي دي: هغه سړے زما اُمتي نهٔ دے، چې هغهٔ پهٔ څهٔ شي باندې بدفالي اونيوله، يا د هغهٔ دپاره بدفالي اوکتلے شوه، چا خپل فال اوکتو، يا څوک خلقو له فال کوري، او چا له چې فال کوري، دا دواړه زما اُمتيان نهٔ دي، او نبي ﷺ فرمائي: هغه سړے زما اُمتي نهٔ دے چې هغه کهانت اُوکړو، چې خلقو ته وائي: چې صبا به داسې کيږي، او بله ورځ به داسې کيږي، او چې چا دپاره ئې کوي، نبي ﷺ فرمائي: دغه هم زما اُمتي نهٔ دے، يا ئې جادو اُوکړو، او يا چې د چا دپاره جادو ليکلے کيږي، نبي ﷺ فرمائي: دا زما اُمتيان نهٔ دي.

او بيا نبي ﷺ فرمائي: کوم سړے چې کاهن او نجومي له راغے، او د هغهٔ تصديق ئې اُوکړو، نو دې سړي پهٔ هغه کتاب باندې کفر اوکړو، کوم کتاب چې پهٔ نبي ﷺ باندې نازل دے.

د سيدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلَاثٌ مَنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ، فَإِنَّهُ يَغْفِرُ لَهُ مَا سِوَى ذَلِكَ، لِمَنْ يَشَاءُ اللهُ: مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ سَاحِرًا يَتَّبِعُ السَّحَرَةَ، وَمَنْ لَمْ يَحْقِدْ عَلَى أَخِيهِ».[2]

نبي ﷺ فرمائيلي دي: درې څيزونه داسې دي، چې چا کښې يَو هم نهٔ وي نو الله به ورته ما سيوا ګناهونه معاف کړي، او کهٔ پدې درې واړو ګناهونو کښې يَو ګناه کوي، نو دا سړے جهنمي دے، يَو کوم سړے چې مړهٔ شو، او د الله سره ئې شريک نهٔ دے پيدا کړے، نو الله به ئې معاف کړي، دويم چې ساحر نهٔ دے، سحر او جادو نهٔ کوي، نو الله به ئې معاف کړي، او کهٔ سحر جادو کوي، نو الله ئې نهٔ معاف کوي،

(1) [رواه البزار في "مسنده"، رقم: (3578)].

(2) [رواه الطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (5230)].

دریم خپل رور مسلمان سره بغض او حسد نهٔ کوې، نو الله به ئې معاف کړې، او کهٔ د مسلمان سره بغض او حسد کوې، نو الله ئې نهٔ معاف کوې.

نو سحر کول گناهِ کبیره ده، او چې څوک ساحر له ځي، نو هغه هم گناهگار دے، کوم سړے چې تصدیق کوې، نو هغه هم گناهگار دے.

خلاصه دا ده

دم اچول جائز دي، خو هغه دم چې د قرآن او سنت نه ثابت وي، کوم دم چې د قرآن او سنت نه ثابت نهٔ وي، نو د هغې دم نه ځان ساتل پکار دي، پښتو، اُردو او انګلش وغیره کښې دم نشته، بغیر د عربۍ نه نورو ژبو کښې دم نشته.

بعضې خلق وائي: زهٔ هډو جادو نهٔ منم، نو اهل السنت والجماعت وائي: چې د سحر او جادو اثر شته.

نجومیان د دوي دا کار هم د کفر دے. نبي ﷺ فرمائي: کوم سړے چې د نجوم والا کار کوې دا سړے هم کافر دے.

د سیدنا قتاده ﷺ قول

د سیدنا قتاده ﷺ قول امام بخاري ﷺ ذکر کړے دے، چې ستورې الله د دریو فائدو دپاره پیدا کړې دي، دا درې فائدې پکښې اولټوئ، ددې نه ما سیوا نورې فائدې پکښې مهٔ لټوئ.

د ستورو درې فائدې

(1) یوه فائده د ستورو د آسمان خائست دے، لکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائي: ﴿وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ﴾.[1]

(1) [سورة الملك: 5].

"په تحقیق سره خائسته کړے دے مونږه آسمان نزدې په ستورو باندې".

(2) دویمه فائده د ستورو شیطانان پرې ویشتلے شي، لکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائي: ﴿وَجَعَلۡنَٰهَا رُجُومٗا لِّلشَّيَٰطِينِ﴾.[1]

"او کرځولي دي مونږه دا ستورې ویشتل دپاره د شیطانانو".

(3) دریمه فائده د ستورو خلق پرې لارې معلوموي، لکه قرآن مجید کښې الله فرمائي: ﴿وَعَلَٰمَٰتٖۚ وَبِٱلنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُونَ﴾.[2]

"نورې ډیرې نښې دي د الله د قدرت، او ستورو باندې دوي لار معلوموي". دا درې طریقې جائز دي، د دې نه علاوه په ستورو کښې تاثیر کنرول ناروا دي.

د زمیندارو عقیده

اکثر زمینداران وائي: چې فلانکے ستورے را اوخیژي، نو باران به کیږي، دا عقیده ساتل صحیح نه دي.

حدیث کښې راځي، یَو شپه باران وشو، سحر نبي ﷺ صحابو ته وائي چې الله وائي: زما بندګانو کښې دوه قسمه خلق دي: یَو مسلمانان او بعض کافران شول، نو الله وائي: ما باران اُوکړو، نو بعضِ خلقو اووئیل: «مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِه».[3]

"مونږ باندې د الله په فضل باندې باران اوشو". او بعض خلقو دا اووئیل: چې دا فلانکے ستورے را اوختو نو باران اوشو. د هغوي دا عقیده وه، چې دا باران ددې

(1) [سورة الملك: 5].

(2) [سورة النحل: 16].

(3) [رواه البخاري، رقم: (846، و1038)، ومسلم، رقم: (71)].

ستورې د راختو په وجه کيږي. نو دا عقيده د کفر او شرک ده. دا عقيده اوساته چې باران صرف يَو الله کوي ﴿وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾.[1]

"الله هغه ذات دے چې باران را وروي". نو ستورو کښې تاثير کنټرول ګناه ده. نو بهر حال د سحر او جادو نه ځان ساتل پکار دي. الله دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

(1) [سورة الشورى: 28].

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَأُولٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولٰئِكَ رَفِيقًا

(سورة النساء: 69)

موضوع

نبي ﷺ سره دَ صحابو مينه

بمقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

نبي ﷺ سره د صحابو مينه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا اٰخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿قُلْ إِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَأَمْوَالُ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ﴾.(1)

وقال الله تبارك وتعالى: ﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُو۟لَٰٓئِكَ رَفِيقًا﴾.(2)

عزتمندو مسلمانانو رونړو محبت د رسول الله ﷺ سره دا په هر مسلمان باندې لازم او واجب دے، چې سړے به د خپل پیغمبر ﷺ سره مینه او محبت ساتي، او دغه وجه ده، چې هغه پیغمبر چې د هغهٔ سره محبت کول هغه هم سبب د کامیابۍ دے، او سبب د بچ کیدو د الله د عذاب نه دے، محبت د نبي ﷺ سره هغه جدا حیثیت لري، او محبت د

(1) [سورة التوبة: 24].

(2) [سورة النساء: 69].

نبي ﷺ د سنت طريقې سره هغه جدا حيثيت لرې، کامل ايمان دا دے چې يَو سړے محبت د الله د پيغمبر سره هم ساتې، او د هغهٔ د سنت طريقې سره هم محبت ساتې، او کهٔ د خُلې دعوىٰ دا وي چې زما د الله او د الله د پيغمبر سره مينه ده، او د هغهٔ پهٔ سنت طريقې عمل نهٔ کوې، نو دا صرف د خُلې وينا ده، او ددې دپاره څهٔ اعتبار نشته.

د نبي ﷺ سره د صحابو محبت

يَو حديث کښې راځي، يَو صحابي راغلو، او نبي ﷺ ته وائې: د الله محبوب پيغمبره تهٔ ما ته زما د نفس نه هم ډير زيات محبوب ئې، ما ته دا خپل نفس دومره محبوب نهٔ دے، لکه څومره چې راته تاسو محبوب او خوښ يئ، او بيا ورته وائې: د الله پيغمبره تهٔ ما ته د خپل اولاد نه هم ډير محبوب ئې.

د انسان د خپل اولاد سره ډيره زياته مينه وي؛ ځکه دا د انسان د بدن ټکړه وي، او حديث کښې تير شوې وو، چې اولاد د زړهٔ ميوه ده، چې کله فرشتې راشي، او د انسان د نابالغه بچي نه روح اخلي، پهٔ وړوکي بچي دمور پلار زړهٔ درد کوې، نو الله ملائکو ته وائي: «قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ» تاسو خو زما د بنده د زړهٔ ميوه اوشوکوله، نو زما هغه بنده څهٔ اووئيل؟ نو چې بنده صبر کړے وي، او ملائکو د هغهٔ هغه حمد وثناء اوريدلې وي، نو ملائک وائي: الله ستا حمد وثناء ئې اووئيله، او دا ئې اووئيل چې: «إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ» "مونږ هم د الله يُو او الله ته به واپس کيږو"، نبي ﷺ فرمائي: الله ملائکو ته وائي: چې تاسو ګواه شئ، چې ما د هغې خپل بنده دپاره پهٔ جنت کښې يَوه بنګله جوړ کړه، او ما هغې له "بيت الحمد" نوم کيخودو.

نو مقصد مې دا وو، چې بچے د انسان د زړهٔ ميوه ده. ليکن هغه صحابي نبي ﷺ ته اووئيل: زما د نفس او زما د اولاد نه هم ما ته محبوب ئې. يَو زما او ستا خبره ده، چې زړهٔ کښې يَو څهٔ وي، او پهٔ خُلهٔ بل څهٔ وي، يَو د صحابه کرامو خبره به وه، چې زړهٔ

کښېږي به څۀ وو نو هغه به په څنګ باندې هم وو.[1]

بیا هغه صحابي نبي ﷺ ته وائي: د الله پیغمبره کله کله زۀ کور ناست یم، د څېرې مې يې او د خپل اولاد سره، نو چې تاسو راته را یاد شئ، نو بیا زۀ نور صبر نۀ شم کولے، نو د کور نه را بهر شم، او ستاسو ملاقات له راشم، نو چې ستا ملاقات اُوکړم، نو زما زړۀ صبر شي، نو چې کله زۀ سوچ اُوکړم، او خپل مرګ یاد کړم، او ستا مرګ یاد کړم، نو زۀ پدې پوهیږم، کۀ چرته زۀ جنت له دننه شوم، نو ستاسو مقام ته خو خو زۀ نۀ شم رسیدلے؛ څکه ستاسو مقام ډیر اوچت دے، وایٔ زۀ ډیر پریشانه یم، چې زما به تا سره جنت کښې ملاقات نۀ کیږي.[2]

جنت کښې الله د انسان تمام ارمانونه پوره کوي، لیکن هغه صحابي دا نۀ وائي: چې جنت ته لاړ شم، نو بیا په نبي ﷺ باندې څۀ کوم، هغه ټول نعمتونه ئې شاته کړي دي، او دا سوچ ئې دے، چې جنت ته به لاړ شم، خو د نبي ﷺ سره به مې ملاقات نۀ کیږي؛ څکه د هغۀ مقام به اوچت وي، او زما مقام به ښکته وي، نبي ﷺ خاموش شو، جواب نۀ ورکوي؛ څکه د ځان نه خبرې نۀ کوي، الله فرمائي: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾.[3]

"دا پیغمبر د خپل ځان نه خبرې نۀ کوي، دے چې تاسو ته کومه خبره کوي دا د الله د طرف نه دۀ ته وحي شوې ده"

او دے خلقو ته بیانوي. نو نبي ﷺ جواب نۀ ورکوي، پدې کښې جبریل آمین ﷺ راغلے، نو دا آیت کریمه ئې راوړو: ﴿وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ

(1) [رواه الترمذي، رقم: (1021)].

(2) [رواه الطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (477)].

(3) [سورة النجم: 3-4].

﴿...عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا﴾.(1)

"چا چې د الله او د الله د پیغمبر تابعداري اُوکړه، دا کسان به الله د هغه کسانو سره ملګري کوي چې الله پهٔ هغوي باندې نعمتونه کړي دي، چې هغه انبياء عليهم السلام، صديقين، شهداء او صالحين رحمهم الله دي، د هغوي صف کښې به ولاړ وي".

هغه صحابي چې دا آیت واوریدو نو ډیر زیات خوشحاله شو. صحابه کرام وائي: مونږ پدې آیت دومره خوشحاله شو، چې دومره مونږ پهٔ بل څهٔ نهٔ يو خوشحاله شوي.

د نبي ﷺ فرمان

«إِنَّهُ مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِنْ سُنَّتِي قَدْ أُمِيتَتْ بَعْدِي» چا چې زما يَو سنت ژوندے کړو، چې خلقو پهٔ هغې باندې خاورې اړولې وي، خلقو پرېخودے وو، دغه انسان هغه طريقه بيا ژوندې کړه، نبي ﷺ فرمائي: زهٔ او دغه انسان د دوو ګوتو پهٔ شان به روان يو، داسې به يَو بل سره نزدې يو لکه دا دوه ګوتې.(2)

د نبي ﷺ سره د محبت فائده

نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ أَحْيَا سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي، وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الجَنَّةِ» چا چې زما سنت ژوندے کړو، او زما د طريقې سره ئې مينه اوکړه، دې انسان زما سره محبت اُوکړو، او چا چې ما سره محبت اُوکړو دا انسان به جنت کښې ما سره ملګرے وي.

ليکن نن د مسلمان پهٔ حال باندې افسوس دے، چې پهٔ خُلهٔ دعوی کوي چې زمونږ د پيغمبر سره مينه ده، ليکن کارونه ئې د پيغمبر د طريقې خلاف دي، د نبي ﷺ پهٔ سنت ورته ځان بد ښکارې، د هغهٔ په سنتو ورته ځان سپک ښکارې، د هغهٔ د سنتو سره ئې محبت نشته، بلکه د غير د طريقو سره ئې مينه ده، او پهٔ هغې ورته ځان ښهٔ ښکارې.

---

(1) [سورة النساء: 69].

(2) [رواه الترمذي، رقم: (2677)].

نبي ﷺ نه د قيامت باره كښې تپوس

يَو صحابي راغلو، او رسول الله ﷺ نه تپوس كوي «مَتَى السَّاعَةُ؟» "قيامت به كله وي؟" نبي ﷺ جواب نهٔ وركوي؛ ځكه د قيامت پته چا ته نشته، او نبي ﷺ عالم الغيب نهٔ دے، نبي ﷺ هغه صحابي ته وائي: «وَمَاذَا أَعْدَدْتَ لَهَا» "تهٔ چې زما نه د قيامت تپوس كوې، نو تا د قيامت دپاره څهٔ تيارے كړے دے؟" هغهٔ صحابي ورته وائي: «لاَ شَيْءَ» "هيڅ تيارے مې نهٔ دے كړے"، دا د صحابه كرامو عاجزي وه، چې شپه او ورځ به عبادت كښې مشغول وو، جهاد به ئې كولو، ليكن سره د هغې به ورته خپل عبادت څهٔ نهٔ ښكاره كيدلو، نو هغه صحابي وائي: نور مې څهٔ عمل نهٔ دے كړے، صرف يَو كار مې كړے دے «إِلاَّ أَنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» "ليكن زما د الله او د الله د پيغمبر ﷺ سره ډيره مينه ده". نبي ﷺ ورته وائي: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» "د قيامت پهٔ ورځ به تهٔ د هغه چا سره ئې، چا سره چې ستا دنيا كښې مينه او محبت وو".(1)

سيدنا انس ﷺ فرمائي: مونږ پهٔ يَو جمله دومره نهٔ يو خوشحاله شوي، څومره چې پدې جمله خوشحاله شوي وو؛ ځكه د هر يَو صحابي د الله سره او د الله د پيغمبر ﷺ سره مينه وه. نو هغوي وئيل: چې مونږ به الله د خپل پيغمبر سره يَوځائے كوي.

نبي ﷺ سره د سيدنا ابو ذر غفاري ﷺ محبت

سيدنا ابو ذر غفاري ﷺ فرمائي: چې ما نبي ﷺ ته اووئيل: چې اے د الله د پيغمبره ﷺ! «الرَّجُلُ يُحِبُّ الْقَوْمَ، وَلاَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَعْمَلَ كَعَمَلِهِمْ» "د هغه سړي باره كښې راته جواب راكړه، چې د هغهٔ د يَو قوم سره مينه او محبت شته، ليكن دومره طاقت ئې نشته چې د هغوي پهٔ شان عمل اوكړي" نبي ﷺ پرې پوهه شو، چې ددهٔ خو دا مطلب

(1) [رواه البخاري، رقم: (3688، و6171، و7153)، ومسلم، رقم: (2639)].

دے، چې زما تا سره مينه ده، دے ما يا دوي، خو ستا په شان عمل نۀ شم کولے، نو څنګه چل به وي؟ نبي فرمائي: «أَنْتَ يَا أَبَا ذَرٍّ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» "اے ابو ذره! تۀ به په ورځ د قيامت د هغه چا سره ئې، چې چا سره ستا مينه ده".

سيدنا ابو ذر غفاري ﷺ بيا تپوس کوي، چې اے د الله پيغمبره صحيح جواب راته راکړه، چې د يو سړي د چا سره مينه ده، خو د هغۀ په شان عمل نۀ شي کولے، نبي ﷺ ورته فرمائي: «أَنْتَ يَا أَبَا ذَرٍّ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» "اے ابو ذره! تۀ به د قيامت په ورځ د هغه چا سره ئې، چې چا سره ستا مينه او محبت وو، نو چې د چا د الله د پيغمبر ﷺ سره محبت وي، د قيامت په ورځ به د نبي ﷺ سره وي.[1]

د سيدنا طلحه بن براء ﷺ محبت

سيدنا طلحه بن براء ﷺ چې کله به د نبي ﷺ سره ميلاؤ شو، پس شروع به شو، چې د الله د پيغمبر ﷺ سره به ئې خپل ځان جوختولو، او د الله د پيغمبر خپې به ئې ښکولولې. داسې مينه ئې وه د الله د پيغمبر ﷺ سره.

يو ځل نبي ﷺ ته فرمائي: «يَا رَسُولَ اللهِ مُرْنِي بِمَا أَحْبَبْتَ وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا».

"د الله پيغمبره ما ته اووايه څۀ چې ستا خوښه وي، حکم راته تۀ کوه، زۀ به ستا د خبرې خلاف نۀ کوم".

سيدنا طلحه ﷺ د ځوانۍ دور کښې وو، نبي ﷺ د هغۀ هغه محبت ته حيران وو، چې دې نوجوان ته اوګوره، او دۀ دې محبت ته اوګوره، نبي ﷺ د هغۀ امتحان اغستو چې دۀ ما سره مينه شته او کۀ نه، نبي ﷺ ورته وائي: «اذْهَبْ فَاقْتُلْ أَبَاكَ» "څه لاړ شه، او خپل پلار مړ کړه، او قتل ئې کړه"، «فَخَرَجَ مُوَلِّيًا لِيَفْعَلَ» "هغه روان شو، چې لړ

(1) [رواه ابو داود، رقم: (5126)].

څکنبې لا ړو" نبي ﷺ ورته اووئیل: راشه، چې کله راغلے، نبي ﷺ ورته وائي: پلار مه وژنه، «فَإِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِقَطِيعَةِ رَحِمٍ».[1] "زه خو الله ددې دپاره نه یم رالیږلے، چې زه به خلقو د هغوي رشته دارۍ ختمې کړم". دا خو مې ستا محبت کتلو.

یو حدیث کښې راځي، سیدنا طلحه ﷺ یو ځل بیمار شو، «فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ» "نبي د هغه تپوس له راغلو" داسې وخت وو، چې ژمے وو، وریځ وه، کله چې نبي ﷺ را اوتلو، نو نبي ﷺ د هغه د کور خلقو ته وائي، زما په خیال زما خو دا ګمان دے، چې سیدنا طلحه باندې د مرګ علامات شروع دي، او وفات کیږي، خو چې کله دے وفات شي، نو ما له به خبر راکوئ، چې زه پرې جنازه اُوکړم، کله چې نبي ﷺ د سیدنا طلحه د کور نه روان شو، نو د سیدنا طلحه کور د نبي ﷺ د کور نه لرې وو، نبي ﷺ د بني سالم علاقې ته رسیدلے وو، چې سیدنا طلحه ﷺ وفات شو، او د شپې وخت وو، سیدنا طلحه ﷺ چې وفات کیدو، نو هغه دا وصیت کړے وو، چې شپه ده کله زه وفات شوم، تاسو به نبي ﷺ نه خبروئ، (او صحابه کرامو داسې نه کول چې ماسخوتن وفات شوے دے، او صبا لس بجې به ئې جنازه وي، چې ټول خلق ورته راشي. دا د شریعت خلاف کار دے، نبي ﷺ فرمائي: کله چې یو سړے وفات شي، نو مسلمانانو له پکار نه دي، چې د مړه مسلمان بدن کور کښې حصار کړي. نبي ﷺ فرمائي: جنازې باندې تلوار کوئ، که نیک عمله انسان دے، نو زر ئې ورسوئ، او که بدعمله انسان وي نو دا خو شر دے، د خپلو اوګو نه ئې لرې کړئ) نو طلحه ﷺ اوفرمائیل: که زه وفات شوم، ما به د شپې دفن کوئ، نبي ﷺ به نه خبروئ، ما به خپل رب ته زر رسوئ. کله چې هغه وفات شو، شپه وه، صحابو اووئیل: چې دا خو وصیت هم

---

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الكبير"، رقم: (3554)].

کړے دے، چې ما دفن کړې؟ د الله پیغمبر ﷺ ته مۀ وایئ، صحابو دفن کړو، سحر چې نبي ﷺ راغلے تپوس ئې اوکړو، چې بیګا سیدنا طلحه باندې شپه څنګه وه؟ چا ورته اوویل: چې د الله پیغمبره سیدنا طلحه خو وفات شوے دے، او د شپې مونږ دفن کړے دے، نبي ﷺ اودریدو، او د هغۀ په قبر ئې جنازه کوله.

دا جنازه ئې ولې کوله؟ مسئله دا ده: چې وارث په مړي جنازه نۀ وي کړې، هغۀ بیا دوباره جنازه کولے شي، او چې وارث جنازه کړې وي، نو بیا دوباره جنازه نۀ کیږي.او نبي ﷺ خو د تمامو امتیانو وارث دے، نبي ﷺ د هغۀ په قبر جنازه کوله، صحابو کرام ورپسې دي، لاسونه ئې اوچت کړي دي، او دعا غواړي: «اللّٰهُمَّ الْقَ طَلْحَةَ يَضْحَكُ إِلَيْكَ وَتَضْحَكُ إِلَيْهِ» "یا الله د طلحه سره داسې طریقې سره ملاقات اوکړه، چې هغه تاته خاندي، او تۀ هغۀ ته خاندې".[1] داسې ترې رضا شه. وجه څۀ ده؟ بل روایت کښې راځي، دا هغه سرے وو، چې د الله سره او د الله د پیغمبر ﷺ سره ئې ډیره مینه وو، دا د هغه محبت اثرات وو.

د عبد الله بن خزافه رضي الله عنه محبت د نبي ﷺ سره

نبي ﷺ ته یَو صحابي راغلے، ورته وائي: اے د الله پیغمبره! عبد الله بن خزافه رضي الله عنه داسې انسان دے، چې هر وخت توقې کوي، تۀ ورته اووایه، چې ډیرې خبرې او توقې نۀ کوي، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: «فَإِنَّ لَه بِطَانَةً يُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَه» "هغه پریدوئ د هغۀ یَو پټ راز دے د الله سره او د الله د پیغمبر سره ئې ډیره مینه ده" د هغې مینې په وجه تاسو هغۀ ته څۀ مۀ وایئ. یَو حدیث کښې راځي: یَو صحابي دے عبد الله ذُو البِجَادَین. (وجه تسمیه ئې دا ده، چې دے کله مسلمان شو نو تړۀ یعني کاکا ئې ورته

(1) [رواه الطبراني فی "المعجم الكبير"، رقم: (3554)].

اوونئیل: زما جوړه اوباسه؛ څکه جوړه ورته هغه کړې وه، مور ته راغے هغې ورته خپله کپړه دوه ټوټې کړه، نیمې نه ئې لنګ اووهو، او نیمه ئې څادر کړه، او ترۀ ته ئې خپله جوړه ورکړه، "بجاد" کرخې دارې کپړې ته وائي، نو څکه ورته "ذُو البِجادَين" وائي) نبي ﷺ راغلے او د هغه صحابي جنازه روانه ده، نبي ﷺ اوفرمائیل: نرمې کوئ د کټ نه ئې ونۀ غورځوئ، الله دې ورسره نرمې اوکړې «إِنَّهُ كَانَ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ» "دا هغه صحابي دے چې د الله او د الله د پیغمبر سره ئې ډیره مینه وه"، بیا نبي ﷺ د هغۀ قبر له لاړو، او قبر والا ته اوونئیل: چې قبر ئې ښۀ کھولاؤ کړئ، الله دې پرې دا قبر کھولاؤ کړي.[1] دا هغه صحابي دے چې د الله او د الله د پیغمبر سره ئې ډیره مینه وه، داسې مینه ئې وه د الله د پیغمبر سره چې نبي ﷺ به ګواهي کوله.

د کعب بن عجره رضي الله عنه محبت د نبي ﷺ سره

یَو حدیث کښې راځي، یَو ځل کعب بن عجره رضي الله عنه راغے، نبي ﷺ خواته راغے، نبي ﷺ ته ئې چې اوکتل، نو د نبي ﷺ رنګ نهایت متغیره وو، بدل وو، صحابه کرام رضي الله عنهم به پوهیدل، چې نبي ﷺ غصه دے، یا خوشحاله دے، او چې راغے، نو نبي ﷺ ته وائي: «بِأَبِي أَنْتَ» "د الله پیغمبره زما پلار دې پۀ تا قربان شي" دا د مینې هغه الفاظ دي، «مَا لِي أَرَاكَ مُتَغَيِّرًا؟» "څۀ وجه ده چې ستا رنګ بدل لګي؟"، نبي ﷺ ورته وائي: څویمه ورځ ده، چې زما خیټې ته چرته دومره خوراک هم نۀ دے دننه شوے، لکه د یَو جګر والا خیټې ته چې دننه کیږي، څۀ مې خوړلي نۀ دي، ډیر زیات اوږے شوے یم، د لوږې د وجې نه مې رنګ بدل دے، دریمه ورځ ده چې ما خوراک نۀ دے

(1) [رواه ابن ماجة، رقم: (1559)].

کړے. امام الانبياء دے، د انبياء سردار دے، ليکن د دنيا په اعتبار ئې خومره تکليفونه برداشت کړي دي. هغه صحابي روان وو، نو کور کښې ورسره څه نه وو، «قَالَ: فَذَهَبْتُ» "نو هغه صحابي وائي: زۀ لاړم"، نو يو يهودي سړي اوښان اوبۀ کول، او د هغې اوښانو دپاره ئې بوقې راويستلې، ما ورته ووئيل: څه کوې؟ وائي: هغۀ ووئيل: اوښان اوبۀ کوم، وائي: ما ورته ووئيل: چې زۀ به درته اوښان اوبۀ کړم، او ما له به لږه غوندې مزدورې راکړې، وائي: ما د هغۀ هغه اوښان اوبۀ کړل، په يو بوقې به ئې ما له يو کجوره راکوله، چې څومره بوقې مې راويستلې، نو کجورې مې راوړې، او نبي ﷺ له مې ورکړې، چې دا اُوخورئ، کله چې ما کجورې نبي ﷺ له ورکړې، وائي: ما ته نبي ﷺ اووئيل: «مِنْ أَيْنَ لَكَ يَا كَعْبُ؟» "اے کعبه رضي الله عنه! دا کجورې تا چرته نه راوړې؟" هغه ورته وائي: د الله پيغمبره کور کښې ما کره نۀ وې، نو زۀ لاړم فلانکې يهودي له مې اوښان اوبۀ کړل، نو د هغۀ نه مې دا کجورې راوړې، وائي: نبي ﷺ اوفرمائيل: اے کعبه رضي الله عنه! دا دې ولې کړې دي؟ تا ولې دومره تکليف اوکړو؟ «أَتُحِبُّنِي يَا كَعْبُ؟» "اے کعبه! آيا ستا ما سره مينه شته؟" آيا تۀ ما سره مينه کوې، سيدنا کعب رضي الله عنه فرمائي: ما ورته ووئيل: اے د الله پيغمبره زما پلار دې پۀ تا قربان شي، زما ستا سره ډيره مينه ده، نبي ﷺ ورته فرمائي: اے کعبه! چې ما سره څوک هم محبت کوي، نو هغۀ باندې يو شے ضرور راځي، هغې ته به غاړه کيدې، وائي: ما ورته ووئيل: چې څۀ؟ وائي: نبي ﷺ اوفرمائيل: غريبي پۀ هغه انسان ډيره زر راځي، کوم سړے چې ما سره محبت کوي، داسې زر پۀ هغۀ باندې غريبي راځي، لکه څنګه چې سيلاب يو ډنډ له ورځي.[1] دا ئې سيدنا کعب رضي الله عنه ته تسلّي ورکوله.

---

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (7157)].

د سيدنا علي ﷺ محبت د نبي ﷺ سره

سيدنا علي ﷺ فرمائي: يَو ځل نبي ﷺ اوږے وو، نو ما ته چا خبر راوړو، چې نبي ﷺ اوږے دے، سيدنا علي ﷺ د نبي ﷺ د ترۀ زوي وو، نو سيدنا علي ﷺ وائي: زۀ لاړم، ما داسې کار کتلو چې زۀ هغې کښې مزدوري اوکړم، او د الله پيغمبر له خوراک راوړم، چې نبي ﷺ خوراک اوکړي، وائي: هيڅ هم ميلاؤ نۀ شول، «فَأَتَيْتُ بُسْتَانًا» "نو زۀ يَو باغ ته راغلم" نو هغه باغ د يَو يهودي سړي وو، نو هغۀ خپل فصل اوبۀ کولو، نو ما د هغۀ دپاره اُولَس (17) بوقې راوېستلې، ما د هغۀ بوټې اوبۀ کړل، پۀ يَو بوقه به ئې ما له يَوه کجوره راکوله، هغه کجورې مې نبي ﷺ ته راوړې، نبي ﷺ ما ته فرمائي: «مِنْ أَيْنَ لَكَ يَا أَبَا الْحَسَنِ؟» "اے د حسن پلاره! دا کجورې تا چرته نه راوړې؟" وائي: ما ورته اووئيل: چې د الله پيغمبره زۀ خبر شوے يم، چې تۀ اوږے شوے ئې، وائي: زۀ لاړم، ما ځان له مزدوري کتله، نو مزدوري راته ميلاؤ شوې، نو تا له مې د هغې کجورې راوړې، وائي: نبي ﷺ اوفرمائيل: چې اے علي رضي الله عنه! دا کار تا ولې کړے دے؟ څۀ وجې نه دې اوکړو؟ پدې وجه دې کړے وو، چې ستا د الله او د الله د پيغمبر سره مينه وه، سيدنا علي ﷺ وائي: ما ورته اووئيل: چې آؤ، د الله د پيغمبر سره مې مينه ده، پدې وجه مې کړے دے، وائي: نبي ﷺ ما ته اوفرمائيل: اے علي! خوک چې ما سره مينه کوي، پۀ هغۀ به غريبي ډيره زر راځي، بيا غريبۍ ته غاړه کيده.[1]

مقصد دا دے چې صحابو لوږي پۀ ځان برداشت کړې دي، غريبي ئې تيره کړې ده، خو د الله د پيغمبر محبت کښې کمے نۀ وو راوستے.

(1) [رواه ابن ماجة، رقم: (2446)].

کافرانو نیولے دے، او کافران ورته وائي: که ستا خوښه وي، نو مونږ به تا پریدو، او ستا په ځائے به مونږ نبي ﷺ اونیسو، او نبي ﷺ به مړه کړو، دا دې خوښه ده؟ هغه صحابي ورته وائي: تاسو خو دا وایئ چې تاسو ما پریدئ او زما په ځائے به نبي ﷺ شهید کړئ، دا خو ډیره لویه خبره ده، کچرې زه ژوندے پاتې کیږم، او که د نبي ﷺ په خپه کښې ازغے ماتیږي، نو دا هم ما ته منظوره نه ده، خپل مرګ مې خوښ دے، خو د نبي ﷺ په خپه کښې ازغے ماتیدل ما ته ګران لګي. داسې محبت ئې وو د نبي ﷺ سره.

د سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ محبت د نبي ﷺ سره

سیدنا ابو بکر صدیق ﷺ خپل پلار را روان کړے وو، په سترګو باندې ړوند وو، د لاس نه ئې نیولے وو، نبي ﷺ ته ئې راوستو، نبي ﷺ ته وائي: چې ده ته کلمه اُووایه، چې مسلمان شي، نبي ﷺ ورته وائي: دا بوډا سړے تا ولې د خپل کور نه را روان کړے دے، مونږ به هلته ورغلے وے، او کلمه شهادت به مو ورته وئیلے وے، ولې دومره لرې دې راوستو؟ هغه ورته اووئیل: د الله پیغمبره ددې وجې نه مې دومره لرې نه راوستو، چې الله ده له پدې راتلو هم اجر او ثواب ورکړي، کله چې نبي ﷺ هغه ته لاس اوږد کړو، او هغه هم لاس را اوږد کړو، بیعت ئې په اسلام باندې کولو، مسلمان کیدو، نو ابو بکر صدیق ﷺ په ژړا شو، نبي ﷺ هغه ته فرمائي: څه وجه ده چې ته ژاړې، دا خو د خوشحالئ مقام دے، چې د سړي پلار مسلمان کیږي، او د جهنم د عذاب نه بچ کیږي؟ ابو بکر صدیق ﷺ ورته وائي: د الله پیغمبره ژړا پدې وجه راغله، چې زما دا پلار مسلمان شي، نو زما سترګې به یخې شي، زه به خوشحاله شم، که ددې په ځائے ستا تره ابو طالب مسلمان شوے وے، نو د هغه په وجه به ته خوشحاله شې، او چې ته خوشحاله شوې، نو دا زما دپاره لویه خوشحالي ده.

د سيدنا عمر فاروق ﷺ محبت د نبي ﷺ سره

يَو حديث كښې راځي، چې يَو ځل عمر فاروق ﷺ سيده فاطمې ﷺ ته وائي: اے فاطمې! زما دې په الله باندې قسم وي، چې د الله پيغمبر ژوندے وو، نو پهٔ تمامو خلقو كښې زياته مينه زما د الله د پيغمبر ﷺ سره وه، خو چې كله د الله پيغمبر وفات شوے، نو پهٔ ټولو خلقو كښې زما زياته مينه تا سره ده، او وجه دا ده، چې تا سره د الله د پيغمبر مينه وه، نو ځكه زما تا سره مينه ده. د نبي ﷺ د مينې د وجې نه به هغوي يَو كار كولو.

يَو حديث كښې راځي، سيدنا عباس ﷺ له مسلمان شوے نهٔ وو، كله چې اونيولے شو پهٔ جنګ بدر كښې، او قيديانو كښې راوستے شو، سيدنا عمر فاروق ﷺ د لاس نه نيولے دے، او ورته وائي: اے عباسه! كچرې تهٔ مسلمان شوې، نو زما دې پهٔ الله باندې قسم وي، چې دا ما له زما د پلار د ايمان نه ډير محبوبه ده، د خپل پلار خطّاب پهٔ ايمان دومره نهٔ خوشحاليږم، لكه څومره چې ستا پهٔ ايمان راوړلو باندې خوشحاليږم، وجه دا ده كهٔ چرته تهٔ مسلمان شوې، نو د الله پيغمبر ﷺ به خوشحاله شي، او د الله پيغمبر چې خوشحاله شي، نو دا زما دپاره لويه خوشحالي ده، او كهٔ زما پلار مسلمان شي، نو يَواځې زهٔ به خوشحاله شم، حالانكه هغه هم د الله د پيغمبر خوشحالي وه، چې د هغهٔ يَو اُمتي د جهنم د اُور نهٔ بچ شي، خو ليكن څومره چې پهٔ ترونو او د هغي پهٔ زامنو مئين وو دومره خو سرے پهٔ بل چا نهٔ وي مئين، نو عباس ﷺ ته وائي: چې ستا پهٔ ايمان نبي ﷺ خوشحاليږي؛ نو ځكه ستا ايمان ما ته ډير خوښ دے زما د پلار د ايمان نه.

داسې مينه ئې وه د الله د پيغمبر ﷺ سره، دومره محبت ئې وو د الله د پيغمبر سره. او دومره هيبت وو وربانديې د نبي ﷺ چې كله به نبي ﷺ ناست وو، صحابه كرامو به نبي ﷺ ته بره نهٔ كتل، مينه ئې ورسره هم ډيره وه، خو ادب به ئې هم ډير كولو، چې بره ئې ورته نهٔ شو كتلے.

د ترمذي روایت

کله چې نبي ﷺ به بهر راووتو، نو صحابه کرامو به خپل نظر نبي ﷺ ته نهٔ شو اوچتولے، ما سیوا د دوو کسانو نه یو ابو بکر صدیق او بل عمر فاروق رضي الله عنهما نه، چې دوي به نبي ﷺ ته کتل او نبي ﷺ به دوي ته کتل، د دوي نه ما سیوا د بل صحابي دا جرأت نهٔ وو، چې د دوي نه ئې تپوس کړے وو، د ډیر ادب د وجې نه.

د براء بن عازب رضي الله عنه واقعه

یو صحابي دے براء بن عازب رضي الله عنه هغه وائي: دوه کاله زما پهٔ زړهٔ کښې یو مسئله اوریده راوریده، لیکن دوه کاله کښې ما د الله د پیغمبر نه د مسئلې تپوس نهٔ وو کړے، وجه دا وه چې دومره هیبت وو ما باندې د الله د پیغمبر چې زهٔ به نزدې شوم، نو ما باندې به یره راغله. دومره هیبت وو د نبي ﷺ.

عروه بن مسروق رحمه الله... هغه ذکر کوي، هغه وخت کښې دے له کافر وو، روستو بیا مسلمان شوے وو، دے د کفر په حالت کښې وو، چې دے راغلے صلح حدیبیه کیدله، نبي ﷺ سره ئې خبرې کولې، کله چې نبي ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم عمرې له تلل نو هغوي نهٔ پریخودل، نو دهٔ به د نبي ﷺ سره خبرې هم کولې، او د نظر د لاندې به ئې صحابه کرامو ته هم کتل، چې وې لیدل چې نبي ﷺ به لاړې (توکانړې) اُوغوزولې، صحابي به ورته خپل لاس مخکښې کړو، د نبي لاړې به ئې پهٔ زمکه نهٔ پریخودلې، د نبي ﷺ هغه لاړې به ئې راغستلې، او هغه به ئې پهٔ خپل بدن راښکلې، کهٔ نبي ﷺ به حکم اُوکړو، چې فلانکے کار کول غواړې نو یو صحابي به د بل نه مخکښې منډه وهله.

کله چې به نبي ﷺ اودس کولو، چار اندام به ئې کولو نو قریبه وه، چې صحابو یو بل د تیل د وجې نه مرهٔ کړے وے، هغه اوبهٔ به ئې راغستې، او پهٔ خپل بدن به ئې اوچولې.

يَو حديث كښې راځي، نبي ﷺ چار اندام اوکړو، صحابه کرام ﷺ وائي: مونږه هغه اوبهٔ اوڅکلې، دومره ئې محبت وو، او چې نبي ﷺ به خبرې کولې نو صحابه کرام به چپ ناست وو، او د نبي ﷺ خبرو ته به ئې غوږ ایخے وو. عروه ﷺ چې کله واپس لاړو، دے خو د کافرانو د طرف نه راغلے وو، د نبي ﷺ سره خبرو له، هغوي ته وائي: چې داسې سړي سره تاسو جنګ نهٔ شئ کولے، او ورته وائي: اے زما قومه! زما دې پهٔ الله باندې قسم وي، زهٔ د لويو لويو بادشاهانو سره تلے يم، زهٔ د کِسرى د بادشاه سره تلے يم، زهٔ د قيصر بادشاه سره تلے يم، زهٔ د نجاشي بادشاه سره تلے يم، وائي: زما دې پهٔ الله باندې قسم وي، کهٔ يَو بادشاه ما داسې کتلے وي، چې د هغهٔ قوم د هغهٔ دومره عزت کړے وي، څومره چې د نبي ﷺ ملګرې د خپل پيغمبر عزت کوې. هغه سره تاسو جنګ نهٔ شئ کولے، کافران هم پدې خبره باندې ګواه وو. د نبي ﷺ چې به څهٔ شے خوښ وو، هغه شے به د صحابه کرامو هم خوښ وو، او چې د نبي ﷺ به يَو شے ناخوښ وو، د صحابه کرامو به هم هغه شے ناخوښ وو. الله زمونږ د نبي ﷺ سره مينه او محبت پيدا کړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ...الخ

(سورة النساء: 36)

موضوع

دَ ګاونډي حقوق

بمقام: جلسۍ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د ګاونډي حقوق

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِه اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾. (1)

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ، وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ، وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ قِيلَ: وَمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ». (2)

عزتمندو حاضرینو مسلمانانو رونړو! نن دا ذکر کوو، چې د یو ګاونډي په بل ګاونډي څهٔ حق دے؟ او یو ګاونډي به د بل ګاونډي سره څنګه رویّه کوي؟ او د مسلمان دپاره د ګاونډي څنګه خیال ساتل پکار دي؟ علماء کرام ذکر کوي د انسان سره خوا کښې چې ګاونډي وي نو یا به هغه ګاونډي مسلمان وي یا به کافر وي؟

مسلمان رشته دار ګاونډي

کچرې ستا په خوا کښې ګاونډي دے، مسلمان هم دے، او ستا رشته دار هم

(1) [سورة النساء: 36]

(2) [رواه البخاري، رقم: (6016)]

دے، او ستا په ګاونډ کښې هم دے نو ته به د هغهٔ سره تعلق ساتې؛ ځکه چې د هغهٔ په تا باندې حقوق دي، یَو خو ستا خپل دے، د رشته دارئ حق ئې درباندې دے، چې ته به د هغهٔ سره رشته دارې پالې، او کهٔ رشته دارې ورسره نهٔ پالې، نو نبي ﷺ فرمائي: «لاَ يَدْخُلُ الجَنَّةَ قَاطِعٌ».[1]

"د خپلولئ ختمولو والا سړے به جنت ته نهٔ ځي".

د قیامت په ورځ به خپلولي د عرش د سورې لاندې زونده وي، او آواز به کوي چا چې زهٔ دنیا کښې پاللې ووم، الله دي د خپل رحمت سره یَوځائے کړې، چا چې زهٔ دنیا کښې ختمه کړې ووم، الله دي د خپل رحمت نه جدا کړې.

نو چې یَو ستا ګاونډي دے، او رشته دار دي هم دے، نو د هغهٔ درباندې د رشته دارئ حق هم دے، چې د هغهٔ سره به ښهٔ سلوک کوې، دویم ستا ګاونډي دے، نو په تا ئې د ګاونډ کیرئ حق هم دے، چې ته به د هغهٔ سره ښهٔ سلوک کوې، او دریم هغه مسلمان دے، نو یَو مسلمان به د بل مسلمان د اصلاح کوشش کوې، د هغهٔ د خیر کوشش به کوې، نو چې مسلمان هم دے، او ستا رشته دار هم دے، د هغهٔ په تا درې (3) حقونه دي، یَو د رشته دارئ حق، بل د ګاونډ کیرئ حق، او بل د اسلام او ایمان حق دے.

مسلمان ګاونډي

کهٔ یَو سړے ستا ګاونډ کښې اوسیږي مسلمان دے، خو ستا رشته دار نهٔ دے، ستا په ټبر او ستا خاندان کښې نهٔ دے، ستا نه لرې دے، خو ستا ګاونډي دے، د هغهٔ په تا باندې دوه حقونه دي: یَو د هغهٔ د اسلامي رورولئ حق دے ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾.[2]

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (5984)، ومسلم، رقم: (2556)، والترمذي، رقم: (1909)، وأبو داود، رقم: (1696)]

(2) [سورة الحجرات: 10]

الله وائي: "مسلمانان رونړه رونړه دي"، «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ».[1]

"یو مسلمان د بل مسلمان ورور دے".

او دویم هغه ستا په ګاونډ کښې دے، نو د هغهٔ د ګاونډ ګیرئ حق دے.

کافر ګاونډي

چې کله یو سړے ستا په ګاونډ کښې اوسیږي، او هغه کافر دے، نو د هغهٔ په تا باندې یو حق دے، چې هغه د ګاونډ ګیرئ حق دے، هغه خو مسلمان نهٔ دے، لیکن تهٔ به د کافر ګاونډي سره هم ښهٔ سلوک کوې؛ ځکه چې ستا ګاونډ کښې اوسیږي، نو چې هغه ستا د اخلاقو او ستا د معاملاتو نه متأثره شي، او ستا د اخلاقو د وجې نه ایمان راوړي، او هغه مسلمان شي، دا د یو ګاونډي په بل ګاونډي باندې حق دے، او دا حق به اداء کوې، ما چې کوم آیت لوستلے وو، پدې آیت کښې الله یو څو حقونه ذکر کوي، اول الله خپل حق ذکر کوي.

(1) ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾.[2]

"عبادت به د یو الله کوئ، د الله سره هیڅ شے شریک مهٔ جوړوئ".

﴿شَيْئًا﴾ عام دے، علماء کرام ذکر کوي، کله چې نکره په سیاق د نفي کښې راشي نو مراد ترې عموم وي. هیڅ شے به د الله سره نهٔ شریک کوئ، نهٔ به ورسره څوک پیغمبر مرتبه کښې شریک کوئ، نهٔ به ورسره څوک انسان په مرتبه کښې شریک کوئ، نهٔ به ورسره څوک ولي مرتبه کښې شریک کوئ، نهٔ به ورسره مرتبه کښې مړے شریک کوئ، نهٔ به ورسره ژوندے شریک کوئ، نهٔ به ورسره نمر شریک کوئ، نهٔ به ورسره سپوږمۍ شریک کوئ، نهٔ به ورسره ملائک شریک کوئ.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (2442، و6951) ومسلم، رقم: (2564، و2570)، والترمذي، رقم: (1426، و1927)، وأبو داود، رقم: (4893)].

(2) [سورة النساء: 36].

د سیدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما قول

«كُلُّ عِبَادَةٍ فِي الْقُرْآنِ فَهُوَ التَّوْحِيدُ».[1]

"قرآن کريم کښې چې کوم ځائے د عبادت لفظ راشي نو مراد به ترې توحيد وي".

ځکه کافرانو هم عبادت کولو، مونځ به ئې کولو، روژه به ئې نيوله، حجونه به ئې کول. ابو جهل دوه پنځوس (52) حجونه کړې وو، هغوي عبادت کولو، خو يَواځې د الله عبادت ئې نۀ کولو، لات، منات او عُزّیٰ ته ئې را مدد شې وئيلو، الله به ئې هم را مدد کولو، او غير الله به ئې هم را مدد کولو، د نن زمانې نا پوهه مسلمانان هم دغسې کوې، بعضې وخت د الله نه سوال نه کوې، او بعضې وخت غير الله ته چغې وهې، الله وائي: داسې مۀ کوئ، الله خپل حق ذکر کړو.

(2) دويم ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾.[2]

"د مور پلار سره احسان کوئ".

علماء کرام وائي: احسان څنګه دے؟ احسان عام دے، د هغوي سره خبرو کښې احسان به کوې، د هغوي سره په کاروبار کښې به احسان کوې، هغوي باندې به مال لګوې، چې کله مال ته محتاج وي، هرې طريقې باندې به هغوي سره احسان کوې، کۀ مور پلار دې بوډاګان دې، نو د هغوي په خدمت به اُف هم نۀ وائې، په هغوي به مال لګوې د بالغ بچې مال دا خو د بچې دے، ليکن چې کله والدين بوډاګان دې، او هغوي سره نور مال نشته، نو نبي ﷺ صحابي ته وائي: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ» "تۀ او ستا مال ستا د پلار دے"، بيا به تۀ دا خپل ګټلے مال په مور او پلار لګوې، او کۀ مالدار وي نو په خپل ځان دې خرج کوې، او تۀ ترې خلاص ئې.

---

[1] [تفسير القرطبي، تحت آية سورة التحريم: 5].

[2] [سورة النساء: 36].

(3) دریم ﴿وَبِذِي الْقُرْبَىٰ﴾.[1]

"د خپلو خپلوانو سره به احسان کوئ".

د هغوي سره به رشته داري پالئ، د هغوي سره به ښهٔ سلوک کوئ، د هغوي سره ښه معامله کوئ.

(4) څلورم ﴿وَالْيَتَامَىٰ﴾.[2]

"د یتیمانانو سره به احسان کوئ".

یتیم ډیر مظلوم وو، زمونږ په معاشره کښې چې پلار به ئې مړ شو، مشران به راجمع شول، او د یتیمانانو مال به ئې لګولو. نا نا د یتیم سره به ښهٔ سلوک کوئ. نبي ﷺ فرمائي: «كَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ».[3]

"د یتیم پرورش کونکے کهٔ ددهٔ یتیم دے او کهٔ د بل چا یتیم دے، د قیامت په ورځ به دغه سړے او زهٔ جنت کښې داسې یُو، لکه دا دواړه ګوتې چې دي".

څوک چې د یتیم سره ښهٔ سلوک کوي. د یتیم په سر دي لاس کیښودو، څومره ویښتهٔ چې ستا د لاس د لاندې راغلل دومره اجر او ثواب ستا اُوشو.

(5) پنځم ﴿وَالْمَسَاكِينِ﴾.[4]

"مسکینانو او غریبانانو سره ښهٔ سلوک کوه".

هغوي ته سپک مهٔ ګوره، هغوي مهٔ رټه، هغوي ته کنځلې مهٔ کوه.

(6) شپږم ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾.[1]

(1) [سورة النساء: 36].

(2) [سورة النساء: 36].

(3) [رواه مسلم، رقم: (2983)].

(4) [سورة النساء: 36].

"هغه ګاونډي چې ستا خوا کښې دے، ستا رشته دار دے".

(1) يو معنی دا ده ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ "ستا دروازه او د هغهٔ دروازه جوختې دي" د هغهٔ سره ښهٔ سلوک کوه، او هغه ګاونډي چې هغه درنه لرِ لرے دے، د هغهٔ سره هم ښهٔ سلوک کوه.

(2) دويم معنی ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ "هغه ګاونډي چې هغهٔ ستا رشته دار دے، ستا خپلوانو کښې هم دے، هغهٔ سره هم ښهٔ سلوک کوه".

﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾ "او هغه ګاونډي چې ستا ګاونډي دے، خو ستا رشته دار نهٔ دے" د هغهٔ سره هم ښهٔ سلوک کوه. دا د اسلام حکم دے.

(7) اُووم ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ﴾.[2]

"او هغه ملګرے چې ستا پهٔ اَړخ کښې دے"

ددې نه څوک مراد دي؟ (1) يو قول دا دے: چې مراد ترې ښځه ده، د هغې سره خائسته زندګي تيروه، هغې ته پهٔ سپک نظر مهٔ ګوره. (2) ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ﴾ "هغه ملګرے چې ستا پهٔ اړخ کښې دے"، يعنې تا سره جوښت دے، کوم ملګرے چې تاسره پهٔ سفر روان وي، نو د سفر ملګرې سره ښهٔ سلوک کوه، هغهٔ سره مينه کوه، هغهٔ ته څهٔ نقصان مهٔ رسوه.

(8) اَتم ﴿وَابْنِ السَّبِيلِ﴾.[3]

"د لارې مسافر سره احسان کوه".

(9) نهم ﴿وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾.[4]

(1) [سورة النساء: 36].

(2) [سورة النساء: 36].

(3) [سورة النساء: 36].

(4) [سورة النساء: 36].

هغې خلقو سره ښهٔ سلوک کوه چې "ستاسو غلامان دي، ستاسو نوکران او خدمت کاران دې".

يا هغه کس چې ستا مزدور او ستا نوکر دے، د هغهٔ سره ښهٔ سلوک کوه، چې هغهٔ باندې کوم کار کوې نو د هغهٔ وس او طاقت ته ګوره، چې هغه درنه خفه نهٔ شي، مزدور سره ښهٔ سلوک کوه، زمونږ خلق مزدور باندې کار کوې او پیسې بیا نهٔ ورکوې. نبي ﷺ فرمائي: «أعْطوا الأجِيرَ أجْرَهُ قَبْلَ أنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ».[1]

"مزدور له د هغهٔ مزدورۍ د خُولې وچیدو نه مخکښې مخکښې ورکړئ".

چې خوشحاله شي، دا ورسره احسان دے، مزدورئ له دي راوستو مازيګره پورې دي پرې کار اوکړو، نو پیسې ورله ورکړه، چې دا ستا حق دے. نو دے مزدور باندې کار اوکړې، او ورته وائې: پیسې به دوه ورځې پس درکړم، نو هغه دوه ورځې نهٔ وي، هغه دوه کاله وي. پدې يَو آيت کښې چې الله کوم حقوق ذکر کړل کهٔ پدې چا عمل کړے وے، نن به معاشره ولې خرابه وه، مسلمان به څومره ترقۍ باندې وو!!!؟ نو پدې آيت کښې الله د ګاونډي حق هم ذکر کړو، او ددې دپاره نبي ﷺ ډير ترغيبات ورکړې دي.

د ګاونډي د حقوقو باره کښې احاديث مباركه

(1) اول روايت

نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يُؤْذِي جَارَهُ».[2]

"د کوم سړي چې پهٔ الله او پهٔ ورځ د قيامت باندې ايمان وي دا سړے دي خپل

---

(1) [رواه ابن ماجة، رقم: (2423)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (5185) ومسلم، رقم: (47)، وأبو داود، رقم: (5154)].

کاونډي ته هيڅ ضرر نهٔ رسوي".

او بيا نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ».(1)

"د چا چې په الله او په ورځ د قيامت باندې ايمان وي دا سړے چې خبره کوي يا دې د خير خبره کوي، يا دې چپ پاتې شي"

د شر خبرې دې نهٔ کوي، د شرکياتو او بدعاتو خبرې دې نهٔ کوي. او نبي ﷺ فرمائي: «وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ».(2)

"د چا چې په الله او په ورځ د قيامت باندې ايمان وي نو دا سړے دې د خپل ميلمه عزت کوي"

(2) دويم روايت

نبي ﷺ فرمائي: «وَاللهِ لاَ يُؤْمِنُ، وَاللهِ لاَ يُؤْمِنُ، وَاللهِ لاَ يُؤْمِنُ قِيلَ: وَمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «الَّذِي لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ».

"زما دې په الله باندې قسم وي چې مؤمن نهٔ دے" (درې ځله نبي ﷺ دا جمله اوفرمائيله)، يَو صحابي پاسيدو، او وائي: «وَمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ؟».

"اے د الله پيغمبره! څوک يادوې چې مؤمن نهٔ دے؟"، نبي ﷺ ورته فرمائي: «الَّذِي لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ».(3)

"هغهٔ سړے مؤمن نهٔ دے چې د هغهٔ کاونډي د هغهٔ د شر نه په امن باندې پاتې نهٔ شي"، زما دې په الله قسم وي، چې دا سړے مؤمن نهٔ دے، د مؤمن شان خو دا دے

(1) [رواه البخاري، رقم: (6135، و6475)، ومسلم، رقم: (47، و48)، وأبو داود، رقم: (5154)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6135، و6138)، ومسلم، رقم: (48)، والترمذي، رقم: (1967، و2500)، وأبو داود، رقم: (3748، و5154)].

(3) [رواه البخا ري، رقم: (6016)].

چې هغه به د کافرانو سره هم ښهٔ سلوک کوي.

د نبي ﷺ او د صحابه کرامو د اخلاقو اثرات

کافران به راغلل، او چې د نبي ﷺ مخ ته به ئې اوکتل، نو هغوي به ایمان راوړو. یَو صحابي فرمائي: ایمان ئې له نهٔ وو راوړے، وائي: زهٔ راغلم ما د نبي ﷺ مخ مبارک ته اوکتل «عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ».[1]

: "زهٔ پوهه شوم، چې د رسول الله مخ چې دے، نو دا د دروغژن سړي مخ نهٔ دے".

صحابه کرامو یَو سړے اونیولو، ثمامه دا مشهور سړے وو، د نبي ﷺ سخت مخالف وو، چې کله ئې راوستو، نبي ﷺ اوونیل: د مسجد نبوي ستنې سره ئې اوتړئ، صحابو اوتړلو، دغسې ولاړ وو، نبي ﷺ راغے، او ثمامه توله شپه پهٔ ولاړه تیره کړه، کافر وو، نبي ﷺ ورته وائي: «كَيْفَ بِكَ يَا ثُمَامَةُ» "ثمامه څنګه حال دے، ایمان راوړې او کنه؟" ثمامه ورته وائي: «إِنْ تَقْتُلْنِي تَقْتُلْ ذَا دَمٍ، وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ، وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ مِنْهُ مَا شِئْتَ، فَتُرِكَ حَتَّى كَانَ الْغَدُ» "کهٔ تهٔ ما قتل کوې، نو زهٔ د وینې یَو سړے یم، ما به مړهٔ کړې، نو زما وارثان به درنه بدل واخلي، او کهٔ ما باندې احسان کوې، نو احسان دي منم، او کهٔ مال او دولت غواړې نو چې څومره مال دولت غواړې نو مال دولت درکوم"، نبي ﷺ اوونیل: پریږدئ، چې دغسې تړلے وي، پهٔ دویمه ورځ بیا نبي ﷺ راغے، ورته وائي: «كَيْفَ بِكَ يَا ثُمَامَةُ» "ثمامه څنګه حال دے، ایمان راوړې او کنهٔ؟" هغه ورته وائي: کهٔ مړهٔ دي کړم، نو زما وارثان به درنه بدل واخلي، او کهٔ ما باندې احسان کوې، نو احسان دي منم، او کهٔ مال او دولت غواړې نو چې څومره مال دولت غواړې نو مال دولت درکوم، نبي ﷺ صحابو ته اوونیل: دغسې

---

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2485)، وابن ماجة، رقم: (1334، و3251)].

پربدوئ په دریمه ورځ بیا نبي ﷺ راغی، بیا ورته وائي: «كَيْفَ بِكَ يَا ثَمَامَةُ» "ثمامه څنګه حال دے، ایمان راوړې او کنه؟" هغه ورته وائي: که مړ دي کړم، نو زما وارثان به درنه بدل واخلي، او که ما باندې احسان کوې، نو احسان دي منم، او که مال او دولت غواړې نو چې څومره مال دولت غواړې نو مال دولت درکوم، نبي ﷺ صحابو ته اووئیل: «اُتْرُكُوْهُ» "دے پرېږدئ" چې ځي، چې کله صحابه کرامو پرانستو، نو هغه روان شو، د مسجد نبوي نه اخوا يَو چینه وه، مزيدارې اوبهٔ ئې وې، ثمامه راغے او هغې کښې ئې غسل اوکړو، او بیا راغے نبي ﷺ ته وائي: اوس ما ته کلمه وایه، زهٔ ایمان راوړم، درې ورځې دي ستنې سره تړے ووم، ما ایمان نهٔ راوړو، اوس ایمان راوړم، او چې کله ئې کلمه اووئیله: «أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ»، بیا نبي ﷺ ته وائي: اوس زما خبره واوره، کله چې تا زهٔ د ستنې سره تړلے ووم؛ څکه مې ایمان نهٔ راوړو چې بیا به خلقو وئیل چې ثمامه د مرګ نه ویرېدو، نو څکه مې ایمان نهٔ راوړو، اوس خو تاسو پرېښودم، نو څکه مې ایمان راوړو، او بیا ورته وائي: چې اے د الله پیغمبره! زما دې د الله پهٔ ذات قسم وي، پهٔ تمامو کلو او ښارونو کښې دا مدینه ماته ډېر ناخوښ کلے وو؛ څکه چې تهٔ پکښې اوسیدې، ماته چې به چا د مدینې نوم واغستو، نو دا نوم به ما باندې بد لګیدو، نن پهٔ تمام کلو او ښارونو کښې ماته خوښ کلے او محبوب کلے هغه مدینه ده.

او بیا ورته وائي: زما دې د الله پهٔ ذات قسم وي، ماته چې به چا ستا نوم واغستو چې محمد ﷺ، نو ماته به ډېره زیاته غُصه راتله، نن پهٔ تمامو خلقو کښې تهٔ ماته خوښ او محبوب ئې، او ستا مخ ماته پهٔ تمام مخونو کښې محبوب مخ دے، او بیا ورته وائي: زما دې د الله پهٔ ذات قسم وي، چې پهٔ تمامو دینونو کښې ستا دا دین ماته نهٔ وو خوښ، ما ته ډېر ناپسند وو، چې چا به ماته د اسلام نوم اغستو، نو ماله به غُصه راتله، نن پهٔ

تمامو دینونو کښې محبوب دین ماته دینِ اسلام دے.[1]

دا د څۀ د وجې نه دومره متأثره شو؟ کۀ پۀ زورر وے، نو هغه خو ئې د ستنې سره تړلے وو، نو ایمان به ئې راوړے وے، دا د نبي ﷺ او د صحابو د اخلاقو نه متأثره شو، ایمان ئې راوړو. داسې اخلاق ئې وو، چې یَو غیر مذهبه انسان به راغے، او د هغوي اخلاق به ئې اوکتل، نو ایمان به ئې راوړو. نن مسلمان داسې حد ته رسیدلے دے، چې نورو مسلمانانو سره ښۀ سلوک خو پریده، چې د خپل ګاونډي سره هم ښۀ سلوک نۀ کوي.

(3) دریم روایت

نبي ﷺ ته یَو صحابي راغے، وائي: «إِنِّي نَزَلْتُ فِي مَحِلَّةِ بَنِي فُلَانٍ، وَإِنَّ أَشَدَّهُمْ لِي أَذًى أَقْدَمُهُمْ لِي جِوَارًا» "اے د الله پیغمبره ﷺ فلانکې کلي کښې زما کور دے، او هغې کلې ډیر زیاتے چې ما سره کوي، نو زما ګاونډي کوي، نور چانه دومره تنګ نۀ یم، څومره چې د خپل ګاونډي نه تنګ یم"، نو څۀ چل اوکړم؟ نبي ﷺ سیدنا ابو بکر، سیدنا عمر او سیدنا علي رضي الله عنهم اولیږل، چې لاړ شئ جومات ته ورشئ، چې کله لاړل «فَيَقُومُونَ عَلَى بَابِهِ فَيَصِيحُونَ» "تاسو به پۀ چغه چغه باندې وایئ" «أَلَا إِنَّ أَرْبَعِينَ دَارًا جَارٌ» "خبردار!!! څلویښت کورونه چې دي، دا ټول یَو ګاونډ دے، د یَو سړي سره څلویښت کورونه پۀ ګاونډ کښې حسابیږي"، او نبي ﷺ فرمائي: «وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ خَافَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ» "هغه سړے به جنت له لاړ نۀ شي، چې د هغۀ ګاونډي د هغۀ د شر نه یریږي، چې نن به ما له ضرر را رسوي، صباء به ما له ضرور را رسوي، داسې سړے چرې هم جنت ته نۀ شي تللے"، نبي ﷺ صحابو ته اووئیل: ورشئ جومات کښې پۀ چغه چغه باندې وایئ.[2]

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (4372)].

(2) [رواه الطبراني، رقم: (143)].

نن د مسلمان حال اوګوره، چې دده څه رویّه ده؟

(4) څلورم روایت

نبي ﷺ فرمائي: «لَا يَسْتَقِيمُ إِيمَانُ عَبْدٍ حَتَّى يَسْتَقِيمَ قَلْبُهُ» "تر هغې وخته پورې د يَو سړي ايمان نهٔ برابريږي تر څو پورې چې د هغهٔ زړهٔ نهٔ دے صحيح شوے"، «وَلَا يَسْتَقِيمُ قَلْبُهُ حَتَّى يَسْتَقِيمَ لِسَانُهُ» "تر هغې وخته پورې د انسان زړهٔ نهٔ شي صحيح کيدلے تر څو پورې چې د هغهٔ د ژبې خبرې صحيح شوې نهٔ دي"، او آخر کښې نبي ﷺ فرمائي: «وَلَا يَدْخُلُ رَجُلٌ الْجَنَّةَ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ» "او تر هغې وخته پورې يَو انسان جنت ته نهٔ شي دننه کيدلے تر څو چې ګاونډي د هغهٔ د شر نه محفوظ شوے نهٔ وي".[1] نبي ﷺ دې طرف ته ترغيب ورکړے چې د خپلو ګاونډيانو سره ښهٔ سلوک کوئ.

مؤمن چا ته وائي؟

نبي ﷺ فرمائي: «الْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ» "مؤمن هغه څوک دے چې نور خلق د دهٔ نه پهٔ امن باندې پاتې شول".[2] او کهٔ نه خلقو ته کنځلې کوې، خلقو ته ردې بدې وائي، نو دده ايمان ناقص دے.

مسلمان چا ته وائي؟

نبي ﷺ فرمائي: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ».

"کامل مسلمان هغه څوک دے، چې نور مسلمانان دده د ژبې او د دده د لاس نه محفوظ پاتې شول". نو دا صحيح مسلمان دے، او کهٔ پهٔ ژبه او لاس نورو مسلمانانو ته تکليف رسوې، نو دا سړے کامل مسلمان نهٔ دے، دده مسلماني ناقصه ده.

---

(1) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (13048)].

(2) [رواه ابن ماجة، رقم: (3934)].

مهاجر چا ته وائي؟

نبي ﷺ فرمائي: «وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ».

"مهاجر هغه چا ته وائي چې هغه ټول ناکاره کارونه پريدې". د هجرت لوی ثواب دے، چې يَو سړے د الله د رضا دپاره هجرت اوکړي، او كۀ مهاجر دے خو غلا كوي زنا كوي مسلمان باندې بدنامه لګوي دا مهاجر نۀ دے، دۀ ته پۀ هجرت ثواب نۀ ميلاويږي.

او بيا نبي ﷺ فرمائي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَبْدٌ لاَ يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ».[1]

"زما دې پۀ هغه ذات باندې قسم وي چې د هغۀ پۀ قبضه او لاس كښې زما ساه ده چې هغه سړے جنت ته نۀ شي دننه كيدے، چې د هغۀ نه ګاونډي محفوظ پاتې نۀ شي". څومره تاكيد سره نبي ﷺ وائي.

(5) پنځم روايت

سيدنا انس بن مالک ﷺ د نبي ﷺ نه حديث نقل كوي: «مَنْ آذَى جَارَهُ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللهَ».[2]

"سيدنا انس ﷺ د نبي ﷺ نه روايت نقل كوي، وائي: چا چې خپل ګاونډي ته ضرر او نقصان اورسولو، دې سړي ما ته تكليف را اورسولو، چا چې زۀ خفه كړم ما ته ئې تكليف را اورسولو، نو دۀ الله ته ضرر اورسولو، دۀ الله خفه كړو".

اوس كۀ يَو سړے وائي: چې زۀ خو ډير ښه سړے يم، خو زما دا ګاونډي ډير ناكاره سړے دے، نو ستا ګاونډي له پكار دي، چې هغه ځان نه ښۀ سړے جوړ كړي، او كۀ بيا هم ستا هغه ګاونډي نۀ سميږي، نو تۀ صبر كوه، الله به درله اجر دركړي،

(1) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (12561)].

(2) [رواه المنذري في "الترغيب والترهيب"، رقم: (3863)].

صبر ډیر ښهٔ شے دے، ﴿وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾.[1]

"الله د صبرناکو ملګرے دے".

کله الله وائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾.[2]

"یقینًا الله دَ صبر کونکو ملګرے دے".

او کله الله وائي: ﴿وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ﴾.[3]

"الله مینه کوي د صبرناکو سره".

او کله الله وائي: ﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾.[4]

"او زیرے ورکړه صبرناکو ته".

او کله الله وائي: ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾.[5]

"صبرناکو له به الله بے حسابه اجر ورکوي".

ستا ګاونډي دے، او تا سره ښهٔ سلوک نهٔ کوي نو تهٔ ورسره بد مهٔ کوه، تهٔ ورسره احسان اوکړه، احسان خو دیته وائي: چې یَو سړے تا سره احسان نهٔ کوي، او تهٔ ورسره احسان کوې. او کهٔ هغه تا سره احسان کوي، او تهٔ هغهٔ سره احسان کوې نو دا خو تهٔ د هغهٔ د احسان بدله کوزوې. ګاونډي درسره بد سلوک کوي، نو تهٔ ورسره ښهٔ سلوک کوه، او کهٔ هغه تا سره خبرې نهٔ کوي او تهٔ هغهٔ سره خبرې نهٔ کوې، نو دا خو خبره نوره هم لرې کیږي، کهٔ هغه درسره جنګ کوي، نو تهٔ ورسره جنګ مهٔ کوه.

---

(1) [سورة البقرة: 249].

(2) [سورة البقرة: 153].

(3) [سورة آل عمران: 146].

(4) [سورة البقرة: 155].

(5) [سورة الزمر: 10].

(6) شپږم روایت

نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ حَارَبَ جَارَه فَقَدْ حَارَبَنِيْ وَمَنْ حَارَبَنِيْ فَقَدْ حَارَبَ اللهَ».[1]

"چا چې د خپل ګاونډي سره جنګ اُوکړو، دهٔ ما سره جنګ اُوکړو، او څوک چې ما سره جنګ کوي نو دے د الله سره جنګ کوي". نو د الله سره خو جنګ نهٔ شي کولے، خو الله به سزا ورکړي.

(7) اُووم روایت

نبي ﷺ فرمائي: ړومبے چې د الله دربار کښې اودریږي دوه جګړه کونکي ګاونډیان به اودریږي، يَو به وائي: یا الله دهٔ ما له دنیا کښې تکلیف را رسولے وو، ړومبئ مقدمه به د ګاونډیانو نه شروع کیږي.

نبي ﷺ فرمائي: «مَا آمَنَ بِيْ مَنْ بَاتَ شَبْعَانًا، وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ ، وَهو يَعْلَمُ بِهِ».[2]

"هغه سړي پهٔ ما ایمان نهٔ دے راوړے، چې هغهٔ خپل کور کښې پهٔ مړه ګېډه شپه تیره کړه، او ګاونډ کښې ګاونډي اوږے دے، او دهٔ ته پته وه".

(8) آتم روایت

نبي ﷺ فرمائي: «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِي يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ».[3]

"هغه سړے کامل ایمان والا نهٔ دے، چې دے خپل ځان مړوي او ګاونډي ئې اوږے دے". د هغهٔ سره امداد اوکړه.

نبي ﷺ سیدنا ابو ذر ﷺ ته وائي: اے ابو ذره! چې ستا پهٔ کور کښې ستا زنانه کټوئ پخوي اوبهٔ پکښې لږې زیاتې کړه، او د خپل ګاونډي امداد اُوکړه، ددې پهٔ وجه

---

(1) [رواه المنذري في "الترغيب والترهيب"، رقم: (3863)].

(2) [رواه الطبراني فى "المعجم الكبير"، رقم: (751)].

(3) [رواه البيهقي في "الآداب"، رقم: (71)].

به الله ستاسو مينځ کښې محبت پيدا کوي.

(9) نَهم روايت

حديث کښې راځي، نبي ﷺ نه چا تپوس اُوکړو، د يَو ګاوندي په بل ګاوندي څۀ حق دے؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: د يَو ګاوندي په بل ګاوندي دا حق دے:

(1) يو چې کله ګاوندي ستا نه امداد اوغوښتو، نو تۀ د خپل ګاوندي سره امداد اُوکړه، يَو بل سره امداد اُوکړئ.

(2) دويم کۀ چرته د ګاوندي پيسو ته ضرورت شو، ستا نه ئې قرض پيسې اوغوښتې، نو تۀ هغۀ له قرض پيسې ورکړه، دا د هغۀ حق دے په تا باندې.

(3) دريم کۀ ستا ګاوندي محتاج دے، نو خرچ خوراک ورته ورکوه، الله به درته اجر درکوي.

(4) څلورم نبي ﷺ فرمائي: چې کله ستا ګاوندي بيمار دے، نو تپوس له ئې لاړ شه، د هغۀ بيمار پرُسې اُوکړه، د هغۀ سره په دغه تکليف کښې شريک شه.

(5) پنځم نبي ﷺ فرمائي: کۀ ستا ګاوندي له خوشحالي اورسيږي، نو خوشحاله شه، او کۀ ستا ګاوندي ته تکليف اُورسي، نو د هغۀ په تکليف خفه شه.

(6) شپږم نبي ﷺ فرمائي: کۀ ستا ګاوند کښې مسلمان وفات شو، نو تۀ به د هغۀ جنازه کوې، او کۀ کافر وفات شو، بيا به ئې جنازه نۀ کوې. جنازه دا د مسلمان حق دے.

(7) اُووم نبي ﷺ فرمائي: چې کله ستا خوا کښې ګاوندي دے نو د هغۀ سره ظلم او زياتے مۀ کوه، او په هغۀ باندې خپل آبادے مۀ اوچتوه، چې هغۀ کره تولمه ورځ سورے وي، او کۀ ګاوندي اجازت درکړو نو بيا خير دے.

(8) آتم نبي ﷺ فرمائي: تۀ خپل ګاوندي ته ضرر او نقصان مۀ رسوه، او دومره بورې د ګاوندي سره احسان کوه، کۀچرته بازار ته لاړ شې، او تا د بازار نه ميوه راوړه، نو

د خپل ګاونډي کور ته هم لږه میوه اولیږه، او که ستا وس او طاقت نهٔ رسیږي، نو بیا ئې خپل کور ته پټه راوړه.[1]

نن دور کښې زیات نقصان چې ګاونډي ته رسیږي نو پدې کښې د بل ګاونډي لاس وي، که د ګاونډي نه غلا کیږي نو پدې کښې د ګاونډي لاس وي.

(10) لَسم روایت

حدیث کښې راځي: نبي ﷺ صحابو ته اوفرمائیل: «مَا تَقُولُونَ فِي الزِّنَا؟» "اے زما صحابو د زنا متعلق ستاسو څهٔ خیال دے؟"، صحابو ورته اووئیل: زنا حرامه ده، الله او د الله پیغبر حرامه کړې ده، او قیامته پورې به زنا حرامه وي، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: اے زما صحابو! یَو سړے چې د لَسو (10) زنانو سره زنا اوکړې نو دا دومره لویه ګناه نهٔ ده، لکه څومره ګناه چې د ګاونډي د ښځې سره ده، چا چې د ګاونډي د ښځې سره زنا اوکړه، او بل څائے ئې لَس (10) زناګانې اوکړې، د ګاونډي د ښځې سره زنا ترې لویه ګناه ده؛ ځکه تا باندې د ګاونډي حفاظت لازم وو، او بیا نبي ﷺ اوفرمائیل: اے زما صحابو ستاسو د غلا متعلق څهٔ خیال دے؟ نبي ﷺ ته صحابو اوفرمائیل: اے د الله پیغمبره غلا حرامه ده، الله او د الله پیغمبر حرامه کړې ده، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: کهٔ یَو مسلمان بنده پهٔ نورو لَسو کورنو کښې غلا اُوکړې، دا دومره جرم او ګناه نهٔ ده، څومره ګناه چې دا ده چې یَو سړے د خپل ګاونډي نه غلا اوکړې.[2] تا باندې د ګاونډي خیال ساتل لازم وو.

نبي ﷺ ته یَو سړے راغے، وائي: اے د الله پیغمبره یَو زنانه ده، مونځ هم کوي، روژې هم نیسي، حج ئې هم کړے دے، صدقې او خیراتونه هم ډېر کوي، لیکن دا

(1) [رواه الطبراني في "مسند الشاميين"، رقم: (2430)، والبيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (9113)].
(2) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (23854)].

زنانه بد اخلاقه ده، کاونده کښې ترې نور خلق تنګ دي، هر چا سره شر او فساد کوي، نبي ﷺ اوفرمائيل: دا ښځه به جهنم ته ځي، بيا ورته وائي: اے د الله پيغمبره يَو زنانه ده مونځ هم کم کوي، يعني نفل مونځ نهٔ کوي، خيرات او صدقې ډيرې نهٔ ورکوي، ليکن اخلاق ئې خائسته دي، ټول کاونده ترې خوشحاله دے، نبي ﷺ اوفرمائيل: دا زنانه به جنت ته ځي.

کهٔ نارينهٔ دي، او کهٔ زنانه دي، پکار دي چې خپلو کاونډيانو سره خائسته سلوک اُوکړي، الله دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي. آمين.

(وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ۞ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ...الخ

(سورة النحل: 58-59)

موضوع

دَاولاد ترتبيت

بتاريخ: 2006-02-09

بمقام: توردهير

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د اولاد تربیت

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ★ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾.[1]

عزتمندو حاضرینو مسلمانانو رونړو! ما ستاسو وړاندې د پروردکار عالم د خوږ او معزز کتاب قرآن مجید نه یَو دوه آیاتونه تلاوت کړل. اله العالمین دې پدې مختصر وخت کښې زما د خُلې نه د قرآن کریم او د سنتو د رسول الله ﷺ برابر خبرې اوباسې، او بیا مونږه او تاسو ټولو لره دې الله په هغې باندې د صحیح عمل کولو توفیق راکړې، ددې پروګرام سببِ انعقاد دا دے، چې یوه ماشومه پیدا شوې ده، او د هغې عقیقه ده. دا د الله رب العزت احسان دے، چې پهٔ پښتون قوم کښې داسې خلق شته، چې هغوي پهٔ دین اسلام باندې مئین دي.

د اسلام د راتلو نه مخکښې دورِ جاهلیت وو، نو هغوي به جینۍ ډیره ناخوښه

(1) [سورة النحل: 58-59].

کېږله ما چې کوم آياتونه لوستلي وو، قرآن کريم د هغې تذکره کوي ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ﴾.[1]

د اسلام نه مخکښې چې به چا ته سړي ته اوونيل: چې ستا لُور شوې ده، نو د ډيرې غصې نه به ئې مخ تک تُور شو، او دے به د غصې نه ډک وو، چې داسې خراب زيرے ما باندې ولې اوشو؟ چې ستا لُور شوې ده، د قوم د خلقو نه به پټيدو، د وجې د بد کېږلو د هغې نه چې کوم زيرے ورته ورکړے شوے وو، او د ځان سره به ئې سوچ کولو، چې دا لُور ژوندۍ ږيدم او د ځان سره ئې حصاره کړم، او که نه خاورو کښې ئې ښخه کړم. خبردار!!! ډير ناکاره دے هغه چې دوي ئې فيصله کوې، د جاهليت هغه دور پښتون کښې هم راغلے دے، چې پښتون قوم به داسې کول، چې کله به ورته الله زوې ورکړو، نو د ډيرې خوشحالۍ نه به ئې ډزې کولې، او که الله به ورله لُور ورکړه، نو د خفګان د وجې نه به د کور نه نۀ راوتلو. چا به دا نۀ وے وئيلے چې د فلانکي لُور شوې ده، هغۀ له مبارکۍ له ځو، اوس هم خلقو کښې دا رواج دے، که د چا لُور شوې وي، نو هغۀ له څوک مبارکۍ له نه ځي، او که د چا زوې شوے وي، نو هغۀ له خلق مبارکۍ له ځي؛ ځکه د لُور مبارکۍ له تلل شرم کنړې، دا نۀ وائي چې دا خو د بره نه فيصلې دي، پدې باندې خفګان پکار نۀ دے.

د الله رب العزت تقسيم

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿لِّلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ ۞ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾.[2]

اولاد ورکول دا د الله کار دے، پدې کښې نۀ نارينه څۀ نقصان شته، او نۀ

(1) [سورة النحل: 58].

(2) [سورة الشورى: 49-50].

ښکنبې د زنانه څۀ نقصان شته، اولاد الله ورکوې او الله چې څنګه اوغواړې هغه شان اولاد ورکوې.

چا له چې الله اوغواړې صرف جينکۍ ورکوې، او چا له چې الله اوغواړې نو الله ورله نارينه اولاد ورکوې، يا الله جوړې جوړې ورکوې يعني جينکۍ او هلکان، او ګرځۍ الله چا له چې اوغواړې شند.

نو بعضې سړے د الله فيصله باندې خفه وي، شکر اوباسه چې الله درته لُور درکړې ده، کۀ الله درته نۀ درکولے نو چا به درله درکړے وے؟ دا د جاهلانو خلقو کار دے.

د دورِ جاهليت حالت

پۀ دورِ جاهليت کښې چې به د چا لُور اوشوه، نو هغه به ئې ژوندۍ ښخوله، لُور ساتل ئې يَو شرم ګنړلو، ددې وجې به ئې لُور ژوندۍ ښخوله، چې کله اسلام راغے نو خلقو د لُور سره مينه او محبت شروع کړو.

د لُور د تربيت باره کښې د نبي ﷺ فرمان

رسول الله ﷺ فرمائي: چې د کوم سړي لُورياڼې دي، او د هغوي ئې صحيح تربيت اُوکړو، د نارينو بچو نه ئې ورته سپک اونۀ کتل، لُورياڼو ته ئې بد اونۀ کتل، د هغوي پۀ رزق کښې ئې څۀ کمے اونۀ کړو، خفګان ئې پرې ښکاره نۀ کړو، نبي ﷺ فرمائي: دغه سړے او زۀ به د قيامت پۀ ورځ داسې راروان يُو (يعنې يَوځائے)، دا ولې؟ د زوې تربيت کښې هم ثواب وو، کۀ زوې باندې مال لګوې، کۀ لُور باندې مال لګوې، او کۀ خپله ښځه باندې مال لګوې، نو دا يَوه صدقه ده، خو لُور باندې مال لګول څکه زيات ثواب دے؛ چې لُور ته خلق سپک ګورې. نو اسلام دغه رسم ختموي.

سيده عائشه ﷺ فرمائي: ما سره يَوه زنانه راغله، او د هغې دوه لورياڼې وې، او

هغې سوال کولو، لوریانې ورسره وې، نو ما سره نور څه نۀ وو، ما سره يَوه کجوره وه، هغه کجوره مې ورکړه، چې دا واخله، نور څۀ راسره نشته، هغه کجوره هغې واغسته، او هغه ئې په مينځ دوه ټوټې کړه، يَوه ئې يَو لُور له ورکړه، او بله ئې بلې لُور له ورکړه، او لا ړه، بخپله ئې اونۀ خوړه، رسول الله ﷺ راغے، ما ورته حالت بيان کړو، نبي ﷺ اوفرمائيل: دا امتحان دے، د الله بخپلو بندګانو باندې کوې، او کوم انسان چې پدې دنيا کښې د خپلو لُوريانو صحيح تربيت اُوکړي، د ځامنو نه ئې ورته سپک اونۀ کتل، د قيامت په ورځ به دغه لُوريانې د دۀ دپاره د جهنم د اُور نه پرده اُوګرځي.[1] څومره لوئے اجر دے!

د سيده فاطمة الزهراء ﷺ باره کښې د نبي ﷺ فرمان

د نبي ﷺ حالت چې سړے اُوګوري. سيده فاطمة الزهراء ﷺ د نبي ﷺ لُور وه، څومره مينه ئې ورسره وه! چې نبي ﷺ فرمائي: سيده فاطمه ﷺ خو زما د زړۀ ټکړه ده. او کله کله چې به فاطمه ﷺ راغله، نو نبي ﷺ به ښُکل کړه، او د ځان سره به ئې جوښته کينوله. دا ئې خلقو ته ښودل چې خپلو لُوريانو ته به سپک نۀ ګورئ.

پښتون څۀ کوي؟ چې د زوې ئې وادۀ وي، نو څومره خوشحاله وي، او چې د لُور ئې وادۀ وي، نو سړے وائي چې غم ورکړه شوے دے، او د لُور د وادۀ په وخت کښې پلار ئې نۀ وي، ورور ئې نۀ وي، تول پټکښې شرميږي.

نبي ﷺ د سيده فاطمې ﷺ نکاح بخپله تړلې وه، او سيدنا علي ﷺ ته ئې وئيلې وو راشه چې نکاح درله اُوتړم. لُور او زوې دواړو ته به په صحيح نظر ګورئ؛ ځکه دا دواړه ستا نه پيدا دي.

(1) [رواه مسلم، رقم: (2629)].

علامه قرطبي ليکلي دي

تفسير قرطبي واقعه ليکلې ده، د هغه صحابي چې هغهٔ وروستو اسلام راوړے وو. نبي ﷺ ته ئې وئيل: د الله پيغمبره ډيره لويه ګناه رانه شوې ده، نبي ﷺ ورته اووئيل: وائي څهٔ وائې: د الله پيغمبره زهٔ پهٔ سفر باندې تلم، نو ښځې ته مې اووئيل: کهٔ الله درته بچے درکړو، نو کهٔ هلک وي نو ښهٔ خيال ئې ساته، او کهٔ جينئ وه، نو چې بلې ورځې ته ئې پرې نږدې، وائي: زهٔ پهٔ سفر تلے ووم، او چې کله زهٔ د سفر نه راغلم، نو الله زما بي بي له لُور ورکړې وه، هغه ډيره زياته خائسته وه، نو هغه زما بي بي اوساتله، او زهٔ چې کله د سفر نه راغلم، نو ما اوکتل نو زمونږ کور کښې جينئ ګرځيدله، ما ورته اووئيل: دا څوک ده؟ نو بي بي ما ته بهانې اُوکړې، چې دا د فلانکې کاونډې لُور ده، نو زهٔ پوهه شوم چې دازما لُور ده، نو ما هغه لُور بوتله او ما يَو کوهي ته اُوغورځوله، او هغې چغې وهلې چې ما مهٔ غورځوه، او زما زړهٔ کښې رحم نهٔ راتلو. دا د دورِ جاهليت حال وو، چې هغوي به خپلې لوريانې ژوندئ بوتلې او هغه به ئې ښخولې. قرآن کريم ذکر کوي: ﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ * بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ﴾.[1]

د قيامت پهٔ ورځ به الله د هغې جينکو نه (چې ژوندئ ښخې کړے شوې دې) "تپوس اوکړې چې پهٔ کومه ګناه تاسو وژلے شوې وئ". دا د جاهليت هغه دور وو. مسلمان له کهٔ الله زوې ورکړې، نو دے به وائي: الحمد لله، او کهٔ الله ورله لُور ورکړې، نو دے به وائي: الحمد لله، الله ستا شکر دے، چې ما له دې اولاد راکړو. مسلمان به پهٔ هر حال کښې د الله شکر اداء کوي.

---

(1) [سورة التكوير: 8-9].

د بچي پيدائش او د اسلام طريقه

اوس چې کله بچے پيدا شو، نو ته به څۀ کوې؟ زمونږ مسلمانان کۀ هلک پيدا شي، نو هم خپل رب ناراضه کړي، او کۀ جينۍ پيدا شي، نو هم خپل رب ناراضه کړي. پۀ اسلام کښې د ماشوم د پيدا کيدو طريقه دا ده، چې کله ماشوم بچے پيدا شو، کۀ هلک دے او کۀ جينۍ ده:

(1) اول د هغۀ پۀ ښي غوږ کښې اذان اُوکړه، او پۀ کس غوږ کښې ورله اقامت اُوکړه. دا د نبي ﷺ سنت طريقه ده.

او دا به ولې کوې؟ علماء کرام ذکر کوې دا څکه؛ چې بچے تۀ د مسلمان پۀ کور کښې پيدا شوے.

(2) دويم دا چې د يَو سړي بچے پيدا شو، نو محله کښې کلي کښې يَو نيک سړے دے، دا ماشوم به د هغۀ خوا ته بوځې، او هغه ته به وائې چې تۀ خُلۀ کښې کجوره يا خوږ شے اُوجوه، نو هغه کجوره يا هغه خوږ شے به د ماشوم پۀ خُلۀ کښې کيدې، ديته "تحنيک" وائي. دا د نبي ﷺ سنت طريقه ده.

رسول الله ﷺ ته به صحابو خپل ماشومان راوستل، او نبي ﷺ به پۀ خپله خُلۀ کښې کجوره يا خوږ شے اوجولو، او هغه ماشوم ته به ئې خُلۀ کښې ورکولو، ددې مقصد دا وي چې صبا دا بچے الله نيک عمله اُوکرځوي.

(3) دريم سنت طريقه دا ده، چې کله هلک پيدا شوے دے، او اُوومه ورځ ئې شي، نو نُوم ورله کيده، د هغۀ سَر اُوخروه، او عقيقه اُوکړه، دوه چيلې يا دوه ګډان د هغۀ د طرف نه ذبحه کړۀ. زمونږ خلق يَو بل رسم کوې، هغۀ رسم دا دے چې هلک پيدا شي، نو مهتيان تقسيموې، نو خلق مهتيان اُوخورې، نو هغې لوښې کښې بيا پيسې کدې، نو دا کار صحيح نۀ دے.

اصل طریقه د اسلام دا ده، چې ماشوم پیدا شو، نو عقیقه اُوکړه، خلقو له دعوت ورکړه، د ماشوم ویښتهٔ اُوخروه، او هغه ویښته د سپینوزرو سره اُوتله، او هغه خیراتې کړه، زمونږ خلق عقیقه نهٔ کوي، چې هلک پیدا شي، نو د هغهٔ پهٔ سنت کښې پروګرام جوړ کړي، او خلقو له دعوت ورکړي.

د بچي سنت کښې خلقو له دعوت ورکول

یَو حدیث کښې راځي، یَو صحابي پسې یَو سړے دعوت له راغے، دعوت ئې ورکولو، چې زما د زوې سنت دے، تهٔ به راځي، هغه ورته وائي: د رسول الله ﷺ پهٔ زمانه کښې نهٔ مونږ بل څوک د سنت دپاره راغوښتي، او نهٔ مونږ د چا دعوت له تلي یُو. زمونږ خلق پهٔ اسلامي طریقه سنت نهٔ کوي، څوک ورله دیګونه پخوي، څوک ورته پالنګ کوي، څوک ورله واسکټ کوي، دا خو د هندوانو طریقه ده.

د مسلمان طریقه خو دا ده، چې تهٔ تحنیک اُوکړه، او د هغې نه ورستو عقیقه اُوکړه، او چې ماشوم سنت کوې، نو دغسې ماشوم سنت کړه، چا له دعوت مهٔ ورکوه، او کوم چې فقهاء ذکر کوي "دعوت الخِتان" هغه دا نهٔ دے، هغهٔ ورستو چې ما شوم روغ شو، د شکرئې پهٔ طور باندې د ماشوم د جوړېدو نه ورستو کهٔ څوک څهٔ شے خیراتې ورکوي (خو لازم پرې نهٔ دي). دا د اسلام طریقه ده.

او چې جینئ پیدا شي، نو د جینئ عقیقه به کوي، یَو چیلئ یا یَو کډ به ذبحه کړي، او د ماشومې ویښتهٔ به اُوخرئ، او هغه به د سپینوزرو سره اُوتلي او خیراتې به ئې خلقو له ورکړي، دا د نبي ﷺ سنت طریقه ده، او د هغې نه بعد پهٔ اُومه ورځ به ورله خائسته نُوم کیدي، د انبیاؤ یا د نیکانو خلقو نُوم به ورله کیدي، زمونږ د خلقو چې بچے اُوشي، نو بیا ورله نُوم خوښوي، داسې نُوم چې چرته تې وي (TV) کښې درامو کښې ښهٔ مشهور وي، نو هغه نُوم ورله ږدي، نا مسلمان چې خپل بچي له نُوم

روديږي نو د انبياء كرامو صحابه كرامو او د نيكانو خلقو نُوم به ورله روديږي، دا نه چې كوم نوے نُوم راوتے دے، نو هغه به ورله اِږدي.

د بچي په مور پلار حقوق

د بچي په مور پلار درې حقوق دي. امام سمرقندي رحمه الله روايت ذكر كوي، نبي ﷺ فرمائي: د بچي په مور پلار درې حقوق دي: (1) يَو حق ئې دا دے، چې بچي له به خائسته نُوم روديږي، (2) دويم حق ئې دا دے، چې كله بچے په خبرو باندې پوهه شو، بيا به ورته صحيح تعليم وركوي، اسلامي تعليم به ورله وركوي، (3) دريم حق ئې دا دے چې كله دا بچے بلوغ ته ورسيدو نو وادهٔ به ورله كوي.

سيدنا عمر رضي الله عنه سره د يَو سړي ملاقات

يَو روايت كښې راځي، عمر رضي الله عنه سره يَو سړے راغے، ورته وائي: اے عمر! دا زما بچے دے، دے زما خبره نهٔ مني، سيدنا عمر رضي الله عنه د هغه سړي هغه بچے را اوغوښتو، ورته وائي: د پلار دومره حق دے، د پلار هغه تمام حقوق ئې ورته بيان كړل، نو هغه بچي ورته اوونيل: چې اے عمر! دا خو منم، خو د بچي په مور او پلار څهٔ حق شته، او كهٔ نشته؟ سيدنا عمر رضي الله عنه ورته اوونيل: چې آو، حق ئې پرې شته، وائي: څهٔ حقوق ئې دي؟ هغه ورته وائي: (1) يَو حق د بچي دا دے چې هغهٔ له صحيح نسب كښې وادهٔ اُوكړي، صحيح ښځې سره ورله وادهٔ اُوكړي، د بدنامې ښځې سره به وادهٔ نهٔ كوي، ځكه صبا به خلق د هغې بچي له پيغور وركوي، نن صبا خلق صرف شهوت پوره كوي، دا نهٔ گوري چې آيا دا خائے د وادهٔ ما له مناسب دے؟ دے خو صرف خائست پسې ځي. نبي ﷺ فرمائي: «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ، تَرِبَتْ يَدَاكَ».[1]

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (5090)، ومسلم، رقم: (1466)].

که چې يَو سړے د يَوې ښځې سره واده کوي، نو د څلورو خبرو د وجې نه: (1) يَو د مال د وجې نه، (2) دويم د خائسټ د وجې نه، (3) دريم د نسب د وجې نه، (4) او څلورم د ديندارۍ د وجې نه. اوس که يَو زنانه داسې ده، چې څلور واړه خبرې پکښې موجود دي، نو ښۀ خبره ده، او که چرې څلور واړه خبرې پکښې موجود نۀ وي، نو بيا نبي ﷺ فرمائي: د ديندارې ښځې سره نکاح اُوکړه، لاس دې خاورې شه. يعني تيزې ورته ورکوې، چې د ديندارې ښځې سره نکاح اُوکړه.

(2) دويم حق ورته عمر ﷺ وائي: چې بچې له به خائسته نُوم کيدې. (3) دريم حق ئې دا دے، چې بچې له به ښۀ تعليم ورکوې. هغه بچې عمر ﷺ ته اووئيل: زما خبره لږه واوره، وائي: دا زما پلار دے، دۀ يَو زنانه سره نکاح کړې ده، چې د هغې پۀ وجه اوس هم ماته خلق پيغور راکوي، څلور سوه درهمه باندې يَو زنانه اغستې ده، او څۀ پته ئې نۀ لګي چې د کوم ځائے ده؟ او دويم دا زما پلار دے، د ماله داسې نُوم کيښودے دے، چې هغه صحيح نُوم نۀ دے، ماله ئې "جُعل" نُوم کيښودے دے، او جُعل عربۍ کښې "ګُنګوټ" ته وائي، ده ماله ګُنګوټ نُوم ايښے دے. او بيا عمر ﷺ ته وائي: چې اے عمر رضي الله عنه! دا زما پلار دے، او دۀ ماته يَو تکے هم د قرآن نۀ دے ښودلے، عمر ﷺ ورته پلار ته وائي: چې داسې خبره ده، هغه پلار ئې ورته وائي: آؤ جي، نو سيدنا عمر ﷺ ورته وائي: پاسه زما د خوانه، وائي: تا مخکښې د بچې حق نۀ دے اداء کړے، د هغۀ حقوق دې تول د خپو د لاندې کړې دي، نو نن که هغۀ ستا حقوق د خپو د لاندې کوي، نو دا خو څۀ لږې خبره نۀ ده. نو چې مسلمانان مخکښې د بچو حق اداء کړې، بچې له خائسته نُوم کيدې، هغۀ له اسلامي تربيت ورکړې، هغه باندې د الله کتاب ياد کړې، نو دغه بچے به صبا د مور پلار خدمت کوي؛ ځکه دينداره سړے د مور پلار نافرماني نۀ کوي، خومره چې يَو بچے د الله نافرمانه وي،

دومره هغه د مور پلار نافرمان وي، چې يَو سړے د الله حڪم نۀ مني نو د مور پلار به څۀ خبره اُومني، دا څومره نافرماني چې د مور پلار کيږي نو دا مور پلار د بچي حق نۀ دے اداء کړے.

يَو روايت کښې راځي، سيدنا ابو حفص البکندي ﷫ ته يَو سړے راغے، او ورته وائي: چې زما بچے ما هر وخت وهي، دۀ ته لږ نصيحت اُوکړه، هغۀ ورته اووئيل: عجيبه خبره ده، بچے به څنګه پلار اووهي!؟ هغۀ ورته وائي: تا دي بچي له تعليم ورکړے دے؟ وائي: نا، د الله کتاب دے، ورته ښودلے دے؟ هغۀ ورته وائي: نا، نو هغۀ ورته وائي: دے څۀ کار کوي؟ هغه پلار ئې ورته وائي: دے خو زميندارہ کوي، سحر پټي ته ځي، او ماښام راځي، هغه عالم ورته وائي: شکر اوباسه چې مړۀ کوي دې نۀ؟ هسې وهل خو خير دے، وائي: ولې؟ وائي: تا خو دۀ له صرف د دنيا تربيت ورکړے دے، تا خو دۀ له دا نۀ دي ښودلي، چې زۀ دي پلار يم، دا دي مور ده، او دا دي خور ده، دا خو ستا غلطي ده.

مسلمانانو له پڪار دي، چې خپلو بچو له صحيح تربيت ورکړي، دا دنيا کښې هم خوشحالي ده، او آخرت کښې هم خوشحالي ده.

حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: «إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ».[1]

"کله چې بني آدم وفات شي، نو د هغۀ عمل ختم شي، بيا هغه نور عمل نۀ شي کولے، دري کسان دي چې د هغوي عمل نۀ ختميږي: (1) يَو «إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ» صدقه جاريه ده، يَو سړي خيرات کړے دے، جومات ئې جوړ کړے دے، لار ئې

(1) [رواه مسلم، رقم: (1631)].

جوړه کړې ده، کوهے ئې کَنستے دے، او خلق د هغې نه اُوبهٔ څکي، مسافر خانه ئې جوړه کړې ده، (2) دويم نبي ﷺ فرمائي: «أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ» يا يَو سړي علم کړے دے، او هغې باندې خلق فائدې اخلي، او دے وفات شوے دي، نو د مرګ نه بعد هم دهٔ ته ثواب رسيږي، دنيا کښې خلقو ته علم ښودلے دے، او خلق پهٔ هغې باندې عمل کوي، نو کهٔ دے مړ شوے دے، د هغې ثواب ورته رسي، (3) دريم نبي ﷺ فرمائي: «أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ» نيک عمله بچے دے، چې د مور او پلار د مرګ نه بعد دعاګانې غواړي، نو ددې ثواب مړي پسې رسي".

نو مسلمانان له پکار دي چې خپل اولاد دين طرف ته او قرآن طرف ته راولي.

دیَو عالم قول

"إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْ جَهَّلَ وَلَدَهُ".[1]

"د قيامت پهٔ ورځ به هغه انسان ته سخت عذاب ميلاويږي چې کوم پلار خپل بچي د دين نه جاهل پريخودے وو" د الله دين او د الله کتاب ئې پرې نهٔ وو زده کړے.

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾.[2]

"اے مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اولاد د جهنم د اُور نه بچ کړئ".

صرف دا خوشحالي نهٔ ده، چې زوې دې اُوشو، اصل خوشحالي دا ده، چې د بچي راتلونکې زندګي جوړه کړه، دا اولاد د الله امانت دے، صبا به درنه الله ددې امانت تپوس کوي. علماء کرام ذکر کوي: "مَا ذَا عَلَّمْتَهُ وَمَا ذَا أَدَّبْتَهُ".[3]

---

[1] [فتاوی رحیمیه].

[2] [سورة التحريم: 6].

[3] [فتاوی رحیمیه].

"قيامت كښې به تپوس كيږي، تا دې خپل بچي ته څۀ ښودلي وو، او څۀ ادب دې وركړے وو؟".

حديث كښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ».[1]

"چې بچے دې د اُوو (7) كالو شي، نو د مونځ حكم ورته اُوكړئ، او چې لَسو (10) كالو ته اُورسي او مونځ نۀ كوي، نو بيا ئې اُووهئ". نبي ﷺ سيدنا معاذ ﷺ ته نصيحت كوي، لَس نصيحتونه ئې ورته كړي دي، پۀ آخر كښې ورته نبي ﷺ وائي: د خپل اولاد نه د ادب امسا مۀ اُوچتوه، ادب ورته وركوه، اسلامي طريقې باندې روان كړه.

نبي ﷺ فرمائي: هر ماشوم چې پيدا كيږي، نو دا پۀ دين اسلام باندې پيدا كيږي، نو مور پلار ئې يا يهودي كړي، يا ئې نصراني كړي، يا ئې مجوسي كړي. دا د مور پلار نقصان دے. كۀ ددې زمانې اولاد خراب دے دا د مور پلار نقصان دے.

نبي ﷺ فرمائي: «أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ».[2]

"هر يَو پۀ تاسو كښې ذمه وار دے، د هر يَو ذمه وار نه به د خپلو كشرانو او رعيت باره كښې تپوس كيږي". نو مسلمانانو له پكار دي چې د خپلو بچو صحيح تربيت اُوكړي. الله دې مونږ له د عمل كولو توفيق راكړي. آمين.

(وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

(1) [رواه أبو داود، رقم: (495)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (7138)، ومسلم، رقم: (1829)، والترمذي، رقم: (1705)، وأبو داود، رقم: (2928)].

بسم الله الرحمن الرحيم

الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ

(سورة آل عمران: 124)

موضوع

قطع تعلق

بمقام: جلسئ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

قطع تعلق

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدَهُ وَرَسُوْلَهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الغَضَبِ».[2]

زما عزتمندو مسلمانانو ورونړو! پدې جُمعه کښې دا خبرې ذکر کوو، چې صله رحمي کټ کول او خپلولې ختمول څومره لويه ګناه ده؟ غم ښادې پرېښودل، خبرې اترې بندول، يو بل سره تعلقات ختمول ددې څومره جرم دے؟ او څومره ګناه ده؟ د مسلمانانو صفت نۀ دے. د مسلمانانو صفت دا دے ﴿أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾.[3]

د مسلمانانو صفت به دا وي، "چې کافرانو باندې به سخت کوې، خو پۀ خپل مينځ کښې به يو بل باندې رحم کوې"، او يو بل باندې به مهربانه وي، يو بل سره به

(1) [سورة آل عمران: 124].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6114)، ومسلم، رقم: (2609)].

(3) [سورة الفتح: 29].

مینه او محبت کوي، د یَو بل سره به اسلامي رورولي ساتي.

نبي ﷺ فرمائي: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ».[1]

"یَو مسلمان د بل مسلمان ورور دے".

د ورور پشان به ورته گوري. قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ﴾.[2]

الله وائي: "مؤمنان رونړه رونړه دي، چې کله ئې مینځ کښې خلاف راغے، نو نورو مسلمانانو له پکار دي چې د هغوي مینځ کښې صُلح اُوکړي". یَو مسلمان به د بل مسلمان خیر طلب کوي، یَو مسلمان به د مسلمان فائده طلب کوي، یَو مسلمان به د بل مسلمان خوشحالي طلب کوي، یَو مسلمان به پهٔ بل مسلمان باندې خفه کیږي، د هغهٔ پهٔ خوشحالئ به خوشحالیږي، او د هغهٔ پهٔ تکلیف به خفه کیږي، دا د مسلمان صفت دے. او کهٔ دا صفت مسلمان کښې نهٔ وي، نو دا کامل مسلمان نهٔ دے.نبي ﷺ فرمائي: «لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ».[3]

"تر هغه وخته پورې یَو سړے کامل مؤمن نشي جوړیدے تر څو پورې چې کوم شے ځان له خوښوي چې هغه شے ئې بل مسلمان له نهٔ وي خوښ کړے". مسلمان به د بل مسلمان خیر خواهي لټوي.

د مسلمانانو صفت

قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ

(1) [رواه البخاري، رقم: (2442، و6951) ومسلم، رقم: (2564، و2570)، والترمذي، رقم: (1426، و1927)، وأبو داود، رقم: (4893)].

(2) [سورة الحجرات: 10].

(3) [رواه البخاري، رقم: (13) والترمذي، رقم: (2515)، والنسائي، رقم: (5016، و5017، و5039)].

﴿وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾.(1)

"دا مؤمنان هغه کسان دي چې دوی مال لګوي د الله په لار کښې په خوشحالۍ کښې او تکلیف کښې دواړو حالاتو کښې مال لګوي" بل صفت ئې دا دے "چې خپله غصه دباووي" خپله غُصه کنټرول کښې راولي، بل مسلمان ته نقصان نۀ رسوي، بل صفت "دے به نورو خلقو ته معافي کوي" یَو سړي ورته نقصان اُورسولو، نو دے به هغه بل مسلمان د الله د رضا دپاره معاف کوي.

د صبر مقام

قرآن کریم کښې الله رب العزت فرمائي: ﴿وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾.(2)

"چا چې صبر اُوکړو په تکلیف باندې او معافي ئې اُوکړه هغه چا ته چې چا ورسره زیاتے کړے وو، دا د ښځو کارونو نه دے" دا ډیر مضبوط کار دے.

نبي ﷺ ته د الله حکم

قرآن کریم کښې الله نبي ﷺ ته حکم کوي: ﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾.(3)

"اے زما پیغمبره ﷺ! خلقو ته معافي کوه" خپل خوې دا اُوګرځوه چې خلقو ته معافي کوه "او خلقو ته د نیکۍ حکم کوه، او مخ واړوه د جاهلانو نه". نو مسلمان به بل مسلمان ته د الله د رضا دپاره معافي کوي.

د ﴿وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ﴾ تفسیر

ددې آیت په تفسیر کښې تفسیر قرطبي لیکلي دي: "وَذَلِكَ مِنْ أَعْظَمِ الْعِبَادَةِ،

(1) [سورة آل عمران: 124].

(2) [سورة الشورى: 43].

(3) [سورة الأعراف: 199].

وَجِهَادِ النَّفْسِ".[1]

مسلمان ته معافي کول او هغه غُصه چې سړي ته راغلې ده هغه کنټرول کښې راوستل دا په ټولو عباداتو کښې لوی عبادت دے. يَو سړے د الله د رضا دپاره معاف کول دا لوی جهاد دے د نفس سره، چې ته خپله غُصه کنټرول کښې راولې، بيا وائي: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ وَلَكِنَّ الشَّدِيدَ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ».[2]

"نبي ﷺ وئيلي دي: چې پهلوان هغه څوک نهٔ دے، چې هغه خلق ډير راغورځوي، بلکه پهلوان هغه څوک دے چې هغه د غُصې پهٔ وخت کښې خپل نفس پهٔ کنټرول کښې راولي". چې ددهٔ د لاس او ژبې نه غلط حرکت اونهٔ شي، دا صحيح پهلوان دے.

د علماؤ اقوال

(1) اول قول: "لَا تَعُدْ نَفْسَكَ مِنَ النَّاسِ مَا دَامَ الْغَضَبُ غَالِبًا عَلَيْكَ".[3]

خپل ځان د خلقو نه شماره چې زهٔ سړے يم، ترڅو چې غُصه پهٔ تا باندې غالبه وي.

(2) دويم قول: "أَوَّلُ الْغَضَبِ جُنُوْنٌ، وَآخِرُهُ نَدَمٌ".[4]

"د غصې اول سر کښې سړے ليونے وي".

کهٔ هر څهٔ ئې لاس ته ورغلل نو ګوزار کوي، او آخر د غصه کښې هغه پښيمانتيا ده، چا ته څهٔ نقصان اُورسوي، يا څوک قتل کړي، او بيا پهٔ شاړه ميره کښې روان شي، نو بيا ورته پته اُولګي چې دا مې څهٔ اُوکړل!!!؟ اوس به څهٔ کوم؟ پهٔ هوش

---

(1) [تفسير القرطبي تحت آية سورة آل عمران: 134].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6114)، ومسلم، رقم: (2609)].

(3) [هداية المرشدين إلى طرق الوعظ والخطابة: 509].

(4) [كشف المشكل من حديث الصحيحين لأبي الفرج ابن الجوزي: 1017/1، و540/3].

کنبې راشي، خو هغه کار ورسره شوے وي. نو د مسلمان سره جنګ کول يا د مسلمان سره خبرې بندول دا د مسلمان شان نۀ دے.

(1) يَو روايت

نبي ﷺ فرمائي: يَو سړے يَو کوټ نۀ تيروې د الله د رضا دپاره چې هغه زيات اجر والا وي، مګر د هغې کوټ نه چې کومه غصه ده خپل ځان باندې تيره کړه.[1]

(2) دويم روايت

نبي ﷺ فرمائي: کله چې د قيامت ورځ شي، «يُنَادِي مُنَادٍ: مَنْ كَانَ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ فَلْيَدْخُلِ الْجَنَّةَ».[2]

"يَو آواز کونکے به آواز اوکړي، چې هغه خلق چې دَ چا اجر پۀ الله باندې دے، نو هغوي دې جنت ته لاړ شي" څوک دې هغه خلق چې د هغوي اجر پۀ الله باندې دے؟ چې دنيا کنبې خالص د الله د رضا دپاره خلقو ته معافي کړې وه، د غه خلق دي پاسي او جنت ته دي لاړ شي.الله به ئې بے حسابه جنت ته بوځي. دا ولې؟ چې تۀ د الله يَو کمزورے بنده ئې، او تۀ دومره کولے شې، چې د الله يَو بنده معاف کولے شې، نو الله تا معاف کولے شي، د يَو سړي نه نقصان اُوشو، او تا معاف کړو، نو الله به تا معاف کړي، نو صله رحمي کټ کول لويه ګناه ده.پکار دې چې مسلمانان صله رحمي پالي.

(3) دريم روايت

نبي ﷺ فرمائي: يَو مسلمان به د بل مسلمان سره څۀ کوي؟ نو نبي ﷺ فرمائي: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا، وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ».

---

(1) [رواه ابن ماجة].

(2) [رواه البهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (7960)].

"يَو مسلمان د بل مسلمان ورور دے، يَو مسلمان به پۀ بل مسلمان باندې ظلم نۀ کوي، يَو مسلمان به بل مسلمان نۀ شرموي، (پرده به وربانديې اچوي) نۀ به بل مسلمان سپکوي او نۀ به ئې بے عزته کوي، او بيا نبي ﷺ درې ځله اوفرمائيل: چې تقوٰی او پرهيزګارې دا د انسان زړۀ کښې ده". ظاهرې خبرو باندې يَو انسان متقي نشي جوړيدے.

بيا نبي ﷺ اوفرمائيل: «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ».

مسلمان کۀ نور ډير ښۀ سړے دے، خو د هغۀ د شر دپاره دا خبره بس دے، چې دے خپل ورور مسلمان سپکوي، او بے عزته کوي ئې، کۀ دے شپه ورځ مونځونه کوي نور اعمال ئې هم برابر دي، ليکن چې دے مسلمان باندې پرده نۀ اچوي، د مسلمان د بے عزتۍ کوشش کوي، نو نبي ﷺ وائي: ددۀ دپاره دغه شر کافي دے. او بيا نبي ﷺ فرمائي: «كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ».[1]

"هر يَو مسلمان پۀ بل مسلمان باندې حرام دے د مسلمان وينۀ تويول پۀ بل مسلمان حرام ده، د مسلمان بے عزتي به نۀ کوي، د مسلمان مال به بغير د هغۀ د اجازت نه نۀ اخلي". رسول الله ﷺ فرمائي: «لاَ يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلاَّ بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ».[2]

"د يَو مسلمان مال تاله جائز نۀ دے مګر پۀ هغه وخت کښې چې هغه خوشحاله وي". د مسلمان مال تاله جائز نۀ دے، د مسلمان بے عزتي تاله جائز نۀ ده، د مسلمان مرګ تا دپاره جائز نۀ دے.

يَو راويت کښې راځي، رسول الله ﷺ فرمائي: «لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ».[3]

---

(1) [رواه مسلم، رقم: (2564)].

(2) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (5105)].

(3) [رواه الترمذي، رقم: (1395)، وابن ماجة، رقم: (2619)].

"د یَو مسلمان مرګ الله ته دومره ګران دے، چې تو له دنیا روانه کړه، الله دومره نهٔ خفه کیږي، څومره چې الله د مسلمان پهٔ مرګ خفه کیږي".

یَو حدیث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: د قیامت پهٔ ورځ باندې الله چې تپوس کوې، نو ړومبے تپوس به الله د وینې باره کښې کوې، چې تا د مسلمان وینه ولې تُوې کړې وه؟ پهٔ شریعت کښې د دریو وجونه د مسلمان مرګ او قتل روا او جائز دے. او د هغې تفصیل د زنا پهٔ بیان کښې تیر شوے دے.

د سیدنا انس ﷺ روایت

سیدنا انس ﷺ وائي: چې نبي ﷺ فرمائي: «لاَ تَقَاطَعُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَلاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَحَاسَدُوا» "یَو بل سره خپلولي مهٔ ختموئ، یَو بل پسې خبرې مهٔ کوئ، د یَو بل سره بُغض مهٔ ساتئ، او د یَو بل سره حسد مهٔ کوئ" او بیا نبي ﷺ فرمائي: «وکُونُوا عِبَادَ اللهِ» "شئ بندګان د الله رونړه رونړه د رونړو پشان زندګي تیروئ".[1]

خو یَوه خبره ده: علماء کرام ذکر کوې: "تَعَاشَرُوْا كَالْإِخْوَانِ، وَتَعَامَلُوْا كَالْأَجَانِبِ".[2]

یَو بل سره چې ژوند تیروئ داسې ژوند تیر کړئ لکه چې دوه رونړه ژوند تیروي، او د یَو بل سره چې لین دین کوئ، یَو بل سره معامله کوئ نو د پردو خلقو پشان معامله کوئ، معامله کوئ نو صفا معامله کوئ. دا بیا ورستو د خفګان سبب جوړیږي، او بعضې سړے وائي: زما او ددهٔ مینځ کښې څهٔ نشته، کهٔ ماله ئې پیسې راکړې، او کهٔ ما ورله پیسې ورکړې، نو د هغوي مینځ کښې بیا ډیرې خبرې راشي.

د نبي ﷺ فرمان مبارک

نبي ﷺ فرمائي: «لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثٍ».[1]

---

(1) [رواه مسلم ، رقم: (2563)، والترمذي، رقم: (1935)].

(2) [جديد مسائل کا حل: 342].

"د يَو مسلمان دپاره دا جائز نهٔ دي، چې هغه د خپل ورور مسلمان سره د دريو (3) ورځو نه سيوا خبرې بندې کړي".

نَن د مسلمانانو حالت اوګوره، وائي: دهٔ سره زما نهٔ لګي. چې ورته اووائي: جومات ته ولې نهٔ راځې؟ وائي: يره جومات ته درځم، خو دا فلانکے مې پهٔ سترګو ډير بد لګي، نو دهٔ سره صف کښې مونځ نهٔ کيږي، نو ځکه جومات ته نهٔ درځم، خوا کښې به ئې ورسره زمکه وي، هغې زمکې ته ځي، خوا کښې به ئې ورسره کور وي، هغې کور ته به ځي، چې غم اوښې حجره کښې ورسره يَوځائے ناست وي، خو اصل کښې دښمنې ئې د الله د کور سره ده. او کله وائي: چې دا صف کښې کوم خلق ولاړ دے، نو دوي سره صف کښې مونځ نهٔ کيږي، نو تهٔ داسې پاکه فرشته ئې، تاله د آسمان نه فرشتې راکوزول غواړې، چې هغوي سره صف کښې اودريږي، ستا د مسلمان سره صف کښې مونځ نهٔ کيږي، تهٔ خپل مونځ کوې، او بل مسلمان خپل مونځ کوي، نو ستا د بل مسلمان سره څنګه پهٔ صف کښې مونځ نهٔ کيږي؟

دا ئې اصل کښې د جومات سره دښمني او بُغض حسد پيدا شوے دے. ډير خلق داسې دي، چې د هغوي پهٔ زمکو د يَو بل سره دښمنې ده، نو هغوي هغه خپله دښمني جومات له راوړي، وائي: يره د فلانکي سره مې نهٔ لګي، دا ئې د جومات سره نهٔ لګي، دا د شيطان هغه وسوسه ده.

د يَو مسلمان سره د دريُو (3) ورځو نه سيوا خبرې بندول حرام دي. ډير مسلمانان داسې دي چې هغوي مونځونه کوي، هغوي روژې نيسي، هغوي تلاوتونه کوي، هغوي عبادتونه کوي، تردې پورې چې د شپې تهجد هم کوي، ځومره مئين دي،

(1) [رواه البخاري، رقم: (6073، و6237)، ومسلم، رقم: (2560)، والترمذي، رقم: (1932) ،وأبو داود، رقم: (4914)].

د الله په دين باندې؟ ليکن بل طرف ته د هغه د يَو مسلمان سره نالکي ده، ددۀ دا مونځ د الله دربار کښې قبول نۀ دے، ددۀ دا مونځ آسمان ته نۀ خيژي، روژه ئې نۀ قبليږي، او چې ورته اووائي: چې روغه اُوکړه، نو ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ﴾.[1]

"چې کله ورته اووئيلے شي دۀ ته چې د الله نه اويريږه، نو د ګناه په کولو غيرت کښې راشي" چې زۀ به اوس ددۀ سره روغه کوم، دۀ خو ما سره ډير ظلمونه کړي دي، دا د جاهليت غيرت دے دا د ايمان غيرت نۀ دے.

مسلمان ته خو اُووايه، چې ستا پدې کار کښې خير دے، نو هغه وائي: چې زما کوم کار کښې خير دے، زۀ به هم هغه کار کوم، خلاف شرع باندې مسلمان غيرت نۀ کوي.

د صحابو تاريخ چې سرے اُوګوري، څومره کارونه هغوي د الله د رضا دپاره کړي دي، او تۀ صرف دا نۀ شې کولے چې د يَو مسلمان سره د الله د رضا دپاره روغه اُوکړې.

د سيدنا ابو ايوب انصاري ﷺ روايت

ددۀ نه روايت دے، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ: فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ».[2]

"نبي ﷺ فرمائي: د مسلمان دپاره دا جائز نۀ دي، چې د بل مسلمان سره د دريُو (3) نه زياتې خبرې بندې کړي، او چې يَو بل سره ميلاؤ شي، نو يَو يوخوا مخ واړوي او بل بل خوا مخ واړوي". نبي ﷺ فرمائي: دا د مسلمان د شان سره مناسب نۀ دي.

نبي ﷺ ددې علاج ښائي

پدې دواړو کښې غوره انسان هغه دے چې هغه په سلام کښې مخکښې شو، او د مسلمان ورور سره ئې خبرې شروع کړې، دا بهترين انسان دے.

---

(1) [سورة البقرة: 206].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6077)].

د سيدنا ابو هريره ﷺ روايت

سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائي: «لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ، فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ».[1]

"يو مسلمان دپاره جائز نهٔ دي، چې دے د خپل وروړ مسلمان سره د دريو (3) ورځو نه زياتې خبرې بندې کړي"، او کهٔ خبرې ئې بندې کړې نو سزا ئې څهٔ ده؟ نو نبي ﷺ فرمائي: چا چې د خپل وروړ مسلمان سره د دريُو ورځو نه سيوا خبرې بندې کړې، او کله دا سړے مړهٔ شو نو دا سړے به جهنم ته ځي.

څومره لويه ګناه ده، زمونږ د خلقو جهنم خوښ دے، خو د مسلمان سره ئې روغه نهٔ ده خوښه، د يَو بل سره ئې نزدې والے نهٔ دے خوښ. دا خو هسې مونږ وايُو: چې زمونږ اجر او ثواب پکار دے، چې کومو کارونو کښې اجر او ثواب دے، هغه مونږ شاته غورځولي دي.

د نبي ﷺ فرمان مبارک

نبي ﷺ فرمائي: «لَا يَكُونُ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ مُسْلِمًا فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ» "جائز نهٔ دي د يَو مسلمان دپاره چې د بل مسلمان سره د دريُو ورځو نه زياتې خبرې بندې کړي"، «فَإِذَا لَقِيَهُ سَلَّمَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ» "پس کله چې د يَو مسلمان سره مخامخ شوې او تهٔ دا وائې: چې زهٔ خپل رب رضا کوم نو درې کرتې ورباندې سلام واچوه" ورته وايه: "السلام عليکم" کچرته هغهٔ درله جواب درکړو، نو ډيره ښه خبره ده، او کهٔ جواب ئې درنهٔ کړو، نو بيا ورته اووايه: "السلام عليکم" کهٔ جواب ئې درکړو، نو ډيره ښه خبره ده، او کهٔ جواب ئې درنهٔ کړو، نو بيا ورته اووايه: "السلام عليکم" کهٔ جواب

(1) [رواه ابو داود، رقم: (4914)].

ني پۀ دريم ځل هم درنۀ کړو، نو ستا غاړه خلاصه شوه، او ټوله ګناه پۀ هغۀ باندې ده. بيا نبي ﷺ فرمائي: «فَقَدْ بَاءَ بِإِثْمِهِ» "تحقيق سره ټوله ګناه هغۀ باندې ده".[1]

بيا تۀ د ګناه نه پاک ئې. کۀ تۀ د ګناه نه ځان بچ کوې، نو آسانه طريقه دا ده، يَو سړے تا سره خبرې نۀ کوې، او ستا زړۀ غواړې چې دا خو ډيره زياته ګناه ده، نو دا طريقه ورسره اُوکړه: چې ورشه، سلام ورباندې واچوه، درې ځله ورباندې سلام واچوه، کۀ جواب ئې درکړو، نو روغه اُوشوه، او کۀ جواب ميلاؤ نۀ شو، نو ستا غاړه خلاصه شوه، او ټوله ګناه پۀ هغۀ باندې ده، او کۀ دا کار نۀ شې کولے شرميږې چې زۀ به ورځم او پۀ هغۀ به سلام اچوم. نو داسې خو کولے شې، چې کله يَو دوه مسلمانان راپاسې، او هغوي درته وائي: چې مونږ درله روغه کوو، نو بيا ولې روغه نۀ کوې؟ اصل کښې مونږ باندې د جاهليت هغه غيرت غالب شوے دے، او د الله دين او د نبي ﷺ خبره مونږ شاته غورځولې ده، مونږ هغه خبرې منو چې پۀ کومو خبرو زمونږ زړۀ خوشحاليږي. پۀ کومو خبرو چې مونږ له تکليف ميلاويږي هغه خبرې مونږ نۀ منو. نو د يَو مسلمان د بل مسلمان سره خبرې بندول، دا لويه ګناه ده.

د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما روايت

سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما وائي: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «لاَ تَحِلُّ الْهِجْرَةُ فَوْقَ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ فَإِنِ الْتَقَيَا فَسَلَّمَ أَحَدُهُمَا عَلَى الآخَرِ فَرَدَّ عَلَيْهِ الآخَرُ السَّلاَمَ اشْتَرَكَا فِي الأَجْرِ وَإِنْ أَبَى الآخَرُ أَنْ يَرُدَّ السَّلاَمَ بَرِئَ هَذَا مِنَ الإِثْمِ وَبَاءَ بِهِ الآخَرُ - وَأَحْسِبُهُ قَالَ - وَإِنْ مَاتَا وَهُمَا مُتَهَاجِرَانِ لاَ يَجْتَمِعَانِ فِي الْجَنَّةِ».

"نبي ﷺ فرمائي: يَو مسلمان دپاره د بل مسلمان سره د درېو (3) ورځو نه زياتي

---

(1) [رواه أبو داود، رقم: (4913)].

خبرې بندول جائز نهٔ دي، کچرې دواړه ميلاؤ شول، يَو سلام اُوکړو، او بل جواب ورکړو، دواړه پهٔ اجر کښې برابر دي، او کهٔ چرته يَو سلام اُوکړو، او بل ورته جواب ورنهٔ کړو، نو دا يَو د ګناه نه بچ دے، او دا بل ګناهګار دے، او کهٔ چرې دا دواړه د دنيا نه پدې حالت کښې لاړل چې دواړو د يَو بل سره خبرې نهٔ کولې، د دواړو پهٔ زړونو کښې د يَو بل سره بغض او حسد وو"، نو نبي ﷺ فرمائي: «وَإِنْ مَاتَا وَهُمَا مُتَهَاجِرَانِ لاَ يَجْتَمِعَانِ فِي الْجَنَّةِ».[1]

"او کهٔ دا دواړه مړهٔ شول او يَو بل سره ئې خبرې نهٔ کولې دا دواړه به الله يَو بل سره جنت کښې نهٔ يَوځائے کوي".

د سيدنا ابو خِراش ﷺ روايت

دوي وائي: چې ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي، چې نبي ﷺ فرمائيل: «مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ».[2]

"کوم مسلمان چې د بل مسلمان سره يَو کال خبرې بندې کړې، دومره عظيمه ګناه ئې اُوکړه لکه چې هغهٔ دا مسلمان قتل کړو". مخکښې ما وئيلي وو: چې ددنيا خرابول الله ته خوښ دي، خو د مسلمان وژل الله نهٔ شي برداشت کولے.

د نبي ﷺ صحابو کرامو ته بيان

نبي ﷺ صحابه کرامو ته بيان کولو، وائي: پدې محفل کښې چې د کوم مسلمان د بل مسلمان سره نا لګې ده، نو هغوي دي زمونږ ددې محفل نه پاسي؛ ځکه د هغهٔ د وجې نه مونږ باندې رحمت نهٔ راوريږي، کله کله د يَو ګناه د وجې نه پهٔ نورو باندې هم عذاب راځي. (مشوره واقعه د موسى ﷺ د زمانې د چغل خور، هغه به انشاء الله د چغلۍ پهٔ بيان کښې راشي).

(1) [رواه الحاكم في "المستدرك"، رقم: (7291)، والطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (8930)].

(2) [رواه أبو داود ،رقم: (4915)].

نو نبي ﷺ اوفرمائيل: چې د چا بل مسلمان سره نالګې ده، نو هغه دې زمونږ د محفل نه پاسي، يَو هلک پاسيدو، او هغه لاړو، او د هغهٔ يَو ماسي وه، چې د هغې سره ئې نالګي وه، د هغې سره ئې روغه اُوکړه، هغه هلک لاړو، او د هغې نه ئې معافي اُوغوښته، چې ما معاف کړه، هغه ماسي ورته وائي: دا ولې؟ تهٔ څنګه پخپله راغلې؟ هغه هلک ورته وائي: ما د نبي ﷺ نه واوريدل چې کومو خلقو کښې چې هغه سړے ناست وي چې د نورو مسلمانانو سره ئې نالګې ده، نو د الله رحمت پرې نهٔ راوريږي، نو زهٔ ددې وجې نه راغلم، ما سره روغه اُوکړه.[1]

نن کهٔ مونږ باندې د الله رحمتونه بند دي، نو د هغوي وجه دا ده، چې مونږ د الله حکم منلو ته تيار نهٔ يُو، هر سړے د بل سړي نه خفه دے، او پريشانه دے. د يَو کاونډي نه تپوس اُوکړه، نو د بل کاونډي نه اُور کښې ولاړ دے.

د سيدنا جابر ﷺ روايت

سيدنا جابر ﷺ فرمائي: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ».[2]

"سيدنا جابر ﷺ فرمائي: ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي، چې فرمائيل ئې: چې شيطان ددې خبرې نه نا اُميده شوے دے چې خلق د شيطان عبادت اُوکړي، اوس څوک د شيطان عبادت نهٔ کوي هر سړے پهٔ شيطان لعنت وائي، ليکن شيطان دا خبره غواړي چې د دوو مسلمانانو پهٔ مينځ کښې نالګې او ورانه راولي" دا د شيطان کار دے، نو د شيطان دا کارونه پرينبودل غواړي، او د الله حکم منل غواړي دا دمؤمن صفت دے.

---

(1) [الترغيب والترهيب].

(2) [رواه مسلم، رقم: (2812)].

د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت

سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائي: «تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ، يَوْمَ الاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ، إِلاَّ عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيُقَالُ: اتْرُكُوا، أَوِ ارْكُوا، هَذَيْنِ حَتَّى يَفِيئَا».[1]

"هفته کښې دوه ورځ الله اعمال آسمان ته اوچتوې، يَو د کُل په ورځ باندې او يَو د زيات په ورځ باندې، پدې ورځې باندې الله هر مسلمان معاف کوې، ليکن مشرک نهٔ معاف کوې، کوم سړې چې د الله سره شريک پيدا کړے دے، هغه انسان الله نهٔ معاف کوې، او بل هغه سړے نهٔ معاف کوې، چې د هغهٔ د بل مسلمان سره نالکې ده، د هغهٔ اعمال الله بره نهٔ خيژوې، الله ملائکو ته وائي: چې اے زما ملائکو! ددې دواړو بندګانو اعمال ماته مهٔ راوړئ، ترڅو پورې چې دې دواړو د يَو بل سره روغه نهٔ ده کړې".

بل روايت کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: د جنت دروازې کهولاؤ کړے شې، د کُل په ورځ او د زيارت په ورځ باندې، هر يَو مسلمان ته الله بخنه کوې، چې هغهٔ د الله سره شريک پيدا کړے دے، او بل هغه انسان ته بخنه نهٔ کوې، خو هغې انسان ته بخښنه نهٔ کوې چې د هغهٔ د بل مسلمان سره نالکې وي، او د بل مسلمان سره خبرې نهٔ کوې، او الله ملائکو ته وائي، زما ملائکو ددې بندګانو اعمال به تر هغې وخته پورې نهٔ اوچتوئ ترڅو پورې چې دوې د يَو بل سره روغه نهٔ ده کړې. درې ځله ورته وائي، څومره لويه ګناه ده، د يَو مسلمان د بل مسلمان سره خبرې بندول.[2]

د درېو کسان باره کښې د نبي ﷺ فرمان

نبي ﷺ فرمائي: «ثَلاَثٌ مَنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ وَاحِدَةٌ مِنْهُنَّ فَإِنَّ اللهَ يَغْفِرُ لَهُ مَا سِوَى

---

(1) [رواه مسلم، رقم: (2565)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (2565/36)].

ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ» "درې څیزونه دي، چې چا کښې دا درې (3) کارونه نۀ وي، ددې نه ما سیوا کۀ هر څومره ګناهګار دے، الله به ئې معاف کړي". دا درې (3) کارونه کوم دي؟ نبي ﷺ فرمائي:

(1) «مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا» "کوم انسان چې مړۀ شو، الله سره ئې شریک نۀ وي پیدا کړے" نو الله به ئې معاف کړي؛ ځکه شرک لویه ګناه ده، الله فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ﴾.[1]

"یقینًا الله بخښنه نۀ کوي چې شرک اُوکړے شي د الله سره" او د شرک نه ماسیوا نور ګناهونه معاف کوي، خو شرک نۀ معاف کوي.

شرک څۀ ته وائي؟ د الله سره پۀ ذات یا صفاتو کښې بل څوک شریک کول، دیته شرک وائي، لکه عیسایان وائي: عیسی ﷺ اِبنُ الله دے، څوک وائي: عیسی ﷺ بخپله الله دے، څوک وائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ﴾.[2] خدایان درې دي، دیته پۀ ذات کښې شریک وائي، یا پۀ صفاتو کښې شریک پیدا کول، مثال پۀ طور د الله صفت دے "السَّمِيعُ"، "بغیر د ظاهرې اسبابو نه اوریدونکے" صرف یَو الله دے، اوس یَو سړے دا صفت یَو مړي له ورکړي، چې دے هم بغیر د ظاهرې اسبابو نه هر څۀ اوري، نو دا د الله صفت وو، او تا یَو بنده له ورکړو، نو دا شرک دے، کۀ د یَو سړي پۀ زړۀ کښې د اُورې د داني هومره شرک وي، نو دا سړے الله نۀ معاف کوي.

(2) دویم «وَلَمْ يَكُنْ سَاحِرًا يَتَّبِعُ السَّحَرَةَ» "ساحر الله نۀ معاف کوي، ساحرانو پسې ګرځې کوډې منترې کوي" دا سړے الله نۀ معاف کوي.

(1) [سورة النساء: 116].

(2) [سورة المائدة: 73].

(3) دريم «وَلَمْ يَحْقِدْ عَلَى أَخِيهِ» "کوم انسان چې مسلمان بنده نه د هغهٔ حق حصار کړے دے یا د هغهٔ سره ئې بُغض او حسد دے، د هغهٔ سره ئې نالګې ده"، دا درې (3) کسان الله نهٔ معاف کوي، نور هر يَو مسلمان کيدے شي چې الله ئې معاف کړي.[1]

نو هغه مسلمانان الله نهٔ معاف کوې چې د کومو مسلمانانو خپل مينځ کښې نالګي ده.

د دريُو کسانو اعمال بره نهٔ خيژي

رسول الله ﷺ فرمائي: «ثَلَاثَةٌ لَا تُرْفَعُ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُؤُوسِهِمْ شِبْرًا» "درې کسان دې چې د هغوي مونځونه د هغوي د سرونو نه يَو ليشت هم نهٔ بره کيږي":

(1) نبي ﷺ فرمائي: «رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ» "يَو هغه سړے دے چې هغه د قوم مشرت کوې، د قوم امامتې کوې او قوم ترې ناراض دے، قوم ترې خفه دے، او دے امامتې کوې" د داسې انسان عمل د هغهٔ د سر نه يَو ليشت نهٔ اوچتيږي.

(2) دويم نبي ﷺ فرمائي: «وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ» "هغه زنانه چې د هغې خاوند د هغې نه خفه دے، او هغهٔ شپه تيره کړه" دا زنانه خومره ورځې چې خاوند ترې خفه دے، ددې زنانه عمل ددې د سر نه يَو ليشت نهٔ اوچتيږي.

او نبي ﷺ فرمائي: کومه زنانه چې بغير د خاوند د اجازت نه د کور نه اُووتله تر هغې وخته پورې پدې زنانه لعنت وريږي، ترڅو چې واپس کور ته نهٔ ده راغلې.

(3) دريم نبي السلام فرمائي: «وَأَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ» "هغه دوه مسلمانان رونړه چې د هغوي د يَو بل سره نالګې ده"، ترڅو پورې چې هغوي د يَو بل سره روغه نهٔ ده کړې تر هغې پورې ددې دواړو اعمال د دوي د سَر نه يَو ليشت بره نهٔ اوچتيږي.[2]

---

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الكبير"، رقم: (13004)].

(2) [رواه ابن ماجة، رقم: (971)].

دا درې واړه کسان دي په خپلو اعمالو باندې ویریږي. اوس بله خبره یَو سړے وائي: چې ما به د فلانکي سړي سره روغه کړې وه، خو دا ښهٔ سړے نهٔ دے، ددهٔ عمل ښهٔ نهٔ دے، کهٔ زهٔ ورسره روغه اُوکړم بلَه ورځ به بیا ما سره پهٔ جنګ وي. ددې آسان علاج دے، یَو سړے بد عمله دے، بد اخلاقه دے، نو ځان ترې ساته، خو خبرې ورسره مهٔ بندوه، سلام کلام ورسره مهٔ بندوه، د هغهٔ سره نُور دنیاوې لَین دَین مهٔ کوه، صرف خبرې ورسره کوه.

د انسان پهٔ بدن کښې دا سَر ډیر قیمتي دے، چې غیرتي انسان وي، نو هغه خپل سَر چا ته نهٔ ښکته کوې، خو د الله پهٔ دربار کښې انسان دا خپل سَر پهٔ زمکه باندې ږدې، او د الله د رضا دپاره خپل سَر پهٔ خاورو کښې ږدې، خپلې کپړې د خاورو نه بچ کوې، لیکن چې کله د الله حکم دے، نو دے دا خپل تندے او سَر پهٔ زمکه باندې ږدې، چې زما نه الله رضا شي، نو چې د الله دپاره دومره ځان عاجز کولے شي، نو صرف مونځ کښې نه، پهٔ هر څهٔ کښې دومره عاجزي اُوکړه. نو د بل مسلمان سره روغه اُوکړه، صرف پدې بُنیاد چې زما نه الله رضا شي، کهٔ څوک را پورې خاندې، کهٔ هر څهٔ کوې، خو چې زما نه الله خوشحاله شي. نو د مسلمان سره خبرې بندول دا لویه ګناه ده.پکار دا ده چې مونږ ددې ګناه نه ځان بچ کړو. الله دې مونږ له د عمل کولو توفیق را کړي. آمین.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

زين للناس حب الشهوات من النساء والبنين والقناطير المقنطرة من الذهب والفضة والخيل المسومة والانعام والحرث...الخ

(سورة آل عمران: 14)

موضوع

دَ صحابه كرامو حالات

بتاريخ: 2007-07-07

بمقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د صحابه كرامو حالات

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآبِ﴾. [1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهٗ وَمَالُ مَنْ لَا مَالَ لَهٗ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهٗ». [2] أو كما قال عليه السلام.

عزت مندو مسلمانانو ورونړو! مخکښې د صحابه كرامو حالات بيان شوي وو، چې صحابه كرامو ﷡ د الله رب العزت د دين دپاره څنګه قربانۍ پيش کړې وې، دا رنګه جناب رسول الله ﷺ د الله د دين دپاره څنګه قرباني پيش کړې وه. د الله رب العزت دين اهم ترين دے. او الله رب العزت ته ډير زيات خوښ دے؛ ځکه ددې دين نه الله رب العزت انبياء كرام عليهم السلام قربان کړي دي، صحابه كرام ﷡ ئې قربان کړي دي. مونږ او تاسو چې الله رب العزت دې دنيا ته راليږلي يُو صرف د

(1) [سورة آل عمران: 14].

(2) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (24419)، والبيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (10153، و 10154)].

ځناورو پشان زندګۍ تېرولو له ئې نۀ يُو راليږلې، صرف د خپلو خواهشاتو پوره کولو دپاره ئې نۀ يُو راليږلې.

زمونږ او ستاسو د پيدائش مقصد

مونږ ته الله رب العزت زمونږ د پيدائش مقصد ښودلے دے، چې الله وائي: ما دا مخلوقات خپل عبادت دپاره پيدا کړې دي، قرآن کريم کښې الله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾.[1]

"ما نۀ دي پيدا کړې پيريان او انسانان مګر ددې دپاره چې زما عبادت اُوکړې"، ددې وجې نه د هغه انسان د الله پۀ دربار کښې لوې مقام دے، چې هغه د الله عبادت کونکے وي، اګر کۀ مال ورسره نشته، اګر کۀ جائيداد ئې نشته، اګر کۀ پۀ هر حيثيت سره کمزورے دے، خو چې د خپل رب تابعدار دے، د هغې انسان د الله پۀ دربار کښې لوې مقام دے. هغه انسان چې د دُنيادارو خلقو پۀ نزد لوې سرمايه دار دے، د دُنيا دارو خلقو پۀ نزد يَو لوې انسان دے، مالدار دے، ليکن چې د خپل حقيقي رب تابعدار نۀ دے، نو د هغې انسان د خپل رب پۀ دربار کښې هيڅ حيثيت نشته؛ ځکه الله له مال نۀ دے پکار، الله له دولت نۀ دے پکار، نۀ الله له لښکرې او طاقت پکار دے، بلکه د الله بندګي او د الله رضا کول پکار دي. دغه وجه ده، چې د صحابه کرامو ﷺ نُوم مونږ او تاسو اَورو او د هغوي تذکره کوو، نو د هغوي د نُوم سره "رضي الله تعالى عنه" وايُو، وجه څۀ ده؟ مال خو ورسره کم وو، دولت ورسره کم وو، د سادګۍ زمانه وه، ليکن نن مونږ او تاسو ته الله وائي: کۀ تاسو د صحابه کرامو پشان ايمان راوړو، نو تاسو به پۀ هدايت باندې يئ.

د دُنيا پۀ حيثيت او د دُنيا دارو خلقو پۀ نظر کښې مونږ او تاسو اَورو، چې ځوا

---

[1] [سورة الذريات: 56].

سادګي وه، پخوا خلق نهٔ پوهېدل جهالت وو، دا اوسنۍ زمانه بهتره ده؛ ځکه چې پخوا خلقو سره مال او دولت نهٔ وو، پيسې نهٔ وې، کپړې نهٔ وې، کورونه نهٔ وو، بجلي نهٔ وه، خلقو پهٔ جهالت کښې وخت تېر کړے وو، خلق دغسې خبرې کوي، خو کهٔ يَو سړے دا وائي: چې صحابه کرامو پهٔ جهالت کښې وخت تېر کړے دے، هغه وخت ښهٔ نهٔ وو، اُوسنے وخت بهتر دے، او د صحابه کرامو وخت نهٔ وو ښهٔ، نو دا سړے مؤمن نهٔ شي پاتې کيدے.

اصل ترقي د ايمان

اصل ترقي د ايمان ده، د صحابه کرامو ايمان چې څنګه وو، د صحابه کرامو ايمان زمونږ دپاره يَو معيار دے، او انسان ته پدې قوت او طاقت ميلاويږي، چې د صحابه کرامو پشان ايمان راوړې، د هغوي نه ورستو ورځ پهٔ ورځ پهٔ ايمان کښې ضُعف او کمزورتيا راځي، د صحابه کرامو حالت چې سړے اُوګورې نو د هغوي مالي حيثيت کمزورے وو، نور قوت او طاقت ئې نهٔ وو، ليکن د الله دربار کښې د هغوي لوئے مقام وو.

د الله رب العزت اعلان

الله رب العزت د صحابه کرامو ﷺ باره کښې اعلان کوي ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾.[1]

"پهٔ تحقيق سره راضي دے الله د مؤمنانو نه هغه مؤمنان چې کله ئې تا سره د اونې د لاندې بيعت کولو". نو الله د هغوي نه خوشحاله دے، کله الله رب العزت وائي: ﴿وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ﴾.[2]

(1) [سورة الفتح: 18].

(2) [سورة آل عمران: 152].

"په تحقیق سره معافي کړې ده الله تاسو ته"، کله الله وائي: ﴿أُولَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ﴾.[1]
"دغه کسان په سمه لار روان دي".

د صحابه کرامو ﷺ ایمان زمونږ د ایمان د پاره معیار

الله رب العزت د صحابو ایمان زمونږ د ایمان دپاره معیار کرځولے دے، الله رب العزت فرمائي: ﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ﴾.[2]

"که دې خلقو داسې ایمان راوړو لکه څنګه ایمان چې تاسو راوړے دے، نو دا خلق به په هدایت باندې وي، او که د صحابو پشان ایمان نه وي نو بیا دوي د هدایت والا نه دي".

صحابه کرامو ﷺ نه الله ولې راضي دے؟

اصل وجه دا ده، چې هغوي د کوم څیز دپاره چې پیدا وو، د څه دپاره چې دنیا ته راغلي وو، نو په هغې ئې پوره پوره عمل کړے وو، چې هغه د الله دین وو، د دُنیا په اعتبار خو هغوي کمزورې وو، د نبي ﷺ حالت اُوګوره چې د تمامو انبیاء کرامو علیهم السلام سردار دے، لیکن د نبي ﷺ حال حدیث کښې راځي.

د سیدنا نعمان بن بشیر ﷺ روایت

هغوي وائي: «لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ ﷺ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ، مَا يَمْلأُ بِهِ بَطْنَهُ».[3]

"ما نبي ﷺ لیدلے وو، چې د نبي ﷺ خیټه چرته په ردې کجورو هم نه وه مړه شوې" دُنیا خو ئې دا حالت وو، چې په کجورو چرته هم نه دے موړ شوے، غنم خو لرې خبره وه، بل شے خو لرې خبره وه، چې هغې ملک کښې کجورې ډیرې وې، هغه هم د الله پیغمبر ﷺ په مړه خیټه نه دې خوړلې.

---

(1) [سورة الحجرات: 7].

(2) [سورة البقرة: 137].

(3) [رواه مسلم، رقم: (2977)، والترمذي، رقم: (2372)].

د سيدنا نعمان بن بشير ﷺ بل روايت

سيدنا نعمان بن بشير ﷺ فرمائي: «أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ؟»[1]

"اے ملکرو! آيا تاسو داسې دور کښې نۀ يئ چې خوراک ډير دے، څښاک ډير دے، ما ستاسو پيغمبر محمد صلى الله عليه ليدلے وو، چې د هغۀ خيټۀ چرته پۀ کجورو هم نۀ وه مړه شوې".

د سيدنا عمر ﷺ قول

سيدنا عمر ﷺ فرمائي: نبي ﷺ چې وو «القد رَأَيْت رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يظل الْيَوْم يلتوي مَا يجد من الدقل مَا يملأ بَطْنه».[2]

ټوله ورځ به کرځيدو دا به ورته هم نۀ ميلاويدل چې خپله خيټه ئې پۀ ردي کجورو باندې ډکه کړے وے، دومره سخت حالات وو، ليکن څومره د اوچت شان والا پيغمبر دے!.

د سيده عائشې ﷺ روايت

سيده عائشه ﷺ فرمائي: مونږ ته يَو ځل د سيدنا ابوبکر صديق ﷺ د کور د طرف نه د يَو چيلۍ خپې راغلې، چې دا ځان له پخې کړۍ، شپه وه، نبي ﷺ نيولې وې، او ما کټ کولې، يا ما نيولې وې، او نبي ﷺ کټ کولې، شپه وه نو ښکاريدې نۀ، چا ورته اووئيل: ډيوه درکره نۀ وه، چې رڼړا مو کړے وے، سيده عائشه ﷺ فرمائي: چې مونږ کره ډيوه نۀ وه، او کۀ چرته مونږ کره دومره تيل وے چې مونږ پرې ډيوه بلولے، نو بيا به مونږ هغه خوړلے وے، (ځکه هغه وخت کښې د خاورو تيل نۀ وو، د زيتون تيل به ئې بلول) نو هغې سره به مونږ دوډۍ خوړلې وه.

---

(1) [رواه مسلم، رقم: (2977)، والترمذي، رقم: (2372)].

(2) [رواه المنذري في " الترغيب والترهيب "، رقم: (4959)].

بل روايت

حديث کښې راځي، نبي ﷺ به د سرکې سره ډوډۍ خوړله، د انګورو نه به ئې سرکه جوړه کړه، او هغې سره به ئې ډوډۍ خوړه. او نبي ﷺ به وئيل: چې سرکه څۀ بهترينه ترکاري ده.(1)

نو بهترينه څکه وه چې نور څۀ وو نۀ. داسې حالات وو، د نبي ﷺ او د هغۀ د بيبيانو. حالانکه هغه خو داسې پيغمبر وو، چې کۀ هغۀ وئيلے وے، چې الله ما له دا د صفا او مروه دا غرونه د سَرُوزرو او سپنوزرو جوړ کړه، نو الله به ورله جوړ کړي وے؛ څکه هغه خو مستجاب الدعوات وو.

د نبي ﷺ دعا

نبي ﷺ به دعا کوله: «قَالَ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ».(2)

"يا الله! ما له ژوند د مسکينۍ د حالت راکړه، او مرګ راله هم د مسکينۍ او غريبۍ پۀ حالت کښې راوله، او چې قيامت کښې مې پاسے نو هم د غريبانانو خلقو پۀ ډله کښې مې پاسوه". آؤ دا څکه چې نبي ﷺ وئيلې وو: غريبانان خلق به مالدارانو نه پنځۀ سوه (500) کاله مخکښې جنت ته ځي، نيمه ورځ به مخکښې ځي، چې د هغې نيمې ورځې اندازه پنځۀ سوه (500) کاله عمر دے.

نبي ﷺ فرمائي: دوه څيزونه دي، چې بني آدم هغه نۀ خوښوي:

(1) قلت د مال (کم والے د مال)، بني آدم پۀ لږ مال نۀ خوشحاليږي، چې

---

(1) [رواه مسلم، رقم: (2051، و2052)، والترمذي، رقم: (1839، و1840)، وأبو داود، رقم: (3820، و3821)، وابن ماجة، رقم: (3316، و3317، و3318)].

(2) [رواه الترمذي، رقم: (2352)، وابن ماجة، رقم: (4126)].

څومره ډير وي، نو وائي: دا به ښۀ وي.

د دې وجې نه يَو حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: کچرته د بني آدم دپاره دوه کندې د مال نه ډکې شي، نو دے د دريمې کندې طلب کوي، چې بله کنده د مال ډکه شي، نو دے به د څلورمې کندې پۀ طلب کښې کرځي، خو مرېږي نۀ، نۀ ډکوي خيټه د بني آدم مګر پۀ خاورو باندې، د قبر خاورو نه ماسيوا د بني آدم خيټه پۀ بل څۀ نۀ ډکيږي.[1]

(2) دويم نبي ﷺ فرمائي: چې بني آدم مرګ نۀ خوښوي. نبي ﷺ فرمائي: مرګ د مؤمن دپاره د فتنې نه بهتر دے.[2]

کۀ مړ شوې او ګناه درنه نۀ ده شوې، يا ګناه شوې ده، او توبه دې ايستې ده، نو الله به جنت درکوي، او پۀ هغې ژوند به څۀ اُوکړې چې ژوند دې ډير دے، خو ټول عمر دې د الله مخالفت کښې تير کړو، نو قيامت کښې به تاسره د يَو يَو منټ حساب کتاب کيږي. نو دا دوه څيزونه بني آدم نۀ خوښوي خو دا دواړه ښۀ دي، مرګ د فتنې نه ښۀ دے، او کم مال د کم حساب دپاره ښۀ دے.

د سيدنا ابو هريره ﷺ روايت

سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: زۀ د نبي ﷺ خوا ته لاړم، او نبي ﷺ پۀ ناسته باندې مونځ کولو، ما ورته اووئيل: څۀ وجه ده، تۀ خو پۀ ناسته باندې مونځ کوې، څۀ تکليف درته درسيدلے دے؟ وائي: نبي ﷺ اوفرمائيل: «اَلْجُوْعُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ» "اے ابو هريره! ډير زيات اُوږے شوے يم"، د لوږې د وجې نه نۀ شم اُودريدے، ابو هريره ﷺ

(1) [رواه البخاري، رقم: (6436)، والترمذي، رقم: (2337)].

(2) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (23625)].

وائي: «فَبَكَيْتُ» "نو ما أوژړل" چې امام الانبياء ﷺ د الله دوست دے، دے دومره اوږے دے، چې اودریدے هم نشي، وائي: ماته وائي: «لَا تَبْكِ» "مه ژاړه"، «فَإِنَّ شِدَّةَ الْحِسَابِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا تُصِيبُ الْجَائِعَ إِذَا احْتَسَبَ فِي دَارِ الدُّنْيَا» "ځکه سخت حساب د قيامت په ورځ د هغې سړي سره نهٔ شي کيدے چې کوم انسان له دنيا کښې لوږه رسيدلې ده" دُنيا کښې هغه سره حساب شوے دے، دُنيا کښې ورته هر شے په حساب ميلاؤ شوے دے، آخرت کښې به د هغهٔ سره حساب نهٔ کيږي، څومره چې يَو انسان نيک وي، دومره به هغهٔ کره غريبي سيوا کيږي[1]

يَو صحابي راغے، او نبي ﷺ ته وائي زما تا سره ډير مينه ده، نبي ﷺ ورته اووئيل: رشتيا وائې؟ هغهٔ ورته اووئيل: آؤ، نبي ﷺ ورته اووئيل: بيا غريبئ ته ځان تينگ کړه، هغهٔ باندې به غريبي ډيره زر راځي څوک چې ما سره مينه کوي.

د سيده عائشې ﷺ وينا

سيده عائشه ﷺ فرمائي: دوه دوه مياشتې مونږه چرته په اُوبو او کجورو هم نهٔ يُو مارهٔ شوي، مياشت به را اُوخته، اُوبه غوړزيده، بيا به بله مياشت را اُوخته او بيا به اُوغوړزيده، مونږ چرته په اُوبو او کجورو هم نهٔ يُو مارهٔ شوي. دا رنگې په مياشتو مياشتو باندې د نبي ﷺ کره اُور نهٔ دے بل شوے، چې ډوډئ او ترکارۍ ئې پرې پخه کړے وے، يَو صحابي ترې تپوس کوي چې ستاسو گوزاره په څهٔ وه؟ نبي ﷺ ورته فرمائي: مونږ په دوو څيزونو گوزاره کوله، يَو په اُوبو او دويم په کجورو، نو وائي: په دې باندې به کار کيدو؟ نو هغه ورته وائي: د نبي ﷺ د انصارو نه څهٔ گاونډيان وو، د هغوي اُوښې لنکې وې، کله کله به هغوي نبي ﷺ ته پئي (شُودهٔ) را اوليږل، او پئي به

---

(1) [رواه أبو نعيم في "حلية الاولياء و طبقات الاصفياء": 109/7، و42/8طبع دار الكتب العلمية - بيروت].

ئې اُوځکل، پئو کښې دواړه صفات شته، پئې تنده هم ختموي او لوږه هم ختموي. دا د نبي ﷺ حالات وو.[1]

يَو روايت کښې راځي، نبي ﷺ به د خلقو سره ځان برابرولو، تردې پورې چې د نبي ﷺ لنګ مبارک ته به د خرمنې توټې لګيدلې وي، او بيا وائي: چې نبي ﷺ سحر او ماښام درې ورځې هم روټۍ نۀ ده خوړلې. مطلب دا دے کۀ سحر به ميلاؤ شوه، نو ماښام به نۀ وه، او کۀ ماښام به ميلاؤ شوه، نو سحر به نۀ وه، چرته د الله پيغمبر ﷺ داسې نۀ دې کړې، چې سحر ئې هم خوړلې ده، او ماښام ئې هم خوړلې ده، داسې چرته نۀ دې شوې. داسې تکاليف وو.

د سيدنا ابو طلحه ﷺ روايت

سيدنا ابو طلحه ﷺ فرمائي: «شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الجُوعَ وَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حَجَرَيْنِ».

"کله چې غزوه خندق وو، نو مونږه شکايت اُوکړو د لوږې نه چې اے د الله پيغمبره ﷺ! مونږه اوږې شوې يُو"، او د لوږې شکايت مُو داسې اُوکړو "چې مونږ خپلې خيټې ښکاره کړې، چې د الله پيغمبره مونږ د لوږې د وجې نه خپلې خيټې پورې کټې تړلې دې" او د هغې حکمت دا وو، چې کله د سړي خيټه درنه وي، نو کار کولے شي، او چې خيټه سپکه شي، نو کار نۀ شي کولے، نو ددې دپاره مونږ د خيټو پورې کټې تړلې وي، چې زمونږ مَلا نه خوږيږي، چې مونږ نبي ﷺ ته خيټې اُوښودلې، نو "نبي ﷺ مونږ ته خپله خيټه اُوښودله، نو نبي ﷺ د خپلې خيټې پورې دوه کټې تړلې وي، د ډيرې لوږې د وجې نه". داسې حالت وو د نبي ﷺ او د صحابه

(1) [راوه البخاري، رقم: (2567، و6459) ومسلم، رقم: (2972)].

کرامو، او په دغه وخت کښې چې به صحابو ته یَوه کټه کرانه راغله، نو نبي ﷺ پسې به ئې خبر کولو، یَو کټه ورته راغله، نبي ﷺ ته وائي: چې دا کټه مونږ نهٔ شو ماتولے، ډیره زیاته سخته ده، نبي ﷺ چې راغے او پلک ئې اُوچت کړو، او کټې له ئې راخلاص کړو، کټه ذره ذره شوه، او د شګې پشان خوره شوه.[1]

یَو حدیث کښې راځي، یَو ځل سیدنا ابوبکر صدیق د کور نه را اُووتُو، د غرمې وخت وو، جومات ته راغے، لږ وخت چې تیر شو، سیدنا عمر ﷺ هم راغے، ابوبکر صدیق ﷺ ترې تپوس اُوکړو، چې عمره! څنګه راوتلے ئې؟ عمر ﷺ ورته وائي: زهٔ د هغې وجې نه راوتے یم، د کومې وجې نه چې تهٔ راوتے ئې، زهٔ هم اوږے شوے یم، او تهٔ هم اوږے شوے ئې، دوي دواړو خبرې کولې چې پدې کښې نبي ﷺ راغے، نبي ﷺ نه ئې تپوس اُوکړو، نبي ﷺ ورته اووئیل: وږے ووم، کور کښې تنګ شوم، نو بهر را اُووتم. دا د ملګرو حال وي، چې پردو خلقو ته ئې د لوږې اظهار نهٔ کولو، خپلو ملګرو کښې یَو بل ته د لوږې اظهار کوي، نبي ﷺ ورته وائي: راځئ د سیدنا ابو ایوب انصاري ﷺ باغ دے، هغې ته به ورشو، د ابو ایوب انصاري ﷺ باغ ته راغلل، د هغهٔ تپوس ئې اُوکړو، بي بي ئې ورته اووئیل: چې هغه خو کور نشته مونږ له څهٔ خوږې اُوبهٔ راوړې، چې بي بي ئې نبي ﷺ، ابوبکر او عمر ﷺ اولیدل، نو ډیره زیاته خوشحاله شوه، او د نبي ﷺ او د سیدنا ابوبکر او سیدنا عمر ﷺ ئې ډیر عزت اُوکړو، چې ابو ایوب انصاري ﷺ راغے، هغهٔ هم ډیر زیات خوشحاله شو، چې څومره خوش قسمته یم، چې زما کور ته د الله پیغمبر او د هغهٔ ملګرې راغلې دې، او بیا لاړو، نبي ﷺ له ئې کجورې را اُوشوکولې، څهٔ کچه وي، او څهٔ پخې وي، نبي ﷺ ته ئې اووئیل: تاسو دا خورئ، او بیا لاړو د نبي ﷺ دپاره ئې چیلئ حلالوله، نبي ﷺ

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2371)].

ورته اوونیل: خبردار! کۀ چرته کدۀ او بیزه حلالې، نو داسې حلاله کړه، چې لنګه حلاله نۀ کړې، چې بچے ترې پاتې نۀ شي، هغه لاړو او حلاله ئې کړه، او نبي ﷺ او د هغۀ ملګرو له ئې راوړه، خوراک ئې شروع کړو، چې ډوډئ ئې اُوخوړه، يَو راويت کښې راځي چې د هغې کجوررو يَو غونچک ئې را اُوچت کړو، چې ددې تپوس به درنه الله قيامت کښې کوي، سيدنا عمر ﷺ اوفرمائيل: ددې تپوس به هم زمونږ نه الله کوي؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: ددې تپوس به درنه هم الله کوي.

داسې حالات وو، چې خپل کور کښې به ورکره خوراک نۀ ميلاويدو، خو ليکن هغې دور کښې چې کوم ايمان وو، هغه ايمان اوس نۀ ميلاويږي، د هغې دور چې کوم فضيلت دے، هغه نن نۀ ميلاويږي، نبي ﷺ فرمائيلي وو: «خَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ يَفْشُو الكَذِبُ».(1)

"پۀ تمام پيړو کښې بهترينه پيړئ هغه ده چې زۀ پکښې موجود يم، بيا هغه کسان دي چې دوي ته نزدې دي، بيا هغه کسان چې دوي ته نزدي دي، ددې نه ورستو به خلقو کښې دروغ عام شي، او ګناهونه به عام شي".

د سيده عائشي ﷺ وينا

سيده عائشه ﷺ فرمائي: «أَوَّلُ بَلَاءٍ حَدَثَ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا الشِّبَعُ» "ړومبے مصيبت چې پدې اُمت کښې د الله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه ورروستو راغلے دے، نو هغه موړوالے دے"؛ ځکه «فَإِنَّ الْقَوْمَ لَمَّا شَبِعَتْ بُطُوْنُهُمْ سَمِنَتْ أَبْدَانُهُمْ فَضَعُفَتْ قُلُوْبُهُمْ وَجَمَحَتْ شَهَوَاتُهُمْ».(2)

چې قوم چې کله د هغوي خېټې مړې شي، نو د هغوي بدنونه درانۀ شي، نو

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2165، و 2303)].

(2) [رواه المنذري في "الترغيب والترهيب"، رقم: (3239)].

زړونه ئې کمزوري شي، او خواهشات ئې زيات شي، بيا دوي د الله عبادت نهٔ شي کولے، صحابه کرامو چې دومره عبادت کړے وو، نو لوږه ډيره وه تنده ډيره وه. نن اُوبهٔ ډيرې دي، خوراک څکاک ډير دے، ليکن هغه شان وعده زمونږ سره نشته، کومه چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره وه، او دا زمونږ يقين دے چې هغه شان کار مونږ نشو کولے.

سيده فاطمه ﷺ د نبي ﷺ لُور ده، او نبي ﷺ فرمائيلي دي: «فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي».[1] "فاطمه ﷺ زما د زړهٔ ټکړه ده". د نبي ﷺ ورسره ډيره زياته مينه وه.

نو سيده فاطمه ﷺ فرمائي: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهَا يَوْمًا فَقَالَ: أَيْنَ ابْنَايَ؟» "نبي ﷺ يَو ورځ د سيده فاطمې ﷺ کره راغے، او هغې ته وائي: اے فاطمې! زما هغه دوه بچې چرته دي؟" سيدنا حسن او سيدنا حسين ﷺ ئې ورته يادول، سيدنا حسن او سيدنا حسين ﷺ پهٔ کور کښې نهٔ وو، نبي ﷺ ورته وائي: زما بچي څهٔ شول؟ «قَالَتْ: أَصْبَحْنَا وَلَيْسَ فِي بَيْتِنَا شَيْءٌ يَذُوقُهُ ذَائِقٌ» "سيده فاطمه ﷺ فرمائي: چې اے د الله پيغمبره ﷺ! توله شپه مو تيره کړې وه، زمونږ کور کښې دومره څهٔ شے نهٔ وو، چې مونږ څکلے وے، شپه مو په نهاره باندې تيره کړه" «فَقَالَ عَلِيٌّ: أَذْهَبُ بِهِمَا فَإِنِّي أَتَخَوَّفُ أَنْ يَبْكِيَا عَلَيْكِ، وَلَيْسَ عِنْدَكِ شَيْءٌ» "وائي: سيدنا علي ﷺ راته اووئيل: چې اے فاطمې! دا به درنه زهٔ بهر بوځم؛ څکه ماشومان دي اوږې دي تا سره به خوراک نهٔ وي، دوي به درته ژاړي، نو زړهٔ مې غواړي چې بهر ئې بوځم" د نبي ﷺ نوسې دي، د الله د پيغمبر د ترهٔ زوي دي سيدنا علي ﷺ، سيده فاطمه ﷺ ئې لُور ده، ليکن د هغې حيثيت ته اُوګوره، اوږې دي، وائي: بهر ئې اوباسم؛ څکه دوي

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (3714، و 3767)، ومسلم، رقم: (2449)، والترمذي، رقم: (3869)].

به ژاړي او تا سره به د خوراک ورکولو څۀ شے نۀ وي. او ورته وائي: «فَذَهَبَ إِلَى فُلَانِ الْيَهُودِيِّ فَتَوَجَّهَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَهُمَا يَلْعَبَانِ فِي شَرْبَةٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا فَضْلٌ مِنْ تَمْرٍ» "هغه د يَو يهودي خواته تلې دې، نبي ﷺ ورپسې روان شو، چې لاړو وي کتل، د اُوبو يَو ډنډ وو، هغې کښې دواړو لوبې کولې، کجورې ئې خوړلې وې، څۀ ورسره خوا کښې پرتې وې"، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: «يَا عَلِيُّ، أَلَا تَقْلِبُ ابْنَيَّ قَبْلَ أَنْ يَشْتَدَّ عَلَيْهِمَا الْحَرُّ؟» "اے علي! تا دا ماشومان رابهر کړې دې، کورته ئې ولې نۀ بوځې؟ چې ګرمي شي، بيا به دوي ته تکليف وي" نو وختې ئې ولې نۀ بوځې؟ هغه ورته وائي: «أَصْبَحْنَا وَلَيْسَ فِي بَيْتِنَا شَيْءٌ» "د الله پيغمبره! کور کښې مو شپه تيره کړې وه، د خوراک څۀ نۀ وو، دوي مې رابهر کړې وو، چې دوي په لوږه باندې شي".[1]

د اُمِّ سُليم رضي الله عنها نبي ﷺ ته شکايت

دا وائي: چې يَو ځل ما نبي ﷺ ته شکايت اُوکړو، چې اے د الله پيغمبره ﷺ! نهايت لوږه ده، څۀ چل اُوکړو؟ وائي: نبي ﷺ راته اُوفرمائيل: چې «اِصْبِرِيْ» "صبر کوه"، زما دي په الله باندې قسم وي، زمونږ په کور کښې اُوومه ورځ ده چې څۀ شے نشته، بيا ورته وائي: اے اُم سُليم! که چرته د الله نه سوال اُوکړم چې يا الله! د تِهامې دا غرونه زما دپاره د سرُوزرو نه جوړ کړه، نو الله به ئې راله جوړ کړي، خو ليکن صبر کوه، صبر ښۀ شے دے.

د سيدنا ابو هريره رضي الله عنه د لوږې حالت

سيدنا ابو هريره رضي الله عنه وائي: وُوم زۀ چې ما خپل جګر په زمکه باندې اچولے وو، نسکور پرُوت ووم، د ډيرې لوږې د وجې نه، او ووم زۀ چې ما د خپلې خيټې پورې کټې

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الكبير"، رقم: (1040)].

نږلې وي، د ډيرې لوږې د وجې نه، يَوه ورځ په لار کښې ناست ووم، پدې خيال باندې ناست ووم، که چا ځان سره دوړځ نه بوتلم، په هغې لار ناست ووم، چې په کومه لار به خلق تلل او راتلل، سيدنا ابوبکر صديق ﷺ زما په خوا باندې راغے، ما د هغهٔ نه د يَو آيت باره کښې تپوس اُوکړو، مقصد مې د آيت تپوس نهٔ وو، مقصد مې دا وو، چې دے به ما ځان سره دوړځ له بوځي، وائي: جواب ئې راته راکړو، نور ئې څهٔ ونهٔ وئيل، وائي: چې هغه تير شو، نو سيدنا عمر ﷺ راغے، د هغهٔ نه مې د يَو آيت باره کښې تپوس اُوکړو، هغهٔ هم جواب راکړو، هغهٔ هم څهٔ ونهٔ وئيل، وائي: چې هغه لاړو نو نبي ﷺ راغے، چې هغهٔ صرف زما دې مخ ته وکتل، نو هغه ما باندې پوهه شو، وائي: ماته وائي: چې «يَا أَبَا هُرَيرَةَ!» وائي: ما ورته اووئيل: چې د الله پيغمبره حاضر يم، څهٔ حکم کوئ؟ وائي: نبي ﷺ وائي: چې ما پسې راځه، وائي: نبي ﷺ پسې روان شوم، چې کور ته لاړو، يَو پيالئ پئي دې ورکړه، وائي: ما ته وائي: چې ورشه اصحاب صُفّه والا راوله. (اصحاب صُفّه هغه طالبان وو، چې هغوي خپل کور هر څهٔ ئې پريښودې وو، او راغلې وو، د نبي ﷺ نه ئې دين زده کولو، صحابه کرامو انصارو مهاجرينو به هغوي له د خپل کور نه لږ لږ خوراک ليږلو، اصحاب صُفّه تقريبًا څهٔ اَويا (70) کسان وو، يَو پيالئ پيُو ته کوره او اَويا (70) کسانو ته کوره) ابو هريره ﷺ وائي: چې نبي ﷺ ما ته وائي: چې ورشه، او اصحاب صُفّه ته اُوايه چې راشئ خوراک اُوکړئ، وائي: زړهٔ کښې وايم چې دا خو يَواځې زما نهٔ کيږي، او چې زهٔ هغوي را اُوغواړم، نو هغوي خو ميلمانهٔ دي، نو نبي ﷺ به ما ته وائي: چې دا په دوي تقسيم کړه، نو زهٔ چې تقسيم کوم نو د تقسيم والا خو ورستو څکي. (دا مسئله ده، کوم سړے چې ساقي دے چا باندې شربت څکي، يا په چا چائے څکي، نو دے به ورستو څکي) نو ابو هريره ﷺ وائي: ما سره غم شو، چې دغه کسانو باندې زهٔ دا يَو پيالئ څکم، نو دا څهٔ به نهر پاتې شي، او زهٔ خو به بڅپله هم نَهر يم، اصحاب صُفّو پسې راغے، اصحاب صُفّه

راغلل، کیناستل نبي ﷺ ماته اشاره اُوکړه، چې دغه پیالۍ را واخله، یَو یَو له نې ورکوم هغه نې ترې څکې، او قسم په الله کهٔ پیالۍ کمے کوې، هغه نوره نوره سیوا کیږي. (دا معجزات وو د نبي ﷺ) چې یَو مُوړ شي نو پیالۍ بل له ورکړم، تردې چې ټول اصحاب صُفّه پئې وڅکل، پیالۍ بیا هم هغه شان ده، وائي: ما آخر کښې نبي ﷺ ته پیالۍ ورکړه، وائي: نبي ﷺ ماته اووئیل: چې ابو هریره ﷺ صرف زهٔ او تهٔ پاتې شو، وائي: ما ورته اووئیل: چې آؤ، صرف زهٔ او تهٔ پاتې شو، وائي: نبي ﷺ ماته اووئیل: چې تهٔ اُوڅکه، وائي: ما ورته اووئیل: چې تهٔ اُوڅکه، وائي: پهٔ خندا شو، وائي: ماته وائي: چې تهٔ اُوڅکه، وائي: ما هغه پیالۍ د نبي ﷺ نه واغسته، یَو ګوټ مې ترې اُوکړو، نو بیا مې نبي ﷺ له ورکړه، وائي: ماته وائي: چې نا اُوڅکه، وائي: نور مې اُوڅکل، وائي: بیا مې پیالۍ ورکړه، وائي: چې نا نور اُوڅکه، وائي: نور مې هم اُوڅکل، وائي: چې نور اُوڅکه، وائي: ما ورته اووئیل: چې د الله پیغمبره ﷺ پهٔ الله مې دې قسم وي، کهٔ نور مې خیټه کښې ځائے وي، وائي: بیا هغه پیالۍ نبي ﷺ زما نه واغسته، او نبي ﷺ بیا اُوڅکل.[1] داسې لوږه وه، او دومره تکالیف وو.

د ابو هریره ﷺ د لوږې دویم حالت

ابو هریره ﷺ فرمائي: پهٔ ما باندې درې درې ورځې داسې راغلې دي، چې زهٔ به را وغورزیدم، او ماشومان به زما پهٔ خوا تیریدل، نو هغوي به وئیل: «جُنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ». "ابو هریره لیونے شوے دے". بے هوشې پرې راغلې ده، ابو هریره ﷺ وائي: تاسو لیونې یئ، زهٔ لیونے نهٔ یم. دومره پورې حالت چې مونږ به را وغورزیدو، نو خلق به زمونږ پهٔ خوا تیریدل نو هغوي به وئیل: ابو هریره لیونے شوے دے.

کله کله به را وغورزیدو، یَو کس به ورله پهٔ سټ باندې خپه کیښوده، چې پهٔ دهٔ څهٔ چل وشو، وائي: زهٔ د لوږې د وجې نه را غورزیدلے وم. دا د صحابه کرامو حالات وو.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (6452)، والترمذي، رقم: (2477)].

يَو حديث کښې راځي، بعضې صحابه کرام داسې وو، يَو صحابي دے، ابن الجهاد، زوې ورته وائي: اے پلاره! تاسو نبي ﷺ ليدلے وو؟ او کچرې ما نبي ﷺ ليدلے وے، ما به دا کړے وے، ما به دا کړے وے، (د خپل ځان صفت ئې کولو) هغهٔ پلار ورته وائي: «أَيْ بُنَيَّ اتَّقِ اللهَ وَسَدِّدْ» "د الله نه ويريږه او سم شه" «فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ رَأَيْتُنَا لَيْلَةَ الْخَنْدَقِ» "زما دې پهٔ الله قسم وي چې مونږ د الله د پيغمبر سره د خندق پهٔ شپه وو" نبي ﷺ اوئيل: څوک دے چې هغه لاړ شي او مونږ له د دُښمن خبر روارړي، هغه سړے به زما قيامت کښې ملګرے او دوست وي، تمام صحابه کرام ناست دي، د لوږې د وجې نه، يَو صحابي دا جرأت نشي کولے چې دا مزل اُوکړي، هر يَو صحابي چپ ناست دے، يا خو هغه دور وو چې نبي ﷺ به اووئيل: دا کار به څوک اُوکړي، يَو صحابي به د بل صحابي نه مخکښې کيدو، خو دومره لوږه وه، چې يَو صحابي غږ نهٔ کوي.[1]

د ابن ابي الدنيا روايت

علماء کرام د هغې نه نقل کوي، چې محمد بن سيرين ﷺ فرمائي: «إِنْ كَانَ الرَّجُلُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ لَا يَجِدُ شَيْئًا يَأْكُلُهُ».[2]

"بعضې خلق داسې وو، چې تر دريُو ورځو پورې به ورته څهٔ شے نهٔ ميلاويدو، نو چې څرمن به ئې چرته اُوموندہ، هغه به ئې را واغسته، هغه به ئې رِيته کړه، نو بيا به ئې هغه خوړه". داسې تکاليف ئې برداشت کړي وو.

يَو روايت کښې راځي، فُضاله بن عبيد ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ به کله صحابو له مونځ ورکولو، بعضې صحابه کرام به د ډيرې لوږې د وجې چې اودريدے به نهٔ شول، نو

(1) [رواه الدولابي في "الكنى والأسماء"، رقم: (150)].

(2) [الجوع لابن ابى الدنيا، رقم: 61، ص 62، طبع دار ابن حزم - بيروت - لبنان].

صف کښې به را وغوځيدل، خلقو به وئيل: چې ليونې دې، ليونې به نهٔ وو، خو د لوږې د وجې به را وغورځيدل، چا به وئيل: بے هوشې پرې راغله، دا به د لوږې د وجې نه.[1]

يَو روايت کښې راځي، سيدنا انس ﷺ وائي: يَو ځل مونږ جهاد له تلو، او پهٔ اووهٔ (7) کسه به مونږ يَو کجوره خوړه، هغه به مو داسې خوړه چې يَو کس به اُوچوپله هغهٔ به بل له ورکړه، هغه به خوړه نهٔ، صرف خُلهٔ کښې به ئې اړوله راړوله، تردې پورې چې بيا به هغوي دا وجې پانړې خوړې، د لوږې د وجې.[2] او تلل جهاد له، کور نهٔ وو ناست. تردې پورې چې د صحابه کرامو دا وَخکې خراب شوې وو، د ډيرو پانړو خوړلو د وجې نه.

سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: يَو ځل مونږ اوږي شوي وو، مونږ اُووهٔ (7) کسان وو، نبي ﷺ ماله اُووهٔ کجورې راکړې، چې د هر يَو کس پهٔ سَر يَو يَو کجوره واخلئ. چرته يَو کجوره او چرته لوږه ختميدل.

يَو روايت کښې راځي، سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: يَو ځل زهٔ جومات له لاړم، د لوږې د وجې نه، نو څهٔ کسان مې اُوموندل د صحابه کرامو نه چې هغوي ناست وو، نو هغوي ماته اووئيل: چې ابو هريره! د څهٔ د وجې نه را اُووتې، وائي: ما ورته اووئيل: د لوږې د وجې نه د کور نه را اُوتم، وائي: هغې هم اووئيل: چې مونږ هم د لوږې د وجې نه راوتې يُو، وائي: مونږ پاسيدو، او نبي ﷺ خوا ته لاړو، چې د الله پيغمبره! مونږ ډير زيات اُوږې شوې يُو، کهٔ څهٔ درسره وي، وائي: نبي ﷺ مونږ له دوه دوه کجورې راکړې، هر يَو سړي خپلې دوه دوه کجورې اُوخوړې، وائي: ما يَو کجوره اُوخوړه، يَو مې ځان سره کړه، وائي: نبي ﷺ اووئيل: چې دا ولې؟ وائي: ما ورته اووئيل: چې د الله پيغمبره دا يَو کجوره به زهٔ اُوخَرَم، او دا يَوه کجوره کور کښې مې مور ده، هغې دريمه ورځ ده، چې څهٔ ئې نهٔ دې

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2368)].

(2) [رواه الطبراني ،رقم: (2613)].

خوړلي، دا يَوه كجوره به زهٔ مور له يَوسم، وائي: نبي ﷺ ماته اووئيل: چې نا دا اُوخره، د مور دپاره به دوه كجورې نورې دركړم. دا د صحابه كرامو د لوږې حال وو.

يَو روايت كښې راځي، سيدنا انس ﷺ فرمائي: «خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الخَنْدَقِ، فَإِذَا المُهَاجِرُونَ وَالأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ فِي غَدَاةٍ بَارِدَةٍ».

"نبي ﷺ خندق ته را اُووتو، ناڅاپه مهاجرين او انصار صحابه كرامو خندق كنستلو سحر وخت دے او نهايت يخنې ده". چې نبي ﷺ اوكتل چې يخني ده، او تكليف دے، نو نبي ﷺ اوفرمائيل:

«اللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الآخِرَةِ ★ اللّٰهُمَّ إِنَّ العَيْشَ عَيْشُ الآخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالمُهَاجِرَةْ»

"الله د دنيا به څهٔ ژوند وي، الله صحيح زندگي د آخرت زندگي ده، الله انصارو ته هم بخښنه اُوكړه، او مهاجرينو ته هم بخښنه اُوكړه، جنت ورله ورکړه"

صحابه كرامو چې دا واوريدل، نو صحابه كرام وائي:

«نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا ... عَلَى الجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا»(1)

"مونږ هغه صحابه كرام يُو چې مونږ د نبي ﷺ سره پهٔ جهاد بيعت كړے دے، هميشه دپاره به مونږ د نبي ﷺ سره كلک ولا ړ يُو".

يَو روايت كښې راځي، صحابه كرام ورته وائي:

«نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا ... عَلَى الإِسْلَامِ مَا بَقِينَا أَبَدَا»

نبي ﷺ ورته وائي:

«اللّٰهُمَّ إِنَّهُ لَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُ الآخِرَهْ ... فَبَارِكْ فِي الأَنْصَارِ وَالمُهَاجِرَهْ»(1)

(1) [رواه البخاري، رقم: (2834، و 4099)].

"الله نور خیرونه نشته مګر د آخرت خیر دے، انصارو کښې هم خیر او برکت واچوه او مهاجرو کښې هم خیر او برکت واچوه".

صحابه کرامو څومره د الله د دین خدمت کړے دے، نن هر څۀ ډیر دي، لیکن مونږ د الله د دین ذره خدمت ونۀ کړو.

نبي ﷺ صحابه کرامو ته وئیلي وو: زما دي د الله پۀ ذات باندې قسم وي، د غریبۍ نه پۀ تاسو نۀ ویریږم ددې نه پۀ تاسو یریږم چې دنیا به درباندې دومره فراخه شي، لکه ستاسو نه مخکنو اُمتونو باندې چې فراخه شوې وه د هغوي پشان به تاسو له هم الله مال ډیر کړي، او داسې محبت به تاسو د مال سره شروع کړئ لکه څنګه محبت چې هغوي شروع کړے وو، تاسو به داسې هلاک شئ لکه څنګه چې هغوي هلاک شوي وو.

ددې وجې نه ما چې کوم آیت لوستے وو، هغې کښې الله تزهید من الدنیا کوي ﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ﴾ "ښائسته ښکاره شوې دي خلقو ته مینه کول د خپلو خواهشاتو سره" هر سړے خپل خواهش پسې روان دے.

(1) یو خواهش ﴿مِنَ النِّسَاءِ﴾ د زنانو نه، هر سړے پدې طمع کښې دے، چې ځوان شم، نو وادۀ به کوم، د دین د کار څۀ غم او فکر ورسره نشته، د دنیا د کټلو غم او فکر ورسره شته، کچرته تۀ ورته اُووائې: چې راځه د دین کار اُوکړو، وائي: زۀ نۀ یم اُوزګار، او کۀ ورته اُووائې: چې کیره پریده، وائي: ما له وادۀ او کویدن نۀ دې کړې، نو کیره څۀ له پریدم؟ مطلب ئې دا وي کۀ کیره مې پریښوده نو بیا راله څوک لُور څُور نۀ راکوي. إِنَّا لله وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ.

(2) دویم خواهش ﴿وَالْبَنِينَ﴾ بیا د ځامنو پۀ طمع وي.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (2835، و4100)، ومسلم، رقم: (1805)].

شیخ القرآن ﷫ به دا آیت یَو عجیبه انداز سره وئیلو، اول پدې طمع وي، واده به څنګه کوم؟ چې ورته وائي: راځه د دین کار له، د دین کار نهٔ کوي، نو دے وائي: د دین کار به کوم خو چې الله راله یَو بچے راکړي، نو د دنیا کار به هغهٔ کوي، او زهٔ به درس له درځم، نو چې الله ورله بچې ورکړي، نو بیا نور هم پهٔ منده شي، نو چې بیا ورته وائي: چې درس له نهٔ راځې؟ وائي: لږ مال دولت کټم ﴿وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ﴾ نو چې مال او دولت وکټي، نو د ښځې دپاره سَرهٔ زر او سپین زر راجمع کوي، او درس ته اُوزګار نهٔ وي، چې ورته وائي: چې اوس د دین خدمت له راځه، وائي: یَو سورلي پکار دهٔ څکه دا خو لرې ځائے دے، چې سورلي هم واخلي، او ورته اُووائي: چې اوس درس له راځه، وائي: لږ صبر اُوکړه، ځان له یَو څاروے اخلم هغه بچے مې سحر وختې د نورو خلقو نه پټې راوړي، نو ځان له خپل څاروے اخلم، بیا به د قرآن درس له درځم، نو چې څاروے واخلي، او ورته وائي: چې درس له راځه، وائي: لږ صبر اُوکړه، هغې غُوَا میخو له څهٔ کیا کول غواړي، نو بیا به درځم، نو چې دا ټول کارونه پوره کوي، نو بس وخت ئې پوره شوے وي، او دنیا نه پدې حالت کښې لاړ شي، نهٔ ئې دنیا وکټله، او نهٔ ئې دین وکټلو، نو ﴿ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ﴾.[1]

"دا دُنیا یَو څکه ده الله سره ډیر خائسته ځائے د راکرځیدو دے" د هغې دپاره تیارے اُوکړه.

ددې فاني دُنیا دپاره دې څومره محنت اُوکړو، سحر هم منډې، ماښام هم منډې،

---

[1] [سورة آل عمران: 14].

هر وخت په منده، آخرت چې يقيني زندګي ده، او ما سره به الله حساب کوي، که زه
نيک عمله يم، الله به جنت راکوي، او که زه بدعمله يم، نو الله به جهنم راکوي، نو د
هغې دپاره دي څومره تيارے اُوکړو؟ ددې دپاره هم سوچ پکار دے، دا فاني دُنيا
ددې دپاره دومره تيارے کيږي، او چې کومه هميشه دپاره زندګي ده، د هغې دپاره
تيارے نه دے پکار؟ د هغې دپاره خو ډير تيارے پکار دے، دغه وجه وه، چې
صحابه کرامو خپل مال قربان کړے وو، خپل ځان ئې قربان کړے وو، اولاد ئې
قربان کړے وو، دُنيا ئې قربان کړې وه، خو ځان له ئې آخرت جوړ کړے وو، په دُنيا
کښې په هغوي زيرې شوې وو، چې الله ترې خوشحاله دے، دُنيا کښې پرې د جنت
زيرې شوې وو، مونږ له پکار دي چې د آخرت تيارے اُوکړو. دُنيا خو متاع دے. د
متاع بعضې علماء يَو تفسير کوي، چې متاع ديته وائي: چې سپے راشي او يَو غوړه
کپړه خُله کښې اُوچته کړي، هغه کپړه چې زنانو پرې لوښي وينځلي وي، نو غوړه
وي نو سپے ئې خُله کښې واخلي، او لرې ځائے ته ئې يَوسي چې هلته ورته کيني،
چې خُله کښې زور ورکړي، نو هغې کښې هيڅ نه وي، هغه صرف کپړه وي، او د
خُلې نه ئې هلته اُوغورځوي، دغسې دا دُنيا مونږ ته قيمتي ښکاري، دا صرف متاع او
څکه ده، مونږ ئې صرف پدې خائسته والې دهوکه کيږو.

آخرت دپاره تيارے پکار دے، ددين او د دُنيا مقابله چې راځي نو دُنيا
پريښودل غواړي، او د دين کار کول غواړي. الله دې د عمل کولو توفيق راکړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ * لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ

(سورة الزخرف: 72-73)

موضوع

دَ جنت نعمتونه

بتاريخ: 2008-06-27

بمقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربآني حفظه الله

د جنت نعمتونه

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ★ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِآيَاتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ★ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنْتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ★ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّأَكْوَابٍ وَّفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنْتُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ★ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ أُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ★ لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُوْنَ﴾.[1]

عزت مندو مسلمانانو رونړو! ما ستاسو په مخکښې د سورت الزخرف يو څو آياتونه اُولوستل، پدې بيان کښې دا عرض کوو، چې الله د نيکانو بندګانو دپاره کوم مقام تيار کړے دے؟ او آخرت کښې به الله مؤمنانو له څه ورکوي؟ د الله رب العزت تابعدارو او نيکانو بندګانو له چې کوم نعمتونه ميلاويږي؟ هغې ځائے ته جنت وائي: جنت دا د الله رب العزت د نعمتونو مجموعه ده، چې الله رب العزت د خپل بنده تمام خواهشات او تمام ارمانونه هغه به جنت کښې پوره کوي، دنيا نعمتونه هم ختميدونکي دي، په دُنيا کښې الله رب العزت انسان ته صرف هغه نعمتونه ورکوي،

(1) [سورة الزخرف: 68-73].

چې صرف د انسان ژوند په هغې باندې تېر شي، انسان نهايت بعضې وخت په تکليف کښې وي، په مصيبت کښې وي، په احاديثو کښې تېر شوې وو، نبي ﷺ ونيلي وو، مسلمان ته چې دُنيا کښې هر قسمه تکليف ورسيدو، غم او درد ورته ورسيدو، او دے په هغهٔ پرېشانئ باندې صبر اُوکړې، نو د هغهٔ دپاره اجر دے، خو چونکه پدې دُنيا کښې الله رب العزت پخپلو بندګانو باندې امتحانات کوې، اکثر چې کوم سړے ديندار وي، نو هغه اکثر غريبانان وي.

نبي ﷺ ته يَو سړے راغے، او نبي ﷺ ته وائي: زما تا سره مينه ده، تاسو سره مې محبت دے، نبي ﷺ ورته اووئيل: چې ما سره دې مينه ده، نو بيا غريبئ ته ځان تيار کړه، ما سره چې د چا مينه وي، په هغهٔ باندې غربې او فقر داسې راځي، لکه څنګه چې سيلاب را روان وي، او ښکته ځائے ته هغه اُوبه راغورځيږي، داسې په تلوار هغوي ته غربې او فقر راځي.

په دُنيا کښې غُربت څهٔ د نقصان والا نهٔ دے، ددې غُربت په وجه به الله جنت کښې د انسانانو تمام خواهشات پوره کوې.

دلته دُنيا کښې کهٔ يَو سړے بادشاه دے، د اوچت مقام والا دے، نو دلته د انسان ارمان څنګه نهٔ پورا کيږي، چې دا دُنيا فاني ده، کهٔ يَو سړے بادشاه دے، نو هغه وائي: چې ما سره د دويم مُلک بادشاهي وي، نو دا به ښهٔ وي، کهٔ د دويم مُلک بادشاهي ورسره وي، نو دا به ښهٔ وي، کهٔ د دويم مُلک بادشاهي ورسره وي، نو هغهٔ وائي: چې ما سره د دريم مُلک بادشاهي وي، نو دا به ښهٔ وي، خو بيا هم د انسان خواهش نهٔ پورا کيږي.

پدې دُنيا کښې څلور داسې حکومتونه تېر شوې دي، چې د هغوي په تمامه دُنيا حکومت وو، خو بيا هم د هغوي ارمانونه پورا شوې نهٔ دي، کهٔ ستا په توله دُنيا

حکومت دے، خو چې د دې دُنیا نه روان ئې نو دا څۀ کمال نۀ دے، او کۀ عمر دې ډیر دے، او غریب ئې. بیا هم د انسان پۀ زړه کښې ډیر ارمانونه وي، نو پۀ دې دُنیا کښې الله د هیچا ارمان نۀ دے پورا کړے، ځکه دُنیا فاني ده، پۀ جنت کښې به الله د تمامو جنتیانو ارمانونه پورا کوي.

(1) اول روایت

نبي ﷺ فرمائي: چې الله پخپله فرمائي: چې «أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ، وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ».(1)

"ما د خپلو بندګانو دپاره داسې نعمتونه تیار کړې دي، چې هغه نعمتونه د چا سترګو لیدلې نۀ دي، نۀ د چا غوږونو د هغې آواز اوریدلے دے، او نۀ د بنده زړه کښې د هغې تصوّر راتلے شي"، بیا نبي ﷺ اووئیل: دا آیت اُولولئ: دا آیت هم د دې حدیث سره مناسب دے، الله فرمائي: «فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ».(2)

"نۀ پوهیږي يو نفس چې څومره پټ نعمتونه دي، د هغۀ دپاره يخونکې د سترګو دا بدله پۀ سبب د هغې باندې چې وو چې دُنیا کښې دوي نیک اعمال کړي وو".

الله مؤمنانو له زیرے ورکوي: «وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ».(3)

"زیرے ورکړه! هغه کسانو له چې ایمان ئې راوړے دے، او عملونه ئې کړې

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (3244، و 4779، و 4780، و 7498)، ومسلم، رقم: (2824، و 2824، و 2824)، والترمذي، رقم: (3197، و 3292)، وابن ماجة، رقم: (4328)].

(2) [سورت الم السجدة: 17].

(3) [سورة البقرة: 25].

دي نيک چې يقيناً دوي دپاره به جنتونه وي، چې بهيږي به لاندې د ونو د هغې نه نهرونه، کله چې رزق ورکړے شي ددې جنت نه څۀ ميوې دپاره د خوراک وائي: به دوي دا هغه رزق دے، چې راکړے شوے وو مونږ لره دنيا کښې وربه کړے شي دوي ته يو شان د دنيا د ميوو سره او دوي لره به پدې جنت کښې بيبيانې وي، پاکې صافې او دوي به پدې جنت کښې هميشه وي".

کامل بشارت

کله کله د انسان خپل کور نۀ وي، کله يو خوا روان وي، او کله بل خوا روان وي، نو الله وائي: چې نيک عمل دې اوکړو نو جنت کښې به کور درکړم «أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ»، کله کله د انسان خپل کور وي خو اوبۀ پکښې نۀ وي، نو الله وائي: چې نيک عمل دې اوکړو نو داسې کور به درکړم چې «تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ»، "د ونو د لاندې به نهرونه روان وي"، نو دا خو جنتي له تکليف دے، نو علماء کرام معنى کوې «تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ» "أَيْ: مِنْ تَحْتَ تَصَرُّفِهِمْ"، "د هغوي د تصرف او اختيار لاندې به چليږي" چې کوم خوا ئې غواړي نو هغه اوبۀ به وريسې روانې وي، دُنيا کښې الله د خلقو نه دا تکليف اوچت کړے دے، نو جنت کښې خو به خامخا دا تکليف نۀ وي.

«كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ» "هر کله چې دې جنتيانو له رزق ورکړے شي دوي به وائي دا خو هغه رزق دے چې مونږ له دُنيا کښې راکړے شوے وو"؛ ځکه کله کله کور هم وي، اوبۀ پکښې هم وي، خو د خوراک څۀ نۀ وي، نو الله وائي: خوراک به هم درکړم.

«وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا» کله کله خوراک هم وي، خو سړي له د هغې خوراک د خوړلو چل نه ورځي، نو الله وائي: داسې خوراک به وي چې د هغې چل به ورځي؛ ځکه چې نا اشنا ميوه وي نو سړي له د خوراک چل نۀ ورځي.

﴿وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ﴾ "دوی لره به پدې جنت کښې پاکې بیبیانې وي"، کله کله کور هم وي، اوبه پکښې هم وي، خوراک هم وي، خو سړے یواځې وي، نو الله وائي: ملګرے به هم درکړم، کله کله ملګرے هم وي، بي بي هم وي، خو هغه د سړي دپاره غم وي، نو الله وائي: ﴿مُطَهَّرَةٌ﴾ "پاکې صافې بیبیانې به وي"، بیا کله کله دُنیا کښې خاوند وفات شي، او کله ښځه وفات شي، نو سړے یواځې پاتې شي، الله وائي: ﴿وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾ "دوی به په دې جنت کښې همیشه وي".

په جنت کښې څلور قسمه نهرونه

په قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى﴾.[1]

"صفت د جنت هغه چې وعده ئې کړے شوې ده د متقیانو سره په هغې کښې نهرونه به وي، د اوبو چې نه به وي بدبویه، او نور نهرونه د پیُونه چې نه به وي بدل شوے خوند د هغې، او نور نهرونه د شرابو نه چې خوند به ورکوي څکونکو ته، او نور نهرونه د ګبین صفا کړے شوي نه".

(1). اول قسم نهر به د اُوبو وي، بے خونده به نه وي، متغیره به نه وي، د دُنیا اُوبه به نه وي، چې څه به صفا وي، او څه به ګنده وي، او څه به مالګینې وي، د جنت اُوبه به ډیرې صفا او مزیدارې وي.

(2) دویم قسم نهر به د پیُو وي، خو داسې پئي به وي چې د هغې خوند به نه وي خراب شوې، د دُنیا پئي به نه وي، چې درې څلور ورځې پس خراب شوې وي، د دُنیا پئي چې وي، نو هغه خو نیمې اُوبه وي. بڅوا به خلقو دا وئیل: چې فلانکے سړے په پیُو کښې

---

(1) [سورة محمد: 15].

به فرمائيل: چې اُوس ترقۍ شوې ده، اُوس خلق په اُوبو کښې پئي اچوي، او که ورته دې اووئيل: چې دې کښې خو اُوبهٔ دي، وائي: قسم دے که اُوبهٔ مې پکښې اچولې وي، اوس به داسې وئيل غواړې: چې اُوبو کښې خو دې پئي نهٔ دې اچولي؟ دا دهوکه ده، او ناروا ده، او اکثر خلق پدې کښې مبتلا دي.

واقعه

يَو روايت کښې راځي، سيدنا عمر ﷺ په لار روان وو، (د شپې به هغوي گشت کولو، او د خپل رعيت حال به ئې معلومولو) شپه وه، يَوې ښځې خپله اوښه وُلوَشله، لُور ته ئې آواز اُوکړو، اے لُورې! اُوبهٔ راوړه، چې پدې پيُو کښې واچوو، هغه لُور ورته وائي: عمر ﷺ به خبر شي، دا خو ډيره لويه گناه ده، (سيدنا عمر ﷺ بَهر خبره اَورې) مور ورته وائي: عمر ﷺ څه خبر دے؟ اُوبهٔ راوړه چې پيُو کښې واچوو، هغهٔ ته څهٔ پته لگي؟ لُور ورته وائي: که عمر ﷺ ته پته نهٔ لگي نو، د عمر ﷺ رب ته خو پته لگي، الله خو خبر دے، الله ته به څهٔ جواب ورکوو؟ مور ئې غلې شوه، سيدنا عمر ﷺ هغه کور معلوم کړو، او بچې ته ئې اووئيل: که وادهٔ کوې، نو هم پدې کور کښې به کوې، ددې ديندارې ښځې سره به نکاح کوې.

نو د جنت نِهرونو کښې به يَو نِهر د پيُو وي، خو د هغې خوند به نهٔ وي بدل شوے.

(3) دريم نِهر به د شرابو وي، خو داسې شراب چې خوند به ورکوې څکونکو ته، د دُنيا د شرابو پشان شراب به نهٔ وي، چې سرے ئې اُوڅکي، نو بيا د ځان نه خبر نهٔ وي.

واقعه

يَو شرابي شراب څکلي وو، بے هوشه پرُوت وو، نو سپے راغے، او خُلهٔ ئې ورله ستله، نو دهٔ زړهٔ کښې اووئيل: چې دا څوک دے، او زما خُلهٔ صفا کوي، نو دهٔ

اووئيل: "أَكْرَمَكَ اللهُ".[1] سبې ته ئې "أَكْرَمَكَ اللهُ" اووئيل.

واقعه

يَو شرابي شراب ځکلي وو، د نشې پۀ حالت کښې وو، چا لوې بُول کړې وو، هغه لوې بُول ئې لاسو کښې راغستل او پۀ مخ ئې راښکل، او د آودس دعا ئې وئيله: «اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ»؛ ځکه د حال نه خو خبر نۀ وي. د دُنيا د شرابو خو دغه حال وي.[2]

د جنت شراب به انسان له نقصان نۀ رسيږي، د انسان پۀ سَر به درد نۀ راځي، انسان باندې به د هغې نه اُلټۍ نۀ لګې. قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ﴾ "خوند به ورکوې ځکونکو ته".

(4) څلورم نِهر به د کبين صفا کړے شوې نه وي، د هر قسم ګندګۍ نه به پاک وي.

دا څلور نِهرونه به د هر جنتي کور مخې ته بهيږي. نو دُنيا کښې چې کوهې ګنې نو پۀ هغې څومره پيسې لګې، نو الله وائي: چې ايمان دې راوړو، او نيک عمل دې اُوکړو، نو الله وائي: کور به هم درکړم، اُوبۀ به پکښې هم وي، خوراک به هم درکړم، بي بي به هم درکړم، او هميشه دپاره به جنت کښې اُوسيږي؛ ځکه دُنيا کښې خو يا ښځه مره شي، يا خاوند مړۀ شي؛ ځکه قرآن وائي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ﴾.[3]

"هر يَو نفس ځکونکے د مرګ دے". بيا هغه خوندونه او مزې ختم شي، الله وائي: داسې به نۀ وي، «وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ» "دوې به هميشه دپاره جنت کښې وي"، مرګ او فنا به پرې نۀ راځي.

---

(1) [تفسير القرطبي تحت آية سورة البقرة: 219].

(2) [تفسير القرطبي تحت آية سورة البقرة: 219].

(3) [سورة آل عمران: 185].

اول روایت

یو حدیث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: چې کله جنتیان جنت ته لاړ شي، او جهنمیان جهنم ته لاړ شي، نو مرګ به راوستے شي د جنتیانو او جهنمیانو مینځ کښې کښې به اُودرولے شي، آواز به اُوکړے شي، اے جنتیانو او جهنمیانو اُوګورئ دا مرګ دے، مرګ به پېژنيله مړه شي، مرګ نور خلق وژني، پدې مرګ به پېژنيله هم مرګ راروان دے، مرګ له به د ګډ شکل ورکړے شي، هغه به راوستے شي، د جنت او جهنم مینځ کښې به اُودرولے شي، حلال به کړے شي، آواز به اُوکړے شي، چې اے جنتیانو تاسو همیشه دپاره جنت کښې اوسیږئ، اے جهنمیانو تاسو همیشه دپاره جهنم کښې اُوسیږئ، نۀ به جنتیانو باندې مرګ راځي، او نۀ به جهنمیانو باندې مرګ راځي، فنا او زوال به پکښې نۀ وي.[1]

پکار دي چې مونږ ددې دپاره عمل اُوکړو، ددې دپاره عمل څۀ شے دے؟ عمل دا دے چې څۀ الله وئیلي دي، او څۀ د الله پیغمبر وئیلي دي، چې هغه کار اُوکړو، او چې د څۀ نه ئې منع کړې ده، چې د هغې نه منع شو، او د هغې نه ځان بچ کړو.

د جنت قیمت

قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾.[2]

"یقینًا الله اغستي دي د مؤمنانو نه نفسونه د مؤمنانو او مالونه د مؤمنانو پدې خبره چې دوي لره جنت دے".

لږ سوچ پکار دے، دا نه چې یو سړے وائي: زما د طرف نه سَل روپۍ واخله، زۀ

[1] [رواه البخاري، رقم: (6548)، ومسلم، رقم: (2850)].
[2] [سورة التوبة: 111].

اوزګار نۀ یم، یا زۀ به درسره کار اُوکړم، د مال وَس مې نۀ رسي، نا نا مال به هم لګوې، او بدن به هم لګوې، دا د جنت قیمت دے، یَو سړے نۀ ضعیف دے، نۀ کمزورے دے، او تا ته وائي: چې تۀ زما د طرف نه حج اُوکړه، نو دا حج نۀ کیږي، کۀ بادشاه دے، نو پیسې به هم لګوې، او حج به پخپله کوې. داسې یَو بل مالدار دے، او هغه وائي: چې زما پۀ ځائے د سحر یا د ماسپخین مونځ اُوکړه، نو دا مونځ نۀ کیږي، دا پۀ تا لازم دي، چې تۀ به دا خپل بدن ګرزوې، نفس او بدن دواړه به لګوې، هله به تاته جنت میلاویږي، کۀ څوک جنت غواړي، نو دا دواړه څیزونه به د الله د رضا دپاره لګوي.

قرآن کریم کښې د جنتیانو ذکر

قرآن کریم کښې الله د جنتیانو ذکر بے شماره آیاتونو کښې کوي، الله رب العزت فرمائي: ﴿يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ﴾.[1]

"اے زما بندګانو! نۀ به وي څۀ یره پۀ تاسو باندې، او نۀ به تاسو غمژن شئ".

﴿الَّذِينَ آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ﴾.[2]

"دا هغه کسان دي چې زمونږ پۀ آیاتونو ئې ایمان راوړے دے، او وو دوي غاړه کیخودونکي حکم د الله ته".

الله به ورته وائي: ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُونَ﴾.[3]

"دننه شئ جنت ته تاسو هم دننه شئ، او ستاسو بیبیانې به درسره هم دننه کیږي، تاسو به پدې جنت کښې خوشحاله کړے شئ".

نو دُنیا کښې چې څان له کور اَخلې، نو پدې کښې ستا بدن هم لګي او ستا مال

---

(1) [سورة الزخرف: 68].

(2) [سورة الزخرف: 69].

(3) [سورة الزخرف: 70].

هم لکي، او جنت ته هسې غواړي؟ د جنت قيمت آسان دے، خپل بدن د الله د رضا دپاره استعمال کړه، خپل مال د الله د رضا دپاره استعمال کړه، چې د الله ستا نه څه مطالبه ده، هغه به منې، که د جهاد مطالبه ده، جهاد به کوې، او که د علم مطالبه ده، علم به حاصلوې، که د دين يو بل کار دے هغه به کوې، پدې کښې به خپل بدن او مال لګوې. بعضې سړے چې د الله په دين باندې مال لګوې نو دا ورته تاوان ښکاري. حالانکه نبي ﷺ فرمائي: «فَأَمَّا الَّذِي أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ، فَإِنَّهُ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ بِصَدَقَةٍ».[1]

"په الله مې دې قسم وي د بني آدم مال د صدقې د وجې نه نه کميږي".

څومره چې ډير خيرات کوې دومره به تا باندې الله فضل کوي. «الصَّدَقَةُ رَدُّ الْبَلَاءِ» "صدقه د مصيبتونو واپس کونکې ده".

په مونږ چې مصيبت راشي، نو هله صدقه کوو، دا صدقه مخکښې پکار وه. د جنت قيمت دوه څيزونه دي: (1) مال لګول، او (2) دويم بدن لګول، نو جنت ستا دے.

دُنيا کښې ځان سترے کړه، نو الله به جنت درکړي، الله وائي: جنت کښې به ته زما ميلمه ئې، قرآن کښې الله فرمائي: ﴿يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ﴾.[2]

"کرخولے به شي په دوي باندې کاسې د سرُو زرو نه او ګلاسونه به وي او په دې جنت کښې به هغه څه وي"، چې دوي ئې خوښه وي، هر ارمان به ئې الله پورا کوي، چې څه باندې د انسان سترګې يخيږي، هغه به ورته جنت کښې ميلاويږي.

دويم روايت

يو حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: چې کله د قيامت ورځ شي، الله به

---

(1) [رواه البغوي في "شرح السنة"، رقم: (4097)].

(2) [سورة الزخرف: 71].

جنتي ته اووائي: اے جنتي ته «تَمَنَّ» "جنتي غواړه"، دا جنتي به غواړي، «فَيَتَمَنَّى» "خومره چي غواړي نو دے به اُوغواړي"، بیا به چپ شي، «وَيَتَمَنَّى» "نو بیا به نور غوښتل شروع کړي"، الله به ورته اووائي: نور غواړه، نو دے به ورته اووائي: الله بس دے، الله به ورته وائي: «هَلْ تَمَنَّيْتَ؟» "آیا تا خپل ارمان پورا کړو"، نور ضرورت خو دي نشته؟ دے به ورته وائي: «نَعَمْ»، "آؤ"، ما ټول خیزونه اوغوښتل، الله به ورته وائي: «فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ» "بنده څۀ چي تا اُوغوښتل هغه خو تا له هسې هم میلاؤ شول، او دا خومره چي تا غوښتلي دي، دومره مي تا له نُور هم درکړل".[1]

څکه اوس الله د انسان ارمان پورا کوي، انسان وائي: بس دے، او الله ورته وائي: دا ورسره هم واخله. دُنیا کښي مونږ سوال کوو، الله دا نعمت راله راکړي، ځان سترے کوو، او نعمتونه نۀ میلاویږي، دُنیا کښي د انسان ارمان نۀ پورا کیږي، دعاګاني غواړو، او هغه دعاګاني نۀ قبلیږي، او کۀ دعا قبوله شي، نو هغه وخت قبوله شي، چي هغه وخت تیر شوے وي.

زمونږ استاذِ محترم شیخ القرآن والحدیث مولانا صدر الشهید صاحب حفظه الله به فرمائیل: وائي: افسوس دا دے، چي زمونږ دعا اول نۀ قبلیږي، او کۀ قبوله شي، نو هغه داسې وخت کښي وي، چي بیا زمونږ ضرورت نۀ وي.

مثلًا زمینداران دعا غواړي چي یا الله باران اُوکړې، نو باران نۀ کیږي، بیا دا ټولي دعاګاني جمع شوي وي، نو ټولي دعاګاني ژمي کښي قبولي شي، او هره ورځ باران وي، نو زمیندارن وائي: الله اُوس ئې اودرے، نو بیا باران نۀ اودریږي، نو ټول ژمي کښي اووائي: چي باران مۀ کوه، باران مۀ کوه، نو هغه اُوړي کښي قبولي شي، نو

(1) [رواه مسلم، رقم: (182)].

اُوري کښې سوال کوي چې الله باران اُوکړي، نو بيا اُوري کښې باران نۀ کيږي.

دُنيا کښې مونږ دعاګانې غواړو، او سُلو کښې چرته يَوه دعا قبوله شي، نا اُميده کيدل نۀ دي پکار د الله د رحمت نه، او خپله دعا بس کول نۀ دي پکار. نو بهر حال دُنيا کښې د انسان ټول ارمانونه نۀ پوره کيږي، پۀ جنت کښې به د انسان هر ارمان پوره کيږي.

د اهل السنت والجماعت مسلک

د اهل السنت والجماعت دا مسلک دے، چې مسلمانانو کښې کوم ګناهګاران مسلمانان دي، کۀ الله اُوغواړي او معاف ئې کړي، نو څوک تري تپوس نۀ شي کولے، او کۀ سزا ورکوي، نو هغوي له به د خپلې ګناه مطابق سزا ميلاويږي، اول به جهنم ته لاړ شي، چې کوم ګناهونه ئې کړي دي د هغې سزا به ورته ميلاويږي، او د هغې نه پس به جنت ته ځي.

دريم روايت

يَو حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: آخري سړے چې د جنهم نه را وځي، دۀ ته به الله اُووائي: جنت ته لاړ شه، نو چې دے جنت ته نزدې شي، نو ددۀ خيال کښې به دا راشي چې زۀ خو د ټولو نه آخري راووتم، زما نه وروستو خو څوک نشته، نو جنت خو ټول ډک دے، زۀ به کوم ځائے ته ورشم؟ دے به بيا واپس راشي، الله ته به وائي: الله ما خو جنت وکتلو، نو هغه خو ټول ډک کړے شوے دے، الله به ورته وائي: ځه جنت ته دننه لاړ شه، دے به بيا جنت ته راشي، نو دے به بيا ګمان اُوکړي، چې جنت خو ټول ډک دے، بيا به ورته الله وائي: لاړ شه جنت ته دننه شه، «فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا» "ستا پواځې برخه به جنت کښې دومره وي لکه د تمامې دُنيا هومره، او د دنيا هومره چې لس نورې دنياګانې ورسره شي"، بيا نبي ﷺ فرمائي: چې ستا دپاره به د دنيا پۀ لس چنده باندې ميلاويږي، دا بنده به اُوخاندي، وائي به: يا الله «تَسْخَرُ مِنِّي -أَوْ:

تَضْحَكُ مِنِّي- وَأَنْتَ المَلِكُ» "آیا ته ما پورې توقې کوې یا ما پورې خاندې، ته خو بادشاه نې"، دا حدیث چې نبي ﷺ ونیلو صحابي وائي: «فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ» "ما وکتل چې نبي ﷺ خاندل تردې پورې چې د هغوي غاښونه ښکاره شول"، او نبي ﷺ اوفرمائیل: «ذَاكَ أَدْنَى أَهْلِ الجَنَّةِ مَنْزِلَةً» "دا به هغه ادنیٰ جنتي وي".[1] نو چې اعلیٰ ته به څومره میلاویږي؟

څلورم روایت

رسول الله ﷺ فرمائي: «مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا»[2]

"په جنت کښي د یو چابک؛ هومره ځائے د دُنیا او څه چې په دې دُنیا کښې دي، د هغې نه بهتر دے"؛ ځکه دا توله دُنیا فاني ده او جنت باقي دے، جنت د نعمتونو ځائے دے، خو د هغې دپاره تیارے بکار دے.

پنځم روایت

سیدنا انس ؓ وائي: چې جنت ته جنتیان ننه شي، نو «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا، يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ، فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ»[3]

"په جنت کښې به ننه یو بازار لګیدے وي، هره جمعه کښې به هغې ته به دا جنتیان ځي"، نو په جنت کښې خو ورځ او شپه نشته، او جمعه خو هله راځي، چې ورځ او شپه وي.

مفسرین ذکر کوي، یعني دومره مقدار پس چې څومره مقدار دُنیا کښې ورځ او شپه تیریږي، جنتیان به هغې بازار ته ځي. نو حدیث کښې راځي "د شمال د طرف نه به یوه هَوا په دوي باندې را والوزي"، هغه هَوا به د دوي په مخونو باندې ولګي، د دوي

(1) [رواه البخاري، رقم: (6571)، ومسلم، رقم: (186)، وابن ماجه، رقم: (4339)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (3250، و6415)، والترمذي، رقم: (1648، و3013، و3292)].

(3) [رواه مسلم، رقم: (2833)].

پهٔ کېږو به ولګي، دُنیا کښې خو چې هَوا والوزي، نو د انسان ټول بدن د ګرد وغبار نه ډک شي، کېږے هم د ګرد وغبار نه ډکې شي، هغه هَوا چې په دې جنتیانو باندې ولګي نو د دوي حُسن او جمال به نُور خائسته شي، لکه د دُنیا د حُسن پشان به نهٔ وي، چې سړے څومره بوډا کیږي، نو دومره ئې حُسن ختمیږي، د جنتیانو حُسن به ورځ په ورځ سیوا کیږي، نو د جُمعې په ورځ به د دوي حُسن نور هم سیوا شي، نو چې خپل مقام ته واپس راشي، نو کور کښې به د بیبیانو حُسن هم زیات شوے وي، نو دې بیبیانو ته به دا خاوندان وائي: مونږ خو چې د کور نه تلُو نو تاسو دومره خائسته نهٔ وئ، پهٔ خدائے قسم ستاسو دا حُسن خو سیوا شوے دے، بیبیانې به دې خپلو خاوندانو ته وائي: چې پهٔ خداے قسم چې تاسو سحر د کور نه تللئ، نو دومره خائسته نهٔ وئ، تاسو خو چې واپس راغلئ د هغې نه هم خائسته شوي يئ.[1]

دغه ځائے کښې الله رب العزت د انسان ارمان پورا کوي، د جنت دپاره تیارے پکار دے.

شپږم روایت

یَو حدیث کښې راځي، د الله نه سوال کوئ د جنت، او چې د جنت سوال کوئ نو «فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَسَلُوهُ الفِرْدَوْسَ» "نو الله نه د جنت فردوس سوال کوئ، چې الله مونږ له جنت فردوس راکړي"، جنت فردوس هغه جنت دے په تمامو جنتونو کښې د اعلیٰ مقام والا جنت دے، د دغې جنت فردوس نه بیا د جنتونو نِهرونه روان شوي دي.[2]

د جنت د حورو حُسن

یَو حدیث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: ددغې زنانو حُسن او خائست به

(1) [رواه مسلم، رقم: (2833)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (7423)، والترمذي، رقم: (2530، و2531)].

دومره وي، چې د هغوي د پنډئ هغه نلے به د بهر نه ښکارېږي، دا بدن به ئې دومره سپين وي، او که هغه حورې د جنت اوبهٔ څکې، نو هغه اوبهٔ چې مرئ ته څي، نو هغه به د بهر نه ښکاري.[1]

د جنت د حورو اشعار

د جنت حورې به اشعار وائي:

نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ أَبَدًا ... وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا

وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ، فَلَا نَبْأَسُ أَبَدًا ... فَطُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا، وكُنَّا لَهُ[2]

"مونږ هغه حورې يُو چې الله مونږ خپلو خاوندانو له پهٔ نکاح باندې ورکړې يُو، مونږ باندې مرګ او فنا نهٔ راځي. مونږ به هميشه دپاره د خپلو خاوندانو نه خوشحاله يُو، مونږ به چرې د خپلو خاوندانو نه نهٔ خفه کيږو. مونږ به هميشه دپاره ترو تازه يُو، هيڅ کله به نهٔ غمژن کيږو. خوشحالي ده د هغې انسان دپاره چې هغه مونږ لره دے، او مونږ د هغه دپاره يُو".

قرآن کريم کښې د حُورو بيان

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ﴾.[3]

"حورې به وي چې بندې کړے شوې به وي پهٔ خيمو کښې د بل چا نظر به پرې نهٔ وي تير شوے".

او بل ځائے کښې الله فرمائي: ﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ﴾.[4]

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (3245، و3246، و3254)، ومسلم، رقم: (2834، و2834)].

(2) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (1342)].

(3) [سورة الرحمن: 72].

(4) [سورة الرحمن: 74].

"داسې حورې به وي، چې د دې انسانانو نه مخکښې به چرته د انسان لاس د هغې سره نۀ وي لګيدلے، چرته پيرې به د هغې سره لاس نۀ وي لګولے"، دا به صرف ددې خاوند دپاره وي.

بل ځائے کښې الله فرمائي: ﴿عُرُبًا أَتْرَابًا ★ لِأَصْحَابِ الْيَمِينِ﴾.[1]

يَو معنٰى دا ده: "چې د هغې حورو ژبه به عربي وي"

دويمه معنٰى دا ده: "مينه دارې به وي خپلو خاوندانو باندې، خپلو خاوندانو سره به ئې مينه او محبت وي". ﴿أَتْرَابًا ★ لِأَصْحَابِ الْيَمِينِ﴾

"دا به همزولې وي د خپلو خاوندانو سره، دپاره د ښي لاس والو به وي".

همزولې به وي د خاوندانو سره، کله کله بي بي وي خو هغه د خاوند نه زيات عمر والا وي، نا د جنت به داسې بي بي وي، چې هغه به د خاوند سره همزولې وي.

د دُنيا د بي بي دپاره څومره محنت کوې، او د جنت حورې غواړې اويا (70) اويا (70) حورې به الله يَو يَو جنتي له ورکوي د هغې دپاره دې څومره تيارے اُوکړو؟

بل ځائے کښې الله قرآن کريم کښې فرمائي: ﴿وَحُورٌ عِينٌ ★ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ﴾.[2]

الله وائي: "حورې به وي د غټو غټو سترګو والا به وي"، "هغه بيبيانې به وي چې د سترګو تُور به ئې ډير تُور وي، او د سترګو سپين به ئې ډير زيات سپين وي"، او دا حُسن دے، کله چې د انسان د سترګو دا سپين ځايونه سرۀ وي يا زيړۀ وي يا خړۀ وي، نو هغه خوند نۀ کوي، الله وائي: داسې حورې به وي، چې د هغوي سترګې به

(1) [سورة الواقعة: 37-38].

(2) [سورة الواقعة: 22-23].

ډيرې خائسته وي، او د غټو سترګو والا به وي. بهر حال په جنت کښې به الله د جنتيانو هر ارمان پورا کوي، جنت د الله د نعمت يَو مقام دے.

اُووم روايت

رسول الله ﷺ فرمائي: «يَأْكُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ، وَلاَ يَمْتَخِطُونَ وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ وَلاَ يَبُولُونَ».[1]

"جنت کښې به جنتيان خوراک کوي، څکاک به کوي، نۀ به د هغوي پوزې بهيږي، نۀ به لوې بول ورځي، نۀ به واړۀ بول ورځي"، هيڅ تکليف به ورته نۀ رسي؛ ځکه د انسان طبيعت ددې نه نفرت کوي. نو چې دا دومره خوراک څکاک کوي نو هغه به چرته ځي؟ نو حديث کښې راځي، چې خوراک اُوکړي، او ډرقے اُوکړي، هغه هر څۀ به ختم شي. دُنيا کښې خو چې انسان ډرقے اُوکړي، نو د هغۀ د خُلې نه بدبوئي راشي، جنت کښې چې انسان ډرقے اُوکړي، هغه به د مشکو او عنبرو غوندې خوشبوئي کوي، د هغوي د خوراک هغه اثرات به د خُوَلې په شکل د بدن نه بهر کيږي. موږ باندې خو چې دُنيا کښې خُولۀ راشي، نو بل سړے راسره خو کښې نۀ شي اودريدے، دومره ګنده بوئي وي، هغه به داسې خُوَلۀ وي، چې د هغې بوئي به د مشکو او د عنبرو پشان وي. جنت د الله د نعمتونو يَوځائے دے، د هغې دپاره تيارے پکار دے، کۀ زموږ بدن لګي او کۀ زموږ مال لګي، او کۀ زموږ وخت لګي، چې دا ټول هر څۀ د الله د دين دپاره پيش کړو.

دا جنت الله د مؤمنانو او متقيانو دپاره تيار کړے دے، ﴿أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾.[2]

"دا جنت د متقيانو دپاره تيار کړے شوے دے".

(1) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (14769)].

(2) [سورة آل عمران: 133].

او جنت زموږ د نیکهٔ میراث دے، آدم علیه السلام په جنت کښې پیدا شوے دے، هغهٔ کښې روح په جنت کښې اچولے شوے دے، په جنت کښې اُوسیدلے دے، د عذر دپاره چې اولاد په جنت کښې نهٔ پیدا کیدو، نو الله را بهر کړو، چې دُنیا کښې به ستا اولاد پیدا کیږي، د ګناه د وجې نه نهٔ دے بهر شوے هغه غیرتي انسان وي، چې هغه د خپل پلار نیکهٔ میراث واخلي.جنت زموږ او ستاسو د ټولو میراث دے هغه انسان غیرتي نهٔ وي، چې د هغهٔ نه د پلار نیکهٔ میراث لاړ شي، جنت زموږ میراث دے، دُنیا کښې کهٔ ستا د نیکهٔ میراث دے، او ستا پکښې برخه ده نو په هغې باندې جګړې کوې، چې دا ماله میلاؤ شي، دښمنې پرې کوو، قتلونه پرې کوو، او د جنت هغه میراث چې ستا د نیکهٔ میراث دے، د هغې دپاره دې څومره تیارے کړے دے؟ او میراث ورته څکه وائي؛ چې تا ترې څوک ایستے نشي، په تا څوک دعوٰی نشے کولے؛ څکه تا خو اغستے نه دے، دا خو ستا میراث دے، په میراث باندې هیڅ قسم مقدمه نشي کیدلے. الله رب العزت دې موږ ټولو ته جنت نصیب کړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

وقضى ربك ألا تعبدوا إلا إياه وبالوالدين إحسانا إما يبلغن عندك الكبر أحدهما أو كلاهما فلا تقل لهما أف ولا تنهرهما ...الآية

(سورة بني إسرائيل: 23)

موضوع

حقوق الوالدين

بتاریخ: 2006-02-03

بمقام: جلسیٔ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّانی حفظه الله

حقوق الوالدين

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِه اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ الله الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ★ وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ، وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ».[2] (أو كما قال رسول الله ﷺ).

عزت مندو مسلمانانو رونړو! ما د قرآن کريم نه د سورت بني اسرائيل يَو دوه آياتونه اولوستل، په هغې کښې اول الله خپل حکم او خپل حق ذکر کوې، چې د الله نه ما سيوا به د هيڅ چا عبادت نۀ کوئ، ما ته به ژړا او فرياد کوئ، زما عبادت به کوئ. او دويم دخپل حق پسې الله د هغه چا حق ذکر کوې چې هغه د انسان مور پلار دي، اولنے حق زما دے، او دويم ﴿وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا﴾ "د خپل مور پلار سره احسان

(1) [سورة بني إسرائيل: 23-24].

(2) [رواه الترمذي، رقم: (1899)].

کوئ"، د هغوي سره به ښه سلوک کوئ. الله وائي: چې زما حق منې نو زه به درنه خپل حق هله قبلوم چې ورسې حق د مور پلار هم اُومنې. د الله حق د هر څه نه مخکښې دے، خو که مور پلار دي د الله د حکمونو نه منع کوي، که مور پلار درته پدې باندې غُصه دي، چې ته ولې مسلمان ئې؟ شرک اُوکړه د الله سره او کفر اُوکړه د الله سره، نو بیا به د مور پلار نه منې، د دُنیا په کارونو کښې به د مور پلار تابعداري کوې، پدې آیاتونو کښې الله فرمائي: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ﴾ "ستا رب فیصله کړې ده، ستا رب حکم کړے دے چې عبادت به نه کوئ مګر صرف د یَو الله به کوئ" چې د الله حکم دي اُومنلو، ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ د خپل مور پلار سره د احسان حکم الله کړے دے، "چې ته به د خپل مور پلار سره احسان کوې"، او څنګه احسان به کوې؟ الله فرمائي: ﴿إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾ "که چرته اُورسیدل دا مور پلار تا سره بوډا والي ته" یعنې ته ژوندے ئې، او ستا مور پلار باندې بوډا والے راغلے، او بوډاګان شول، "نو خبردار! مور او پلار ته به اُف هم نه وائې، او مور پلار مه رټه"، مور ته به غُصه هم نه کوې، "وایه مور او پلار ته وینا عزتمنده" د عزت خبرې ورسره کوه، نرمې نرمې خبرې ورسره کوه.

﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾ ... "اُف" څه ته وائي؟ مفسرین رحمهم الله ذکر کوي، ﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾ چې کله د مور او پلار خدمت کوې، نو د هغوي په خدمت باندې خپله ناراضتیا مه ښکاره کوه، د مور پلار خدمت چې کوې د هغوي په خدمت به خپل ځان نه خفه کوې، د هغوي په خدمت به "اُف" هم نه وائې، دومره ورته هم نه شې وئیلے.

یا ﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾ ... مور او پلار ته به "اُف" هم نه وائې، یعنې که مور او پلار ته غصه راځي، نو د هغوي په باره کښې "اُف" هم نشے وئیلے، دومره غصه هم نشې کولے.

یا ﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ﴾ ... مور پلار دي موجود دي، نو ته خپل ستړے والے مه

ښکاره کوه د مور پلار په مخکښې "أف" هم مهٔ وايه.ولې چې ته ستړے شې، نو مور پلار به دې خبر شي چې نن زمونږ بچے ستړے شوے دے، نو به په تا باندې خفه کيږي، نو هغوي ته ستا په ستړې کيدو باندې تکليف رسي. نو د مور پلار مخکښې خپل ستړے والے مهٔ ښکاره کوه.

﴿وَلَا تَنْهَرْهُمَا﴾ "مور او پلار مهٔ رټه"، مور او پلار ته به غُصه کيږي نهٔ، اُوس دُور کښې خو خلق مور پلار وهي، وهل خو لويه گناه ده، مور او پلار ته غُصه کيدے هم نشي. ډير خلق کنځلې کوي مور او پلار ته. "اُف" نهٔ شي وئيلے د مور او پلار په مخکښې. دومره حق ئې دے.

د نبي ﷺ فرمان مبارکه

زما په خلقو کښې به داسې خلق راشي، چې هغوي به خپل پلار ته کنځلې کوي، صحابه کرامو ﷺ ورته اوفرمائيل: داسې به څوک وي چې خپل مور او پلار ته به کنځلې کوي، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: کهٔ دے خپل مور او پلار ته کنځلې نهٔ کوي، دے به د بل چا مور او پلار ته کنځلې کوي، نو هغه به ددهٔ مور او پلار ته کنځلې اُوکړي. نو ددې داسې مثال دے، چې دهٔ خپله مور پلار ته کنځلې اُوکړې.[1]

د پښتو متل دے، وائي: ته زما سپک مور او پلار مهٔ کنځه، نو زهٔ به ستا عزتمند مور او پلار نهٔ کنځم.

﴿وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا﴾ "وايه مور او پلار ته وينا د عزت نرمې او خوږې خوږې خبرې د مور او پلار سره کوه". دا نه چې مور او پلار دې بوډاگان دې، او هغوي درسره خبرې کوي، او ته ورته غُصه کيږې، نو داسې مهٔ کوه، د هغوي د طبعيت او د

(1) [رواه البخاري، رقم: (5973)، ومسلم، رقم: (90)].

هغوي د مزاج مطابق خبرې کوه، لکه سړے بوډا شي، خبرې بيا زياتې کوي، بے مطلبه خبرې کوي، بے مطلبه تپوس کوي، نو تهٔ به پهٔ هغې باندې نهٔ غُصه کيږې، نهٔ به پهٔ ښې نرمې طريقې سره د هغې جواب ورکوې.

واقعه

يَو عالم وو، کتاب ئې ليکلو، زوې ورسره خوا کښې ناست وو، مرغۍ راغله، مرغۍ وُنه کښې ناسته وه، هغه زوې د عالم نه تپوس کوي چې دا څهٔ شے دے؟ نو هغه پلار ورته وائي: مرغۍ ده، بيا ورته وائي: چې څهٔ دې؟ وائي: مرغۍ ده، لَس کرته ئې ماشوم تپوس اُوکړو، او لَس کرته ورته هغه پلار جواب ورکړو، چې دا مرغۍ ده. يعنې د دې خپل ماشوم بچې په خبرو هغه تنگ نهٔ شو. دې عالم دا خبره ځان سره ليکلې وه، بيا دا عالم بوډا شوے وو، وائي: لَس کرتې دې بچې زمانه تپوس کړے وو، دهٔ به وئيل: څهٔ دې، ما به ورته وئيل: چې مرغۍ ده، اُوس زهٔ پهٔ دهٔ امتحان کوم، مرغۍ راغله، او وُنه کښې مرغۍ کيناسته، وائي: بچيه! دا څهٔ ناست دې؟ وائي: بابا مرغۍ ناسته ده، وائي: څهٔ ناست دې؟ بيا ورته وائي: مرغۍ ناسته ده، وائي: څهٔ دې؟ وائي: مرغۍ ده، بيا ورته وائي: څهٔ دې؟ وائي: ړوند خو نهٔ ئې، خو مرغۍ ناسته ده کنه، وائي: څهٔ ناست دې؟ نو هغه ورته نور هم غُصه شو، وائي: زهٔ درته وايم چې مرغۍ ده، او تهٔ بيا بيا تپوس کوې، هغه عالم ورته اووئيل: بچيه! دومره به دې کړے وے چې لَس کرته خو به دې ما له جواب راکړے وے، نو کهٔ بيا مې درنه تپوس کولو نو بيا به غُصه شوے وے، لَس کرته تا زما نه تپوس کړے وو، ما به درته وئيل: چې دا مرغۍ ناسته ده، او ن تهٔ ما له دوه کرته د هغې جواب نهٔ شې راکولے.

هغه خپل ماشوم والے ځان ته رایاد کړه، چې تا سره ستا مور او پلار تکليف نور کړے دے، داسې وخت وو چې تهٔ ماشوم وې، مور نهه (9) مياشتې تهٔ پهٔ گيډه

کرځولے وي، او تهٔ اُوس مور پلار ډاکټر له نهٔ شې بوتللے، څومره پهٔ تکلیف تهٔ پیدا شوے ئې، بیا د هغې نه بعد مور دوه کاله یا دوه نیم کاله تا له پئې درکول، دغه مور وه چې کله به تهٔ بیمار شوې، نو مور به درسره توله شپه په تکلیف وه، تکلیف به پهٔ تا وو، او ژړل به درسره مور، هغې به درسره تکلیف برداشت کولو، دغه مور دي وه، چې هغې به ستا وارهٔ بول او لوې بول بچپلو لاسونو باندې صفا کول، بد ئې نهٔ کنړل، دغه مور او پلار وو چې ستا د ژوند دپاره هغوي پهٔ خپل ځان باندې څومره سختې تیرې کړې دې، او تهٔ ئې ډیر په تکلیفونو باندې لوې کړے ئې، او نن چې تهٔ لوې شوې، او مور پلار دې کمزورې شول، تهٔ د هغوي سره ظلمونه او زیاتې کوې، تهٔ د هغوي هغه حق به کله اداء کوې؟ قیامت کنبې خو نه اداء کیږي، نو دغه مور او پلار چې تهٔ ئې پاللے ئې، نو تهٔ به د مور پلار د حقونو خیال ساتې، تهٔ به د هغوي احسانات نهٔ هیروې. الله رب العزت فرمائي: ﴿وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ﴾.[1]

"بنکته کړه مور پلار دواړو ته وزرې د مهربانئ نه"، یعني د مور پلار سره ښهٔ سلوک کوه، هغوي باندې خپله بد معاشي مهٔ کوه، دا نه چې بَهر چا ته څهٔ نهٔ شې وئیلے، او مور پلار سره هر وخت جنګ کوې ﴿وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا﴾.[2]

دعا ورله غواړه "چې اے زما ربه! زما مور پلار باندې رحم اُوکړه، لکه څنګه چې دوي ووړوکوالي کنبې زما تربیت کړے وو"، دومره خدمت خو تهٔ د هغوي نهٔ شې کولے، چې د هغوي نه خپله بدله کوزه کړې، نو د هغوي دپاره د الله نه د مغفرت سوال کوه، د مور پلار پهٔ بچي دومره حق دے.

---

(1) [سورة بني إسرائيل: 24].

(2) [سورة بني إسرائيل: 24].

د سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ روایت

حدیث کښې راځي، سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: زهٔ راغلم، او نبي ﷺ ته مې اووئیل: چې اے د الله پیغمبره ﷺ! «أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟» "په تمامو عملونو کښې الله ته بهترین عمل کوم یَو دے"، وائي: ما ته نبي ﷺ اوفرمائیل: «الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا» "په خپل وخت باندې مونځ کول"، دا بهترین عمل دے، چې په کوم وخت کښې الله مونځ فرض کړے دے، په هغه وخت کښې مونځ اُوکړې، دا نه چې مونځونه قضا کوې، الله رب العزت فرمائي: ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا﴾.(1)

"یقینًا مونځ په مؤمنانو باندې فرض دے، په خپل وخت باندې"، مسلمان چې مونځ کوې نو په خپل وخت به کوې، کوم سړے چې دوه مونځونه په یَو وخت باندې کوې، نبي ﷺ فرمائي: «فَقَدْ أَتَى بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْكَبَائِرِ» "دې سړي لویه ګناه اُوکړه چې مونځ ئې د خپل وخت نه وروستو کړو". نو مونځ په تمامو عملونو کښې الله ته خوښ عمل دے، بیا ورته صحابي وائي: ددې پسې بیا کوم عمل بهتر دے، نبي ﷺ ورته فرمائي: «بِرُّ الْوَالِدَيْنِ» "د مور پلار سره احسان کول دا بهترین عمل دے"، د الله حق دې اداء کړو، نو بیا د مور پلار سره احسان کوه هغوي مهٔ رټه، هغوي سره ظلم او زیاتے مهٔ کوه، بلکه د هغوي سره ښهٔ سلوک کوه بیا ورته صحابي فرمائي: «ثُمَّ أَيٌّ» "بیا کوم عمل الله ته خوښ دے"، نبي ﷺ ورته وائي: چې «الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ» "د الله په لار کښې جهاد کول الله ته ډیر خوښ دې" چې خپل مال هم د الله په دین قربان کړې، او خپل نفس هم د الله په دین قربان کړې.(2)

(1) [سورة النساء: 103].

(2) [رواه البخاري، رقم: (527، و5970)].

د يو صحابي جهاد له تلل

يو صحابي راغلو، او نبي ﷺ ته وائي: ما ته اجازت راکړه زه جهاد له ځم، نبي ﷺ ورته فرمائي: ستا مور پلار ژوندي دي؟ هغه ورته وائي: آؤ، د الله پیغمبره ﷺ مور مې ژوندۍ ده، یا دواړه ژوندي دي، نبي ﷺ ورته فرمائي: «فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ» "پس ستا دپاره جهاد دا دے چې د مور پلار سره احسان أوکړه"، د مور پلار خدمت أوکړه، دا ستا دپاره جهاد دے.[1]

د امام ذهبي رحمه الله قول

هغه وائي: واه هغه انسانه!!! چې ته جنت کورې په نورو نورو خيزونو کښې، خپل کور ته راشه، ستا د مور پلار د خپو د لاندې جنت دے. جنت د مور پلار د خپو د لاندې دے، یعنې د مور پلار خدمت باندې الله جنت ورکوي، د مور پلار خدمت أوکړه تا ته به جنت میلاؤ شي.[2]

د مور پلار باره کښې د نبي ﷺ فرمان

«رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الوَالِدِ، وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الوَالِدِ».[3]

"د الله خوشحالي د مور پلار په خوشحالئ کښې ده، او د الله خفگان د مور پلار په خفگان کښې دے"، که مور پلار درنه خوشحاله دي نو الله درنه هم خوشحاله دے، او که مور پلار درنه خفه دي، نو الله درنه هم خفه دے، نو که څوک الله خوشحالول غواړي نو پکار دي چې خپل مور پلار خوشحاله کړي.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (3004) ومسلم، رقم: (2549)، والنسائي، رقم: (3103)].

(2) [كتاب الكبائر للذهبي ا: 46].

(3) [رواه الترمذي، رقم: (1899)].

نبي ﷺ ته د يَو د صحابي راتلل

نبي ﷺ ته يَو صحابي راغے، او نبي ﷺ ته وائي: «مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا؟» "اے د الله پيغمبره ﷺ! د مور او پلار په بچو څومره حق دے؟"، نبي ﷺ ورته فرمائي: «هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ».[1]

"مور او پلار ستا جنت هم دے، او ستا جهنم هم دے"، كه د مور پلار خدمت دې اُوكړو، د هغې خدمت په وجه به جنت ته لاړ شې، او كۀ د مور پلار مخالفت دې اُوكړو، نو د هغې په وجه به جهنم ته لاړ شې.

رشته دارۍ كټ كول

رسول الله ﷺ فرمائي: «لاَ يَدْخُلُ الجَنَّةَ قَاطِعٌ».[2]

"هغه سړے جنت ته نۀ شې تللے چې هغه د خپلو خپلوانو سره رشته دارۍ كټ كړې ده".نو هغه سړے جنت ته نۀ شې تللے چې چا د خپل مور پلار سره غم ښادي پريښودې ده.

په عمر كښې بركت

نبي ﷺ فرمائي: كوم سړے چې د هغۀ دا ارزو ده، او دا ئې تمنا ده چې د هغۀ عمر الله زيات كړې، او عمر كښې ورله الله خير او بركت واچوې، رزق ئې سيوا شې، نو هغه دې د خپل مور پلار سره دې ښۀ سلوك كوې.

يَو سړے وائي: الله دې زما رزق كښې خير او بركت واچوي نو هغۀ دې د خپل مور پلار سره ښۀ سلوك كوې، او د خپل خپلوانو سره دې رشته دارۍ نۀ كټ كوې، هغوي سره دې رشته دارۍ پالې، نو ددې سړي په رزق كښې او په عمر كښې به

(1) [رواه ابن ماجة، رقم: (3662)].

(2) [[رواه البخاري، رقم: (5984)، ومسلم، رقم: (2556)، والترمذي، رقم: (1909)، وأبو داود، رقم: (1696)]].

برکت وي، او چې کوم سړے د مور پلار سره ښه سلوک نۀ کوي، الله به ورله دُنیا کښې د هغې سزا ورکوي.

د مور پلار د نافرمانۍ دُنیاوي سزا

نبي ﷺ فرمائي: چې کومه ګناه انسان په دُنیا کښې اُوکړي، نو د هغې سزا الله آخرت کښې ورکوي، ډیر کم ګناهونه دي چې د هغې سزا دُنیا کښې ورکوي، لیکن چې کوم سړے د مور پلار نافرمانه دے، مور پلار ترې خفه دي، د مور پلار تابعداري نۀ کوي، د هغې سزا به ورته دُنیا کښې ورکوي، دۀ ته به خپله پته اولګي، چې دا زما د مور پلار د نافرمانۍ هغه سزا ده.[1]

اُوس هم خلق وائي: دا فلانکے چې په بد حال دے، یره ددۀ نه مور پلار د دُنیا نه تلي دي، ځکه دومره په بد حال دے. او حدیث کښې هم دا خبره تیره شوه.

پردو زنانو ته کتل

رسول الله ﷺ فرمائي: تاسو د نورو خلقو زنانو ته په بد نظر مۀ ګورئ، نو ستاسو زنانه به بچ پاتې شي، ستاسو زنانو ته به نور څوک په بد نظر نۀ ګوري، د بل چا د عزت خیال وُساتئ، نو خلق به ستا د عزت خیال وُساتي.

رسول الله ﷺ فرمائي: تاسو د خپلو پلارانو سره احسان اُوکړئ، نو صبا چې ستا نه کوم اولاد پیدا کیږي، نو هغه به ستا عزت کوي، تۀ د خپل مور پلار عزت اُوکړه، نو چې صبا ستا نه کوم اولاد پیدا کیږي، نو هغوي به ستا عزت کوي، او کۀ چرې تا په خپل ژوند کښې د مور پلار سره ښۀ سلوک نۀ وي کړے نو سزا ئې دا ده چې ستا نه کوم اولاد پیدا کیږي نو هغه به صبا ستا عزت نۀ کوي. ددې سزا الله دُنیا کښې ورکوي.

نو د مور پلار ډیر زیات حق دے، په خپلو بچو باندې، ستا د وجود دپاره ستا مور

---

[1] [کتاب الکبائر للذهبي 1: 42].

پلار سبب جوړ شوي دي، ته په خپله نه پوهیدې، ته مور پلار لوئي کړے ئې، تا حلال او حرام نه پیژندل تا باندې مور پلار پیژندلي دي. او نن مونږ مور پلار شاته غورځولي دي، نن مونږ د مور پلار مخالفت کوو، هغه مور او پلار چې هغوي مونږ واړه بچي لوي کړي یو، نن مونږ د هغوي مقابله کوو، دا د مسلمان شان نه دے، د مسلمان شان دا دے چې هغه به د خپل مور پلار سره ښۀ سلوک کوي، د مور پلار سره به احسان کوي، د مور او پلار به عزت کوي.

په قرآن کریم کښې درې خبرې یوځائے

سیدنا عبد الله بن عباس ﷺ ذکر کوي، په قرآن کریم کښې درې آیاتونه داسې دي چې هغه الله یو حکم د بل حکم سره تړلے دے، نو کوم سړے چې یو حکم اداء کوي او بل حکم نه اداء کوي، الله ترې هغه یو هم نه قبلوي.

(1) یو قرآن کریم کښې الله فرمائي: ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ﴾.(1)

"د الله تابعدارې اُوکړئ او د الله د پیغمبر تابعدارې اُوکړئ". دا دواړه حکمونه یو دي، او هر ځائے کښې الله دا حکم یوځائے ذکر کوي، سورة نور، سورة محمد، سورة تغابن کښې الله ذکر کوي، اُوس کوم سړے چې د الله تابعدارې کوي او د نبي ﷺ تابعدارې نه کوي، نو د الله تابعدارې ترې هم نه قبلیږي، کوم یو سړے چې د نبي ﷺ تابعدارې کوي، خو د الله حکمونه ماتوي د الله تابعدارې نه کوي، نو الله ترې د نبي ﷺ تابعدارې نه قبلوي. د الله او د الله د پیغمبر تابعدارې چې کوي نو هله به ستا نه قبلیږي، پدې کښې به ته جُدا والے نه راولې.

مثال په طور یو سائیکل کښې دوه ټیرونه دي، او یو ترې لرې کړې، نو هغه سائیکل نه ځي، بیا به ئې ځان پسې راکاږې، دین به دي هله کامل وي چې ته د الله

(1) [سورة النساء: 59].

هم منې او د الله د پیغمبر ﷺ هم منې، او کهٔ څوک یوازې په یوه امر عمل وکړي او بل پریږدي، نو دا ورته یوازې هم نهٔ قبلیږي.

هم مني او د الله د پيغمبر ﷺ هم منې، او کهٔ جرې پدې دوارو کښې دي تفرقه راوسته، نو بيا يو هم نهٔ قبليږي.

(2) دويم قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾.[1]

"مونځ کوئ او زکوٰة ورکوئ". اُوس کوم سړے چې مونځ کوې خو زکوٰة نهٔ ورکوې، نو دا مونځ ترې الله نهٔ قبلوې، ولې چې الله دواړه يوځائے ذکر کوې؟ او تهٔ يو منې او بل نهٔ منې، مونځ منې خو زکوٰة نهٔ منې؛ څکه زکوة کښې تاوان دے، يا بعضې خلق داسې دې چې پهٔ پيسو ئې پرواه نهٔ وي، نو زکوٰة خو ورکوي، خو مونځ نهٔ کوي، نو دا زکوٰة ئې هم د الله دربار کښې قبول نهٔ دے؛ څکه الله دواړه يوځائے ذکر کړي دي، چې مونځ کوه او زکوٰة ورکوه، پدې کښې به جُدا والے نهٔ راولې.

(3) دريم عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې دريم څيز چهٔ قرآن کښې الله فرمائي: ﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ﴾.[2]

"زما شکريه اداء کړه، او د خپل مور پلار شکريه اداء کړه". زما احسان اُومنه، او د خپل مور پلار احسان اُومنه.

اُوس کوم سړے چې د الله شکريه اداء کوي، خو د مور پلار سره احسانات نهٔ کوي، مور پلار سره ښهٔ سلوک نهٔ کوي، نو د الله احسان او شکريه ترې هم قبوله نهٔ ده، د الله عبادت ترې هم نهٔ قبليږي، يا يو سړے د مور پلار سره ښهٔ سلوک کوي، مور پلار سره ئې ډيره زياته مينه ده، خو د الله احسانات نهٔ منې د الله عبادت نهٔ کوي، نو د مور پلار پهٔ د غه احساناتو نهٔ خلاصيږي، هله به دې غاړه خلاصيږي، چې د الله حق هم منې او د مور پلار حق هم منې.

---

(1) [سورة البقرة: 43].

(2) [سورة لقمان: 14].

دا ياد ساتئ!!! کهٔ چرې زمونږ نه مور او پلار ناراضه وي، او زمونږ نه مور پلار خفه وي، مونږ ته مور پلار خيرې کوې، او مونږ مونځ کوو، مونږ روژې نيسو، خو دا زمونږ نه د الله پهٔ دربار کښې نهٔ قبليږي؛ ځکه چې الله فرمائي: ﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ﴾.[1]

الله وائي: "اول زما شکر اداء کړه، وروستو د خپل مور پلار شکر اداء کړه". نو چې د الله شکر اداء کوې نو ورسره ورسره به د خپل مور پلار شکر به هم اداء کوې، چې د الله احسانات منې نو ورسره ورسره به د مور پلار احسانات هم منې، او کهٔ يَو منې او بل نهٔ منې نو، يَو هم درنه نهٔ قبليږي، د مور پلار ډير زيات حق دے. پهٔ قرآن کريم کښې چې الله خپل حق ذکر کوې ورسره د مور پلار حق هم ذکر کوې، پهٔ احاديثو کښې هم نبي ﷺ نهايت زور ورکوې، دې خبرې لره چې د مور پلار حق اداء کړئ.

د جبريل امين ﷺ درې قسمه خلقو ته خيرې

يَو حديث کښې راځي، نبي ﷺ پهٔ منبر تشريف فرما وو، چې پهٔ رومبئ پوړئ د منبر ته اُوختو، وائي: آمين، پهٔ دويمه پوړئ چې اُوختو بيا وائي: آمين، پهٔ دريمه پوړئ چې اُوختو بيا وائي: آمين، صحابه کرام تپوس کوې، اے د الله پيغمبره! دا څهٔ وجه ده چې تاسو نن درې کرتې پهٔ زوره باندې آمين اووئيلو؟ پيغمبر ﷺ ورته فرمائي: چې ما ته جبريل امين ﷺ راغے، او هغهٔ ماته دا خبره اُوکړه، درې خيرې هغهٔ اُوکړې، او ما ته ئې اووئيل: چې تهٔ پهٔ هغې باندې آمين وايه. هغه درې خيرې څهٔ وې؟ نبي ﷺ وائي: جبريل امين ﷺ ماته راغے، او هغهٔ ما ته دا خبره اُوکړه، چې هلاک دې شي هغه څوک چې چا باندې د رمضان المبارک مياشت راغله، او ددهٔ ګناهونه معاف نهٔ

(1) [سورة لقمان: 14].

شول، نو دا سړے دي تباه او برباد شي، وائي: ما اووئيل: چې آمين، چې دويمې پوړۍ ته اُوختم نو جبريل امين ﷺ اووئيل: چې د کوم سړي مخکښې ستا ذکر مبارک اُوشي، او هغه په تا درود شريف ونۀ وائي: "صلى الله عليه وسلم" نو دا سړے دي تباه او برباد شي، وائي: ما اووئيل: چې امين، بخيل څوک دے؟ نبي ﷺ فرمائي: تاسو بخيل پيژنئ؟ وائي: بخيل هغۀ څوک دے چې زما نوم ياد شي، او هغه ما باندې درود شريف ونۀ وائي، کله چې په دريمه پوړۍ اُوختم نو هغۀ اووئيل: چې کوم سړے چې د هغه مور پلار ژوندي دي، او دۀ د هغوي دومره خدمت اُونۀ کړو، چې د هغې په وجه دے جنت ته لاړ شي، دا انسان دي تباه او برباد شي، وائي: ما ورته اووئيل: چې آمين.[1]

د سيدنا ابو هريره ﷺ روايت

سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائي: «رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ» قِيلَ: مَنْ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا، ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ».[2]

"پوزه دي ککړه شي، پوزه دي ککړه شي، پوزه دي ککړه شي" يعنې پوزه دي خاورو کښې رانښکلے شي، ذليل او رسوا دي شي، تباه او برباد دي شي، درې کرتې نبي ﷺ دا خبرې کوي، "صحابه کرام ﷺ ترې تپوس کوي، اے د الله پيغمبره ﷺ! څوک يادوئ؟ نبي ﷺ ورته فرمائي: هغه سړے چې د هغۀ مور پلار بوډاګان دي، يو ژوندے دے، او بوډا دے، يا دواړه بوډاګان دي، او دے د هغوي دومره خدمت ونۀ کړي، چې د هغوي د خدمت په وجه دے جنت ته لاړ شي" نو دا انسان دي تباه او برباد شي. يعنې د مور او پلار دومره خدمت اُوکړه، چې د هغوي د خدمت په وجه

(1) [رواه الحاكم في "المستدرك"، رقم: (7256)، والمنذري في "الترغيب والترهيب"، رقم: (1479، و2591)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (2551)].

جنت ته لاړ شي. د مور پلار دومره حق دے.

پدې کښې مقصد تيزې ورکول دي چې پاسه او د مور پلار خدمت اُوکړه چې جنت ته لاړ شې، د مور پلار خبره نهٔ منل لويه ګناه ده.

لوې ګناهونه

صحابي راغے، نبي ﷺ نه تپوس کوې، اے د الله پيغمبره ﷺ! پهٔ تمامو ګناهونو کښې لويه ګناه کومه يَوه ده؟ نبي ﷺ ورته فرمائي: (1) «الكَبَائِرُ: الإِشْرَاكُ بِاللهِ» "چې د الله سره شريک وګرځے" حالانکه تهٔ الله پيدا کړے ئې، رزق ئې درکړے دے، او بيا هم د هغهٔ سره شريک وګرځے، (2) دويم نبي ﷺ فرمائي: «وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ» "د خپل مور پلار نافرمانې کول" دا پهٔ تمامو ګناهونو کښې لويه ګناه ده، (3) دريم نبي ﷺ فرمائي: « وَقَتْلُ النَّفْسِ» "او يَو نفس بے جرمه وژل"، (4) «وَالْيَمِينُ الغَمُوسُ» "پهٔ دروغه باندې قسم خوړل" دا لويه ګناه ده. او يمين الغموس ورته څکه وائي: چې کوم سړے پهٔ دروغه قسم وُخورې، هغهٔ له به الله د جهنم پهٔ اُور کښې غوپه ورکوي؛ څکه دُنيا کښې د هغې څهٔ کفار نشته، يَو کس ته دې پهٔ دروغهٔ قسم وُخوړو، چې زما دې د الله پهٔ ذات قسم وي، چې دا زمکه زما ده، او دا زما حق دے، او تا ته پته وه چې دا زما حق نهٔ دے، پهٔ دروغه دې قسم وُخوړو. نبي ﷺ فرمائي: د دې کفاره دُنيا کښې نشته، ددې کفاره دا ده چې دې انسان له به الله د جهنم پهٔ اُور کښې غوپې ورکوي، الله به ورته وائي: چې تا ولې پهٔ دُنيا کښې زما پهٔ نوم پهٔ دروغه قسم خوړے وو.[1]

پهٔ حقه باندې قسم جائز دے، خو پهٔ دروغه باندې قسم خوړل ګناه کبيره ده، سزا ئې دا ده، چې الله به د جهنم پهٔ اُور کښې غوپې ورکوي.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (6675، و6870، و6871، و6919)، والترمذي، رقم: (3021)، والنسائي، رقم: (4011، و4868)].

نو دا هم لويه ګناه ده، چې سړے د خپل مور پلار نافرمانۍ کوي، او د مور پلار خبره نۀ مني.

د سيدنا ابن عباس ﷺ روايت

سيدنا ابن عباس ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائي: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ خَمْرٍ، وَلَا عَاقٌّ، وَلَا مَنَّانٌ».(1)

درې قسمه خلق به جنت ته نۀ ځي:

(1) يَو «مُدْمِنُ خَمْرٍ» هغه سړے جنت ته نۀ شے تللے حې "هغه هميشه شراب څکي"، هميشه دپاره نشه کوي.

(2) دويم «وَلَا عَاقٌّ» کوم سړے چې "دمور پلار نافرمان دے"، د مور پلار خبره نۀ مني، دا سړے هم جنت ته نۀ شے تللے.

(3) دريم «وَلَا مَنَّانٌ» "کوم سړے چې خلقو باندې خپل احسانات زبادوي" دا سړے به هم جنت ته نۀ ځي، چا سره ئې لږ احسان کړے دے، او بيا ورته هغه احسان يادوي، چې ياد دې نۀ شي چې د لوږې مړ کيدې، او ما درله غنم او جوار درکړي وو. ددې وجې قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى﴾.(2)

"اے مؤمنانو! خپل خيراتونه او خپلې صدقې مۀ بربادوئ پۀ زبادولو سره او پۀ ردو بدو سره"، خيرات دې کړے، نو هغه زباده مۀ، خيرات دې کړے دے نو هغې سړي ته ردې بدې مۀ وايه، کنې ټول اعمال به دې برباد شي. نو دا سړے هم جنت ته نۀ شي دننه کيدے. ددې دا مطلب نۀ دے چې بالکل جنت ته به نۀ ځي، جنت ته به

---

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الكبير"، رقم: (11168، و11170)].

(2) [سورة البقرة: 264].

خپ خو ددې سزا به ورته په جهنم کښې ورکوي، د هغې نه پس به جنت ته ځي.

يو حديث کښې راځي، رسول الله ﷺ فرمائي: «لَوْ عَلِمَ اللهُ شَيْئًا أَدْنَى مِنَ الْأُفِّ لَنَهَى عَنْهُ».[1]

"كهٔ الله ته د اُف نه معمولي بله خبره معلومه وے نو د هغې نه به ئې هم منع کړے وے".

الله خو وائي: اُف ورته هم مهٔ وايه، دا اُف هغه کمه خبره ده، کهٔ د دې نه کمه خبره الله ته معلومه وے نو د هغې نه به ئې هم منع کړے وے، خو د دې نه لاندې خبره نشته، او بيا وائي: کوم بچے چې د مور پلار تابعدار دے، اګر کهٔ نور ګناهګار دے، خو ددې پهٔ وجه به ئې الله جنت ته دننه کوي، چې د مور پلار خدمت کوي، او کوم بچے چې د مور پلار نافرمان دے، نو کهٔ ظاهرًا نيک سړے دے، خو د مور پلار خلاف کوي، تر هغې وخته پورې دے جنت ته نهٔ شي تللے، چې ترڅو پورې چې دے مور پلار نهٔ دے معاف کړے دے، چې ترڅو پورې ورته مور پلار بخښنه نهٔ ده کړې نو دا سړے جنت ته نهٔ شي تللے، نو د مور پلار ډير زيات حق دے، او ياد ساتئ! چې کله بچے مور پلار ونهٔ بخښي نو الله ئې هم نهٔ بخښي.

واقعه جريج ﷺ

ابوهريره ﷺ فرمائي: نقل کوي د نبي ﷺ نه «لَمْ يَتَكَلَّمْ فِي الْمَهْدِ إِلَّا ثَلَاثَةٌ: عِيسَى وَكَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ جُرَيْجٌ»يعني خبرې ندې کړې په ماشوموالي کښې مګر درېو (3) کسانو: (1) سيدنا عيسى ﷺ، (2) بني اسرائيلو کښې يو سړے وو

(1) [كتاب الكبائر للإمام الذهبي 1: 45].

هغه ته جريج وئيلے شي، (3) او دريم ذکر راځي، جريج ﷺ مونځ کوو، په مانځهٔ باندې ولاړ وو، مور ئې راغله، هغې ته پته نهٔ وه، آواز ئې ورته ورکړو، "يا جريج" جريج په مانځهٔ باندې ولاړ وو، نو هغهٔ سوچ اوکړو، چي مونځ اُوکړم، بيا به جواب ورکړم، نو فوراً ئې جواب ورنهٔ کړه، بعض رواياتو کښې راځي، چې مور ئې درې (3) کرته راغله آواز به ئې اُکړو، خو جريج په مانځهٔ باندې ولاړ وو، نو جواب به ئې نهٔ ورکولو، نو مور ئې خيرې اُوکړې، ويوئيل: "اَللّٰهُمَّ لَا تُمِتْهُ حَتّٰى تُرِيَهُ وُجُوْهَ الْمُوْمِسَاتِ" يا الله تر هغه وخته پورې جريج مهٔ مړ کوه تر څو پورې چي ئې زناکارو ښځو مخونه نهٔ وي ليدلي، بد نامه ورباندې نهٔ وي لګيدلې، نو دهٔ مور هغه خيرې قبولې شوې، او جريج يو عابد انسان وو، پهٔ خپله عبادت خانه کښې به ئې عبادت کولو، نو يَوه زنانه ورته راغله، د زنا دعوت ئې ورته ورکوو، جُريج ترينه انکار اُوکړو، نو هغې زنانه د شپونکي سره زنا اُوکړه، او هغهٔ نه ئې حمل جوړ شو، نو کله چي بچے پيدا شو نو هغې نه خلقو تپوس اُوکړو، چي تا خو وادهٔ نهٔ دے کړے، ستا دا بچے د کوم ځائے نه؟ يعني خنګه پيدا شو، هغې ورته ووئيل: ما سره جُريج زنا کړې ده، دا د جُريج نه پيدا شوے دے، خلق خبر شو، آخر دا چي بادشاه خبر شو، جُريج پسے ئې لښکر اُوليږو، او هغه ئې لاس تړلے راوسته، او د بادشاه مخې ته ئې اُودرولو، او جونګړه ئې ورته خرابه کړې، بادشاه ته هغه اُووئيل: دا ولې؟ هغه ورته اووئيل: تا زنا کړې ده، هغهٔ ورته اووئيل: ما پريږدئ، زهٔ آودس کوم، او دوه رکعته مونځ کوم، دوي ورته اِجازت اُوکړو، مونځ ئې اُوکړو راغے، هغه ماشوم ته وائي: "مَنْ أَبُوْكَ يَا غُلَامُ؟ فَقَالَ: الرَّاعِيْ" ستا پلار څوک دے اے هلکه؟ هغهٔ ورته اووئيل: فلانے شپونکے، يعني هغه ماشوم الله کويا کړه، خو دهٔ باندې خو بدنامه اُولګيده، بيا ورته خلقو اووئيل: مونږ ستا کرجه او جونګړه د سُرو زرو جوړوو؟ هغهٔ ورته اووئيل: نا، صرف د خاورو نه ئې جوړه کړئ.

نو اوګورئ! د مور خيرې ورباندې اُولګيدې، نو هغه مونځ کوو، او هغه باندې بيا هم خيرې اُولګيدې، نو د نور خلقو به څۀ حال وي، چه مور او پلار خفه کوي، او هغوي ورتۀ خيرې کوي.

دريم کس، چې يوه زنانه وه، هغې خپل بچي ته سينه ورکوله، يَو سړے پۀ سُورلۍ باندې سُور تير شو، چې ډير خائسته شان شوکت والا وو، نو ددې بچي مور سوال اُوکړو "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اِبْنِيْ مِثْلَ هٰذَا" نو ماشوم سينه پريخوده، او ګويا شو، "فَقَالَ: لَاتَجْعَلْنِيْ مِثْلَهٗ" بيا ئې سينه شروع کړه، لګ وخت بعد يَوه ښځه راروانه ده، ډيره عاجز وه، او خلق ورته ردې بدې وائي، د ددې ماشوم مور وائي: "اَللّٰهُمَّ لَاتَجْعَلْ اِبْنِيْ مِثْلَ هٰذَا" هغه ماشوم سينه پريخوده، او وائي: "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِثْلَهَا، فَقَالَتْ: لِمَ ذَالِكَ؟ فَقَالَ: الرَّاكِبُ جَبَّارٌ مِّنَ الْجَبَابِرَةِ، وَهٰذِهِ الْاُمَّةُ يَقُوْلُوْنَ: سَرِقَتْ وَزَنَيَتْ وَلَمْ تَفْعَلْ".[1]

نبي ﷺ فرمائي: زۀ چې د معراج پۀ شپه لاړم نو ما څۀ خلق اوليدل چې هغوي د اور تنو پسې داسي تني وي لکه د کجورې تني، هغې پورې ترلي شوې دې، وائي: ما تپوس اُوکړو چې دا کوم خلق دے؟ وائي: ما ته جبرائيل ؑ اوفرمائيل: چې دا هغه خلق دے چې دُنيا کښې مور پلار ته کنځلې کړې وې، مور پلار ته ئې ردې بدې وئيلې وې، دا هغه خلق دي، نن جهنم کښې هغوي له سزا ورکولے شي.

د يَو صحابي د نبي ﷺ نه تپوس

يَو صحابي راغے، نبي ﷺ نه ئې تپوس اُوکړو، چې اے د الله پيغمبره! ما له خير ددې خبرې راکړه، کجرې زۀ پنځۀ وخته پابندئ باندې مونځ کوم، او زۀ د رمضان روژې نيسم، او زکوٰة هم اداء کوم، او د بيت الله حج هم کوم، نو ما له به الله څۀ

(1) [رواه البخاري، رقم: (3436)].

راکوي؟ چې دا تول حکمونه د الله اومنم، نو ماله به الله څۀ راکوي، نبي ﷺ اوفرمائيل: «مَنْ فَعَلَ ذَالِكَ» چا چې دا کارونه اوکړل نو د قيامت په ورځ به دغه سړے د انبياء عليهم السلام شهداء او نيکانو خلقو په صف کښې ولاړ وي.

خو نبي ﷺ اوفرمائيل: چې کوم سړے د مور پلار نافرمان وي، نو د هغۀ دپاره هيڅ نشته، اگر کۀ روژې هم ډيرې نيولې وي، اگر که صدقې هم ډيرې ورکړې وي، اگر که مونځونه ئې هم ډير کړې وي، خو چې کله د مور پلار نافرمان دے، نو بيا ورله هيڅ نشته، د الله رضا د مور پلار په رضا کښې ده، او د الله خفگان د مور پلار په خفگان کښې دے. [1] کۀ جنت غواړې نو د مور پلار خدمت اُوکړه، الله به درته جنت درکړي.

دچا نه چې مور پلار خفه تلي دي

د چا نه چې مور پلار خفه تلي دې، هغوي به څۀ کوې؟ صحابه کرام وائي: مونږ د نبي ﷺ سره ناست وو، يَو سړے راغے، د نبي ﷺ نه ئې تپوس اوکړو، چې د الله پيغمبره زما مور پلار وفات شوې دې، نو کۀ زۀ د هغوي سره نيکې کوم نو څنګه به کوم؟ هغوي خو وفات شوې دې، د مرګ نه بعد د هغوي سره زۀ څۀ نيکي اُوکړم، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: چې مور پلار دې وفات شول، اول نيکي دا ده چې جنازه پرې اوکړه بيا د جنازې نه بعد د مور پلار دپاره بخښنه اُوغواړه، کۀ هغوي ستا نه خفه تلي دې، خو ستا دعا الله د هغوي متعلق قبلوي، نو چې ته کله هغوي ته دعا کوې، نو ستا د دعا په برکت به الله د هغوي مهربانه کړي او تا به معاف کړي، بيا وائي: مور پلار سره دې چې کوم لوظ کړے وو، چې هغوي وفات شول، نو هغه وعده به نۀ ماتوې، هغه وعده به پورا کوې، دا رنګه مور او پلار چې د چا سره خپلولي ساتله، نو هغه به هغه

[1] [كتاب الكبائر للذهبي 1: 45].

شان ساتي، د مور پلار خپلوان به نهٔ پریدي، چې ستا د مور او پلار د وجې نه کومه رشته جوړه شوې ده، هغه به نهٔ ختموې، د هغوي د مرګ نه ورستو دا د مور پلار سره احسان دے، او بل دا چې د مور پلار د دوستانو به خیال ساتې، ستا د پلار دوستان دي، نو هسې نه چې پلار دې وفات شو، نو د پلار هغه دوستان به نهٔ پریدې، د مور هغه دوستان به نهٔ پریدې، دا د مور پلار سره احسان دے.[1]

د عبد الله بن عمر رضي الله عنه واقعه

عبد الله بن عمر رضي الله عنه یَو صحابي سره میلاؤ شو، چې د هغهٔ سره کیناستو، هغه ورته اووئیل: څنګه راغلې؟ هغهٔ ورته اووئیل: څکه راغلم، چې ستا د پلار او زما د پلار خپل مینځ کښې ډیر تعلق وو، نو ما دا نهٔ خوښول چې زما او ستا د پلار هغه تعلق د مرګ نه بعد ختم شي، نو څکه ستا خوا ته راغلم.

بهترین بچے هغه دے چې د هغهٔ نه د پلار دوستان پرَدي نهٔ شي، دا نه چې ژوندي دي نو احسان ورسره کوه، او چې مړهٔ شي، نو بیا ورسره احسان مهٔ کوه، نه بیا به هم ورسره احسان کوې، مور پلار چې وفات شي، چې بچے د هغوي دپاره دعا غوارې، د هغوي دپاره خیر خیرات کوې، نو مور پلار ته ئې ثواب رسي، نفلونه کوې مور پلار ته ثواب رسي. نبي ﷺ فرمائي: چې یَو کرتې یَو سړے مور پلار ته د رحمت پهٔ نظر اوکورې، د یَو قبول شوې حج هومره ثواب ئې دے، یَو صحابي پاسیدو، وائي: د الله پیغمبره چې یَو سړے پهٔ ورځ کښې مور پلار ته سل (100) کرته کورې مو هم به ورته الله د قبول شوې حج هومره ثواب ورکوي؟ نبي ﷺ ورته فرمائي: آؤ، چې یَو

(1) [رواه أبو داود، رقم: (5142)، وابن ماجة، رقم: (3664)].

سړے د ورځې سَل (100) کرته کورې الله به ورله د سَل (100) قبول شوې حجونو هومره ثواب ورکوي.

څومره لوې اجر او ثواب دے، زمونږ خلق د بیت الله حج له ځې، او دا حج ترې هیر دے. پکار دا دي چې مونږ د مور پلار بنهٔ خدمت اُوکړو، چې د دُنیا نه هغوي زمونږ نه خوشحاله لاړ شي. الله رب العزت دې زمونږ او ستاسو نه د مور او پلار خدمت واخلي. آمین.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ

(سورة هود: 114)

موضوع

دَ مونځ فوائد

بتاريخ: 2006-11-03

بمقام: جلسې

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّآني حفظه الله

د مونځ فوائد

الْحَمْدُ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيرَ لَهُ وَلَا نَذِيرَ لَهُ وَلَا وَزِيرَ لَهُ وَلَا مُشِيرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيبَنَا وَشَفِيعَنَا وَحَبِيبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟» قَالُوا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ، قَالَ: «فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا».[2] (أو كما قال رسول الله ﷺ).

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو رونړو! دا خبره ذکر کوو، چې دا مونځ صرف د الله حکم دے، او که څهٔ ثواب پرې هم ميلاويږي؟ د الله حکم هم دے، او نور يکښې هم ډير فوائد دي، چې د هغې په وجه الله د انسان ګناهونه معاف کوي، الله رب العزت فرمائي: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ﴾[3]

---

(1) [سورة هود: 114].

(2) [رواه مسلم، رقم: (667)، والترمذي، رقم: (2868)، والنسائي، رقم: (462)].

(3) [سورة هود: 114].

"پابندي کوه د مونځونو په دواړو طرفونو د ورځو کښې او په اولنو ساعتونو او
وختونو د شپه کښې". علماء کرام ذکر کوي، مراد ترې صلوة خمسه دي، پنځه واړه
مونځونه ترې مراد دي.

﴿طَرَفَيِ النَّهَارِ﴾ د ورځې دواړه سرونه نو د سحر، ماسپخين او مازيگر مونځونه
پکښې راغلل؛ ځکه يو طرف نصف ته وائي، او بل هم نصف ته وائي، نو د سحر،
ماسپخين او مازيگر مونځونه پکښې راغلل.

﴿وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ﴾ کښې د ماښام او ماسخوتن مونځونه راغلل، "زُلَف"
نزديکت ته وائي، يعنې د شپې هغه حصه کښې چې هغه ورځې ته نزدې ده، چې
ماښام او ماسخوتن دے، په هغې کښې مونځونه کوه، نو ددې نه مراد پنځه واړه
مونځونه دي.

د مونځ حکمت او فائده

د مونځ حکمت او فائده دا ده، چې الله رب العزت فرمائي: ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ
السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ﴾

"يقينًا نيکې ختموې بدئ لره" که ستا نه څه نقصان شوے دے، څه جرم درنه
شوے دے نو ته مونځ کوه، نو هغه جرم به درنه الله د مونځ په وجه معاف کړي، دا
نصيحت دے دپاره د نصيحت اغستونکو خلقو مطلب دا دے، چې مونځ باندې
الله د انسان گناهونه معاف کوي، په مونځ باندې الله د انسان درجات بلند کوي،
پدې باندې ډير زيات احاديث راغلي دي.

د سيدنا ابي عثمان ﷺ روايت

سيدنا ابي عثمان ﷺ فرمائي: چې زه سيدنا سلمان ﷺ سره د يو اُونې لاندې
ناست ووم، هغه د اُونې يو ځانګه را اُونيوله، اُوچه ځانګه وه، داسې موسم وو، چې د

اُونو نه پانړې غوررزيدلې، او وينسدله، چې پۀ دې سره د هغې پانړې اُوغوررزيدلې، بيا ئې ما ته اوفرمائيل: چې ابو عثمانه! تا ما نه دا تپوس اُونۀ کړو، چې ما دا ولې اُوکړل؟ ما ورته اوونيل: چې ولې دې اوکړل؟ هغوي اوفرمائيل: چې زۀ يَو ځل د نبي ﷺ سره د يَو اُونې لاندې ووم، نو نبي ﷺ هم د هغې اُونې اُوچه ښانکه اُونيوله، او دغسې ئې اُوکړل، چې پۀ هغې سره د هغې ښانکې پانړې اُوغوررزيدلې، بيا نبي ﷺ ارشاد اوفرمائيل: چې سلمانه! تپوس نۀ کوې چې ما داسې ولې اُوکړل؟ ما عرض اُوکړو چې اُوښايۀ ولې مو اُوکړل؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: چې کله مسلمان پۀ ښۀ شان اودس اُوکړي بيا پنځۀ مونځونه اُوکړي، نو د هغۀ نه ګناهونه داسې دُورېږي لکه څنګه چې ددې اُونې نه دا پانړې دُورېږي.

يَو مسلمان بنده پنځۀ وخته پابندۀ باندې مونځ کوي، ګناهونه ترې داسې دُورېږي، لکه څنګه چې د اُونو نه پانړې دُورېږي.

اوس هغه خلق پدې خپله خبره کنبې دروغژن دې، چې د خپلې خبرې پۀ مقصد نۀ پوهيږي، چې وائي: صرف زړۀ صفا ساته دا نيکي ده، زړۀ صفا کيږي، په نيک عمل سره، او ګناهونه لرې کيږي، پۀ مونځ سره، کۀ مونځ نۀ کوې نو ستا نه ګناهونه نۀ لرې کيږي، او ستا زړۀ نۀ صفا کيږي.

علماء کرام ذکر کوې، ددې نه مراد هغه ګناهونه نۀ دې، چې يَو سړے دې ګناه کبيره کوې، او بيا راشي او مونځ کوې چې ګناه به مې معاف شي، ګناه کبيره پۀ مونځ باندې نۀ معاف کيږي، ګناه کبيره چې ده، د هغې نه به توبه اُوباسې، د الله نه به معافي غواړې، واړۀ ګناهونه به درته الله پۀ مونځ باندې معاف کړي.

خو چې کله سړے مونځ ګزار شي، نو الله ورته د توبې توفيق نصيب کړي، او چې مونځ نۀ کوې نو الله ورله د توبې توفيق نۀ ورکوي؛ څکه توبه خو سړے هله

اُوباسې چې د سرې زړهٔ نرم شي، نو چې دے فرض مونځ پریدې، لویه ګناه کوې، نو د بلې ګناه نه به څهٔ توبه اُوباسې.

د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت

سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: «أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟ قَالُوا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ، قَالَ: فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا».[1]

"سیدنا ابو هریره ﷺ نه روایت دے، چې هغهٔ د نبي ﷺ نه اَوریدلي دي، چې فرمائیل ئې: چې ما له خبر راکړئ! کچرته د یَو سړي د کور او د دروازې مخې ته یَو نِهر بهیږي، او دا انسان پنځهٔ وخته پهٔ هغه نِهر کښې غسل کوي، اے زما صحابه کرامو! آیا ددې انسان پهٔ بدن به څهٔ خِړے او ګندګي پاتې شي؟ صحابه کرامو ورته اوفرمائیل: اے د الله پیغمبره! چې کوم سړے پهٔ ورځ کښې پنځهٔ وخته غسل کوي، د هغهٔ پهٔ بدن به ذرا خِړے پاتې نهٔ شي، نبي ﷺ فرمائي: اے صحابه کرامو! دغسې د هغه انسان مثال دے چې هغه پنځهٔ وخته پابندئ سره مونځ کوي، د هغهٔ نه ګناهونه لرې کیږي".

رسول الله ﷺ فرمائي: اے زما صحابو! ما ته خبر راکړئ، کهٔ یَو سړے دے، او هغه یَوځائے کښې کار کوي، سحر پټي ته لاړو، او ددهٔ او د هغه پټي مینځ کښې پنځهٔ نهرونه دي، دے هغې پټي ته لاړو، کار ئې پکښې اُوکړو، نو بدن ئې خِړَن شو، نو هغه نهر کښې ئې غسل اُوکړو، بیا ئې کار اُوکړو، بیا ئې غسل اُوکړو، تر دې پورې چې کله ئې مازیګر کار بس کړو، بیا ئې غسل اُوکړو، اے زما صحابو! ددې انسان پهٔ بدن به څهٔ خِړے پاتې شي، صحابه کرام ورته وائي: نه د هغهٔ پهٔ بدن به بالکل خِړے

(1) [رواه مسلم، رقم: (667)، والترمذي، رقم: (2868)، والنسائي، رقم: (462)].

نه پاتې کيږي، نبي ﷺ فرمائي: دغسې مثال د پنځو مونځونو دے، چې مسلمان بنده مونځ اُوکړي، د هغې نه بعد ترې وړه ګناه اوشوه، نو هغه ګناه د مونځ په وجه ختمه شوه، ځکه واړهٔ ګناهونه الله پهٔ مونځ باندې معاف کوي، نو دا لويه د سعادت خبره ده، چې مونځ اُوکړه، نو الله به ستا ګناهونه معاف کړي.[1]

د سيدنا ابو هريره ؓ دويم روايت

سيدنا ابو هريره ؓ فرمائي: چې رسول الله ﷺ فرمائي: «الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لَمَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرِ».[2]

"رسول الله ﷺ فرمائي: پنځهٔ وخته پابندئ سره مونځ کول، د يَوې جمعې مونځ کول د بلې جُمعې پورې، او د يَو رمضان روژې نيول بل رمضان پورې، دا کفاره ده د هغې ګناهونو نه چې ددې پهٔ مينځ کښې د انسان نه اُوشي، کله چې انسان ورسره لوې ګناهونه نهٔ وي کړې". او لوې ګناهونه ډير دي، د دروغو نه ځان ساتي، چغلئ نه ځان ساتي، د زِنا نه ځان ساتي، شرابو څکلو نه ځان ساتي، د سود نه ځان ساتي، د غلا نه ځان ساتي، غيبت نه ځان ساتي، دا لوې لوې ګناهونه دي، چې ددې نه ځان بچ کوي، واړهٔ ګناهونه به ورته الله د مونځ پهٔ وجه معاف کوي.

د نن دَور د خلقو حالت

نن دَور کښې خلقو ته لوې ګناهونه واړهٔ ښکاري، او واړهٔ ګناهونه خلقو جائز ګنړلي دي، هغې ته هډو ګناه نهٔ وائي، غيبت کوي، غيبت ته ګناه نهٔ وائي، غيبت به کوي، وائي: الله دې راته معافي اُوکړي، او بيا غيبت شروع کړي، مُحرمات څيزونه خوري، د هغې څهٔ پروا نهٔ کوي، سود کوي، د هغې پروا نهٔ کوي، دا ورته ګناه نهٔ

(1) [رواه الطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (198)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (233)].

بنکارې، کیره خرَوَل ورته ګناه نهٔ ښکارې، دا ګناهونه پهٔ دې مُلک کښې عام شوي دي، مسلمان سره دهوکه کول ورته ګناه نهٔ ښکارې، دروغ وئیل ورته ګناه نهٔ ښکارې، او کهٔ ورته دي اووئیل: چې دروغ مهٔ وایه وائي: ما کب لګولو، مسلمان سره ظلم او زیاتے کول ورته ګناه نهٔ ښکارې، دا ورته وارهٔ ګناهونه ښکارې، حالانکه دا غټ غټ ګناهونه دي. الله رب العزت فرمائي: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾.[1]

"مونځ کوه، پابندئ سره مونځ سړے د بے حیایئ نه او د ناروا کارونو نه منع کوي" هغه ګناهونه چې عقل ئې بد ګنړي، د هغې نه هم سړے منع کوي، چې عقل ئې بد نهٔ ګنړي خو شریعت ورته ناروا وائي.

د سیدنا عمر ﷺ دَور کښې د یَو کس واقعه

علماء کرام ذکر کوي، د سیدنا عمر ﷺ پهٔ دَور کښې یَو سړے پهٔ یَو زنانه باندې عاشق وو، د هغې زنانه سره ئې ډیر زیات تعلقات وو، هر کار ئې د هغې دپاره پریخودے وو، هغه زنانه ورته وائي: زما یَو شرط دے، کهٔ هغه دې پورا کړو، بیا چې تهٔ څهٔ وائې هغه به کوو، او هغه شرط دا دے چې تهٔ به څلویښت ورځې، د سیدنا عمر فاروق ﷺ پسې د امامتئ مونځ کوې، څلویښت ورځې به زما خو ته نهٔ راځې، هغه ورته اووئیل: دا خو آسانه خبره ده، جومات ته راغلو، او څلویښت ورځې د سیدنا عمر فاروق ﷺ پسې مونځ اُوکړو، چې کله څلویښت ورځې تیرې شوې، نو هغې زنانه خوا ته لا نړو، ډیر وخت بعد د هغې زنانه سره میلاؤ شو، هغه ورته وائي: څهٔ وجه ده اوس خو نهٔ راځې؟ هغه ورته وائي: اُوس ستا د مینې نه ماته داسې مینه میلاؤ شوه، چې ستا مینه هغې پسې نهٔ رسي، مخکښې خو زما تا سره محبت وو، اُوس زما د الله سره محبت پیدا شو.

---

(1) [سورة العنكوت: 45].

نو چې کله يَو سړے صحيح طريقې سره مونځ کوي، نو دا سړے خپله د ګناهونو نه منع کوي، چې کله دې مونځ اُوکړو، او د هغې نه پس ګناه کوي، نو دا خپل ضمير به تا ملامته کوي؛ ځکه مونځ کښې نهايت عاجزي ده، چې اُوس دې دومره عاجزي اُوکړه، چې دا خپل تندے دې پۀ زمکه باندې د الله د رضا دپاره کيخودو، تا مونځ کښې اووئيل: چې يا الله! ستا د حکم خلاف به نۀ کوم، تا پۀ سجده کښې اووئيل: چې "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى"، تا پۀ قيام کښې اووئيل: ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ★ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ★ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ ددې وعدو نه بعد ځکه د الله مخالفت کوې؟ مونځ کښې خو دې غټې غټې وعدې اُوکړې، او اُوس د هغې خلاف کوې، چې کله سړے د مونځ پۀ مطلب پوهيږي، نو دا مونځ سړے بالکل د ګناه نه منع کوي.

او دا خبره ياد اُوساتئ! چې غلا کر سړے مونځ نۀ کوي، سود خور سړے مونځ نۀ کوي، خو افسوس دا دے چې زمونږ مونځونه صحيح نۀ دي!!!

د منافق مونځ

حديث کښې راځي، دا د منافق مونځ دے چې کله نَمر پۀ زيړې شي، نو جومات ته زر رامنډه کړي، او زر زر اَودس اُوکړي، څۀ اندامونه اُوچ، او څۀ لواندۀ، «فَنَقَرَ أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا».[1]

"نو د چرګانو پشان ځلور ټونګې اووهې" او جومات نه ځي.

مونځ خو دا نۀ وو، مونځ خو د الله سره يَو مناجات وو، مونځ خو ډير قيمتي شے وو، پۀ ټولو اعمالو کښې بهترين عمل هغه مونځ وو، د هغې نه تا ځان خلاص کړو، نو کۀ زمونږ مونځونه صحيح شول، نو هر څه به صحيح شي، کۀ مونږ د مونځ پۀ مطلب ځان

---

[1] [رواه الترمذي، رقم: (160)، وأبو داود، رقم: (413)].

پوهه کړو، نو زمونږه هر کار به برابر شي، خو مونږ د خپل مونځ د مطلب نه ناخبره يُو.
الله رب العزت فرمائي: ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ★ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ★ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ★ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾.(1)

"داسې مونځ کونکو دپاره دي هلاکت وي، چې هغوي د خپل مونځ د مطلب نه نا خبره دي، او منع کوي معمولي شے".

ډير خلق داسې دي، چې شپيتهٔ (60)، اَويا (70) کاله ئې عبادت اُوکړو، او کهٔ مونځ ترې واورې نو مونځ ئې غلط دے، کهٔ تپوس ترې اُوکړې چې معنٰی ئې څهٔ ده؟ نو معنٰی خو يَو کس له نهٔ ورځي، نو دا مونځ به مونږ څهٔ د بدئ نه منع کړي!!! خشوع خضوع نشته، رکوع او سجده پهٔ صحيح طريقه باندې نهٔ ده، ولاړ پهٔ مونځ باندې وي، او سوچ ئې بل خوا تلے وي، دا مونځ د بدئ نه منع کول نهٔ کوي، صحيح طريقې سره مونځ اُوکړه. ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾.(2)

صحيح طريقې سره مونځ اُوکړه، الله به درته د مونځ پهٔ وجه ټول ګناهونه معاف کړي.

واقعه

يَو امام پسې خلقو د مازيګر مونځ کولو، هغې کښې غلط شو، د مازيګر څلور رکعته ئې کول، نو يَو مقتدي ورته آواز ورکړو، چې اُستاذ جي! درې رکعته دې اُوکړل، وائي: تا ته څنګه پته اُولګيده، چې ما درې رکعته اُوکړل؟ هغهٔ ورته اووئيل: زما څلور دوکانونه دي، نو د يَو يَو دوکان حساب کتاب زهٔ پهٔ يَو يَو رکعت کښې کوم، نو ما د دريُو دوکانونو حساب کړے دے، او د يَو پاتې دے. مونږ چې مونځ له راشو، نو زمونږ سوچ بل طرف ته لاړ شي.

(1) [سورة الماعون: 4-7].
(2) [سورة العنكبوت: 45].

يَو حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: يَوه ډله د شيطانانو داسې ده، چې د هغوي دا ډيوټي ده، چې کله آذان اُوشي، نو هغه به اول.تا په پټي يا دوکان کښې مشغول کړي، چې له وختي دے لاړ به شي، شيطان ورته وائي: لږ صبر اُوکړه، وخت له شته، بدې طريقه ئې د جُمعې د مونځ نه پاتې کړي، نو چې جُمعې نه ئې پاتې کړي، نو ورته وائي: جُمع خو درنه هسې هم اُوشوه، لاړ به شې، نو چرته ئې حصار کړي، نو چې ئمر په زيړې شي نو بل کار کښې مبتلا کړي، نو مونځ ترې قضا شي. دا يَو قسم شيطانان دي، چې هغوي دا کار کوي.

الله وائي: شيطان ستاسو دښمن دے، نو دښمنې ورسره اُوکړئ. نو چې کله انسان د شيطان ددې وسوسې نه بچ شي، او جومات ته روان شي، لاره کښې ورته څۀ شے مخې ته کړي، کله به درته انسي شيطان راشي؛ ځکه شيطانان دوه قسمه دي: يَو اِنسي شيطان دے، يَو جني شيطان دے.

انسي شيطان به درته مخې ته راشي، چې هغه مونځ نۀ کوي، نو تاته به وائي: راځه چې کپ اُولګوو، نو تا به څۀ طريقې باندې د مونځ نه حصارَوي، نو چې کله جومات ته را دننه شي، نو شيطان وائي: سړے خو راغے خو چې اُوس ورسره څۀ چل اُوکړم؟ نو دا شيطان ورپسې جومات ته راشي، نو په اَودس کښې ورته شک پيدا کړي، کله ورته وائي: يَو اندام درنه اُوچ پاتې شو، کله وزته وائي: بل اندام درنه پاتې شو، نو اَودس کښې ورته شک پيدا کړي، خو چې اَودس هم په صحيح طريقې سره اُوکړي، نو شيطان وائي: په دۀ خو زۀ هډو غالب نۀ شوم، خو چې کله په مونځ باندې اُودريږي، نو شيطان وائي: راشه اُوس ئې پدې مونځ کښې غلط کړه، نو دے ولاړ په مونځ باندې وي، او کله ئې يَو خوا سوچ ځي، او کله ئې بل خوا سوچ ځي، نو مونځ اُوکړي، خو پدې پوهه نۀ شي، چې ما څو رکعته اُوکړل، نو شيطان پرې ټول مونځ ګډوډ کړي.

د سيدنا ابن مسعود ﷺ روايت

سيدنا ابن مسعود ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائي: چې كله د مونځ وخت شي، نو يَوه فرشته اعلان كوي، اے د آدم ﷺ اولاده! پاسئ او د جهنم هغه اُور چې تاسو د خپلو گناهونو په وجه په خپلو ځانونو بل كړے دے، هغه اُور مړه كړئ، مونځ اُوكړئ، چې هغه اُور مړه شي، ستا دپاره اُور بل شوے دے، مونځ اُوكړه چې هغه اُور مړه شي.[1]

بل حديث كښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: د هر مونځ وخت كښې فرشته آواز كوي، اے د آدم ﷺ اولاده! پاسئ او هغه اُور چې تاسو خپل ځان دپاره بل كړے دے، هغه اُور مړه كړئ؛ ځكه الله په چا ظلم نه كوي (﴿وَمَارَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ﴾.[2]

"ستا رب بني آدم باندې د ذرې برابر ظلم نه كوي". بل ځائے كښې الله فرمائي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾.[3]

"يقينًا الله چا باندې د ذرې برابر ظلم نه كوي". كه الله مونږ له سزا راكوي، نو دا زمونږ خپله گناه ده، دا زمونږ د عمل سزا ده)، نو اے انسانانو! هغه اُور چې تاسو خپل ځان باندې بل كړے دے، مونځ اُوكړئ، چې هغه اُور مړه شي، چې بيا د ماسپخين مونځ وخت راشي، نو ملائک آواز كوي، اے د آدم ﷺ اولاده! پاسئ هغه اُور چې تاسو د سحر نه را واخلې تر ماسپخينه پورې د گناهونو په وجه په ځانونو بل كړے وو، نو مونځ اُوكړئ چې هغه اُور مړه شي. نو د هر مونځ په وخت كښې فرشته آواز كوي.

د مونځ په وجه د گناهونو معافي

يَو حديث كښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: كله چې يَو بنې آدم صحيح طريقې

---

(1) [رواه الطبراني].

(2) [سورة حم السجدة: 46].

(3) [سورة النساء: 41].

سره اُودس اُوکړي لاسونه ئې اووينځل، او مخ ئې اووينځلو، او په سر ئې مسح اُوکړه، او غوږونو باندې مسح اُوکړه، بيا پاسيدو، او خپې ئې اووينځلې، او بيا پاسيدو، او فرض مونځ ئې اُوکړو، نو بدې ورځ چې تېرې کوم ګناهونه شوې دې، هغه ګناهونه چې دده خپو کړې دې، هغه ګناهونه چې دده لاسونو کړې دې، او هغه ګناهونه چې دده سترګو کړې دې، او هغه ګناهونه چې دده د غوږونو نه شوې وي، او هغه ګناهونه چې دده زړه کښې پيدا شوې وي، ټول ګناهونه ورته الله معاف کوي.[1]

د هر اندام جُدا جُدا ګناه ده، د سترګو جُدا ګناه ده، د غوږونو جُدا ګناه ده، د لاسونو جُدا ګناه ده، د خپو جُدا ګناه ده، د ژبې جُدا ګناه ده.

د قيامت په ورځ انکار

يَو حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: د قيامت په ورځ چې کله بني آدم راوستے شي، بني آدم نه به تپوس اُوکړے شي، چې تا دا ګناه کړې ده، دا ګناه دې کړې ده؟ دے به وائي: يا الله! ما خو نۀ ده کړې، دے به منکر شي، دے به وائي: ما باندې څوک ګواه پيش کړه، څوک ګواه شته؟ چې هغه دا ګواهي اُوکړي چې دۀ دا ګناهونه کړې دي، او دے به وائي: والله کۀ ګواه را باندې پيش کوې، نو هغه ګواه به پيش کوې، چې هغه زما د نفس وي، د بل چا ګواهي زۀ نۀ منم، الله به ورته وائي: صحيح ده، (قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿ٱلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰٓ أَفْوَٰهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ﴾.[2]

الله وائي: "د قيامت په ورځ به زۀ د دۀ خُلۀ بنده کړم، مونږ سره به ددې انسان لاسونه خبرې شروع کړي، خپې به وړباندې ګواهي شروع کړي، په سبب د هغې

(1) [رواه أحمد في "مسنده"، رقم: (8007)].

(2) [سورة يس: 65].

چې دُنیا کښې دوي کوم اعمال کړي دي".

او نبي ﷺ فرمائي: يَو يَو اندام به پرې ګواهي شروع کړي، (لاس به ګواهي شروع کړي، الله! هغه ځيز چې د هغې راغستل نا جائز وو، هغه ځيز ما را اوچت کړے وو، غلا مې پرې کړې وه، لاس به پخپله خبرې کوي، خپې به ګواهي کوي، چې يا الله! هغه ځائے ته چې تلل ورته نا جائز وو مونږ هغې ته تلې وو، غوږونه به ګواهي کوي، يا الله! هغه خبرې چې د هغې اوريدل نا جائز وو مونږ هغه خبرې اوريدلې وي، ګانې بجانې مو اوريدلې وي، د پردو ښځو خبرې مو اوريدلې وي، الله غيبت اوريدل ګناه وه، مونږ غيبت اوريدلے وو، سترګې به ګواهي کوي، الله! هغه ځيزونه چې هغې ته کتل ګناه وه، ما هغې ته کتلې وو، يَو ځائے کښې د ګناه کار کيدو مونږ ورته کتلې وو، تې وي ته کتل ګناه وه، ما ورته کتلي وو، د انسان دا سترګې انسان باندې ګواهي کوي، د انسان دا ژبه به انسان باندې ګواهي کوي، الله! هغه خبرې چې هغه ماته مناسب نه وي، ما هغه خبرې کړې وي، دروغ مې وئيلې وو، غيبت مې کړے وو، کنځلې مې کړې وي، مسلمان ته مې بدې ردې وئيلي وي، د انسان عورت به ګواهي کوي، چې الله! ما ئې تصديق کړے وو، دا يَو يَو اندام د انسان به په انسان باندې ګواهي کوي).[1]

نو نبي ﷺ فرمائي: کله چې بنده مونځ اُوکړي، دهٔ مخ اوينځلو نو هغه ګناه چې دهٔ سترګو نه شوې ده، نو هغه ګناه ورته الله معاف کوي، او چې د غوږونو مسح ئې اُوکړه، نو هغه ګناهونه چې دهٔ د غوږونو نه شوي دي، نو هغه ورته الله معاف کړي. (خو چې وارهٔ ګناهونه وي، مثال په طور غيبت شو، نو دا خو لويه ګناه ده؛ ځکه حديث کښې راځي: «الْغِيبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا».[2]

(1) [رواه أبو عمر يوسف بن عبد الله النمري القرطبي في "جامع بيان العلم وفضله"، رقم: (1821)].

(2) [رواه الطبراني في "المعجم الأوسط"، رقم: (6590)، والبيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (6315، و6316)].

"غیبت د زنا نه هم سخته ګناه ده".

علماء کرام ذکر کوي د غیبت توبه به څنګه اُوباسي؛ څکه علماء کرام ذکر کوي چې لویه ګناه خو بغیر د توبې نه نهٔ معاف کیږي، د غیبت توبه دا ده، چې چا پسې دې خبرې کړې دي، هغې سړي له به ورشي، چې وروه ستا غیبت مې کړے دے، ستا خبرې مې نورو خلقو ته کړې دي، ما معاف کړه، نو کهٔ هغه وائي: چې معاف مې کړې، نو الله به دې توبه قبلوي؛ څکه دا حقوق العباد دي، نو چې هغهٔ نهٔ ئې معاف کړے، نو الله دې هم نهٔ معاف کوي) نو چې اَودس کښې دې خپې اووینځلې نو هغه ګناهونه چې د خپو نه شوي دي، الله به درته هغه ګناهونه معاف کړي، لاسونه دې اووینځل هغه ګناهونه چې د لاسونو نه شوي دي، هغه به درته الله معاف کړي.

د سیدنا عثمان ﷺ روایت

حدیث کښې راځي، سیدنا عثمان ﷺ ذکر کوي، رسول الله ﷺ یَو ځل مونږ ته یَو حدیث ذکر کړو، مونږ د مونځ نه واپس شو، او زما پهٔ خیال دغه مونځ د مازیګر وو، د مازیګر مونځ مو اُوکړو، او د جومات نه بَهر را اُووتو، وائي: نبي ﷺ اوفرمائیل: «مَا أَدْرِي أُحَدِّثُكُمْ أَوْ أَسْكُتُ» "نهٔ پوهیږم زهٔ چې تاسو ته حدیث بیان کړم، او کهٔ چپ شم؟" صحابه کرام وائي: مونږ ورته اووئیل: کهٔ د خیر خبره وي نو مونږ ته ئې اُوکړه، وائي: نبي ﷺ اوفرمائیل: «مَا مِنْ رَجُلٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ ثُمَّ يُصَلِّي، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلَاةِ الْأُخْرَى» وائي: "نشته دے یَو سړے چې اَودس اُوکړي او ځائسته کړي اَودس خپل، بیا مونځ اُوکړي، مګر هغهٔ ته معاف کیږي، هغه ګناهونه چې ددې مونځ او د بل مونځ مینځ کښې دي".[1]

---

[1] [رواه ابن أبي شيبة في "مصنفه"، رقم: (7648)].

د سیدنا ابو هریره او د سیدنا ابو سعید خدري ﷺ روایت

دواړه فرمائي: «خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ» "د الله پیغمبر مونږ ته یو ځل بیان کولو، نو فرمائیل ئې: چې زما دې هغې ذات باندې قسم وي، چې زما روح د هغهٔ په اختیار کښې دے"، بیا د الله پیغمبر سَر ښکته کړو، او چپ شو، زمونږ نه هر یو سړي سَر ښکته کړو، او په ژړا شو، هر یو صحابي ژړل، مونږ پته نهٔ وه، چې نبي ﷺ په څهٔ باندې قسم کړے دے، بیا نبي ﷺ خپل سَر مبارک اُوچت کړو، او د نبي ﷺ په مخ مبارک د خوشحالئ آثار وو، او مونږ ته د نبي ﷺ خوشحالي د سُرو اُوښانو نه زیاته خوښه وه، نبي ﷺ مونږ ته دا حدیث اوورئیلو: «مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، وَيَصُومُ رَمَضَانَ، وَيُخْرِجُ الزَّكَاةَ، وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ، إِلاَّ فُتِّحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، فَقِيلَ لَهُ: ادْخُلْ بِسَلَامٍ» "داسې یو بنده نشته، چې هغهٔ پنځهٔ وخته پابندئ سره مونځ کوې، او د رمضان روژې نیسې، او زکوٰة ورکوې، او د اووهٔ (7) غټو غټو ګناهونو نه ځان بچ کوې، مګر د هغهٔ دپاره به د قیامت په ورځ د جنت آتهٔ واړه دروازې کھولاؤ کړے شي، او ورته به اوورئیلے شي: دننه شه په سلامتیا سره".[1]

د سیدنا عبد الله بن عمرو ﷺ روایت

وائي: نبي ﷺ ته یو کس راغے، ورته وائي: «أَيُّ الأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟» "اے د الله پیغمبره ﷺ کوم یو عمل غوره دے؟" نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: «الصَّلَاةُ» "په تمامو عملونو کښې بهترین عمل مونځ دے" هغه صحابي په دویم ځل وائي: بیا کوم عمل غوره دے؟ نبي ﷺ ورته فرمائي: «الصَّلَاةُ» "مونځ بهترین عمل دے"، درې ځله ورته

(1) [رواه النسائي، رقم: (2438)].

نبي ﷺ وائي: چې مونځ بهترين عمل دے.[1]

علماء كرام ذكر كوي، د نبي ﷺ مثال د حكيم وو، چا كښې چې به كوم نقصان وو، تپوس به ئې ترې اُوكړو، نبي ﷺ به د هغې سرې متعلق جواب وركولو.

د سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ د نبي ﷺ نه تپوس

سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ د نبي ﷺ نه تپوس كوي، «أَيُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ؟» "په تمامو عملونو كښې كوم يَو عمل بهتر دے؟ نبي ﷺ ورته فرمائي: مونځ بهتر دے، بيا ووته نبي ﷺ وائي: د مور پلار سره احسان كول بهتر عمل دے، بيا ورته نبي ﷺ فرمائي: «ثُمَّ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ» "د الله لاره كښې جهاد كول، په تمامو عملونو كښې بهترين عمل دے".[2]

اگر چې مونځ آسان دے، خو جهاد خو ډير گران كار دے، جهاد ته هيڅ څوك غاړه نه ږدي، الله رب العزت فرمائي: ﴿لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ﴾.[3]

"نيكي صرف ديته نه وائي چې صرف مونځ كوه، كله مشرق ته مخ كوه، او كله مغرب ته مخ كوه" ايمان صرف دا نه دے، مونځ خو د ايمان يَوه حصه ده.

دا خو صرف د اسلام يَوه حصه او برخه ده، ټول دين په مونځ كښې نه دے، صرف په مونځ باندې نه خلاصيږي، د اسلام په تمامو احكاماتو به عمل كوې. او علماء كرام ذكر كوي چې د اسلام په مضبوطو حكمونو كښې جهاد كول دا مضبوط حكم دے.

---

(1) [الترغيب والترهيب].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6465)، ومسلم، رقم: (85)].

(3) [سورة البقرة: 177].

ددې وجې نه بعض علماء کرام ذکر کوي، چې د اسلام بنيادونه شپږ دي: (1) کلمه شهادت، (2) مونځ، (3) زکوة، (4) روژه، (5) حج، (6) الجهاد في سبيل الله تعالى.

د جهاد باره کښې د نبي ﷺ فرمان

حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: «أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ».[1]

"بهترين جهاد د ظالم بادشاه مخکښې حقه خبره کول دي" دا بهترين جهاد دے.

بل حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ، مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ».[2]

"کوم انسان چې مړ شو، او د الله په لاره کښې ئې جهاد ونه کړو، او زړه کښې ئې د جهاد خيال هم رانغلو، دا سړے د منافقت په مرګ باندې مړ شو" دا سړے د دنيا نه منافق لاړو؛ ځکه دا خو منافقان وو، چې هغوي به د جهاد اعلان واوريدو، نو هغوي به پټ شول، الله د منافقانو صفت ذکر کوي: ﴿رَضُوا بِأَن يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾.[3]

"دا منافقان پدې ډير خوشحاليږي چې روستو پاتې شي، د جهاد نه، او مهر وهلے دے الله په زړونو د دوي پس دوي نه پوهيږي".

د منافقانو عمل

قرآن کريم کښې الله د منافقانو عمل ذکر کوي: ﴿وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ

(1) [رواه ابن ماجة، رقم: (4011)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (1910)].

(3) [سورة التوبة: 93].

﴿لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ﴾.[1]

چې د جهاد موقع به راغله نو "منافقانو به يو بل ته وئيل: ګرمئ کښې جهاد له مه ځئ، ډيره زياته ګرمي ده" الله وائي: "منافقانو ته اووايه: اور د جهنم ډير زيات ګرم دے، کاش!!! که دوي پوهيدے". نو جهاد "أَحَبُّ الأَعْمَالِ" دے.

د يو ځوان سره د سيدنا عمر فاروق ﷛ معامله

سيدنا عمر فاروق ﷛ يو ځل بازار کښې روان وو، بازار کښې ئې يو ځوان اوليدو، مړۀ مړۀ روان وو، ځان پسې ئې خپې راښکلې، سيدنا عمر فاروق ﷛ اُونيولو، او ورته وائي: بيمار ئې؟ وائي: نا، وائي: څۀ تکليف دے درته؟ وائي: نا، يو دُوره ئې ورله ورکړه، او ورته ئې اووئيل: بازار کښې چې ځې، نو نيغ ځه، او تيز ځه، يهود او نصارئ به درته ګورې، نو وائي به: مسلمانان کمزورې شوې دې.

د مسلمانانو صفت

د مسلمانانو صفت به دا وي، ﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾.[2]

"محمد رسول الله ﷺ او د هغۀ د ملګرو د هغوي به دا صفت وي، چې کافرانو باندې به سختې کونکې وي، يو بل باندې به مهربانه وي".

خپل مينځ کښې به يو بل سره محبت ساتې، د اسلام حکم دا دے، چې الله ته عاجزي کول دې، انسان چې څومره الله ته عاجزې اُوکړې، دومره د الله خوښ وي، خو د حج پۀ موسم کښې چې کله د بيت الله نه طواف کوې، نو دے به رَمل او پهلوانې کوې، لاسونه به خوزوې، د مستئ پۀ شکل به منډې وهې. دا ولې، تکبر خو منع دے،

---

[1] [سورة التوبة: 81].

[2] [سورة الفتح: 29].

تکبر خو جائز نهٔ دے، دے د الله کور کښې ولې تکبر کوې، د الله کور خو هغه مقام دے، چې الله ته پکښې اوزارۍ، الله ته پکښې عاجزۍ اوکړه، او دے طواف کښې پهلواني کوې دا ولې؟ ددې بنيادي وجه دا وه، چې کله صحابه کرام ﷺ مدينې منورې ته راغلل، نو مدينه کښې هغوي اوسيدل، د مدينې آب و هَوا کمزورې وه، د مکې د آب وهَوا په نسبت باندې، نو کافرانو به وئيل: دا مؤمنان مدينې ته تلي دې، د مدينې اوبهٔ کمزورې دې، زمکه ئې کمزورې ده، دا صحابه کرام خراب شوې دې، زيړ زيړ دې، مونږ سره جنګ نهٔ شي کولے، نو الله حکم را اوليږلو، چې زما پيغمبره ﷺ صحابه کرام چې بيت الله ته بوځې، نو بيت الله کښې به پهٔ مستۍ باندې طواف کوئ، چې کافرانو ته پته اولګي، چې مونږ خو وئيل: چې دوي خو کمزورې دي، او دوي خو داسې منډې وهې، چې داسې منډې خو ځوانان هم نهٔ شي وهلے. نو مسلمانان به پهٔ يَو بل باندې رحم دل وي، يَو بل باندې به مهربانه وي، او د کافرانو مقابله کښې به چرته هم نرمي نهٔ کوي.

حديث کښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: «جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ».[1]

نبي ﷺ فرمائي: "د مشرکانو سره جهاد اوکړئ پهٔ ژبهٔ باندې جهاد ورسره اوکړه، پهٔ مال باندې جهاد ورسره اوکړه، او پهٔ نفس باندې ورسره جهاد اوکړه".

افسوس دا دے چې نن مسلمانان د دُنيا دپاره توله ورځ اوزګار دې، ليکن کهٔ آواز ورته اوکړے شي، چې راجمع شئ د کافرانو خلاف آواز اوچتوو، نو هغې ته يَو مسلمان هم نهٔ دے تيار، دا حال دے، جنت دومره آسان نهٔ دے. الله رب العزت فرمائي: ﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ

(1) [رواه أبو داود، رقم: (2504)].

وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا﴾.[1]

"آيا تاسو ګمان کوئ چې تاسو به جنت ته لاړ شئ، او تاسو ته به هغه شان حال نه وي راغلے، کوم چې ستاسو نه مخکښې خلقو ته راغلے وو، هغوي ته تکليفونه او مصيبتونه رسيدلې وو".

د هغوي مال لوټ کړے شوے وو، مال ترې تول کافرانو اوړلے وو، د هغوي بدنونه ذره ذره شوې وو، هله ورباندې د جنت زيرې شوې وو.

نن مسلمان د زمکې دپاره جنګ کولے شي، د دُنيا دپاره جنګ کولے شي، بل مسلمان وژني، خو د الله د دين دپاره په تا کښې څومره غيرت دے؟

د يَو صحابي واقعه

يَو صحابي نبي ﷺ ته وائي: د الله پيغمبره ﷺ! که چرته ما ته شهادت ميلاؤ شي، نو «أَيْنَ أَنَا» "زهٔ به کوم ځائے کښې يم"، نبي ﷺ ورته فرمائي: که چرته ته شهيد شوې، ته به په جنت کښې ئې، د هغې صحابي لاس کښې کجورې وې، کجورې ئې خوړلې، چې کله ئې دا خبره واوريده، هغه کجورې ئې اُوغورزلې، چې دا کجورې زهٔ خلاصوم، او بيا زهٔ جنګيږم، او بيا جنت ته ځم، پدې خو ډير وخت لګي، ما له ددې نه مخکښې جنت پکار دے، د جنت کجورې ولې نهٔ خورم؟ کجورې ئې اُوغورزولې، او لاړو، جنګ ئې شروع کړو، نور کافران ئې هم مړهٔ کړل، او پخپله هم شهيد شو.[2]

دا د مسلمان شان دے، اُوس خو مسلمان دومره بے غيرته شوے دے، چې چغې ورته وهه، او ده کښې غيرت نهٔ راځي، کافر راځي، او د مسلمان ملک کښې په مسلمان حمله کوي، او مسلمان کښې غيرت نهٔ راځي، يا خو هغه دُور وو، چې

(1) [سورة البقرة: 214].

(2) [رواه مسلم، رقم: (1899)].

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا

(سورة الأحزاب: 57)

موضوع

دَ تصوير حكم

بمقام: جلسی

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د تصوير حکم

اَلحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا﴾.[1]

وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُوْنَ».[2]

عزتمندو حاضرينو مسلمانانو ورونړو! ما د قرآن کريم يو آيت اُولوستو، او د احاديثو د رسول الله ﷺ ما يو حديث عرض کړو، الله رب العزت چي کله نه انسانان پيدا کړي دي، نو پدي انسانانو باندي الله وخت په وخت امتحانات کوي، بعض شريعت کښي پرې يو شے حرام کړې، بل شے جائز کړې دے، بعض شريعت کښي يو شے جائز کړے دے، بل کښي ئي حرام کړے دے، دا ددې دپاره چي الله په خلقو امتحان کوي، چي زما حکمونه منې، او که نه منې، صرف خپل خواهش پسي روان وي، پدې بيان کښي د يو حرام شي ذکر کوو چي هغې کښي ډير خلق مبتلا

(1) [سورة الأحزاب: 57].

(2) [رواه البخاري، رقم: (5950)].

دې، حالانکه دا شے حرام دے، الله او د الله پیغمبر ﷺ ترې منع کوې، چې هغه تصویر جوړول دې، تصویران ساتل او تصویران اِیستل دې، په دوکان کښې کور کښې او دیره کښې لګول دا ناجائز کار دے، الله او د الله پیغمبر ﷺ ناجائز کړے دے. ډیر احادیث دې پدې باندې چې د تصویر ویستل حرام او نا روا دې، او د الله پیغمبر چې کومه خبره کوې، نو د ځان نه ئې نۀ کوې، د الله د طرف نه ورته حکم وي، نو الله او د الله پیغمبر ﷺ حرام کړے څیز چې هغه تصویر دے، هغه د هر چا کور کښې شته، هغه ئې د خپلو کورونو د خائست یَو سبب ګرځولے دے، کورونو کښې ئې تصویران لګولي دې، یا ئې ورباندې جوړ کړے وي، دوکانونو کښې خلقو تصویران لګولې دې، یا ئې جوړ کړے وي.

چا د حرام کار جوړول شروع کړل، یعنې د تصویر جوړول، او د هغې پیسې خوړل حرام دې، خلقو ددې دپاره دوکانونه کهولاؤ کړې دې، چې هغوي تصویران اُوباسې، او د خلقو نه پرې پیسې آخلې، نو دا لویه ګناه ده، او په خلقو کښې عامه ده، تصویر جوړول دا لویه ګناه ده، دا ډیر قبیح عمل دے، همیشه دپاره چې خلق تباه شوې دې، نو تصویر جوړول او تصویر ته کتل د هغوي د هلاکت سبب ګرځیدلے دے. مخکښې قومونو کښې چې کوم قومونه تباه شوې دې، چې هغوي د بوتانو عبادت کولو، د کتو عبادت ئې کولو، دا بوتان او هغه کتې دا کتې نۀ وي، بلکه دا به ئې د نیکانو بندګانو په شکل باندې بوتان جوړ کړې وو، او د هغوي عبادت به ئې کولو، کله چې اول د بوتانو عبادت شروع کیدو.

علماء کرام ذکر کوې، کله چې د آدم ؑ ځامن وفات شول، نو د هغوي نه وروستو چې کوم خلق پیدا شول، هغه ډیر نیکان خلق وو، هغوي د بوتانو عبادت نۀ کولو، د الله نه ماسیوا د بل چا عبادت ئې نۀ کولو، خو شیطان راغے، او هغوي ته ئې زړونو کښې وسوسه

واچوله، ورته وائي: دا نيکان خلق وفات شوې دي، که تاسو د هغوي تذکرې کولے، نو ستاسو به عبادت کښې نور هم شوق پيدا شي، نو وسوسه ئې ورته واچوله، چې د هغوي په شکل تصويران جوړ کړئ، او ځان له ئې خپلو عبادت خانو او جوماتونو کښې کيدئ، نو چې کله تاسو عبادت له راځئ، نو د هغوي تصويرانو ته به ګورئ، نو ستاسو به ددين د کار سره مينه او محبت پيدا کيږي، او عبادت به په شوق باندې کوئ، نو هغوي تصويران جوړ کړل، په هغوي خلقو کښې څوک چا د تصويرانو عبادت نهٔ کولو، عبادت ئې خو د الله کولو، خو کتل به ئې تصويرانو ته، چې زما شوق عبادت ته سيوا کيږي؛ څکه د نيکانو بندګانو تصويران وو، کله چې هغه پيړئ ختمه شوه، هغوي پسې بله پيړئ راغله، نو هغوي ددغې تصويرانو نه ضروريات او حاجات غوښتل شروع کړل، نو الله تباه کړل، نو د بوتانو او کتو عبادت ئې نهٔ کولو، دوي به هغې تصويرانو ته کتل، او د هغوي عبادت به ئې کولو، او د هغې د وجې نه کفر او شرک کښې مبتلا شول، مخکښې قومونه د تصوير د وجې نه هلاک شوي وو.

د رسول الله ﷺ شريعت کښې چې اُوس څومره خلق په بے حيائۍ کښې مبتلا دے، څومره خلق په ګناهونو کښې مبتلا دے، د هغې وجه دا ده چې تصوير به ئې جوړ کړے وي، د هلک او د جينۍ او هغې ته ګورې نو د هغې نه متأثره شي.

نن چې دا څومره بے حيائې عام ده، ددې لويه وجه تصويران دي، نو تصوير جوړول ناروا دي، چې څوک تصويران جوړوي نو د هغهٔ دا کسب هم ناروا دے.

ما چې کوم آيت لوستے وو، په هغې کښې الله فرمائي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا﴾.[1]

"يقينًا هغه کسان چې هغوي تکليف ورکوي الله ته او د الله پيغمبر ﷺ ته په

(1) [سورة الأحزاب: 57].

لعنت کړي دي الله هغوي لره په دُنيا او آخرت کښې" (لعنت ديته وائي: چې الله به ورته خپل رحمت نۀ ښائي، هر وخت به د الله د رحمت نه لرې وي).

الله ته او پيغمبر ﷺ ته تکليف څۀ دے؟ هر هغه کار کول چې په هغې الله خفه کيږي، هر هغه کار کول چې په هغې د الله پيغمبر خفه کيږي. دا سبب د لعنت د الله دے.

د سيدنا عکرمه ﷺ قول

سيدنا عکرمه ﷺ وائي: "نُزِلَتْ فِي الْمُصَوِّرِيْنَ".[1]

"دا آيت دَ تصوير ويستونکو باره کښې نازل دے".

چې ددې نه مراد تصوير اِيستونکې خلق دي، چې هغوي خلقو له تصويران اُوباسي، الله ئې هم خفه کړو، او د الله پيغمبر ئې هم خفه کړو.

د تصوير کشي کونکو دپاره سخت عذاب

رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ».[2]

نبي ﷺ فرمائي: "د قيامت په ورځ به سخت عذاب هغه چا له ميلاويږي، چې چا دُنيا کښې تصويران اِيستلي وي".

د سيدنا عمر ﷺ روايت

چې رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّ الَّذِينَ يَصْنَعُونَ هَذِهِ الصُّوَرَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ».[3]

نبي ﷺ فرمائي: "کوم خلق چې د جاندارو څيزونو تصويران جوړوي د قيامت په ورځ به دوي له عذاب ورکولے شي، الله به ورته وائي: چې تاسو دُنيا کښې کوم

(1) [تفسير زاد المسير، تحت آية سورة الأحزاب: 57].

(2) [رواه البخاري، رقم: (5950)].

(3) [رواه البخاري، رقم: (5951)].

ځیزونه جوړ کړي وو په هغې کښې روح واچوئ، هغه ژوندي کړئ". نو روح اچول خو د الله کار دے، دا د بل چا کار نهٔ دے، نو دے به هغې کښې روح نهٔ شي اچولے، نو پدې به ورله الله سزا ورکوي.

د سیده عائشي ﷺ روایت

سیده عائشه ﷺ فرمائي: یَو ځل نبي ﷺ کور ته راغے، د هغهٔ د راتلو نه مخکښې ما یَوه پرده جوړه کړې وه، کور کښې مې زوړنده کړې وه، په هغې باندې تصویران وو، کله چې نبي ﷺ کور ته راغے، چې وې کتل، نو په هغې پرده کښې تصویران وو، نو د کور دروازه کښې اُودریدو، دننه نهٔ راتلو، واپس روان شو، سیده عائشه ﷺ وائي: ما ورته آواز اُوکړو، «يَا رَسُولَ اللهِ أَتُوبُ إِلَى اللهِ، وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاذَا أَذْنَبْتُ؟» "ما چې کومه ګناه کړې ده، د هغې ګناه په وجه زما نه الله او د الله پیغمبر ﷺ خفه دے؟، زهٔ د هغې ګناه نه توبه اُوباسم"، (یعني چې کوم ځائے ګناه کیږي هغې ځائے ته به نهٔ ورځې، هغې کور او دوکان ته مهٔ ورځه، چې هغې کښې تصویران دې، او کهٔ لاړې، نو تهٔ هم ګناهګار ئې) نو عائشي ﷺ اووئیل: چې زهٔ توبه اُوباسم، نو نبي ﷺ اوفرمائیل: چې دا پرده تا زوړنده کړې ده دا د څهٔ د وجې نه؟ نو سیده عائشه ﷺ وائي: ما ورته اووئیل: چې د الله پیغمبره ﷺ! دا خو ما یَوه پرده را زوړنده کړې وه، وائي: نبي علیه والسلام اوفرمائیل: چې دا پرده اُوشلوه، نو هله به زهٔ درځم، وائي: ما هغه پرده اُوشلوله، هغه تصویران مې ترې ختم کړل، نو نبي ﷺ بیا کور ته راغے، (نو کهٔ تصویر بل چا جوړ کړے دے، او تهٔ ئې کور ته راوړې نو هم ګناه ده) بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل: یقینًا ددې تصویر جوړونکو له به د قیامت په ورځ عذاب ورکولے شي، او ورته به اووئیلے شي: چې تاسو کوم شے جوړ کړے دے، دا ژوندي کړئ، او بیا نبي ﷺ اوفرمائیل: چې کوم کور کښې تصویرونه وي،

فرشتې هغې کور ته نهٔ دننه کيږي. [1]

د سيدنا ابو طلحه ﷺ روايت

سيدنا ابو طلحه ﷺ فرمائي: چې رسول الله ﷺ فرمائي: «لاَ تَدْخُلُ المَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ تَصَاوِيرُ». [2]

رسول الله ﷺ فرمائي: "هغې کور ته د رحمت ملائک نهٔ ورځې، کوم کور کښې چې سپے وي، يا پکښې تصويران وي".

د يَو سړي واقعه

يَو سړے وو، هر وخت به ئې د ځان سره سپے گرځولو، ددې دپاره وائي: چې ما حديث اوريدلے دے، چې هغې خلقو سره ملائک نهٔ گرځي کومو خلقو سره چې سپے گرځي، نو زهٔ ځکه د ځان سره سپے گرځوم چې ما سره سپے وي، نو ما سره به ملائک نهٔ راځي، نو زما ورح به فرشتې نهٔ اخلي، پدې خيال ئې د ځان سره سپے گرځولو، نو يَو هوښيار سړي ورته اوونيل: تهٔ خو د ځان سره هر وخت سپے گرځے، خو ستا نه به هغه ملائک روح اخلي کوم ملائک چې ددې سپي نه ورح اخلي.

نو کوم کور کښې چې سپے وي، يا پکښې تصويران وي، نو هغې کور ته د رحمت فرشتې نهٔ دننه کيږي.

د سيدنا ابو هريره ﷺ روايت

ابو هريره ﷺ وائي: چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: ما سره يَو ځل جبريل امين ﷺ وعده اُوکړه، چې زهٔ به سحر درځم، نبي ﷺ به دننه او بَهر کيدو، چې اُوس به جبريل ﷺ راشي، اُوس به جبريل ﷺ راشي، جبريل امين ﷺ رانغلو، نبي ﷺ

(1) [رواه البخاري، رقم: (2105)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (5949)].

دیر خفه وو، چې نهٔ الله دروغ وائي، او نهٔ ملائک دروغ وائي، څهٔ وجه ده، دیر وخت اُوشو، جبریل امین ﷺ رانغلے، چې ناڅاپه د نبي ﷺ خیال شو، نو کور کښې دننه د کټ لاندې وړوکے د سپي بچے وو، نبي ﷺ اوفرمائیل: دا بهر کړئ، چې بهر ئې کړو، جبریل امین راغے، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: تا خو ما باندې دومره تکلیف تیر کړو، څهٔ وخت پورې زهٔ ستا پهٔ انتظار ووم؟ د خپلې وعدې خلاف دې اُوکړو، جبریل امین ﷺ ورته وائي: ما خلاف نهٔ دے کړے، خو ستا کور کښې دننه وړوکے کوترے ګرځیدو، او مونږ هغه کور ته نهٔ دننه کیږو، کوم کور کښې چې دننه سپے وي، یا پکښې تصویران وي.[1]

نو هغې کور او دوکان ته د رحمت فرشتې نهٔ دننه کیږي، کوم کور کښې چې سپے وي یا پکښې تصویران وي.

د سپي ساتل

درې قسمه سپي ساتل جائز دي:

(1) یَو د ښکار دپاره سپے ساتل جائز دي، مثال یَو سړے پرې مرزان نیسي، خو مرزان جنګوې نهٔ، د ځناورو او مارغانو جنګول دا ناروا دي.

(2) دویم د څوکیدارئ والا سپے ساتل جائز دي، یَو سړے دُشمندار دے، یا دغل نه یریږي، یا ئې داسې ځائے کښې کور دے، چې یَواځې دے، د خپل حفاظت دپاره پهٔ کور کښې سپے ساتل جائز دے.

(3) دریم د کډو او بیزو دپاره سپے ساتل جائز دي، چې هسې نه پهٔ کډو او بیزو داسې ځناور راشي چې وي خورې، نو ددې د حفاظت دپاره سپے ساتل جائز دي.

---

(1) [رواه مسلم، رقم (2104)].

د سپي ساتلو ځائے

علماء کرام ذکر کوي، چې د سپي د ساتلو ځائے اُوبیژنه، اصحاب کهفو سره سپے تلے دے؛ ځکه د شپونکي سپے وو. نو سپے به کوم ځائے ساتي، ډیر خلق ئې ځان سره کمره کښې اُودۀ کوي، اکثر ئې ورته ټولا یاني اچولې وي، او په هغې کښې ئې اُودۀ کوي، دا هم جائز نۀ دي، د سپي د ساتلو یَو ځائے دے، چې هغه د کور یَو گُټ کښې اُوتړه، دا نه چې ټول کور کښې گرځي، او ټول لوښي کنده کوي، داسې سپے ساتل هم ناروا دي. اصحاب کهفو سره سپے تلے دے، نو هغوي چې الله پۀ غار کښې اُودۀ کول، نو دا سپے به ئې ورسره هم وردننه کړے وے، دا سپے به هم غار کښې پټ پروت وو، سپے بهر د غار پۀ خُلۀ کښې پروت وو، نو کۀ ستا سپے دے، نو هغه به د کور یَو گُټ کښې وي، دا نه چې ټول کور کښې به گرځي. مطلب دا دے چې د سپي ساتل جائز دي، خو د دریُو قسمه سُپو، د ښکار سپے، د څوکیدارئ دپاره، او بل چې د کډو او بېزو سره گرځي.

ددې نه ما سیوا هسې د شوق دپاره سپي ساتل او ډوډئ ورله ورکوي، او هر وخت ئې لامبے، داسې سپے ساتل نا جائز دي، او کۀ د جنگ پۀ خیال ئې ساتي نو بالکل حرام دي. او د هغې پیسې هم ناروا دي.

نو نبي ﷺ فرمائي: هغې کور ته د رحمت فرشتې نۀ وردننه کیږي کوم کور کښې چې سپے وي، یا پکښې تصویران وي.[1]

د سیدنا ابن عمر رضي الله عنه روایت

هغوي فرمائي: چې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: «مَنِ اقْتَنَى كَلْبًا، إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ،

(1) [رواه البخاري، رقم: (5949)].

أَوْ ضَارِيًا، نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ».[1]

نبي ﷺ فرمائي: "چا چې سپے اُوساتلو ددې درې قسمه سپو نه علاوه چې نۀ ښکار کوي، نۀ د کډو بيزو سره ځي، او نۀ د څوکيدارۍ دپاره دے (بلکه هسې ئې ساتلے دے) نو هره ورځې به ددۀ دوه قيراطه اجر کميږي".

دوه قيراطه خو دې کولے نۀ شي، روزانه به د هغۀ د اجر نه دوه قيراطه اجر کمولے شي. نو د رحمت ملائک هغه کور ته نۀ دننه کيږي، کوم کور کښې چې سپے دے، يا پکښې دننه تصويران لګيدلي دي.

د ضرورت والا تصويران

د ضرورت دپاره تصوير ساتل جائز دي. د هغې استعمال جائز دے. مثال پۀ طور يَو سړے بَهر ملک ته ځي، نو کۀ ددۀ سره تصوير نشته، پاسپورټ نشته، شناختي کارډ نشته، نو دے نۀ پريدي، نو ددې سړي دپاره پاسپورټ دپاره تصوير ايستل جائز دي؛ ځکه د ملک قانون داسې دے، د هغې نه بله کولے نۀ شي، کۀ تۀ پرې تصوير نۀ اُوباسې، تاله شناختي کارډ نۀ جوړوي، دا عذر دے، او مسئله دا ده، چې د عذر د وجې نه ناروا شے کله نا کله جائز کيږي.

دا رنګه يَو سړے دے، او د هغۀ جيب کښې پيسې دي، نو پۀ پيسو باندې تصويران شته، اُوس کۀ يَو سړے وائي: چې زۀ پکښې تصوير نۀ منم، او هغه تصوير ترې لرې کړي، نو بيا ترې هغه پيسې څوک نۀ اخلي. دا عُذر دے، او دا خير دے. پيسو باندې تصوير خير دے، دا رنګه پاسپورټ باندې تصوير شناختي کارډ باندې تصويران جائز دي.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (5482)، ومسلم، رقم: (1574)].

فضول تصويران

هغه تصويران چې هغې کښې هيڅ خير نشته، او تا ايستې دي، د هغې څهٔ مقصد دے؟ تهٔ پکښې ولا ړ ئې، او د خپل ځان تصوير دې ايستے دے، او خپل کور کښې او بيټک کښې دې لګولے دے، نو ددې څهٔ مطلب دے؟ يا ستا تصوير نهٔ دے، نورو خلقو پهٔ ګوتو جوړ کړے دے، د سړو يا د ښځو يا د ماشومانو يا د ځاروو، او تا راوړے دے، او پهٔ خپل کور کښې دې لګولے دے، نو ديته څهٔ ضرورت دے؟ خو دا خبره ياد اُوساتئ چې قيامت کښې به الله وائي: دا ژوندې کړئ.

د تصويرانو شوق

د يَو سړي شوق دے، چې خپل کور او خپله ديره خائسته کول غواړي، نو اول خو ددې نه بل خائست شته، چې خائسته پليستر دې ورکړے دے، چونه او رنګ دې ورکړے دے، نو دا خائست کافي دے، او کهٔ بيا هم تهٔ وائې: چې زهٔ پکښې څهٔ ښکلے شے لګوم، نو داسې تصوير اُولګوه چې هغه د جاندار شي نهٔ وي، يعنې د روح والا شے نهٔ وي، د آبادئ تصويران پکښې اُولګوه، د اُونو او ځنګلونو تصويران پکښې اُولګوه، داسې تصويران لګول جائز دي،دا خو د انسان د تصوير نه زيات خوند کوي، دا خو د پردو زنانو د تصويرانو نه زيات خوند کوي. خو افسوس دا دے!!! چې شيطان دا کوشش کوي، چې هغه مونږ داسې ګناهونو کښې مبتلا کړي چې هغه مونږ ته ګناه نهٔ ښکاري.

اکثر هلکان پهٔ سائيکلو باندې کرځي، نو د سائيکل پهٔ ورستو چمټه باندې ئې هم تصويران لګولي وي، او تصويران هم اکثر د جينئ وي، او د جينئ هغه تصوير هم داسې وي، چې هغه نيمه برينده وي، نو هلک ته حياء هم نهٔ ورځي، چې دا سائيکل خپل کور ته راولي، او هغه سائيکل ته د هغهٔ مور، پلار، رونړه او خويندې تول ګوري، نهٔ دې هلک له حياء ورځي، او نهٔ د کور خلقو له حياء ورځي، چې پهٔ پدې سائيکل ئې څهٔ لګولي دي؟

د حياء باره کښې د نبي ﷺ فرمان

رسول الله ﷺ فرمائي: «اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ».[1]

رسول الله ﷺ فرمائي: "حياء د ايمان يَو شاخ دے".

حياء د ايمان يَو برخه ده. چې چا کښې حياء نهٔ وي، دهٔ کښې ايمان هم نهٔ وي، حياء يَو ډير قيمتي شے دے، هر انسان له پکار دي چې ځان کښې حياء پيدا کړي. نن د خلقو نه حياء چرته تلې ده؟ چې ايمان به پدې خلقو کښې څنګه پاتې شي؟ چې هغوي کښې حياء نهٔ وي، پهٔ کور کښې به ټي وي پروت وي، هغې کښې به د ښځو او سړو تصويران راځي، هغې کښې به د مينې او محبت غلط غلط فلمونه راځي، مور، پلار، رونړه او خويندې ټول ورته پهٔ اتفاق باندې ګوري، يَو کس کښې هم حياء نهٔ راځي، مور پلار ته حياء نهٔ ورځي چې د خپلو بچو مخکښې دا تصويران ګوري، بوډاګان، ځوانان او ماشومان ټول ورته ګوري، د يَو تن زړه کښې دا نهٔ راځي چې دا زهٔ څهٔ کوم؟ دا څومره پهٔ لويو ګناهونو کښې خلق مبتلا دي؟! خو افسوس دا دے! چې زمونږ صرف دُنيا ته خيال دے، خپل عيش او عشرت تيرؤ، هغه طريقه کهٔ د الله خوښه ده، او کهٔ نا خوښه ده. آخرت خو زمونږ نه هير دے.!

د مسلمان صفت

الله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾.[2]

---

(1) [رواه النسائي، رقم: (5006)].

(2) [سورة الأحزاب: 36].

الله رب العزت فرمائي: "د مسلمان سړي دپاره او د مسلمانې زنانه دپاره دا نهٔ دي جائز کله چې الله او د الله پیغمبر د يَو کار فيصله اُوکړه". چې دوي پکښې بيا خپل اختيارات اُوچلوي. الله وئيلې دي دا شے حرام دے، د الله پيغمبر ﷺ وئيلې دي چې دا شے حرام دے، بيا مسلمان سړي او ښځې له نهٔ دي پکار چې هغه کار اُوکړي، دا د مسلمان شان نهٔ دے. د مسلمان شان خو دا دے چې کله ورته اووئيلے شي، چې الله داسې وئيلې دي، نبي ﷺ داسې وئيلے دي، وائي: زهٔ ئې بالکل منم، ديته ايمان وائي.

خپل خواهشات پريښودل

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ».[1]

"تر هغې وخته پورې يَو سړے د کامل ايمان والا نهٔ شي جوړيدے، تر څو پورې چې دهٔ تمام خواهشات د هغې دين نهٔ وي تابع شوي، کوم دين چې محمد ﷺ د الله د طرف نه راوړے دے". الله او د الله پيغمبر يَو شان وئيلې دي، او تهٔ بل شان روان ئې، ته څنګه مسلمان ئې؟!

دا خو د منافقانو ايمان دے، چې پهٔ خُلې باندې يَوه خبره کوي، او زړهٔ کښې بله خبره وي، مسلمان خو ديته وائي: چې دهٔ د ژبې او د زړهٔ به يَوه خبره وي، مسلمان خو ديته وائي: چې دهٔ وئيلې دي، زهٔ الله منم چې زما رب دے، زهٔ محمد رسول الله ﷺ منم چې زما پيغمبر دے. ددې څهٔ مطلب دے؟ ددې مطلب دا دے: چې زهٔ به د الله د حکم خلاف نهٔ کوم، زهٔ به د نبي ﷺ د طريقې خلاف نهٔ کوم؛ ځکه زهٔ مسلمان يم.

او کهٔ نه الله وئيلې دي، ﴿أَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾[2]

"مونځ کوئ"، او تهٔ ورځ کښې يَو مونځ کوې، يا يَو مونځ هم نهٔ کوې، نو تهٔ ځان

---

(1) [رواه البغوي في "شرح السنة"، رقم: (104)].

(2) [سورة البقرة: 43].

ته مسلمان د څهٔ وائي؟ الله وئيلي دي ﴿وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾.[1]

"زکوٰة ورکوئ"، او تهٔ زکوة نهٔ پيژنې، د الله پيغمبر وئيلي دي، چې تاسو تمام خواهشات زما ددين تابع کړئ، ستا تمام خواهشات، تمام افعال او تمام اخلاق، ناسته ولاړه، ستا شکل وصورت، ستا غم ښادې هر څهٔ د نبي ﷺ د طريقې خلاف دي، نو تهٔ ځان ته څنګه اُمتي د نبي ﷺ وائي؟ نو ستا او د منافق مينځ کښې څهٔ فرق راغے؟ خو صرف دومره دهٔ، چې تهٔ ځان ته منافق نهٔ وائي، څوک درته منافق وئيلے نهٔ شي، ستا نه به يريږي.

تصوير ايستونکو له سخته سزا

رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ».[2]

نبي ﷺ فرمائي: "يقينًا سخت عذاب به د قيامت په ورځ تصوير ايستونکې خلقو ته ميلاويږي" کهٔ يَو سړے وائي: چې نبي ﷺ دروغ وائي، نو قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ · إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾.[3]

"دا پيغمبر د خپل ځان نه خبرې نهٔ کوي، دے چې تاسو ته کومه خبره کوي دا د الله د طرف نه دهٔ ته وحې شوې دهٔ".

او دا خبره ياد اُوساتئ! کچرته يَو مسلمان دا اُووائي: چې د الله خبره او د نبي ﷺ خبره دا دروغ دي، يا هسې کپ شپ دے، دا مُليان هسې خلق يَروي، نو کچرته صحيح خبره وي، او دے د هغې نه انکار کوي نو انکار سره سړے کافر کيږي. دا مسئله دهٔ.

نو نبي ﷺ فرمائي: سخته سزا به د قيامت په ورځ هغې خلقو ته ميلاويږي،

---

(1) [سورة البقرة: 43].

(2) [رواه البخاري، رقم: (5950)].

(3) [سورة النجم: 3-4].

لوم خلق چې تصويران جوړوي.

پدې دور کښې به حکم خلق داسې وي، چې هغوي کره به تصويران نهٔ وي، او کهٔ د نورو تصويرانو وَس ئې نهٔ کيږي، نو د وتونو تصويران راوړي، او کور کښې او دوکان کښې لګوي، وائي: پدې دوکان او کور خائسته کوو، د ګناه پهٔ شي باندې خائے نهٔ خائسته کيږي، خائے د ثواب پهٔ کار باندې خائسته کيږي، او پهٔ هغې خائست به څهٔ اُوکړي؟ چې پهٔ هغې تا ته آخرت کښې سزا ميلاويږي، چې اُوس پدې کښې روح واچوه.

د سيدنا ابن عباس ﷺ روايت

سيدنا ابن عباس ﷺ فرمائي: ما پخپله د نبي ﷺ نه آوريدلې دي، چې نبي ﷺ فرمائيل: چې چا پهٔ دروغه باندې اووئيل: چې ما بيګا داسې خوب ليدلے وو، او دهٔ خوب ليدلے نهٔ وو، نبي ﷺ فرمائي: پهٔ ورځ د قيامت به ورته الله وائي: دا دوه وَريښې واخله او دې دواړو وريښو له غوټې ورکړه، دے به چرې هم دا وريښې غوټه کولے نهٔ شي، تر هغې به عذاب کښې پروت وي، الله به ورته وائي: چې تا يَو خوب ليدلے نهٔ وو، نو تا ولې پهٔ دروغه باندې خلقو ته اوئيل: چې ما خوب ليدلے دے؟ نن به داسې سزا درکوم چې يَو شے نهٔ غوټه کيږي، زهٔ به تا ته وايم، چې دې له غوټه ورکړه.

دويم نبي ﷺ فرمائي: کوم دوه کسان چې خبرې کوي، خپل مينځ کښې ګپ شپ لګوي، او دے غلے غلے راغے، او د هغوي خبرو ته ئې غوږ کيخودو، يا هغه خلق ددهٔ نه نفرت کوي، ددهٔ نه خبره پټوي، او دے راغلو، د هغوي مينځ کښې کيناستو، نبي ﷺ فرمائي: د داسې انسان پهٔ دواړو غوږونو کښې به وِيلې کړے شوې قلعٔي (ويلې کړے شوې تانبه) واچولے شي.

دريم نبي ﷺ فرمائي: «وَمَنْ صَوَّرَ صُورَةً عُذِّبَ، وَكُلِّفَ أَنْ يَنْفُخَ فِيهَا، وَلَيْسَ بِنَافِخٍ».[1]

(1) [رواه البخاري ، رقم: (7042)].

"چا چې تصویر جوړ کړو، نو الله به دي انسان له په هغې باندې عذاب ورکوي، او الله به ورته وائي: چې شابه اُوس پدې کښې روح واچوه". دے به په هغې کښې روح اچولے نۀ شي، نو چې روح پکښې نۀ شي اچولے نو دۀ له به الله سزا ورکوي، چې ولې دي تصویران جوړول؟

مذکوره حدیث مبارک یَو اهمه خبره

پدې حدیث کښې یَوه خبره تیره شوه، چې دوه کسان خپل مینځ کښې خبرې کوي، نو د هغوي خواته مۀ ورځه. د شریعت حکم دا دے څومره صفا خبرې کوي؟ خو کۀ نقصان دے، نو زمونږ نقصان دے، رسول الله ﷺ فرمائي: چې کله درې کسان په لاره باندې روان دي، دوه کسان دي، د هغۀ نه نۀ جُدا کیږي، چې ځان له پټې پټې خبرې اُوکړي، دا ناروا دي؛ ځکه هغه بل کس به زړۀ کښې وائي: چې دوي ما دپاره څۀ بندوبست کوي، چې ما نۀ خبروي، د هغۀ زړۀ کښې شک راځي. نو داسې کار جائز نۀ دے.

د علماء کرامو فتوٰی

علماء کرام ذکر کوي، یَو څو قسمه کسان دي، کۀ چا سپک کړل، نو خپل ځان دي ملامته کړي بل څوک دي نۀ ملامته کوي.

(1) یَو هغه کس دے، چې دوه کسان خپل مینځ کښې خبرې کوي، او دے بغیر د اجازت نه راغے، او د هغوي دواړو مینځ کښې کیناستو، نو کۀ هغوي بے عزته کړو، او ملامته ئې کړو، نو د خپل ځان نه دي خفه شي، هغوي نه دي نۀ خفه کیږي.

(2) دویم هغه سړے چې چا ورته د ډوډۍ دعوت نۀ دے ورکړے، او دے بغیر د دعوت نه ډوډۍ له ځي، نو کۀ هغوي سپک کړو، چې تا ته چا وئیلي دي، چې راځه؟ نو دے دي خپل ځان ملامته کړي، د هغوي نه دي نۀ خفه کیږي، چې تاسو زۀ د خیرات نۀ اُوشړلم.

د سیدنا ابو هریره ﷺ روایت

سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: چې رسول الله ﷺ فرمائي: «تَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ القِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ، يَقُولُ: إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلاَثَةٍ، بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ، وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ، وَبِالمُصَوِّرِينَ».[1]

د رسول الله ﷺ فرمائي: "د قیامت په ورځ به د جهنم د اُور نه یَو اژدها را اُوځي، هغې به دوه سترګې وي، چې په هغې به لیدل کوي، دوه غوږونه به یې وي، چې په هغې اوریدل کوي، او ژبه به ئې وي، چې په هغې به خبرې کوي، دا اژدها به آواز کوي: چې زهٔ په درې قسمه خلقو باندې مقرر شوې یم: (1) یَو هر ظالم عناد کونکي سره زما کار دے، (چې دے دُنیا کښې ظالم وو، د غریبانانو سره ئې ظلم کړے وو)، (2) دویم زهٔ په هر هغه چا مقرر یم، چې چا دُنیا کښې د الله سره بل شریک کړځولے وو، (3) دریم زهٔ په هر هغه چا مقرر یم چا چې دُنیا کښې تصویرونه جوړول".

د سیدنا ابن عباس ﷺ خواته د یَو سړي راتلل

یَو حدیث کښې راځي، چې سیدنا عبد الله بن عباس ﷺ ته یَو سړے راغے، او ورته وائي: چې اے عبد الله بن عباسه! زما کار دا دے، چې زهٔ تصویران جوړوم، یعنې زما رزق پدې کښې دے، نو کهٔ زهٔ تصویران نهٔ جوړوم نو زهٔ به څهٔ خُورم؟ سیدنا عبد الله بن عباس ﷺ ورته وائي: راشه، ځان ته ئې نزدې کړو، او په سَر ئې ورله لاس کیخودو، او ورته وائي: هغه حدیث درته بیانوم چې ما پخپله د نبي ﷺ نه آوریدلے دے، او ورته وائي: ما پخپله د نبي ﷺ نه دا خبره آوریدلې ده، چې چا تصویر جوړ کړو، نو الله به دي انسان ته وائي: چې شابه پدې کښې روح واچوه، نو دے به

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2574)].

هغې روح اچولے نهٔ شې، نو الله به سزا ورکوي، جهنم ته به ئې غورزوي. چې کله هغې سړي دا خبره واوريده، نو حديث کښې راځي، هغه سړي يَو لويه چغه وِيستله او مخ ئې تک زيړ شو، سيدنا عبد الله بن عباس ﷺ ورته وائي: واه وُرَک شې، تباه شې، کهٔ يَو کار کوې، نو هغه جائز دے، وائي: څنګه؟ وائي: تهٔ چې تصوير جوړے، نو تصويران جوړ کړه د هغې شي چې هغې کښې روح نشته، د اُونو تصويران جوړ کړه، د کټو تصويران جوړ کړه، خو د ساه والا تصوير مهٔ جوړوه.[1]

اکثرو ځايونو کښې خلقو تصويران لګولي وي، کونتره يا طوطې ئې جوړ کړے وي، او هغې ته ئې خُلهٔ کښې تار ورکړے وي د هغې تار يَو طرف او بل طرف ته د لرګي يَو تخته وي، پهٔ هغې باندې کلمې ليکلې وي، سبحان الله ئې پرې ليکلې وي، الحمد لله پرې ليکلې وي، لا إله إلا الله محمد رسول الله پرې ليکلې وي، دا کار هم ناروا دے.

مسئله خو دا ده: علماء کرام ذکر کوي، چې پهٔ ديوالونو باندې او لرګو باندې د الله د کتاب آياتونه ليکل، او هغه اويزاندول د الله د کتاب بے عزتي ده، د جومات پهٔ ديوال هم د قرآن کريم آيت نهٔ شي ليکلے. نو يَو خوا دې کلمې ليکلې دې، او بل خوا دې ورسره تصويران لګولي دي، دا ګناه ده، نو تصوير چې د جاندار شي وي کهٔ د مرغۍ تصوير دے، کهٔ د نورو څناورو تصوير دے، د هغې جوړول ناروا دي، کهٔ يَو انسان کور ته تصويران راوړي، نو چې داسې تصويران راوړي چې هغه د ساه والا نهٔ وي.

د سيدنا ابن عباس ﷺ بل روايت

چې رسول الله ﷺ فرمائي: «إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا، أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ، أَوْ قَتَلَ أَحَدَ وَالِدَيْهِ، وَالْمُصَوِّرُونَ، وَعَالِمٌ لَمْ يَنْتَفِعْ بِعِلْمِهِ».[2]

---

(1) [رواه مسلم، رقم: (2110)].

(2) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (7504)].

رسول الله ﷺ فرمائي: "سخته سزا به د قیامت په ورځ یو څو قسمه خلقو ته میلاویږي: (1) یو هغه سړي ته به سخته سزا میلاویږي چې د هغهٔ د لاس نه نبي (پیغمبر) وژلے شوے وے، (2) دویم هغه سړي ته به سخته سزا میلاویږي چې هغهٔ له یو نبي (پیغمبر) وژلے وي، (مقابله ئې ورسره کوله، او مړهٔ ئې کړو، هغهٔ ته به سخته سزا میلاویږي)،(3) دریم هغه انسان ته به سخته سزا میلاویږي چې مور پلار کښې یو تن مړهٔ کړے وي، یا ئې مور مړه کړې وي، یا ئې پلار مړهٔ کړے وي، (4) څلورم تصویر ایستونکې انسانانو ته به سخته سزا میلاویږي، چې کوم خلق تصویران اُوباسي، (5) پنځم هغه عالم چې پخپل علم نه فائده نهٔ اخلي، هغهٔ ته به سخته سزا میلاویږي". نو پدې خبره تاسو ښهٔ پوهه شوئ چې تصویر ایستل او تصویران ساتل گناه ده.

او نن دور کښې به داسې څوک وي، چې هغه ته به دا پته نهٔ وي، چې تصویران ساتل ناروا دي، هر څوک خبر دے، چې تصویر ساتل ناروا دي، او بیا هم دا کار کوي، نو د قیامت په ورځ به ورته سخته سزا میلاویږي.

تصویر او اُوچت قبر ختمول

سیدنا حیان بن حصین رضی الله عنه فرمائي: چې ما ته سیدنا علي رضی الله عنه اوفرمائیل: آیا زهٔ تا له په هغه کار باندې نهٔ لیږم د کوم کار دپاره چې نبي علیه السلام ما له لیږلے وو، او هغه کار دا دے، «أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ» چې کوم ځائے کښې تهٔ تصویر گورې نو هغه ورانوه، او دا اُوچت اُوچت قبرونه برابر کړه، ددې اُوچتوالے ختم کړه.[1]

نن خلقو د قبرونو نه بنگلې جوړې کړې دي، نبي علیه السلام د خپل ترهٔ زوې پدې

(1) [رواه مسلم، رقم: (969)].

مقرر کړے وو، چې کوم ځائے کښې اُوچت قبر وي، هغه د نورو قبرونو سره برابر کړه، هسې نه چې خلق د هغې نه امدادونه غوښتل شروع کړي. لکه چې اُوس چې پرې خلقو جنډې اودرولې دي، او قبرونه ئې پاښۀ کړي دي، او ډيوې پرې بلوي، دا ټول بدعات او شرکيات دي. د نبي ﷺ زمانه کښې داسې نۀ دي شوي، معمولي چې به قبر اُوچت وو، هغه به ئې برابرولو، چې څوک د قبر عبادت ونۀ کړي.

د تصوير ساتلو ګناه ده

علماء کرام دا درې واړه بابونه پۀ يَو ځائے راوړي، معلوميږي داسې چې د رحمت ملائکې خو ډيرو ځايُونو ته نۀ ځي، خو دې درېُو ځايونو ته د رحمت ملائکې نه ځي.

(1) يَو هغه کور ته چې کوم کور کښې تصوير لګيدلے دے.

(2) دويم هغه کور ته چې هغې کښې سپے دے.

(3) دريم هغې کور ته چې هغې جرسونه دي، کۀ ځناور کښې دي، او کۀ د انسانانو خپو کښې دي. دا مرض هم پدې خلقو کښې عام دے. شيطان به هغه شے پدې خلقو کښې دننه کوي، چې کوم ناروا شے وي، حلال کارونه ترې ختموي.

علماء کرام ذکر کوي، رياض الصالحين کښې امام نووي ؒ باب ذکر کوي:

"باب كراهية تعليق الجرس في البعير وغيره من الدواب...". [1]

وائي: "باب دے پۀ بيان د دې کښې چې مکروه دي جرس زوړندول اوښ او نورو ځناورو ته". دا ناروا دي.

نن دور کښې اکثرو خلقو ځاروو ته جرسونه زوړند کړي دي، پکار دا دي

(1) [رياض الصالحين: 473].

چې مسلمانان دا څیزونه د خپلو څاروو نه ختم کړي. څاروے پلیت نهٔ دے، خو ددې جرس پهٔ وجه به ستا کور ته د رحمت فرشتې نهٔ راځي. جرس دا د شیطان شپیلۍ ده. حدیث کښې راځي: «اَلْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ».[1]

"جرس دا د شیطان شپیلۍ ده". بل حدیث کښې راځي: «لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ».[2]

"د هغې ډلې سره ملائک نهٔ ملګرې کیږي چې کومې ډلې سره سپے ګرځي، یا ورسره جرس دے". ډیرو خلقو د خپلو بچو پهٔ خپو کښې جرسونه اچولې دي، چې ماشوم پهٔ ګرځیدو شي، نو خلق ورته خپو کښې جرس واچوي، دا جرس د ماشوم خپو کښې اچول ناروا دي.

سیدنا عمر بن الخطاب ﷺ ته د عبد الله بن زبیر ﷺ لُور راوړلے شوه، چې لُور ئې ورته راوړه، نو د هغې خپو کښې جرسونه وو، سیدنا عمر ﷺ د هغې دواړو خپونه جرسونه اوشلول، او بیا ورته اووئیل: ما د نبي ﷺ نه اَوریدلي دي: چې نبي ﷺ فرمائیل: «إِنَّ مَعَ كُلِّ جَرَسٍ شَيْطَانًا».[3]

"یقینًا ددې یَو یَو جرس سره یَو یَو شیطان ملګرے وي".

مسلمانانو له پکار دي، چې د تصویر ایستلو او ځان سره د ساتلو نه ځان اُوساتي.

(وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

---

(1) [رواه مسلم، رقم: (2114)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (2113)، والترمذي، رقم: (1703)].

(3) [رواه أبو داود، رقم: (4230)].

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ... الخ

(سورة الرعد: 36)

موضوع

دَ قرآن كريم مقام

بمقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د قرآن کریم مقام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَنْ يُنْكِرُ بَعْضَهُ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ ★ وَكَذٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا وَاقٍ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ»[2]

عزت منو حاضرينو مسلمانانو رونړو! ما د سورت الرعد يو دوه آياتونه تلاوت کړل او د احاديثو د رسول الله ﷺ نه يو حديث ما ستاسو وړاندې عرض کړو. حقيقت دا دے چې قرآن کريم د الله رب العزت ډير زيات عزت مند کتاب دے، د دُنيا په کتابونو کښې خود معزز او أوچت کتاب دے، چې د آسمان نه الله کوم نور آسماني کتابونه نازل کړي دي، نو هغې ټولو کښې معزز مقام د قرآن کريم دے. د

---

(1) [سورة الرعد: 36-37].

(2) [رواه مسلم رقم: (817)].

قرآن کریم د نزول سره مخکښې تول کتابونه منسوخ شول، د جناب رسول الله ﷺ د راتلو سره د مخکښنو انبیاء کرامو نبوت او د هغوي هغه بعض مشن منسوخ شو.

اُمت د رسول الله ﷺ د دوي د هدایت دپاره الله قرآن کریم را اُولیږلو، یهودو او نصارو به صرف خپل پیغمبران منل، او بل پیغمبر به ئې نهٔ منلو. مؤمنان به تول پیغمبران مني ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ﴾.[1]

"مونږ جُدا والے نهٔ راولو پهٔ مینځ د یَو تن د انبیاء د الله کښې پهٔ منلو کښې تول منو" چې دا د الله پیغمبران دي، خو لیکن عمل به پهٔ شریعت د جناب رسول الله ﷺ کوو، کچرته پهٔ یَو مقام کښې او یَوځائے کښې پهٔ مخکښنو شریعتونو کښې یَو کار جائز وو، او پهٔ شریعت د محمد مصطفی ﷺ کښې هغه ناجائز وو، نو بیا به هغه کار نهٔ کوئ، چې یَو سړے اووئ: چې مخکښې آمتونو کښې جائز وو، او کهٔ مخکښنو اُمتونو کښې یَو شے جائز وو، او دې اُمت کښې هم جائز وي، نو هغه به جائز وي.

نو قرآن کریم پهٔ تمامو کتابونو کښې یَو عظیم الشان کتاب وو، چې ددې د نزول سره الله مخکښې کتابونه منسوخ کړل. رسول الله ﷺ فرمائي: چې الله رب العزت د زمکې او آسمان د پیدا کولو نه زَر (1000) کاله مخکښې سورت طٰهٰ او سورت یٰس اولوستل، چې د الله کلام وي، او الله ئې پخپله اُولولې، نو خومره خوند به کوې، نو چې هغه وخت ملائکو واوریدو، نو ملائکو اووئیل: «طُوبَىٰ لِأُمَّةٍ يَنْزِلُ هَذَا عَلَيْهَا» "خوشحالي ده د هغې اُمت دپاره چې پهٔ کوم اُمت به دا قرآن کریم راځي"، «وَطُوبَىٰ لِأَجْوَافٍ تَحْمِلُ هَذَا» "او خوشحالي ده د هغې سینو دپاره کومو سینو چې قرآن کریم اُوچت کړو"، کومو سینو چې قرآن کریم له ځائے ورکړو، هغه سینې ډیرې د خیر او

(1) [سورة البقرة: 285].

برکت والا دي، بیا ملائکې وائي: «وَطُوبیَ لِأَلْسِنَةٍ تَتَکَلَّمُ بِهَذَا».[1] "او خوشحالي ده هغه ژبو لره چې کومې ژبې د الله کتاب باندې چلیږي".

د نبي ﷺ ټول امت غوره دے، خو لیکن هغه خلق ډیر زیات غوره دي، چې د چا د قرآن کریم سره تعلق دے، چې د چا سینه کښې قرآن کریم پرُوت دے، د هغه انسان لوې مقام دے. ژبه خو هسې هم چلیږي، څوک غیبت کوي، څوک کنځلې کوي، خو هغه ژبې زیاتې مبارکې دي، چې د چا په ژبه د الله کتاب جاري دے.

د نبي ﷺ یَو صحابي ته نصیحت

رسول الله ﷺ یَو صحابي ته نصیحت کوي: چې همیشه دي ستا ژبه د الله په ذکر باندې لونده وي، یعني هر وخت پدې خپله ژبه د الله ذکر کوه.[2]

نو قرآن کریم ډیر عزت مند کتاب دے، خو لیکن مونږ ته ددې قدر معلوم نهٔ دے، حالانکه کله چې یَو کپړا د قرآن کریم سره لګیدلې ده، هغه کپړا مبارکه شوه، کله یَو تخته د قرآن کریم سره لګیدلې ده، هغه تخته مبارکه کیدلے شي، نو چې د کوم انسان تعلق د قرآن کریم سره دے هغه انسان هم عزت مند دے.

د قرآن کریم د لوستلو او د عمل فائده

رسول الله ﷺ فرمائي: «مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ، أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ضَوْءُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ، فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهَذَا؟».[3]

"چا چې قرآن کریم اُولوستو، او بیا ئې په هغې باندې عمل اُوکړو، ددغې

---

(1) [رواه الدارمي، رقم: (3736)].

(2) [رواه الترمذي، رقم: (3375)].

(3) [رواه أبو داود، رقم: (1453)].

لوستونکې مور پلار ته به یَو تاج په سَر کړے شي، چې د هغې تاج رڼرا به د نمر د رڼرا زیاته ځائسته وي" نو نبي ﷺ فرمائي: "څهٔ خیال دے ستاسو پهٔ هغه سړي باندې چې خپله ئې قرآن کریم باندې عمل کړے دے، چې د هغهٔ به کوم مقام وي؟"

د قرآن کریم یَو حرف لوستلو باندې لَس نیکئ

رسول الله ﷺ فرمائي: «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لاَ أَقُولُ الٓمٓ حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلاَمٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ».[1]

رسول الله ﷺ فرمائي: "چا چې د الله د کتاب یَو حرف اُولوستو د هغهٔ دپاره ددې حرف بدله کښې یَوه نیکي ده، او د یَوې نیکئ بدله پهٔ لَسو (10) نیکو ورکولے شي" بیا نبي ﷺ فرمائي: "زهٔ دا نهٔ وایم، چې الٓمٓ ټول یَو حرف دے، الف جُدا حرف دے، لام جُدا حرف دے، میم جُدا حرف دے". نو صرف پهٔ یَو الٓمٓ باندې تا ته دیرش (30) نیکئ میلاویږي. نو چې کله یَو سړے د الله کتاب لولي، او یَو رکوع تلاوت دي اُوکړو، نو بے حسابه نیکئ دي اُوګټلې.

خو افسوس دا دے!!! چې ددې د قیمت نه مونږ څهٔ خبر یُو، د ګپ شپ دپاره وخت شته، لیکن د الله د کتاب دپاره وخت نشته.

د قرآن کریم یَو آیت د یَوې اُوښې نه بهتر

رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائیل: چې تاسو کښې کوم یَو سړے دا خوښوي چې هغه سحر وختې د بُطحان یا د عقیق بازار ته لاړ شي، او د هغې ځائے نه ځان دپاره دوه اُوښې سَرېې او بلاربې راولي، صحابه کرام ورته فرمائي: چې د الله پیغمبره دا زمونږ د ټولو خوښه ده، نبي ﷺ اوفرمائیل: جومات ته تلل او د دوو آیاتونو

---

(1) [رواه رواه الترمذي، رقم: (2910)].

لوښکل یا بل ته څودل د دوو اوښو ته، او درې آیاتونه د دریو اوښو ته، او څلور آیاتونه د څلورو اوښو ته بهتر دي."[1]

علماء کرام ذکر کوي، دا صرف یو تمثیل دے؛ ځکه کۀ اوښه ډیره زیاته ښه شي، خو تعلق ئې صرف د دُنیا سره دے، چې ته د دُنیا نه لاړ شې، نو اوښه درته پاتې شوه، هیڅ فائده یې بل ته نۀ شې ورکولے، او یو آیت د قرآن کریم چې دې زده کړو، او عمل دې پرې اُوکړو، دلته درسره هم ملګرے دے، پۀ قبر کښې درسره هم ملګرے دے، پۀ میدانِ محشر کښې درسره هم ملګرے دے، ترڅو پورې چې ئې جنت ته نۀ ئې رسَولے. د قرآن کریم ډیر لوئې شان دے، او دا خبره یاد اُوساتئ! چې کله د قرآن کریم ناظره زده کړو، د هغې نه بعد به د قرآن کریم پۀ ترجمه او معنی باندې ځان پوهه کړو، چې قرآن کریم کښې الله مونږ ته څۀ وائي؟ چې بیا پۀ هغې عمل اُوکړو.

افسوس دا دے!!! چې مونږ دا منو چې قرآن کریم د الله کتاب دے، خو مونږ د قرآن کریم تابع نۀ یُو، مونږ قرآن کریم د ځان تابع کړے دے، چې کومه خبره زمونږ د ذهن سره برابر ده، نو هغه منو، او چې کومه خبره زمونږ د ذهن خلاف ده، نو هغه مونږ نۀ منو.

قرآن کریم نیغه لار ده

الله رب العزت قرآن کریم کښې فرمائي: ﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ﴾.[2]

"یقینًا دا قرآن کریم زما نیغه لاره ده، پس ددې قرآن تابعداري اُوکړئ". قرآن کریم چرته دا نۀ دي وئیلي دي: چې کچرته ستا پۀ طبیعت یو خبره برابر نۀ ده، نو خیر

(1) [رواه مسلم، رقم: (803)، وأبو داود، رقم: (1456)].

(2) [سورة الأنعام: 153].

دے، بیا د قرآن کریم مهٔ منه. الله رب العزت فرمائي: ﴿فَاتَّبِعُوهُ﴾ "د دې قرآن کریم پسې روان شئ"، کهٔ قرآن دې پریږدو او نورو لارو باندې روان شوې، نو الله رب العزت فرمائي: ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ﴾ "د قرآن کریم نه ما سیوا د نورو لارو تابعدارې مهٔ کوئ، کنې د الله د لارې نه به مو واړوې". او چې کله د سمې لارې نه واوړیدئ، نو بیا مقصود ته نهٔ شئ رسیدے. کهٔ مقصود ته رسیدل غواړې، جنت ته رسیدل غواړې، د الله رضا ته ځان رسول غواړې، نو قرآن کریم پسې روان شه.

یَو شاعر ډیره عجیبه خبره کوي، یَو سړے خانه کعبې ته تلو، د خانه کعبې لار ئې پریخوده، د ترکستان پهٔ لار روان شو، یَو هوښیار سړے راغے، هغهٔ ورته اووئیل: چرته ځې؟ هغهٔ ورته اووئیل: زهٔ خو خانه کعبې ته ځم، هغه ورته وائي: دا لار خانه کعبې ته نهٔ ده تلې، دا ترکستان ته تلې ده، دا لار پریده، هغهٔ ورته اووئیل: نا نا زهٔ پدې لار باندې ځم، هغهٔ ورته وائي:

ترسم نمی رسی بکعبہ اے اعرابی　　　　این راہ کہ تو میروی بترکستان است

"واه! د باندې نه راغلې سړیه زهٔ پهٔ دې باندې یریږم، چې تهٔ به خانه کعبې ته اُونرسیږې؛ ځکه څومره چې تهٔ پدې لاره ځې، نو دومره تهٔ د خانه کعبې نه لرې کیږې، خانه کعبې ته نهٔ شې رسیدے، ترکستان ته به رسیږې، خانه کعبې ته به هله رسې، چې د خانه کعبې پهٔ لاره روان شې". کله چې یَو انسان مقصود ته روان دے، نو د هغې لارې معلومول ضرورې دي.

الله وائي: نورې لارې پریدئ دا قرآن کریم زما نیغه لاره ده، ددې پسې روان شئ، ددې تابعدارې اُوکړئ.

ما چې کوم آیاتونه لوستې وو: ﴿وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ﴾ الله وائي: "هغه کسان چې ما ورته کتاب ورکړے دے، خوشحالیږي پهٔ هغه

غه چې توې نه راليږلے شوې دې". شان د مؤمن به دا وي چې دے به د الله كتاب
باندې خوشحاليږي.

د كافرانو صفت

د كافر صفت دا دے چې هغه د الله د كتاب وتيلو په وخت كښې تنكيږي،
قرآن كريم هم يَوه خبره واضحه كړې ده. الله رب العزت فرمائي: ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ
آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنكَرَ﴾.[1]

"كله چې لوستلے شي په توې باندې زمونږ آياتونه واضحه، پيژنې به ته
په مخونو د هغه كسانو كښې چې كفر ئې كړے دے تريوالے". الله وائي: كله چې
زما كتاب بيانيږي، نو د كافر تندے به تريو وي.

د منافقانو صفت

د منافق صفت الله قرآن كريم كښې بيانوي: ﴿أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ
وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ﴾.[2]

الله وائي: "منافق باندې د الله كتاب داسې بد لګي لكه څنګه چې يَو سرے
باران كښې روان دے، او د برق پړق هغه حالت په هغه بد لګي"، دغسې منافق
باندې د قرآن كريم آواز بد لګي، او څنګه چې ګړز ګړز سره غوږونو كښې ګوتې
وركوي، دغسې منافق د قرآن كريم د لوستلو په وخت كښې غوږونو كښې ګوتې
وركوي، څكه د قرآن كريم آواز پرې بد لګي.

---

[1] [سورة الحج: 72].

[2] [سورة البقرة: 19].

د مسلمانانو صفت

الله رب العزت فرمائي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾.[1]

"يقينًا مؤمنان هغه كسان دي، كله چې لوستے شي په دوي باندې زمونږ آياتونه نو د دوي د ايمان هغه اثر سيوا كيږي، او خپل رب باندې ځان سپاري". دا د مسلمان صفت دے، چې سړے د الله كتاب باندې خوشحاليږي.

﴿وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَنْ يُنْكِرُ بَعْضَهُ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ﴾.[2]

"او بعضې د ډلو هغه څوک دي چې انكار كوي د بعضې مسئلو د قرآن كريم نه".
علماء كرام وائي: چې د كومو مسئلو نه انكار كوي، نو هغه مسئله د توحيد ده، چې كله د الله توحيد بيانيږي، نو بعضې خلق داسې دي، چې هغوي باندې د الله توحيد بد لګي.

د مكې د مشركانو جګړه

د مكې د مشركانو جګړه د نبي ﷺ سره په دې كښې نه وه، چې ته مونږ ته ولې وائې: چې مونځ اُوكړئ؟؛ ځكه مونځونه خو هغوئ كول، د مكې د مشركانو جګړه د نبي ﷺ سره په زكوٰة كښې نهٔ وه، جګړه ئې د حج په مسئله كښې نهٔ وه، پدې مسئلو كښې جګړه نهٔ وه، خيراتونه ئې كول، زكواتونه ئې وركول، جوماتونه ئې جوړول، جګړه ئې صرف پدې خبره كښې وه، چې إله او حاجت روا ئې يَو الله نه منلو. وائي: الله سره نور شريكان شته، چې الله هغوي له اختيارات وركړي دي، صرف پدې خبره باندې جګړه وه، نورې خبرې دې بنې دي، خو دا خبره دې بنه نهٔ ده.

---

(1) [سورة الأنفال: 2].

(2) [سورة الرعد: 36].

ولې چې زمونږ خو ډېر خدايان دي، د سرخوږي دپاره يو إله، تبې دپاره بل إله، زېږې دپاره بل إله، د اولاد دپاره بل إله، هر يو شي دپاره جُدا جُدا إله دے، او ته وائې: چې دوي څۀ نۀ شي کولے؟

د مشرکانو حالت

قرآن کريم د مشرکانو حالت بيانوي: ﴿وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾.[1]

"کله چې ياد کړے شي الله يواځې نو تنګ شي زړونه د هغه کسانو چې ايمان نۀ راوړي پۀ آخرت باندې، او کله چې ياد کړے شي هغه کسان چې بغير د الله نه ئې دوي را مدد کوي، ناڅاپه دوي خوشحاله کيږي".

مشرکان وائي: د اولياؤ څومره لوي مقام دے، چې شيخ عبد القادر جيلاني ﷫ د يوولسو (11) کالو غرقه بيړۍ را وېستې وه، او دوي دا نه مني، حالانکه دا خلق خبر نۀ دي چې کوم خلق د دُنيا نه تلي دي، هغوي څۀ نشي کولے.

شيخ عبد القادر جيلاني ﷫ به څنګه د يوولسو (11) کالو غرقه بيړۍ را اُوباسي، او د هغې دپاره ئې د ځان نه روايات جوړ کړي دي.

کله وائي: شمس التمريز بابا مُلتان کنبې ورله خلقو اُور نۀ ورکولو، چې ځان له برې غوښه پخه کړي، وائي: نمر ته ئې حکم اُوکړو، چې راښکته شه، نو نمر راښکته شو، غوښه ئې ځان له پخه کړه. نو زۀ وايم: چې غوښه پۀ نمر پخيده، نو هغه ورسره نۀ پخيدو، ولې هغه د اُوسپنې وو؟

نو چې کله الله يواځې ياد کړے شي، نو د کافرانو زړونه تنګ شي، او کله چې هغه

---

[1] [سورة الزمر: 45].

کسان یاد کړے شي چې د الله نه ماسیوا دي، نو دوي ډیر خوشحاله وي. د هر څه کونکے الله دے، انبیاء علیهم السلام يَو کار نۀ شي کولے، ملائک نۀ شي کولے، پیریان نۀ شي کولے. صرف الله ئې کوي.

د الله رب العزت نبي ﷺ ته خطاب

الله رب العزت خپل پیغمبر ته وائي: ﴿وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ﴾.[1]

"کچرې اُورسوې تا لره الله څۀ تکلیف، نشته د هغې لرې کونکے مګر صرف يو الله دے، او کۀ اراده اُوکړې تا لره د خیر هیڅ څوک د الله هغه خیر واپس کولے نۀ شي".

کۀ د دُنیا تمام خلق راجمع شي، نو الله چې کومه فیصله کړې ده، هغه نۀ شي بدلولے، داسې عقیده د الله پۀ ذات جوړول غواړي.

﴿وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ﴾[2]

بعضې ډلې داسې دي چې قرآن کریم مني، لیکن بعضې خبرې د قرآن کریم نۀ مني، چې هغه توحید دے، دغه وجه ده، چې نبي ﷺ ته به ئې وئیل: قرآن کښې الله فرمائي: ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ﴾.[3]

"کله چې اوستلے شي پۀ دوي باندې زمونږ آیاتونه واضحه واضحه، نو وائي هغه کسان چې عقیده نۀ ساتي زمونږ د ملاقات: راوړه دې قرآن لره بغیر ددې نه، یا بدل کړه دې لره". دین د چا تابع نۀ دے، دین د الله دے، او څنګه چې الله رالیږلے دے،

---

(1) [سورة يونس: 107].

(2) [سورة الرعد: 36].

(3) [سورة يونس: 15].

چې هغه شان خلقو ته بيان کړے شي.

افسوس دے! په هغه خلقو چې هغوي دين د خلقو تابع کړے، چې فلانکے حاجي صاحب به خفه شي، فلانکے مولوي صاحب به خفه شي. نا بلکه دين چې څنګه الله رالیږلے دے، هغه شان به ئې بيانوي، او کۀ هغه شان دي بيان نۀ کړو، نو هغې مُلا ته به د اُور واکې واچولے شي، چې هغۀ ته د حق مسئله معلومه ده، او خلقو ته حق نۀ وائي، د دُنيا د غرض د وجې نه، د يَو انسان د وجي نه چې دے به خفه شي. نو نبي ﷺ فرمائي: د قيامت په ورځ به دۀ ته د اُور واکې واچولے شي، چې ولې دي د حق بيان نۀ وو کړے؟ تۀ د حق بيان کوه، الله به ستا حفاظت کوي.

د الله د طرف نه حفاظت

الله رب العزت خپل پيغمبر ﷺ ته فرمائي: ﴿يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾.(1)

"اے زما پيغمبره! کوم حکم چې ما د آسمان نه نازل کړے دے، خبردار! دا خلقو ته صحيح صحيح بيان کړه، او کۀ تا دا کار اُونکړو، نو تا د الله رسالت اونۀ رسولو، تا خيانت اُوکړو، او کچرې تۀ دا وائي: چې دا خو ټول خلق مخالفت کوي، او کۀ رشتيا وايم نو خلق به مې مړۀ کړي، خلق به راسره تعلقات ختم کړي" الله فرمائي: ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾

"الله به بچ کوي تا لره د خلقو نه". حق بيانوه، ستا حفاظت به الله کوي، او دغه رنګه وه څو څو کرتې کافرانو د نبي ﷺ د قتل بندوبست کړے دے، ليکن الله خپل پيغمبر بچ کړے دے، په څومره غزواتو کښې نبي ﷺ شريک شوے دے، ليکن

(1) [سورة المائدة: 67].

نبي ﷺ هغې کښې شهيد شوے نهٔ دے، په خپل مرګ باندې وفات شوے دے، ځومره خلق د نبي ﷺ قتل پسې راغلې دے، کومه فيصله چې د الله د طرف نه ده، هغه څوک نهٔ شي بدلولے، خو حق خلقو ته بيان کړه. نو بعضې خلق د الله د توحيد نه انکار کوي.

ستا آواز

ستا آواز به دا وي: ﴿قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ﴾.[1]

"ورته اُووايه! يقينًا ما ته حکم شوے دے چې يواځې د الله عبادت اُوکړم، او خلق هم دې مسئلې ته را اُوبلم، او پدې راليږلے شوے يم، چې د الله سره به هيڅ څوک نهٔ شريکوم، ددې الله توحيد ته زهٔ خلق رابلم، او دې الله ته زما راګرځيدل دي".

د الله د حکم مثال

يَو سړے امام پسې مونځ کوي، نو د.شريعت حکم دا دے چې تهٔ به د خپل امام تابع ئې، کچرته يَو مقتدې داسې وي، چې نيت ئې د امام سره اُوتړلو، او امام له رکوع له نهٔ دے تلے، او دے رکوع له د امام نه مخکښې شي، نو ددهٔ مونځ نهٔ کيږي، امام رکوع له لاړو، او دے ولاړ دے، نو ددهٔ مونځ نهٔ کيږي، او نَبي ﷺ فرمائي: کچرته يَو مقتدې کښې دا عادت وي، چې دے د امام نه مخکښې ښکته او بره کيږي، نو دا انسان دې دا خپل عادت پريدې، ګنې دا يره ده، کيدے شي چې الله ددهٔ د سَر نه د خَر سَر جوړ کړي.

نو چې زما او ستا حرکت د جومات د امام نه مخکښې کيږي، نو مونځ نهٔ کيږي، نو د امام الانبياء محمد ﷺ د طريقې نه چې زما او ستا طريقه وړاندې کيږي، زما او ستا طريقه د نبي ﷺ د طريقې نه مخالف وي، نو زما او ستا عمل به څنګه قبول شي؟ عمل به هله قبليږي، چې هغه عمل په طريقه د نبي ﷺ باندې وي، که

(1) [سورة الرعد: 36].

مُهر بړې د نبي ﷺ د طريقې نهٔ وي لګيدلے، نو مثال ئې د جعلي نوټ دے، او چې چا سره اُونيولے شي، نو هغهٔ ته څومره سزا ميلاويږي؟ کهٔ ډير ښهٔ عمل اُوکړې خو ياد ساته! چې پهٔ طريقه د نبي ﷺ دې نهٔ دے کړے، نو تهٔ پرې نهٔ خلاصيږې. الله فرمائي: ﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا﴾.[1]

"ډير اعمال به ئې کړے وي، هغې عمل ته به زهٔ متوجې شم د ګرد وغبار پهٔ شان به ئې وِالوزوم". لږ عمل اُوکړه، خو پهٔ طريقه د نبي ﷺ ئې اُوکړه.

پهٔ هر څهٔ کښې د نبي ﷺ تابعداري

قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾.[2]

"پهٔ تحقيق سره شته ستاسو دپاره پهٔ باره د پيغمبر د الله کښې بهترينه نمونه".

هر څهٔ کښې د نبي ﷺ تابعدارې کوه، نبي ﷺ څنګه خوراک کړے دے هغه شان خوراک کوه، لباس ئې څنګه اچولے دے هغه شان لباس اچوه، مونځ ئې څنګه کړے دے هغه شان مونځ کوه، ګيژه مبارکه ئې څنګه وو هغه شان ګيره پريده، دا رنګه د نبي ﷺ د نور اعمال څنګه وو هغه شان خپل ټول اعمال برابر کړه، ديته اتباع د نبي ﷺ وائي. نو مسلمانانو له پکار دي چې عقيده د توحيد جوړه کړې، او عمل پهٔ طريقه د نبي ﷺ باندې اُوکړې، عقيده د توحيد او طريقه د نبي ﷺ به څنګه پيژنو؟ د هغې دپاره علاج قرآن کريم دے، نو زمونږ عقيده به د توحيد شي، او عمل به پهٔ سنت طريقه د نبي ﷺ شي. او کهٔ قرآن کريم ته نهٔ کيښنو، قرآن کريم لاسو کښې نهٔ راخلو، قرآن کريم نهٔ زده کوو، ددې دپاره محنت پکار دے، لکه څنګه

(1) [سورة الفرقان: 23].

(2) [سورة الأحزاب: 21].

چې د دُنیا دپاره محنت کوي، دغسې به د دین دپاره محنت کوي.

قال الشاعر:

نرقع دنيانا بتمزيق ديننا　　　فلا ديننا يبقى ولا ما نرقع[1]

یو شاعر وائی: د دین او دُنیا مقابله راغله، نو مونږ وئیل خیر دے، د دین کار به بیا اُوکړو، مونږ د دین به ټوټې جُدا کوو، او دُنیا پرې جوړو، دُنیا پرې پوره کوو.

نۀ دین باقي پاتې شو، او نۀ دُنیا باقي شوه، دین رانه هم لاړو، او دُنیا رانه هم لاړه، د. کوم مقصد دپاره چې مونږ پیدا یُو، چې هغه مقصد خپل کړو. الله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾.[2]

"ما نۀ دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر ددې دپاره چې زما عبادت اُوکړي". مونږ او تاسو د دُنیا دپاره پیدا نۀ یُو، دین به د دُنیا نۀ تابع کوو، کله چې د دین او دُنیا مقابله راغله، د دین کار به مخکښې کوو، او د دُنیا کار به ورستو کوو، کۀ د دین کار مو پۀ دُنیا باندې مخکښې کړو، نو مونږ کښې به هم دین راشي، او ټول کلې او مُلک کښې به هم دین راشي.

او کۀ داسې نۀ وي، د دین محنت نۀ کوو، او مونږه ډیر کرتې وایُو، چې الله مونږ کښې دین راولي، الله زمونږ پۀ مُلک کښې اسلامي قانون راولي، نو بغیر د محنت نه اسلامي قانون نۀ راځي. الله رب العزت فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ

(1) [روح البيان تحت آية سورة الأعراف: 41].

(2) [سورة الذريات: 56].

نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾.[1]

"اے مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اولاد د جهنم د اُور نه بچ کړئ".

ددې دپاره بله لار نشته بغیر د الله د کتاب نه، چې مونږ د الله سره عهد اُوکړو، چې د الله کتاب به زده کوو، او پدې به عمل کوو، او دا به خپله زندګئ کښې راولو. الله دې د عمل کولو توفیق راکړې.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

(1) [سورة التحريم: 6].

بسم الله الرحمن الرحيم

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ۝ حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ ۝ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ...الخ

(سورة التكاثر: 1-6)

موضوع

دَ قبر پخول حرام دي

بتاريخ: 2007-05-11

بمقام: جلسئ

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربآني حفظه الله

د قبر پخول حرام دي

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لاَ شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لاَ أَوَّلَ لَهٗ وَلاَ آخِرَ لَهٗ لاَ ضِدَّ لَهٗ وَلاَ نِدَّ لَهٗ وَلاَ مُمِدَّ لَهٗ وَلاَ بَشِيْرَ لَهٗ وَلاَ نَذِيْرَ لَهٗ وَلاَ وَزِيْرَ لَهٗ وَلاَ مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلاَنَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ * حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ * كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ * لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ * ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ * ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا وتذكر الآخِرَةَ».[2] أو كما قال رسول الله ﷺ.

قابل قدر، حاضرينو، عزتمندو، مسلمانانو رونړو! په تېره جمعه کښې د اولياء کرامو په قبرونو باندې عُرس کول، په هغې باندې ميلې متعين کول، د هغې بدعت او د هغې دپاره يو خاص ورځ متعين کول، په هغې اجتماعات کول، جلسې او جلُوسونه کول د هغې ګناهونو او د هغې په بدعاتو باندې بيان شوې وو.

---

(1) [سورة التكاثر: 1-8].

(2) [رواه ابن ماجة، رقم: (1571)].

نن جمعه کښې به "ان شاء الله" ددې مسئلې وضاحت کوو، چې د قبرونو ښخول ښنکه دې؟ په هغې باندې چونې او رنګونه راخکل ښنکه دې؟ هغې باندې ليکل کول ښنکه دې؟ دا رنګه د هغې دپاسه قُبې جوړول، ددې په شريعت کښې اجازت شته او که نشته؟ دا رنګې په قبرونو باندې ډيوې بلول، شمعې بلول، دا رنګې په قبرونو باندې جهنډې اُودرول، غلافونه ورباندې اچول، ددې په شريعت کښې څۀ اجازت شته يا څۀ ګناه ده؟ ددې به "ان شاء الله" وضاحت کوو.

خو اول دا خبره چې دا قبرونو له تلل ددې مقصد څۀ دے؟ دا قبر کچه پرېخودل، دا د قبر تعظيم او عزت دے، او که د قبر ښخول دا د قبر تعظيم او عزت دے؟

حقيقت دا دے! علماء کرامو ليکلې دې، احاديثو کښې رسول الله ﷺ د هغې بيان کړے دے، چې د مقبرې او د قبرونو به نهايت تعظيم کوئ؛ ځکه چې دا د مسلمانانو يَو آرام ګاه ده، د هغوي يَو مرقد دے، تردې پورې چې رسول الله ﷺ منع کړې ده، چې د قبر بے عزتې به نۀ کوئ، په قبر به ناسته نۀ کوئ، په مقبره کښې به واړۀ او لوې بول نۀ کوئ، قبر به نۀ ورانوئ. حتی الوسع د قبر عزت به کوئ، د قبر احترام به کوئ، د قبر بے عزتې به نۀ کوئ. کچرته د مقبرې او د قبر عزت دا وو، چې قبر به ښخوئ، نو د الله پيغمبر ﷺ به وئيلې وو؛ ځکه رسول الله ﷺ زمونږ او ستاسو معلّم او اُستاذ دے. په کوم کار کښې چې زمونږ خير وو، د هغې ئې مونږ ته حکم کړے دے، او په کوم کار کښې چې زمونږ او ستاسو نقصان وو، نو د هغې نه مونږ او تاسو رسول الله ﷺ منع کړې يُو.

او رسول الله ﷺ د خپل ځان نه او د خپلې رائې نه ئې هم يَو خبره نۀ ده کړې، بلکه قرآن کريم، رسول الله ﷺ تصديق کوي ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ﴾.(1)

---

(1) [سورة النجم: 3].

"دا پیغمبر د خپل ځان نه خبرې نهٔ کوي" دا ځومره خبرې چې دے تاسو ته کوي، دا د الله د طرف نه دهٔ ته وحې کولے شي.

علماء کرام ذکر کوي، قرآن کريم وحي جلي ده، او احاديث وحي خفي ده، فرق صرف دومره دے، يا قرآن کريم وحي متلو ده، او احاديث وحي غير متلو ده، د قرآن کريم الفاظ هم مُنَزَّل مِن الله دي، احکام هم مُنَزَّل من الله دي، او احاديث حکم د الله د طرف نه نازل دے، ليکن الفاظ د رسول الله دي. خو بهر حال رسول الله ﷺ مونږ او تاسو ته پورا دين رارسولے دے، يو مسئله ئې مونږ ته نهٔ ده پرېخودې.

نو کچرته د قبر تعظيم او د قبر عزت لکه څنګه چې زمونږ او ستاسو ذهن کښې دے، چې دا به خرابيږي، او باران به ترې خاوره اوړي، ددې به هر وخت څوک حفاظت کوي، دا به زما نه غلط شي، يره زهٔ ددې عزت کوم؛ ځکه زما پلار پهٔ ما باندې ډير زيات مهربان وو، زما مور وه او پهٔ ما باندې ډيره مئينه وي، دا يَو قبر خو چې ورله پوخ کړو، خلق به راپسې خبرې کوي، نو کهٔ دا د مور پلار سره احسان وي، او د هغوي ميت سره احسان وي، نو د الله پيغمبره به وئيلې وو، چې ددې مړې سره احسان کوئ قبر ورله پخوئ، او کچرې پدې کښې ثواب وے، نو د ثواب کار زهٔ او تهٔ داسې نهٔ پيژنو څنګه چې ئې محمد عربي ﷺ پيژني. پکار دا وه چې مونږ ته نبي ﷺ فرمائيلي وے: چې دا د ثواب کار دے، تاسو ئې اُوکړئ. بلکه علماء کرام ذکر کوي: چې د قبر پخولو باندې اُلټه وخت ضائع کيږي، مال ضائع کيږي، نقصان کيږي، او فائده نهٔ ميلاويږي.

د قبر پخول منع شول ولې؟

نو علماء کرام ډير وجوهات ذکر کوي: (1) يو وجه د قبر د نهٔ پخولو دا ده: چې کله دا مقبره کچه پرته ده، دا قبرونه کچه پراتهٔ دي، او دغه شان پهٔ هغې باندې خاورې

پرتې وي، او يَو ژوندے انسان د مقبرې ملاقات له لاړو، د قبرونو ملاقات او زيارت له لاړشي، قبر باندې تيريږي، مقبره باندې تيريږي، او دے اُوګورې دا زاړهٔ زاړهٔ قبرونه د، ته ښکاره شي، چې دا مرګ پهٔ ما باندې هم را روان دے، دا اُوګوره! دا دومره مړي دي، مقبره کښې پراتهٔ دي، پهٔ منونو منونو خاورې پرې پرتې دي، هغه خلق چې هغوي به دنيا کښې د ځان نه نوک باندې خاورې سندلې، نن د خاورو مينځ کښې پراتهٔ دي، او ځان نه شي خلاصولے، دا ورځ به ما باندې هم راځي، هغه ته به هم مرګ يادېږي، هغهٔ ته به هم آخرت يادېږي، چې د قبرونو د زيارت مقصد هم دغه وو؛ ځکه نبي ﷺ پهٔ ابتداء د اسلام کښې منع کړې وه، حکم ئې فرمائيلے وو، چې تاسو به د مقبرو او د قبرونو زيارت له نهٔ ځئ.

افسوس پکار دے! زمونږ خلق زيارت څهٔ ته وائي؟ چې يَو قبر پوخ شوے وي، او بيا پهٔ هغې باندې جهنډې اُودرولے شوې وي، ګُنبد پرې جوړ کړے شوے وي، نو وائي: دا د فلانکي زيارت دے، خو ديته پهٔ عربئ کښې يا پهٔ احاديثو کښې زيارت نهٔ وائي. دغې قبر پخولو تهٔ خو "تجصيص القبر" وائي. دا رنګې دغه قبر باندې ګُنبد جوړولو ته خو "قُبَه" وائي. نو اصل کښې زيارت مقبرې ته تلل او د قبرونو ملاقات ته زيارت وائي. او هر قبر ته چې ځې، نو هغې ته زيارت وائي. يَو قبر پورې خاص کول لکه زمونږ د خلقو دا جهالت دے، چې وائي: نبي ﷺ فرمائي: چې د قبر زيارت کوئ، او دے مونږ منع کوي.

نو نبي ﷺ دغه شان د قبر زيارت نهٔ دے ياد کړے لکه تاسو چې کوئ، چې يَو خاص قبر له ځئ، يا يَو خاص مقبرې ته ځئ، نا نا! بلکه د ښِل کلي مقبرې ته ورشه، د ښِل کاونډ مقبرې ته ورشه، تا ته به آخرت ياد شي، ددې مقصد دپاره ئې وئيلې وو.

احادیث مبارکه

رسول الله ﷺ فرمائیلي وو: نبي ﷺ فرمائي: «كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ».[1]

"ما تاسو د قبرونو د زیارتونو نه منع کړي وئ، تاسو ته ما حکم کړے وو، چې د قبرونو زیارت له مهٔ ځئ ملاقات له مهٔ ځئ".

ددې وجه څهٔ ده؟

نو علماء کرام ذکر کوي، چې دا هغه ابتدائي دُور وو، چې هر چا به قبر ته سجدې کولې، د کوم نه به خلقو حاجات غوښتل، بوتانو نه به خلقو حاجات غوښتل، د قبرونو نه به ئې حاجات غوښتل، لات ، منات او عُزّیٰ نه به خلقو حاجات غوښتل، پهٔ عقیدو کښې شرک زیات وو، بدعات او رسومات زیات وو، نو نبي ﷺ حکم کړے وو، چې قبر خوا ته به نهٔ ځئ، هسې نهٔ چې تاسو قبر خوا ته لاړ شئ، او قبر ته سجده اُونکړئ، هسې نه چې تاسو قبر له لاړ شئ، او امداد ترې اُونغواړئ، قبر والا ته ژړا او فریاد اُونکړئ، لکه نن دُور کښې چې دا بعضې مشرکان کوي، هلته خو دے ددې مقصد دپاره نهٔ ځي چې مونږ ته مرګ یاد شي، قبر له ځي او ددې مقصد دپاره ځي چې د چا اولاد نهٔ وي، هغه دَربو له غوټې ورکړي، او د هغهٔ اولاد پیدا شي. دا د دوي یَو سوچ دے چې دوه دَربه اُوتړه او هغې له غوټې ورکړه، نو بس ستا اولاد به پیدا کیږي. او یَو درګاه ئې د هغې دپاره خاص کړې وي، او څوک وائي: چې فلانکي ځائے ته چې لاړ شې او د هغې قبر کانړې را واخلې، او پهٔ خپل بدن ئې راخکې، نو ستا نه به باد لرې شي، او پهٔ کوم ځائے چې باد وي، هغه به ختم شي، د فلانکي قبر تیل چې پهٔ ځان باندې راخکې نو ستا نه به بیمارې، تکلیف او خارښ بالکل ختم شي، او د توردهیرې میان کلي بابا د

---

(1)]رواه ابن ماجة، رقم: (1571)[.

قبر نه خاوره راوړه، او په خپله دانه باندې ئې واچو ه ستا دانه به روغه شي.

دا د مشركانو عقيدې هغه وخت كښې هم وې، او اُوس هم د مشركانو دغه عقيدې دي. نو ددې عقيدو نه د بندولو دپاره رسول الله ﷺ منع اُوكړه، چې اے زما صحابو! كورئ د قبرونو زيارت ته مه ځئ، د قبرونو زيارت له پدې نسبت باندې مه ځئ. كله چې اسلام مضبوط شو، د صحابه كرامو عقيدې مضبوطې شوې، نو بيا خو قبر ته تلُو كښې ثواب ځكه وو؛ چې آخرت يادېدو، او نبي عليه السلام اوفرمائيل: چې ما خو تاسو منع كړې وئ، چې مه ځئ خو اوس ستاسو عقيده مضبوطه شوه نو «فَزُورُوهَا» "ځئ اوس د قبرونو زيارت كوئ" اوس د قبرونو ملاقات له ځئ.

مقبرې ته د تلُو مقصد

مقبرې ته د تللو مقصد څۀ دے؟ نو زمونږ او ستاسو شريعت وجه هم ښودلې ده، او مقصد ئې هم ښودلے دے «فَإِنَّهَا تُزَهِّدُ فِي الدُّنْيَا وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ» د قبر ملاقات او زيارت ددې دپاره كوئ چې ددې سره د دنيا سره محبت كميږي، او آخرت سړي ته يادېږي، نو چې قبر له ځې نو دا مقصد به وي چې ستا دا ذهن داسې جوړ شي، چې ما باندې هم مرګ را روان دے، او دا هر څۀ فناه كيدونكي دي، او كوم مړې چې مقبره كښې دفن دي، د هغوي دپاره دعا اُوغواړه، تمامو مړو دپاره دعا اُوغواړه چې الله دې درباندې دا تكليف آسان كړې، او الله دې درله قبرونه منور كړې، په شرعي طريقې باندې سلام اُوكړه: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ».(1)

"اے قبرونو والو! په تاسو دې سلام وي، تاسو زمونږ نه مخكښې راغلي يئ، مونږ دريسې را روان يُو". ددې دا مطلب دے.

(1) [رواه الترمذي، رقم: (1053)].

سوال

بعضې جاهلان خلق وائي: چې مړي نۀ اورې، نو دا سلام پرې بيا خلق ولې اچوي چې «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ...إلخ»؟

جواب

دا خلق نۀ پوهيږي، دا جاهلان خلق دي، نۀ پوهيږي، چې سلام پۀ څو معانو باندې مستعمل دے؟ هر ځائے کښې سلام پۀ دغه يَوه معنى نۀ دے، چې سلام "التحيه" دے، بلکه سلام پۀ ډيرو معانو باندې راځي، دلته علماء کرام ذکر کوي: چې دا سلام بمعنى "دعاء" سره دے. «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ...إلخ».

"اے قبرونو والو! پۀ تاسو دې سلام وي، د الله د طرف نه دې پۀ تاسو رحمتونه را وريږي، سلامتيا دې وي ستاسو دپاره د عذاب نه". دا د سلام مقصد دے، چې هغوي ته يَو دعا دے، او خپل ځان ته مرګ مخې ته کول دي، چې «أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالأَثَرِ». "تاسو زمونږ نه مخکښې دې قبر ته راغلې يئ، او مونږ درپسې را روان يُو". «يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ» "الله دې مونږ او تاسو ته بخښنه اُوکړي". دا د سلام مقصد دے. دا نۀ چې ګني هغوي سلام اورې، او کچرې هغوي سلام آورې نو هغوي خو پۀ مقبره کښې مړې پراتۀ دي، پۀ منُونُو منُونُو خاورې پرې پرتې دې، سلام کونکي چې سلام اچوې نو څنګه سلام اچوې؟ چې د هغه خوا کښې بل کس هم نۀ آورې، هغۀ خو چغې نۀ وهي، پۀ دغه مقبره کښې مړې خو درکنار د خاورو د لاندې خو درکنار، کۀ يَو ژوندے انسان سملوې، او پدې مقبره باندې خلق تيريږي، او څنګه سلام چې دوي اچوې نو هغۀ ژوندے انسان به ئې هم نۀ اورې، نو سوچ پکار دے، ددې مقصد دا نۀ دے چې دا مړې ستاسو دغه آواز آورې، بلکه د هغې مقصد دا دے: چې تۀ پۀ مقبره باندې تيريږې نو دۀ ته به دعا اُوکړې، او ځان ته به مرګ مخې ته کړې، او دغه سلام بمعنى

"دعا" دے. او ډیرو علماء کرامو لیکلي دي: چې دا په معنی د "دعا" دے.

بهر حال د قبرونو ملاقات د څهٔ دپاره جائز دے؟ چې تاته آخرت یادیږي، نو چې قبر پوخ شوے دے، چې قبر سمیټې شوے دے، او یو سرے مقبرې باندې تیریږي، نو بیا خو هغه وائي: اُوګوره! څومره مزیدار قبر ئې پوخ کړے دے؟ د هغهٔ نه خو مرګ هیر شي، هغه خو د قبر په تماشه شي. وائي: اُوګوره! څومره مزیدار قبر ئې جوړ کړے دے، نو دا حکمت فوت شو. ددې وجې نه یو شاعر وائي: کله چې یو مسلمان اوښیار بنده مقبرې باندې تیریږي، نو د هغهٔ دپاره یو سوچ راځي، دا قبر هغه ته یو آواز کوي پهٔ زبان حال سره، (یو زبان قال دے، او یو زبان حال دے) چغې ورته نهٔ وهي، خو د هغه موجوده حالاتو نه یو آواز اُوچتیږي، یو سوچ او فکر اُوچتیږي، هغه دا دے:

جَمَعُوا الْكُنُوْزَ لِاَنْفُسِهِمْ فَتَرَكُوْهَا كَمَا هِيَ اِلاَّ قُبُوْرًا دَارِسَةً فِيْهَا عِظَامٌ بَالِيَةٌ

ترجمه: دا نن چې تاته مقبرو کښې ښکارې دا هغه خلق وو، چې ځان دپاره ئې خزانې جمع کړې وې، ځان دپاره ئې مال دولت جمع کړے وو، هغه ټولې خزانې، مال او دولت د هغوي نه دُنیا کښې پاتې شو، خالي لاسونه دلته راغلل.

صرف او صرف زاړهٔ قبرونه وو، میلاؤ شول، پدې قبرونو کښې د هغوي زاړهٔ زاړهٔ هډوکې پراته دي، بس نور هیڅ نشته.

د سیدنا عثمان بن عفان ﷛ حالت

او دغه وجه ده، چې سیدنا عثمان بن عفان ﷛ به کله د مقبرې پهٔ خوا تیریدو نو «بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ» "دومره به ئې اوژړل چې د هغهٔ ږیره مبارکه به ټوله پهٔ اوښکو باندې لونده شوه" چا ورته اووئیل: دا ولې؟ ګوره! نبي ﷺ د جنت تذکرې کوې، تهٔ دومره نهٔ ژاړې، د جهنم تذکرې کوې تهٔ دومره نهٔ ژاړې لوې لوې نصیحتونه وعظونه

کړي، دومره نه ژاړي، او چې کله ته د خاورو پدې ډيري باندې تيريږې نو دومره ژاړي چې ستا تو له ګيره لونده شي، دا ولې؟ هغه ورته وائي: چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي، چې رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: «إِنَّ القَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ» "قبر د آخرت په منزلونو کښې اولنے منزل دے، اولنۍ پوړۍ ده، اولنۍ منزل را روان دے".[1]

کوم انسان چې پدې ړومبني منزل او ړومبني امتحان کښې کامياب شو، هميشه دپاره وروستني امتحاناتو کښې به کامياب وي، او کوم انسان چې پدې ړومبني منزل کښې فيل شو، نو ما بعد ددې نه هم سخت ورته روان دي، نو ماسره غم دے چې دا ړومبنے مقام به ده څنګه پاس کوم، دا به آسان وي او که دا به ګران وي؟

دا د قبرونو د زيارت مقصد وو، چې تاسو مقبرې ته لاړ شئ، چې تاسو ته مرګ ياد شي، چې تاسو مقبرې ته لاړ شئ، چې مړي ته دعا اُوکړئ، او تاسو ته آخرت درياد شي، او د دُنيا سره محبت ختم شي.

ليکن کله چې قبر پوخ شوے وي، نو دغه زيارت نه دغه مقصد نه حاصليږي، بلکه په هغې باندې په مختلفو طريقو سره اشعار ليکلي شوي وي، په هغې باندې تاريخ پيدائش او تاريخ وفات ليکلے وي، او لوې لوې قصې پرې ليکلي شوي وي، بيا د هغې نه عبرت نه حاصليږي، قبر ئې څنګه پوخ کړے دے؟ بيا خو دا خبرې وي، چا پرې شالونه اچولي وي، نو د قبر د زيارت چې کوم مقصد دے نو هغه ختميږي.

(2) دويمه وجه د قبر د نه پخولو

چې پدې کښې تضييع د اموالو ده، مالونو ضائع کيږي، ولې؟ څکه پدې قبر پخولو باندې مړي ته د ذرې برابر فائده هم نه رسي، هان! که مړي وصيت کړے دے، نو نقصان

---

[1] [رواه الترمذي، رقم: (2308)].

ورته رسي، يَو داسې انسان دے چې هغه وفات کيږي، او هغه وائي: چې زما قبر به پخوئ، زما قبر به کچه نهٔ پريدوئ، نو دغه مړي ته به نقصان رسي، چې تا پهٔ خپل ژوند د الله د پيغمبر ﷺ د سنتو خلاف وصيت کولو، چې تا وئيلي وو: چې زما قبر پوخ کړئ.

او کچرې مړي وصيت نهٔ دے کړے، بغير د هغهٔ د وصيت نه وارثان وائي: چې يره دا خلق به خاندې چې د خپل رشته دار قبر ئې پوخ نهٔ کړو، د خپل ميّت قبر ئې پوخ نهٔ کړو، نو د شرم د وجې نه دے د هغهٔ قبر پخول غواړې، نو دا ياد ساتئ! چې دغه مړے خو د ځان نه خبر نهٔ دے، دا چې کوم پخونکې وارثان دې دا ګناهګار دې؛ ځکه هغه بندول او منع کول نهٔ شي کولے. مال دې اُولګيدو، مړي ته فائده ونهٔ رسيده، بلکه تا هسې مال ضائع کړو، او نقصان کښې واقع شوې.

اُوس فائده به کله ميلاويږي؟

نو فائده به هغه وخت ميلاويږي چې پدې قبر خومره پيسې لګيدلې، دا پيسې تا غريبانانو له ورکړے وے، مسکينانو، يتيمانانو له دې ورکړې وے، عالم له دې ورباندې کتابونه راوړې وے، چې دا ګوره او خلقو ته ئې وايه، او دغه شان تا چې پهٔ قبر باندې کومې پيسې لګولې، چې پدې باندې دې جومات له قرآن مجيدونه راوړې وو، يا دې د جومات پهٔ آبادې کښې خرچ کړې وے، يا يَو لار کوهې کښې دې لګولې وے، نو صدقه جاريه وه، چې خومره پورې چې ترې خلقو فائده اخسته نو ستا مړي ته به ثواب رسيدو. خو مونږ وائيو: چې زمونږ دې هم ثواب ونهٔ شي، او زمونږ د مړي دې هم ثواب ونهٔ شي، خو چې زمونږ نوم اُوشي، پهٔ ژوند باندې پرې يَو روپئ نهٔ لګوو، ډاکټر له ئې نهٔ بوځو، بوډۍ مور او بوډا پلار ئې وې خدمت ئې نهٔ کوې، تنګ ئې پرې چې کله به مړهٔ کيږي؟ او چې مړهٔ شي نو پهٔ مړونې بيا د هغهٔ عزت کوې، قبر ورله پخوې، نو دا خو تهٔ د الله د رضا دپاره نهٔ کوې، دا خو تهٔ د نُوم او د رِيا دپاره کوې.

سوچ کوئ عزتمندو! مال ضائع شي، خرج شي، لیکن مړي ته ذرا فائده حاصله نهٔ شوه، ذرا ثوا ب ښخونکي ته میلاؤ نهٔ شو، د مړي څهٔ حق ئې اداء نهٔ کړو. بلکه پکار خو دا وه چې د هغهٔ د مونځونو او د روژو حساب ئې لګولے وے، او د هغې فدیه ئې ورکړے وے.

نو بهر حال د دغې وجې نه قبرونه ښخول ناجائز دي، پکار دا دي، چې مسلمانان رونړه هغوي د خپلو رشته دارانو قبرونه نهٔ ښخوي، اوسه پورې څوک د مسئلې نه خبرو نهٔ وو، قبرونه ئې پاخهٔ کړي، نو هغوي دې د دې خپل عمل نه توبه اوباسي.

ان شاء الله! ورستو به تاسو واورئ د کتابونو د حوالو سره، چې علماء کرام لیکي چې کوم قبر پوخ شوے وي، پهٔ ناپوهئ سره او سړے د مسئلې نه خبر شو، نو واجب دې چې هغه وران کړې، هغه دې واپس اُونړئ، او کچه دې پریدې او چې چا نهٔ دې پاخهٔ کړي او پهٔ زړهٔ کښې دا اراده ده، چې مونږ قبرونه ښخوؤ، نو قبرونه مهٔ ښخوئ.

(3) دریم وجه د قبر نهٔ ښخولو

بل حکمت د قبرونو نهٔ ښخولو کښې دا دے، چې کله قبر نهٔ شي ښخیدلے، نو چې یُو پیړئ تیره شي، او مقبره ډکه شي، او نور ځائے نهٔ میلاویږي، نو علماء کرام ذکر کوي چې مقبره آواره کړئ، او بیا پکښې مړي دفن کوئ، او چې د بل مړي هډوکي پکښې راووتل، نو هغه یَو کټ کښې کیدوه، او مړے ورسره پهٔ قبر کښې دفن کړه، نو چې تاسو پاخهٔ قبرونه جوړ کړي دي، نو دا خو تر قیام قیامته پورې نهٔ ورانیږي، نو پدې کښې به بل مړے څنګه دفن کوئ؟ نو دا حکمت دے. پکار دا دي چې د نن نه بعد څوک قبر څوخ نهٔ کړي.

او کوم انسان چې نیک عمله وي، نو ددهٔ قبر کچه پریدوه، کهٔ دے ځناورو خوړلے وي، او ددهٔ بدن توټې شوے وي، نو هغهٔ ته چې به الله کوم اجر او خوشحالي

ورکوي هغه به ورته میلاویږي، کۀ پۀ اُور باندې اوسوزولے شي او ایره ایره شي، نو هم عالم برزخ کښې به هغۀ ته خوشحالي میلاویږي، چې نیک عمله انسان وي، یا سمندر کښې دوب شي، او مهیان ئې وخوري، نو هم به ورته د نیکو اعمالو بدله میلاویږي.

او چې بدعمله انسان وي، او قبر کښې ترې نه ښۀ مضبوط پالنګونه تاؤ کړي، پۀ قبر کښې ورله ښکلې ګل کارياني اُوکړي، د دننه نه ئې هم ښۀ مزيدار جوړ کړي، بهر نه ئې هم ښۀ مزيدار جوړ کړي، خو ياد ساته! پدې نۀ خلاصيږي، هغه به پۀ خپل عمل خلاصيږي. سوچ کول غواړي. نبي ﷺ فرمائيلي وو: «إِنَّمَا القَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ».(1)

نبي ﷺ فرمائيلي وو: "چې دا د خاورو ډيرے چې دے، دا د جنت د باغيچو نه يَو باغيچه ده، يا د جهنم د کندو نه يَوه کنده ده".

نيک عمله انسان دي قبر ته دننه کړو، قبر د هغۀ دپاره د جنت باغيچه جوړ شوه، د هغۀ د نظر لګيدو پورې د هغۀ دپاره قبر کھولاؤ شي، د جنت کھړکۍ کھولاؤ شي، د جنت تولاياني ورته لاندې واچولے شي، کۀ ظاهرې د هغۀ قبر کچه ښکاري ليکن دننه د هغۀ قبر ډير منوّر دے، ډير مزيدار دے، د جنت کھړکۍ ورته کھولاؤ وي.

«أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ» "يا د جنهم د کندو نه يَوه کنده ده". کۀ ظاهرې د هغۀ پۀ قبر سنګ مرمر اولګي، ښکلې ښکلې کانړې پرې اولګي، ټائيلونه اولګي، ډير تاوان اُوکړي، رنګونه ورکړي، ليکن پۀ هغۀ باندې لاندې اُور بليږي. نو هغۀ ته څۀ فائده رسيږي پدې پخولو؟ سوچ کول غواړي. هاں! بلکه يَو نقصان دې اُوکړو، هغه دا چې کله د هغۀ پۀ قبر باندې شنې اُونې بوټې ولاړ وي، نو علماء کرام ذکر کوي دغه شنې

---

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2460)].

اُونې بوټي د الله تسبيح وائي، او دا هغه مړي ته ثواب رسيږي.

د سيدنا جابر ﷺ روايت

صحيح مسلم کښې روايت دے، مشکوٰة او ترمذي هم ذکر کړے دے. د سيدنا جابر ﷺ نه روايت دے، صحيح حديث دے: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ».[1]

"نبي ﷺ منع کړې ده چې قبر پوخ کړے شي، او دا چې په قبر باندې ناسته اُوکړے شي، او دا چې په قبر باندې آبادے اُوکړے شي". نو قبر به نهٔ پخے او نهٔ به چونې ورکوي، او نهٔ به پرې گنبدونه جوړوي، او نهٔ به پهٔ قبر باندې ناسته کوي.

بعضې خلق مقبرو ته لاړ شي، نو پهٔ قبر باندې د پاسه کرځي، نو دا د قبر بے عزتي ده. نبي ﷺ ترې منع کړې ده، نو داسې به نهٔ کوئ. دا گناه ده. بعضې خلق پکښې خرې پريدي، نو هغه د قبرونو دپاسه گرځي، نو ددې داسې مثال دے، چې د يو ژوندي انسان دپاسه خرې گرځي. الله دې زمونږ او ستاسو پهٔ حال رحم اُوکړي، يو طرف ته خو مونږ دا وايو: چې مونږ د قبر تعظيم کوو غير شرعي تعظيم چې هغه پخوو، او بل طرف ته زما او ستا مقبره کښې څهٔ حال شروع دے؟ جوارې مقبره کښې کيږي، زناکانې مقبره کښې کيږي، غلاکانې د مقبرو د اُونو نه کيږي، خوشې خاروې پهٔ مقبره کښې گرځي، خاوره د مقبرې د زمکې نه پټيږي، مونږ وايو: مونږ د قبر تعظيم کوو، دا د قبر تعظيم دے؟ او کهٔ دا د قبر نه غلا ده؟ دا خو مونږ خپل خواهش پسې روان يُو، خپل رسم او رواج پسې روان يُو.

پکار خو دا وه چې د مقبرې پهٔ خوا کښې تيريدے چې نهايت پهٔ عاجزئ او

[1] [رواه مسلم، رقم: (970)].

انکساريږ او د زړا په حالت کښې تيريدے، چې داسې حال ما باندې هم را روان دے
ليکن نن چې څومره غلط کارونه دي، هغه زمونږ او ستاسو مقبرو کښې کيږي، ددي
دپاره يَو کُميټي پکار وي، چې د کلي د مقبرې نه ګير چاپيره کنډتار يا ديوال تاؤ کړي،
او د هغې دپاره يَو کس اُوساتي، چې د هغې حفاظت کوي، چې د مقبرې اُونې څوک نه
اُوړي، دا وقف شے دے، دا د بل چا دپاره حرام دي. بعضې وخت کښې زنانه لاړې شي،
او په قبر باندې خاورې اچوي، رونړوا دا مسئله زده کړئ، ورستو کيدے شي زه
وضاحت اُوکړم، خو مسائل ډير شي نو بعضي وخت کښې د سړي د ذهن نه خبره اُوځي.

د قبر شرعي مقدار

شرعي قبر يَو ليشت، بس دا شرعي قبر دے. او علماء کرامو ترديې پورې ليکلي دي، چې د قبر نه څومره خاوره راوتلې ده، هغه واپس په قبر باندې واچوه، بس نوره سيوائي خاوره په قبرو نو باندې مه اچوئ.

نو بعضي نارينه چې هغه د کور د طرف نه مجبوره وي، يا زنانه ناپوهه او سادګانې هغوي به لاړې شي، او مقبرو کښې به خاورې راخلي، او هغه د قبرونو د پاسه اچوي، چې هغه يَو ليشت نه څو څو ليشتهٔ ئې بره کړي. دا منع دي. او بل د مقبرې توله زمکه خرابه شي، صبا دپاره هغې ځائے کښې کنده جوړه شوې وي، څوک خپل مړې هغې کښې نهٔ دفن کوي، دا څومره نقصان کيږي؟ د وقف زمکې. پدې کښې ثواب نهٔ ميلاويږي پدې کښې ګناه ده، خو دا خلق نهٔ پوهيږي، دومره ده، قبر وران شو، اُوبو يَوړو، خراب شو، نو هغه جوړ کړه خير دے. خو ليکن جوړ قبر باندې ته بيا خاورې دوباره اَروې، هر کال نوې نوې خاورې پرې دوباره اچوې، مقبره خرابوې، کندې پکښې جوړوې، دا چا وئيلي دي؟ دا صريح خلاف دے د پيغمبر ﷺ د طريقې نه.

نو حديث کښې راغلي وو، چې نبي ﷺ منع کړې ده د قبر د پخولو نه، او منع ئې

کړې ده، چې پۀ قبر باندې به آبادے نۀ کوئ، او پۀ قبر باندې به ناسته نۀ کوئ، اُوس کۀ پدې کښې خير وے او فائدې پکښې وے نو نبي ﷺ به منع نۀ وه کړې؛ ځکه مونږ پۀ خپل ځان باندې دومره مهربان او مئين نۀ يُو، لکه څومره چې پيغمبر ﷺ زمونږ پۀ ځانونو باندې مئين دے. قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ﴾.[1]

"جناب محمد رسول الله ﷺ پۀ مؤمنانو باندې د مؤمنانو د نفسونو نه زيات مهربانه دے". اے مؤمنانو! تاسو خپل ځان باندې دومره مئين نۀ يئ، تاسو خپل ځان باندې دومره نۀ خفه کيږئ، لکه څومره چې محمد عربي ﷺ پۀ تاسو خفه کيږي. ليکن افسوس پکار دے!!! هغه پيغمبر چې هغه نهايت پخپل اُمت باندې مئين دے، د خپل مور او پلار نه پۀ خپل اُمت باندې زيات مئين دے، نن د هغه پيغمبر خلاف مونږ ته ادو څۀ کار نۀ ښکاري.

أقوال الفقهاء بمنع تجصيص القبور والأمر بهدمها

(1) امام نووي رحمه الله ليکلي دي

"وَأَمَّا الْبِنَاءُ عَلَيْهِ فَإِنْ كَانَ فِي مِلْكِ الْبَانِي فَمَكْرُوهٌ وَإِنْ كَانَ فِي مَقْبَرَةٍ مُسَبَّلَةٍ فَحَرَامٌ نَصَّ عَلَيْهِ الشَّافِعِيُّ".[2]

"پۀ قبر باندې آبادے کول کۀ دا د باني او جوړونکي پۀ ملک کښې وي، (او د هغۀ خپله زمکه وي او خپل ځائے کښې قبر جوړ کړے وي)، نو مکروه دي، شريعت منع کړې ده نۀ به کوې، او کۀ يَو عامه مقبره کښې وي او پۀ هغې کښې دفن مړي او پۀ هغې کښې دے قبر پخوې او هغې کښې د قبر دپاسه آبادي کوې نو دا حرام دے.

---

(1) [سورة الأحزاب: 6].

(2) [شرح المسلم للنووي: 27/7، طبع دار إحياء التراث العربي - بيروت].

امام شافعي ﷫ پدې باندې تنصيص کړے دے". يعنې امام شافعي ﷫ دا مسئله په صراحت سره بيان کړې ده، چې دا حرام دې، حرامو ته نزدې دې.عام موقوفه مقبره ده، او تا پکښې ځان له ځائے راتينګ کړے دے قبر دې پوخ کړے دے، او دپاسه دې پرې آبادے کوې.

او بيا فرمائي: "قَالَ الشَّافعِيُّ فِي الْأُمِّ وَرَأَيْتُ الْأَئِمَةَ بِمَكَّةَ يَأْمُرُونَ بِهَدْمِ مَا يُبْنَى وَيُؤَيِّدُ الْهَدَمَ قَوْلُهُ وَلَا قَبرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ"[1].

"امام شافعي ﷫ په کتاب الأُم کښې فرمائي (دا د امام شافعي ﷫ مشهور کتاب دے): چې ما د مکې مکرمې امامان او بادشاهان ليدلې وو، چې هغوي به حکم کولو، چې دا قبرونه چې پخ شوې دې او آبادې پرې دپاسه شوې دې، دا واپس اونړوئ، او دا خبره صحيح ده؛ ځکه چې وائي: نبي ﷺ خپل د ترهٔ زوې ليږلے وو، پدې چې کوم قبر اُوچت دے نو د نورو قبرونو سره ئې برابر کړه".

(2) امام محمد ﷫ ليکلي دي

"وَلَا نَرَى أَنْ يُزَادَ عَلَى مَا خَرَجَ مِنْهُ، وَنَكْرَهُ أَنْ يُجَصَّصَ أَوْ يُطَيَّنَ، ... إلى أن قال...: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ «نَهَى عَنْ تَرْبِيعِ الْقُبُورِ وَتَجْصِيصِهَا» قَالَ مُحَمَّدٌ: وَبِهِ نَأْخُذُ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ ﷫ تعالى "[2].

"دا زمونږ رائے نهٔ ده، دا مونږ جائز نهٔ ګڼړو، چې د قبر نه کومه خاوره راوتې ده، چې د هغې نه زياته خاوره په قبر باندې ورواچوئ، بس چې کومه خاوره راوتې ده، هغه به په قبر باندې واچوې، دارنګې قبر باندې به نورې ختې متې نهٔ اچوې" تردې پورې چې امام محمد ﷫ وئيلې دې: "چې نبي ﷺ منع کړې ده د څلور کټه قبر جوړولو نه".

(1) [شرح المسلم للنووي: 27/7، طبع دار إحياء التراث العربي - بيروت].

(2) [كتاب الآثار لمحمد بن الحسن الشيباني 1: 266، طبع دار النوادر].

بعضې خلق کهٔ د خاورو نه ئې هم جوړوي، نو هغه داسې طريقې سره جوړ کړي، چې خلور کټه غوندې ئې جوړ کړي.

قبرسُنّي

قبر سُنّي، يعني پهٔ سنت طريقې سره قبر دا دے چې "وَيُسَنَّمُ الْقَبرُ" يعنې د اوښ د شا پشان به قبر جوړولے شي، لکه چې مينځ ئې لږ اوچت او دواړه طرفونه خکته وي. مربّع او خلور کُټه قبر به نهٔ شي جوړولے، او دارنګې قبر به پخولے نشي. امام محمد ﷬ فرمائي: "دا زمونږ قول دے، او پدې باندې د امام ابو حنيفه ﷬ هم رائے ده". نو مونږ چې د چا پهٔ مذهب يُو، هغه هم وائي: چې قبرونه پخول ناروا دي.

(3) امام حلبي الحنفي ﷬ ليکي

د هغهٔ کتاب دے "کبيري" هغې کښې ليکي: "وَيُكْرَهُ تَجْصِيصُ الْقُبُوْرِ... وَبِهٖ قَالَتِ الأَئِمَّةُ الثَّلَاثَةُ... إِلَى أَنْ قَالَ...: عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: يُكْرَهُ أَنْ يَبْنِيَ عَلَيْهِ بِنَاءً مِنْ بَيْتٍ أَوْ قُبَّةٍ أَوْ نَحْوِ ذٰلِكَ، لِمَا مَرَّ مِنَ الْحَدِيثِ آنِفًا".[1]

ترجمه وتشريح: امام حلبي ﷬ فرمائي: چې د قبر پخول، دارنګې پهٔ قبر باندې خاورې اچول، او ختې پرې اچول، او ليوَخل ئې دا مکروه دي، پدې باندې ائمه ثلاثه قول کړے دے،... او بيا وائي: امام ابو حنيفه ﷬ تردې پورې وئيلې دي، چې پهٔ قبر باندې آبادے کول، کوټه جوړول، يا دغه شان قُبّه جوړول، دارنګې نور د هغې پهٔ شکل باندې آبادے کول دا مکروه دي، دا به پهٔ قبرونو باندې نشي جوړيدے.

(4) امام قاضي خان الحنفي ﷬ ليکي

دا مشهور عالم دے، دے وائي: "وَلَا يُجَصَّصُ الْقَبْرُ لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ

---

(1) [کبيري شرح منية المصلي: 599].

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى عَنْ تَجْصِيصٍ وَتَقْصِيصٍ وَعَنِ الْبِنَاءِ فَوْقَ الْقَبْرِ".[1]

ترجمه وتشريح: قبر به نهٔ شي پخولے؛ ځکه نبي ﷺ منع کړې ده، د قبر د پخولو نه، او د الله پيغمبر منع کړې ده چې قبر له به د سپينوزرو أوبهٔ نهٔ ورکوئ، د سروزرو أوبهٔ به نهٔ ورکوئ، پهٔ قبر به آبادے نهٔ کوئ؛ ځکه دې سره د قبر هغه حکمت ختميږي، بيا خو به خلق د هغې تماشې کوي.

(5) حافظ ابن الهُمام الحنفي رحمه الله ليکلي دي

"أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ تَرْبِيعِ الْقُبُورِ وَتَجْصِيصِهَا".[2]

ترجمه: چې نبي ﷺ منع کړې ده چې څلور کُنجه قبر به نهٔ جوړوئ، او منع ئې کړې ده چې قبر باندې به چونه نهٔ لګوئ، او قبر به نهٔ پخوئ.

تنبيه: دا د احنافو معتمد عالم دے.

(6) فتاوی عالمکيري کښې ئې ليکلي دي

(دا هغه فتاوی ده، چې د درې سوه (300) علماؤ پهٔ اتفاق ليکلے شوې ده، د عالمګير بادشاه پهٔ دور کښې) هغه وائي: "وَيُسَنَّمُ الْقَبْرُ قَدْرَ الشِّبْرِ، وَلَا يُرَبَّعُ، وَلَا يُجَصَّصُ، وَيُكْرَهُ أَنْ يُبْنَى عَلَى الْقَبْرِ".[3]

ترجمه: وائي: قبر به د اُوښ کوهان پشان جوړولے شي، او د زمکې نه به د يَو ليشت پهٔ اندازه باندې اوچتولے شي، زيات به نهٔ شي اوچتولے، پهٔ قبر باندې به چونه نهٔ شي اچولے، پخولے به نهٔ شي، او مکروه دي چې پهٔ قبر باندې دې آبادے اُوکړے شي.

---

(1) [فتاوی قاضي خان: 92/1].

(2) [فتح القدير: 472/4].

(3) [فتاوی عالمگيري: 176/1].

(7) علامه ابن العابدين الحنفي رحمه الله ليکلي دي

"وَأَمَّا الْبِنَاءُ عَلَيْهِ فَلَمْ أَرَ مَنْ اخْتَارَ جَوَازَهُ".[1]

ترجمه: په قبر باندې آبادے وائي تر اوسه ورې ما څوک نهٔ دې ليدلې، چې ديته ئې ښهٔ وئيلي وي.

حکم: نو په قبر باندې آبادے کول مکروه تحريمي دې.

نو پکار دا دې چې مونږ په قبرونو باندې آبادې نهٔ کوو، او قبرونه نهٔ پخوو.

(8) قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله ليکلي دي

(مشهور عالم دے، چا چې تفسير مظهري لکلے دے، المتوفى: 1225هجري) د هغهٔ کتاب دے فارسي کښې "ما لا بُدّ منه" کښې لکي: "آنچه بر قبور اولياء عمارتهائے رفيع بنامی کنند، وچراغاں روشن می کنند، وازيں قبيل هرچه می کنند حرام است".[2]

ترجمه وتشريح: وائي: کوم چې د اولياء کرامو په قبرونو باندې لوې لوې آبادې کولے شي، او دارنګې د اولياء کرامو په قبرونو باندې ډيوې بلوے شي، رنړا ګانې کولے شي، يا نور چې ددې پشان کوم منکرات کولے شي، نو دا ټول حرام دي. دغه شان په قبر باندې آبادے کول، قُبّې پرې جوړول.

علماء کرام ذکر کوي: او حديث پاک کښې هم راځي، د صحيح مسلم روايت دے: چې سيدنا علي رضي الله عنه يو خپل شاګرد ليږلے وو (سيدنا ابو الحيّاج اسدي رحمه الله) او هغهٔ ته ئې وئيلي وو: «أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ؟ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ».[3]

---

(1) [الشامي: 101/1].

(2) [ما لا بُدّ منه: 95].

(3) [رواه مسلم، رقم: (969)].

ترجمه وتشريح: اے ابو الهياج! په داسې يَو ديوټي باندې تا نه مقرر ووم، او په داسې يَو كار تا نه ليږم چې رسول الله ﷺ زه په هغې باندې ليږلے ووم؟ يعنې دا كار سيدنا علي ﷜ هم د نبي ﷺ په حكم باندې كړے وو، او بيا ئې خپل شاګرد هم پدې كار باندې مقرر كړے وو، او دا خبره ئې ورته كړې وه، چې چرته يَو تصوير مه كوره مګر هغه رړانوه، چې كوم ځائے كښې درله د جاندار شي تصوير مخې له راځي نو هغه ختموه، (نن خو مونږ چې څۀ تصويران مومو، نو هغه راوړو، او كور كښې ئې لګوو، حالانكه دا صريح د رسول الله ﷺ د حديث خلاف دي، چې نبي ﷺ په تصوير جوړونكي لعنت وئيلے دے، او څوک ئې چې كور ته راوړي، نو نبي ﷺ فرمائي: دغه كور ته د رحمت ملائكې نۀ دننه كيږي).

او دويم: «وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ» "او چې كوم ځائے كښې تاته يَو قبر د نورو قبرونو نه اوچت ښكاري هغۀ د نورو قبرونو سره برابر وه".

نن اُوګوره! قبرونه څومره اوچت اوچت دي، يَو ځائے كښې ما يَو قبر ليدلے وو، ډير زيات اُوګد وو، وائي: دا شل ګزے بابا دے، شل ګزه قبر (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ) دا څومره إسراف دے، چې بابا به دوه ګزه نۀ وي، او زمكه ئې شل ګزه را بنده كړې ده.

نو بهر حال نبي ﷺ خپل د ترۀ زوي پدې ديوټي باندې ليږلے وو، او هغۀ بيا ابو الهياج اسدي ﷜ ليږلے وو. نو معلومه دا شوه چې كوم قبر خلاف شرع جوړ وي، د هغې وړانول او د نورو قبرونو سره برابرول پكار دي. په بل چا ئې څۀ له وړانوي ته ئې وارث ئې تا جوړ كړے دے، نو بجبله ئې برابر كړه. د «سَوَّيْتَهُ» معنى علماء كرام كوي: "چې د نورو قبرونو سره ئې برابر كړه".

(9) امام ابن حجر مكي الشافعي ﷫ ليكلي دي

"وَتَجِبُ الْمُبَادَرَةُ لِهَدْمِهَا وَهَدْمِ الْقِبَابِ الَّتِي عَلَى الْقُبُورِ".[1]

ترجمه: واجب دي، چې داسې قبرونه وران شي، او هغه آبادے چې په هغې باندې شوے وي. دا واجب دې خلقو باندې، مسلمانانو باندې، اسلامي حكومت باندې. ما او تا باندې خو ځكه نه دې واجب؛ كه ما او تا ځو نو شر پيدا كيږي، وائي: چې زما د رشته دار د قبر بے عزتي دې كړې ده، قبر ئې وران كړے دے، چې د چا په لاس كښې زور وي، هغوي له دا پكار دې چې دا ختم كړي.

(10) مُلّا علي القاري الحنفي ﷫ ليكلي دي

"وَيَجِبُ الْهَدْمُ وَإِنْ كَانَ مَسْجِدًا".[2]

ترجمه: د هغې ورانول واجب دي اګر كه جومات ولې نه وي.

مسئله

علماء كرام مسئله ذكر كوي، چې مقبره كښې به جومات نه جوړوئ، او په جومات كښې به مړي نه دفن كوئ، كه چرې مړے مخكښې دفن وي، او جومات ورستو جوړ شوے وي، نو دا جومات به نړوئ، او كه چرې جومات مخكښې جوړ شوے دے، او مړے ورستو دفن وي، او نو دغه مړے به اوباسئ، او د جومات نه به ئې لرې كوئ.

هان! كه وَس او طاقت دې نه رسيږي، نو ددغه قبرونو نه به ديوال تاؤ كړې چې كوم چا كوم چا دفن كړي دي. لكه څوا به ډير سادګان داسې وو، چې چا به ځائے وقف كړے وو، يا به امام وو په جومات كښې، نو هغه به بل خوا نه اوړل، په جومات كښې به ئې دفن كول، ليكن سوچ كول غواړي، چې مقبره وي، نو د جومات نه او د

(1) [الزواجر: 163].

(2) [مرقات المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: 372/2].

خپلې ځمکې نه په وقف مقبره کښې مړې ښخول زيات ثواب دے، په وقف ځائے کښې چې کوم ثواب ميلاويږي نو هغه په خپل ځائے کښې نۀ ميلاويږي، او که په جومات کښې دفن کړې نو ثواب نۀ ميلاويږي، بلکه ګناه ده. خو که اُوس وقف مقبره نۀ ميلاويږي، نشته دے، يا ډکه ده، نو بيا خير دے که خپل ځائے کښې مړې ښخوئ، خو په جومات کښې به ئې بيا هم نۀ ښخوئ.

تنبيه: يَو ځائے کښې جومات کښې قبرونه جوړ دي، او شر پيدا کيږي، نو علماء کرام ذکر کوي، د هغې قبرونو نه به ديوال تاؤ کړئ، او د جومات دا احاطې نه به ئې جدا کړئ، خو که يَو قبر باندې چا جومات جوړ کړے دے، نو دا جومات به ورانوئ.

(11) علامه آلوسي الحنفي ﷫ ليکلي دي

"ثُمَّ إِجْمَاعًا فَإِنَّ أَعْظَمَ الْمُحَرَّمَاتِ وَأَسْبَابَ الشِّرْكِ الصَّلَاةُ عِنْدَهَا وَاتِّخَاذُهَا مَسَاجِدًا أَوْ بِنَاؤُهَا عَلَيْهَا، وَتَجِبُ الْمُبَادَرَةُ لِهَدْمِهَا وَهَدْمِ الْقِبَابِ الَّتِيْ عَلَى الْقُبُوْرِ إِذْ هِيَ أَضَرُّ مِنْ مَسْجِدِ الضِّرَارِ؛ لِأَنَّهَا أُسِّسَتْ عَلٰى مَعْصِيَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".(1)

ترجمه وتشريح: بيا د تمامو علماؤ په اتفاق سره د تمام علماؤ په اجماع سره، په تمامو محرماتو کښې لوې حرام دا دي چې د قبر په خوا کښې جومات جوړ شي، او په هغې جومات کښې هغې جومات کښې هغې قبر ته خلق سجدې لګوي. بيا وائي: دا رنګې جومات جوړول يا په هغې باندې نُور آبادے کول واجب دي چې تلوار باندې سرے لا ړ شي، او هغۀ وران کړې، هغۀ قُبې چې د قبرونو دپاسه آبادے شوے دے، د هغې ورانول هم بکار دي، هغۀ جومات چې په قبر باندې جوړ وي، د هغې ورانول هم بکار دي. بيا وائي: ځکه دغه جومات چې په قبر باندې آباد شوے دے، دغه جومات

(1) [تفسير روح المعاني: 15/96-97].

د مسجد ضرار نه زیات نقصاني دے، مسجد ضرار هغه جومات وو چې منافقانو د نبي ﷺ په خلاف کښې جوړ کړے وو، او دا ئې ووئیل وو: "چې مونږ به پدې د نبي ﷺ خلاف مشورې کوو". په ظاهر خو به خلق وائي چې دے مونځ کوي خو مونږ به د نبي ﷺ خلاف مشورې کوو، او خلق به ترې نۀ بدظنه کوو.

نو نبي ﷺ چې خبر شو، الله ورته اوفرمائیل: ﴿لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا﴾.[1]

"زما پیغمبره په دې جومات کښې همیشه دپاره مۀ اُودرېږه". هغه جومات چې د هغې بنیاد په تقوی باندې کېخودلے شوے دے، په هغې کښې به اُودرېږې (مسجد تقوی).

نبي ﷺ چې خبر شو، (اُوکده واقعه ده)، نو صحابه کرام ئې اُولیږل او ورته ئې اووئیل: "چې هغه جومات اُوسوزوئ"، جوړ شوے جومات ووم خو چې ځکه نیت خراب وو، د نبي ﷺ مقابله کښې جوړ شوے وو، نو مسجد ضرار وو.صحابه کرامو هغه اُوسوزولوم او وُران ئې کړو، ټوټې ټوټې ئې کړو، نو چې څنګه هغه مسجد ضرار وُرانول واجب وو، دغه شان دا هم مسجد ضرار دے؛ څکه هغه هم د نبي ﷺ مقابله کښې وو، او دا هم د دین اسلام مقابله کښې جوړېږي، د مشرکانو دپاره یَو بندرګاه جوړېږي، د هغوې دپاره یَو مورچه جوړېږي، نو داسې جومات چې په قبر باندې یا د قبر دپاره جوړېږي د هغې وُرروانول واجب دي.

او بیا ئې لیکلي دي، (امام آلوسي ډیرې اُوچتې اُوچتې خبرې کړي دي، خو افسوس دا دے چې زمونږ وَس کښې نشته، لږ شان زُور غواړي) "وَتَجِبُ إِزَالَةُ كُلِّ قِنْدِيلٍ أَوْ سِرَاجٍ عَلَى قَبْرٍ وَلَا يَصِحُّ وَقْفُهُ وَلَا نَذْرُهُ".[2]

"واجب دي چې کومې شمعې کومې ډیوې خلقو راوړې دي، ددغې ممبتو دغې

---

[1] [سورة التوبة: 108].

[2] [تفسير روح المعاني: 16/96-97].

شمعو وقف کول جائز نهٔ دي، دا رنګې د هغې نذر او منخته کول صحيح نهٔ دي".

(12) علامه ابن القيم الحنبلي رحمه الله ليکلي دي

د امام احمد بن حنبل رحمه الله مقلّد دے، هغه ذکر کوي: "لَا يَحِلُّ إِبْقَاؤُهَا فِي الْإِسْلَامِ، وَيَجِبُ هَدْمُهَا"[1].

"په اسلام کښې ددې باقي پرېخودل حلال نهٔ دي، بلکه ددې وُرانول واجب دي".

بعض جاهلان خلق امام ابن تيميه رحمه الله او ابن القيم رحمه الله پسې ردې بدې وائي، او په هغوي باندې اِلزامات لګوي، چې دا مُجَسّمه وو.

دا ياد وُساتئ!!! دا ډېر زيات بهترين علماء تير شوي دي. د مُلّا علي القاري رحمه الله کتاب دے ("مرقات" چې دا د مشکاة المصابيح شرح ده)، د هغه بل کتاب دے (جمعُ الوسائل) هغې کښې ليکي: "أَنَّهُمَا كَانَا مِنْ أَكَابِرِ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ، وَمِنْ أَوْلِيَاءِ هَذِهِ الْأُمَّةِ"[2].

ترجمه: "علامه ابن تيميه او علامه ابن القيم رحمهما الله دواړه د اکابرينو د اهل السنة والجماعة نهٔ دي، او د دې اُمت د هغې لويو اولياؤ نه دي". نو هغوي وائي: چې دا شے ناجائز دے.

نو د بيان مقصد دا وو چې د قبر ښخول منع دي. او کومو خلقو چې ښخ کړې دي، پکار دا دي چې هغوي دي د خپلو رشته دارانو قبرونه واپس اُونړوي، واپس دي کچه کړي، او چې چا نهٔ دي پاخهٔ کړي، او زړهٔ کښې ئې د ښخولو اراده وي، توبه دي اُوباسي او قبر دي نهٔ ښخوي، او هغه پيسې دي جومات کښې ورکړي، يا دي يَو فقير او غريب له ورکړي، هغه مړي ته به ئې ثواب رسيږي.

دا رنګې په قبرونو باندې څادرې اچول، ګل دارې څادرې پرې اچول، شالونه پرې

---

(1) [زاد المعاد: 28/3].

(2) [جمع الوسائل: 208/1].

غوږول، جهنډې وربانډې اُودرول، دا ټول کارونه بدعات دي. هيڅ ثواب پرې مرې ته نه رسيږي، هسې مال ضائع کول دي، او ځان په ګناه کښې راوستل دي، پکار دا دې چې څنګه حکم مونږ ته پيغمبر ﷺ کړے دے، په هغې بانډې مونږه عمل اُوکړو، دغسې مقبرې پاتې کړو. ان شاء الله دا به زمونږ دپاره ډيره د خير وي. الله رب العزت دې د صحيح عمل کولو توفيق را نصيب کړي، او الله دې زمونږ او ستاسو عقيده د قرآن او د سنت جوړه کړي، او الله دې زمونږ او ستاسو خواهشات د خپل دين تابع کړي، پکار دا ده چې په هرحال کښې مونږ د الله او د الله د پيغمبر ﷺ تابع شو.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بسم الله الرحمن الرحيم

فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً

(سورة النور: 61)

موضوع

سلام اچول سنت دي

بتاريخ: 2008-10-17

بمقام: جلسیٔ

خطیب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

سلام اچول سنت دي

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْر أَنْفُسنَا وَمِنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْر أَنْفُسنَا وَمِنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْر أَنْفُسنَا وَمِنْ سيِّآت أَعْمَالنَا، مَنْ يَّهْده اللهُ فَلَا مُضلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهٗ فَلَا هَاديَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَديٌّ سَرْمَديٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخرَ لَهٗ لَا ضدَّ لَهٗ وَلَا ندَّ لَهٗ وَلَا مُمدَّ لَهٗ وَلَا بَشيْرَ لَهٗ وَلَا نَذيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَعَلٰى آله وَأَصْحَابه وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَان الرَّجِيْم، بِسْم الله الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾.[1]

وقال تعالى: ﴿فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً﴾.[2]

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا﴾.[3]

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «لَا تَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتّٰى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلٰى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوْهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ».[4] (أو كما قال رسول الله ﷺ).

حاضرينو عزت مندو! مسلمانانو رونړو، ما چې كوم آياتونه مباركه تلاوت كړل، او حديث د نبي ﷺ مې ذكر كړو، په دې كښې مسلمانانو ته الله رب العزت او

(1) [سورة النور: 27].

(2) [سورة النور: 61].

(3) [سورة النساء: 86].

(4) [رواه مسلم، رقم: (54)، واللفظ له، وأبو داود، رقم: (5193)، وابن ماجة، رقم: (68، و3692)].

دارنګه حدیث کښې رسول الله ﷺ د سلام د اچولو ترغیب ورکوې، دا د اسلام نخه ده او د مسلمان شعار دے، د یَو مسلمان وُرور پهٔ بل مسلمان باندې حق دے، چې یَو مسلمان د بل مسلمان سره مخامخ شي، نو یَو بل باندې به اسلام اچوي، د اسلام نه مخکښې د دورِ جاهلیت او دغه شان د یهودو او نصارٰو هم خپلې طریقې وې یَو بل سره به چې میلاؤ شول.

کله نه چې اسلام راغے، نو د اسلام تحیّه، پیشکشې او دالیٔ د مسلمانانو یَو بل ته "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ" دے.

د یهودو به هم سلام وو، یهودو به یَو بل باندې سلام اچولو "عِشْ أَلْفَ نُوْرُوْزٍ" "زر کاله ژوندے اوسیږے"، دا به د هغوي سلام وو.

د اسلام نه مخکښې به هم عربو یَو بل باندې سلامونه اچول سحر کښې به ئې وئیل "أَنْعِمْ صَبَاحًا" "صباء دې ښهٔ شه"، او د ماسپخین نه پس به چې میلاؤ شول د غرمې نه وُرستو، نو ووئیل به ئې: "أَنْعِمْ مَسَاءً" "مازیګرے دې ښهٔ شه"، نو هم د هغوي داسې جملې وې چې د ملاقات پهٔ وخت به ئې یَو بل ته ووئیلې.

اسلام چې راغے او مونږ ته ئې پهٔ اسلامې طریقې سره دا اُوخودل چې تاسو یَو بل سره میلاویږئ نو "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ" وایئ.

د عربو یَو بل ته تحیّه، پیشکشې دا هم وه چې "حَيَّاكَ اللهُ" "الله دې ژوندے ساته"، دا هم ښهٔ خبره وه، خو چونکه بعض ژوند داسې وي چې پهٔ هغې باندې انسان تنګ او پریشانه وي، دا خو تهیک ده چې الله دې ژوندے ساته، خو څهٔ پته لګې هغه ژوند باندې تنګ وي، او داسې ډیر خلق دي، چې هغوي پهٔ خپل مرګ باندې ددې ژوند نهٔ خوشحاله وي، هغوي وائي: چې مونږ مړهٔ وے، نو دا به ښهٔ وے، کله ئې پهٔ زړهٔ باندې داسې آرمان راشي، چې هغه نهٔ پوره کیږي، نو بیا هغه د مرګ سوال کوي.

لکه امام آلوسي رحمه الله په "روح المعاني" کښې ذکر کړي دي، او دغه شان نورو علماؤ هم ذکر کړي دي، هغه يَو سړے په لار باندې روان وو، غوښې ته ئې زړهٔ أوشو، انتهائي غريب او فقير وو، د غوښې اغستو وَس او طاقت ئې نهٔ وو، چې ځان له ئې غوښه اغستې وه، نو اشعار ئې ووئيل، نو يَو شعر پکښې دا هم وو:

أَلاَ مَوْتٌ يُبَاعُ فَأَشْتَرِيهِ ... فَهٰذَا الْعَيْشُ مَا لاَ خَيْرَ فِيهِ

ترجمه: مرګ نشته چې خرڅيږي او ځان له ئې په پيسو باندې واخلم، او مړهٔ شم، ځو دا داسې ژوند دے چې هيڅ خير پکښې نشته.

أَلاَ مَوْتٌ لَذِيذُ الطَّعْمِ يَأْتِيْ ... يُخَلِّصُنِيْ مِنَ الْمَوْتِ الْكَرِيْهِ

ترجمه: داسې يَو خوږ غوندې مرګ نشته، چې په ما باندې راشي او مړهٔ شم، چې ددې بے کاره ژوند نه خلاص شم.

دا څهٔ ژوند دے چې ټول د آرمانونو د تکليفونو مصيبتونو دے. نو ډير کرتې انسان په خپل ژوند باندې پريشانه وي، نو د اسلام پيشکشي ډيره ښکلې ده، چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ"، سلام د الله نوم دے، دعا ده، "سلامتيا دې وي، خير دې وي، برکتونه دې وي په تاسو باندې د الله"، نو دا د مسلمانانو اسلامي طريقه ده، اسلامي شعار دے.

د سلام فضيلت

يَو حديث پاک کښې راځي چې عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي: چې يَو سړے راغے، او د نبي ﷺ نه ئې تپوس کولو، نبي ﷺ ته وائي: «أَيُّ الإِسْلَامِ خَيْرٌ؟» "د الله پيغمبره په اسلام کښې کومه يَوه طريقه بهتره ده؟" کوم يَو کار ډير غوره دے؛ ځکه اسلام کښې خو ډير اعمال دي، ډير افعال دي، يَو پدې کښې غوره کار کوم يَو دے؟ نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ

تَعْرِفْ» "د اسلام په کارونو کښې د ټولو نه بهترين کار غوره کار يَو دا دے: چې خلقو له ډوډئ ورکوه، خلقو له طعام ورکوه، دا د مسلمان نخه ده، او د يَو بل سره همدردي ده".[1]

نبي ﷺ فرمائي: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ».[2]

"د چا چې په الله او په ورځ د آخرت باندې ايمان وي، نو د خپل ميلمه عزت دې کوې، اکرام دې کوي".

نو معنی څۀ ده چې طعام ورکوئ؟ بعض خلق داسې وي چې پيسې به ورکوي خو وائي: ډوډئ ته نۀ وي تيار، وائي: خير دے پيسې رانه واخله، هوټل کښې پرې اُوخوره، خو زۀ نۀ شم درکولے، ډوډئ ورکولو سره محبت سيوا کيږي، پيسو سره محبت نۀ سيوا کيږي.

نو معنی په اسلام کښې بهترين عمل دا دے، چې طعام ورکوه، ډوډئ ورکوه، دا مطلب نۀ دے چې چرګان او ګډان حلال کړه، څۀ چې دې وَس کيږي نو د وَس مطابق خلقو باندې خُوروه.

دويم: «وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ»، او دويم غوره عمل دا دے "چې سلام وايه په هغه چا چې تۀ ئې پيژنې، او په هغه چا هم وايه چې تۀ ئې نۀ پيژنې، کۀ پيژنې هغۀ ته هم سلام کوه، او کۀ نۀ ئې پيژنې هغۀ ته هم سلام کوه"، دا نۀ ده چې يَو سړي سره دې ګپ شپ دے په هغۀ باندې سلام اچوه، او چې يَو سړے نۀ پيژنې نو پريده، دا خو زۀ نۀ پيژنم، دا څوک دے؟ هر څوک چې مخې له درځي، نو په هغۀ باندې به سلام اچوې.

او سلام به هم داسې کوئ چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ"، "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" هم جائز دے، خو "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ" بيا ډير غوره دے، قرآن

(1) [رواه البخاري، رقم: (12، و28، و6236)، ومسلم، رقم: (39)، وأبو داود، رقم: (5194)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6135، و6138)، ومسلم، رقم: (48)، والترمذي، رقم: (2500)، وأبو داود، رقم: (5154)].

کریم کښې الله پاک فرمائي: ﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا﴾[1]

ګڼ توجيهات دي، خو عام مفسرين توجيه کوي او معنی کوي: "کله چې تا ته يو سړي سلام اُوکړو چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" نو ته ورته اُووايه جواب ورله ورکړه "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ" يو تکے پرې سيوا کړه، او که هغه درته اُووائي چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ" نو ته ورته اُووايه: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ"".

او علماء کرام ذکر کوي چې د "وَبَرَكَاتُهُ" نه مخکښې مه ځه، اګر چې بعضې رواياتو کښې ورسره "وَمَغْفِرَتُه" شته خو ضعيف روايت دے. نو بهترين جواب ورکړئ. اکثر چې مونږ او تاسو يو بل سره ميلاؤ شو، نو اول خو سلام نه کوو، بلکه "خير راغلے وے" وايُو، "خير راغلے وے" څه شے ئې؟ د الله بنده "خير راغلے" خودي اُووې خو د سلام ثواب خو ميلاؤ نه شو کنه.

تنبيه

دا خبره کوري ياد اُوساتئ! او ذهن کښې کيدوئ، چې د ډيرو خلقو دا عادت دے، چې ته په هغه باندې سلام اُوکړې، او وائې: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" نو هغه به درته "خير راغلې په خير" وائي، دا د هغه جواب وي، کله به وائي: "خير راغلئ جي"، بس.

علماء کرام ذکر کوي چې سلام اچول سنت دې، او د سلام جواب ورکول واجب دي، او د سلام جواب "په خير راغلے" نه دے، د سلام جواب "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" دے، واجب دے اُوبائيلل هسې "خير راغلے" دي اُوې ثواب ميلاؤ نه شو. او چې ډير دي زړه صبر نه کوي، نو "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" اُووايه، او ددي نه ورستو "خير راغلے" اُووايه، خو اول به "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" وائي.

[1] [سورة النساء: 86].

او الله دي رحم اُوکړي! دي زمیندارو ته چې اُووائي: چې چرته تلے وي؟ نو وائي: فلانکي ته خَچارې له تلے ووم. دا نۀ وائي چې فلانکي له سلام له تلے ووم. دا خچارے خو د هندوانو طریقه وه، نو دا زمیندار چې د یَو بل په خوا تیریږي نو وائي: فلانکیه! خَچارې، نو هغه ورته د هغه ځائے نۀ آواز اُوکړي "خیر راغلې پخیر راغلې"، نو کچرې داسې ئې وئیلې وے چې فلانکیه! "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ" او هغۀ ورته وئیلې وے چې "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" نو څومره خوند به ئې کړے وو. سنت طریقه به هم ژوندۍ شوې وه، او ثواب به ثواب شوے وو. دا طریقې د خپلو ځانونو نۀ ختمې کړئ.

نو چې کله یَو سړے پیشکشې درکړې نو د هغې بهتر جواب ورکړه، ﴿أَوْرُدُّوهَا﴾ کۀ داسې بهتر جواب نۀ شې ورکولے نو کم ازکم د هغې پشان خو واپس کړه. او چې هغه درته اُووائي: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" نو تۀ ورته اُووایه: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ"، او چې ستا خُلۀ دومره ناراسته ده چې تۀ ورته اُووائي: "وَعَلَيْكُمْ"، نو دا خو دي د هغۀ د هغې نه هم کم راوستو، او چې هغه درته اُووائي: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ"، او تۀ ورته وائي: "وَعَلَيْكُمْ السَّامُ" هغۀ درته دُعا اُوکړه، او تا ورته خِیرې اُوکړې، ولې داسې کوې؟ "سَام" خو مرګ ته وائي، ﴿فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا﴾ دغه مطلب دے چې بهترین جواب ورکړئ، ځائسته جواب ورکړئ. نو سلام دا سنت طریقه ده، چې مسلمانان د یَو بل سره میلاویږي چې یَو بل باندې سلام اچوې. ددې وجې نه ګوره یَو حدیث پاک کښې راځي، د برَّا بن عازب ﷺ نه روایت دے، وائي: «أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ: بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَنَصْرِ الضَّعِيفِ، وَعَوْنِ

المَظْلُومِ، وَإِفْشَاءِ السَّلَامِ، وَإِبْرَارِ المُقْسِمِ».[1]

ترجمه وتشريح: د الله پيغمبر ﷺ مونږ ته حکم کړے وو په اُووه (7) خبرو باندې، (1) يو «بِعِيَادَةِ المَرِيضِ» چې يَو سړے بيمار شو، مريض شو نو د هغهٔ تپوس له ځئ، بيمار پرسئ له ځئ.

آداب او طريقه د عيادت د مريض

د مريض د تپوس طريقه به دا وي، چې مريض له لاړې، خواکښې ورسره کينه، بيمار ته وايه، څنګه ئې؟ سنت طريقه دا ده: چې ورسره کيناسې نو لاس پرې کيدوه، او اُووايه: «لَا بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللهُ».[2]

"پرواه نشته دا بيمارې تا لره د ګناهونو نه پاکونکې ده، دې سره به ستا ګناهونه کم شي".

بيا د مريض دپاره دُعا اُوغواړه، دا به نهٔ کوئ چې مريض خوا ته لاړ شئ، او تهٔ ورته وائې: چې تهٔ خو ختم ئې، او سَم ټَپ شوې، او سَم زِيړ شوې، هغه هسې هم ختم وو، او نور به هم خراب شي د غمونو نه، تهٔ به ورته وائې: ان شاء الله اُوس ښهٔ شوے ئې، الله به دې ښهٔ کړې، او الله به صحت درکړې، ستا نه ضعيف خلق بيماران شوې دې، او ستا نه ناکاره مرضونو باندې بيماران شوې دې، او الله جوړ کړې دې، تا به هم الله جوړ کړې، داسې د هغهٔ لره طمع پيدا کړئ، «فَنَفِّسُوا لَهُ فِي أَجَلِهِ».[3] د هغهٔ په نيته کښې هغهٔ له لږ غوندې کولاؤ والے راولئ، چې سړيه! الله به درته صحت درکړې، الله به درنه ډير د دين کار واخلې، ددې دپاره چې هغه سړے لږ غوندې خوشحاله

(1) [رواه البخاري، رقم: (6235)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (3616، و5656، و5662)].

(3) [رواه الترمذي، رقم: (2087)].

شي. کني ستا په تپوس باندې نهٔ د هغهٔ مرض کمیږي، او نهٔ ترې نه هغه مرض لرې کیږي، او نهٔ هغه ښهٔ کیږي، الله به هغه په خپل وخت باندې ښهٔ کوي، او چې الله ورته څهٔ مقرر کړې وي، هغه به ورته رسیږي، خو چونکه د هغهٔ به لږ غوندې طبعیت خوشحاله شي.

او بیا چې مریض سره کیناستې، نو د خپل مزاج خبرې مهٔ کوه، د مریض د مزاج خبرې کوه. بعضې خلق داسې وي چې مریض د هغهٔ په راتلو باندې ستومانه وي، چې دے به اُوس ددې ځائے نهٔ څهٔ وخت بَهر کیږي، هغهٔ ته تکلیف وي، او د اُوږدِ کپ او قیصې شروع کړې وي. او بعضې خلق چې لاړ شي نو سرې کره به کور مریض پروت وي، او دے به ورته هم میلمه شي، یا به چایانې څکي، یا به ډوډۍ کانې خُوري، نو د چائے او د ډوډۍ په وخت کښې چا له تپوس له مهٔ ځه. او بل دا چې مریض خو اکثر په کور کښې وي، نو دومره مهٔ حصاریږه، بس مختصر الفاظو کښې تپوس اُوکړه، او بیا را وُځه، دا سنت طریقه ده.

او نبي ﷺ فرمائي: "څوک چې سحر د مریض تپوس له لاړ شي نو تر ماښامه پورې ورله اَویا زره (70000) فرشتې د مغفرت دُعاګانې غواړي، او چې ماښام لاړ شي نو تر سحره پورې ورله اَویا زره (70000) فرشې د مغفرت دُعاګانې غواړي".[1] نو د مریض تپوس ډیر ثواب دے خو چې په صحیح طریقه باندې وي.

نو یَو «بِعِیَادَةِ المَرِیضِ» مونږ ته نبي ﷺ حکم کړے وو چې تاسو د مریض بیمار پرسۍ له ځئ.

(2) دویم «وَاتِّبَاعِ الجَنَائِزِ» "جنازې پسې تلل مونږ ته نبي ﷺ د دې حکم کړے وو".

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2922)].

مونږ خو وائيو: دا فلانکے زمونږ د محلې دے، مونږ ئې پيژنو نو جنازې له ځو، او فلانکے زمونږ د محلې نهٔ دے، مونږ ئې نهٔ پيژنو، نو مونږ ئې جنازې له نه ځو، دا پهٔ تعارف باندې نهٔ ده، بلکه دا يَو شفاعت دے د چا دپاره چې دې اُوکړو نو فرشتې به ئې ستا دپاره کوې، د هر چا جنازې له ځه، چې وَس دې کيږي، او جنازه هم فرض ده، خو دا فرض کفايه ده، چې د محلې نه يَو تن لا ړ شي، نو د تولو غاړه خلاصيږي، خو کهٔ تول لاړ شې نو ډيره بهتره ده. نو جنازې پسې تلل مونږ ته نبي ﷺ د دې حکم کړے وو.

(3) دريم «وَتَشْمِيتِ العَاطِسِ» "يو پرنجي والا له اَنژشکې والا ته جواب ورکول". کله چې يَو سړے اَنژوشے اُوکړې، نو هغهٔ له جواب ورکول. خو څنګه جواب به ورکوې؟ نو کله چې يَو سړے اَنژوشے اُوکړې، نو هغه به وائي: چې "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ".[1]

نو څوک ئې چې واورې هغه به ورته وائي: "يَرْحَمُكَ اللّٰهُ".[2]

"الله دې پهٔ تا باندې رحم اُوکړې"، نو هغهٔ به واپس تا ته جواب درکوې "يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ".[3]

"الله دې تاسو ته هدايت اُوکړې، او الله دې ستاسو حالت ښهٔ کړې". خو مونږ پدې باندې څهٔ پوهيږو مونږ خو چې اَنژوشے اُوکړو، نو پته نهٔ لګې چې د خُلې نه څهٔ څهٔ اُوځي؟

او چې اَنژوشے دې اُوکړو، نو "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" اُووايه، کهٔ هغه ځائے کښې څوک موجود وې، هغه به تاته وائي: "يَرْحَمُکَ اللّٰهُ"، او کهٔ څوک موجود نهٔ وې، نو فرشتې به درته اُووائي: چې "يَرْحَمُکَ اللّٰهُ"، هغوې به تاته داسې جواب درکوې.

---

[1] [رواه البخاري، رقم: (6224)].

[2] [رواه البخاري، رقم: (6224)].

[3] [رواه البخاري، رقم: (6224)، والترمذي، رقم: (2739، و2741)، وأبو داود، رقم: (5033، و5038)].

نو نبي ﷺ مونږ ته فرمائیلي دي: چې تا سو به اَنتږوشې والا ته جواب ورکوئ، پۀ "یَرْحَمُکَ اللهُ" سره.

(4) څلورم «وَنَصْرِ الضَّعِيفِ» "د کمزورې امداد. کوئ، د ضعیف امداد کوئ". بوډا دے، کمزورے دے، نو د هغۀ مدد کوئ، دا نه چې کمزورې سره زیاتے کوه، د هغۀ پورې توقې او مَسخرې کوه، کنډې او نالو ته ئې غُورځوه، نۀ داسې به نۀ کوئ، د کمزورې امداد کوه.

(5) پنځم «وَعَوْنِ المَظْلُومِ» مونږ ته نبي ﷺ حکم کړے وو، چې پۀ یَو سړي باندې ظلم کیږي، نو هغۀ سره به امداد کوئ، د مظلوم امداد کوئ، د ظالم سره مۀ ملګري کیږئ، د مظلوم سره ملګرې شئ، د مظلوم مرسته او مدد اُوکړئ.

نن پدې مُلک کښې مصیبت دا دے چې د ظالم ملګرې هر څوک دې، او د مظلوم مدد او مرستې والا څوک نشته، او کۀ څوک د مظلوم ملګرې کیږي بیا د هغۀ هم خیر نۀ وي.

نو نبي ﷺ فرمائي: «وَعَوْنِ المَظْلُومِ» "چې د مظلوم امداد اُوکړئ"، هغه کۀ هر څوک دې، خو چې ظلم ورسره کیږي، نو د هغۀ مدد او مرسته اُوکړه.

(6) شپږم «وَإِفْشَاءِ السَّلَامِ» بل ئې راته دا حکم کړے وو چې: "سلام عام کړئ"، سلام پۀ خلقو کښې خور کړئ، یَو بل باندې سلامونه اچوئ، "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" یَو بل کښې دا خبرې عام کړئ.

(7) اُووم «وَإِبْرَارِ المُقْسِمِ» "قسم کونکے پۀ خپل قسم کښې برې کول". ددې څۀ مطلب دے؟

یَو سړي قسم اُوخوړو، نو هغه پۀ قسم کښې پاک کړه، قسم کښې برې کړه، مۀ ئې حانث کوه مثلاً: یَو سړے درته وائي: چې زما دې قسم وي، دا کار به تۀ کوې، قسم ئې اُوخوړو، او هغه

کار جائز دے، نو ته هغه کار اُوکړه، چې هغه د حانث کیدو نه پاک او بري شي.

لکه ستا يو دوست او ملګرے راغے، او هغه وائي: چې زهٔ ځم، او تهٔ ورته وائي: چې نهٔ به ځې، قسم دے چې د غرمې ډوډئ به دربانديې خُورم، نو هله به ځې، نو اُوس کهٔ د هغه ډيره تلوار ده، خو پکار دي چې هغه تا پهٔ قسم کښې رانهٔ ولې، هغه پاتې شي، او تهٔ قسم کښې حانث نهٔ شې.

اُوس کهٔ هغه لاړ شي، نو تهٔ به يا درې ورځې روژې نيسې او کهٔ مالدار ئې، نو لس مسکينان به مړوې؛ ځکه پهٔ تا هغه ډوډئ اُونهٔ خوړه، او تهٔ قسم کښې راغلې. نو ددې وجې نه هغه پهٔ قسم کښې برې کول دا د مسلمان کار دے.

هان! پهٔ ناجائز شې دې قسم کړے وي. قسم دي کړے وي چې (T.V) تې وي به راسره ګورې، او کهٔ اودې نهٔ کتو نو قسم پهٔ خدائے چې هر څهٔ به مې درسره پاتې وي. خو د ګناه کار به ورسره نهٔ کوې.

او چې صحيح کار وي، جائز کار وي، يا د ثواب کار وي، نو بيا قسم کونکے پهٔ خپل قسم کښې برې کړه.

دا اُوهٔ (7) خبرې برَّا بن عازب ﷺ وائي: چې مونږ ته نبي ﷺ حکم کړے وو، نو يَو پکښې "سلام" وو.

د سيدنا ابو هريره ﷺ روايت

يَو بل حديث کښې راځي، سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: «لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ».(1)

(1) ارواه مسلم، رقم: (54)، واللفظ له، وأبو داود، رقم: (5193)، وابن ماجة، رقم: (68، و3692)].

ترجمه وتشريح: ابو هريره ﷺ فرمائي: چې نبي کريم ﷺ اوفرمائيل: چې تاسو تر هغې وخته پورې جنت ته نۀ شئ داخليدلے تر څو چې تاسو ايمان نۀ وي راوړے، نو چې ايمان مو نۀ وي راوړے تر هغه وخته پورې جنت ته نۀ شئ تللے، «وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا» او تاسو مؤمنان نۀ شئ کيدلے تر څو پورې چې تاسو يَو بل سره محبت نۀ وي کړے. او کچرې يَو بل سره بُغض کوئ، حسد کوئ، يَو بل سره کينه کوئ، يو بل سره ضد او عناد کوئ، دا د مسلمان صفت نۀ دے. د مسلمان صفت دا دے: ﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾.[1]

"محمد رسول الله ﷺ د الله پيغمبر دے، او هغه کسان چې د هغۀ سره ملګرې دې، صحابه کرام رضي الله عنهم دې، د هغوي صفت دا دے، د هغوي کوې نښه دا ده: ﴿أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ سختې کونکې دې په کافرانو باندې، او رحم کونکې دې په خپل مينځ کښې" په يَو بل باندې نهايت مهربان دې، کافرانو باندې نهايت سختې کونکې دې، دا د مؤمنانو صفت دے. او دغه وجه ده چې دا سبب دے د ايمان، او بيا سبب دے د دننه کيدو د جنت، «وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا» "تاسو تر هغه وخته پورې کامل ايمان والا نۀ شئ کيدلے تر څو چې تاسو د يَو بل سره مينه او محبت نۀ وي شروع کړے".

نبي کريم ﷺ فرمائي: آيا تاسو ته داسې يَو کار نۀ ښايم، يَو داسې خبره درته نۀ ښايم، کله چې تاسو په هغې باندې عمل شروع کړئ، نو ستاسو مينځ کښې به مينه او محبت راشي.

معلومه شوه، چې مينه ددې د راتلو هم څۀ اسباب شته، او د مينې د ختميدو هم

---

(1) [سورة الفتح: 29].

څه اسباب شته. ډیر خلق داسې شته چې هغوي وائي: یره جي! مونږ له څۀ وظیفه راکړئ چې زمونږ په مینځ کښې مینه او محبت پیدا شي، ترونه دي، تربوران دي، یو بل سره نالکي ده، خفګان دے، په کور کښې یو بل سره وُرانه دي، داسې یو وظیفه مونږ ته اُوښایئ چې دا وُرانې او خفګان ختم شي.

د ټولو نه بهترین علاج دغه محبت او د مینې دپاره څۀ شے دے؟ نو سلام عام کول دي. نبي ﷺ فرمائي: «أَوَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ».(1)

آیا تاسو ته داسې یو کار نه ښایم چې کله تاسو هغه اُوکړئ نو ستاسو مینځ کښې به مینه او محبت پیدا شي، هغه دا دے: چې سلام په خپل مینځ کښې عام کړئ سلام خور کړئ یو بل باندې سلامونه اچوئ نو ستاسو به یو بل سره مینه او محبت سیوا کیږي، او که یو بل سره سلام کلام نۀ کوئ، نو ستاسو یو بل سره مینه نۀ شي راتللے.

د محبت دپاره لوې شے سلام کلام دے، او د وُرانې دپاره هم دا دے. خلق وائي: دي فلانکي سره ولې خبرې نۀ کوې، وائي: دے په لاره ځي هډو سلام نۀ اچوي. نو که چرې دے سلام کوي نو هغه به ورسره هم مینه کوي. د محبت د زیاتیدو دپاره د محبت د راتلو دپاره بهترین شے هغه سلام عام کول دي. «أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ» "سلام په خپل مینځ کښې عام کړئ".

د سیدنا عبد الله بن سلام ﷺ روایت

یو روایت کښې راځي، سیدنا عبد الله بن سلام ﷺ ذکر کوي، وائي: زۀ چې وړومبے وړومبے نبي ﷺ ته راغلم، نو نبي ﷺ تقریر کولو، صحابه کرامو ته فرمائي: «یا

(1) [رواه مسلم، رقم: (54)، واللفظ له، وأبو داود، رقم: (5193)، وابن ماجة، رقم: (68، و3692)].

أَيُّهَا النَّاسُ، أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِسَلَامٍ».[1]

ترجمه وتشريح: اے خلقو! خپل مينځ کښې سلام عام کړئ، سلام اچوئ، ډوډئ ورکوئ يَو بل ته، طعامونه ورکوئ، خپلو خپلوانو سره خپلولي پالئ، يَو بل سره مينه او محبت کوئ ... «وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ» "او مونځ کوئ چې خلق اُودۀ وي، کله چې شپه ده خلق اُودۀ دي، پيشمنې کښې پاسيږئ، الله ته اُودريږئ، او مونځ کوئ"، «تَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِسَلَامٍ» "کله چې پدې کارونو مو عمل شروع کړو، نو جنت ته به داخل شئ په سلامتيا سره".

څلور کارونه دې اُوکړل، نو جنت ته به دننه شئ: (1) يَو سلام عام کړئ، (2) دويم خلقو له ډوډئ ورکوئ، کۀ مالدار وي کۀ غريب وي خواته دې راشي، نو ډوډئ ورله ورکړه، (3) يَو بل سره خپلولي پالئ، غم ښادې کوئ، لين دَين کوئ، (4) څلورم د شپې نوافل کوئ، تهجد کوئ. جنت ته به په اَمن او سلامتيا باندې دننه شئ. نو الله تعالى به جنتيان جنت ته په سلامتيا سره دننه کوي؛ ځکه دا د جنتيانو يَو بل ته تُحفه ده ﴿وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ﴾.[2]

"د جنتيانو پيشکشې او ډالئ به پدې جنت کښې يَو بل ته سلام سلام وي".

يَو معنٰى خو دا ده. علماء کرام ذکر کوي: د الله د طرف نه به دوي ته پيشکشې او ډالئ هغه سلام وي. الله تعالى به پرې سلامونه راليږي. يا فرشتې به پدې جنتيانو سلامونه وائي، يا دا معنٰى هم ده: چې خپله به يَو بل باندې سلامونه اچوي.

نو دا ئې ولې اُووئيل؟ نو اصل کښې مفسرين ذکر کوي: چې قاعده او قانون دا دے: چې يَو دوست د بل دوست خواله ځي، نو ځان سره لاس کښې څۀ شے واخلي،

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2485)].

(2) [سورة يونس: 10، إبراهيم: 23].

چې دا به هغهٔ له يَوسم، او کوشش کوې چې د خپل وطن نه د خپل ملک نه هغه شے خپل دوست له د ځان سره يَوسې چې د هغهٔ کلي کښې هغه نهٔ ميلاويږي، لکه د سوات، دير، باجوړ خلق چې راځي، نو ځان سره اکوړ راوړې؛ ځکه دلته د هغي اُوني نشته، او دلته نهٔ چې کوم خلق هلته ځي نو د ځان سره پلي يَوسې، بل شے يَوسې، نو هلته ددې پلو نه ګران ګران څيزونه شته خو دا پلې هلته نهٔ ميلاويږي. نو جنتيان به هم دغه شان د يَو بل ملاقات له ځي، نو د ځان سره به څهٔ اُوړې، نو داسې خو څهٔ شے نشته چې د يَو جنتي سره دي وي او د بل سره دي نهٔ وي، او کهٔ داسې کوې چې دے ورته څهٔ شے اُوړې، او هغه د هغهٔ سره شته نو ددې څهٔ مطلب دے؟ دا خو هسې هم د هغهٔ سره شته.

مثلًا: دوه ملګرې دي، د هغوي دواړو د خټکو باغونه دي، يا د هندوانو باغونو دي، يا مثلًا بل څهٔ دي، او د يَو بل ملاقات له ځي، او دے ځان سره خټکي واخلي، نو هلته خو د هغهٔ خپل باغ ډک دے، نو تهٔ د دلته نه څهٔ شي له خټکي اُوړې، يا هغهٔ ئې تاله راوړې، نو ستا خپل باغ ډک دے، نو هغه ئې تا له څهٔ له راوړې؟

نو جنتيان چې د يَو بل سره ځي، او د بل شي ډالئ اُوړي نو هغه خو پهٔ جنت کښې د هر يَو سره شته، داسې به نهٔ وي چې د يَو جنتي پهٔ زړهٔ کښې به څهٔ اَرمان باتې وي، داسې به نهٔ وي چې د يَو سره به يَو نعمت ميلاويږي، او د بل سره به خلاص شوے وي، نهٔ به ميلاوېږې. نو يَو جنتي چې د بل خواته ځي، نو وائي: څهٔ يَوسم؟ نو وائي: راځئ چې يَو بل له تُحفه او ډالئ يَوسو، نو تُحفه د څهٔ شي ده؟ تُحفه دا ده "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" بس دا لُويه تُحفه او ډالئ ده، چې هميشه دي پهٔ تا باندې سلامتيا وي، او هميشه دي تهٔ پهٔ اَمن باندې ئې. نو دا د جنتيانو يَو بل ته تُحفه او ډالئ ده، او دا د مسلمانانو تُحفه او ډالئ ده يَو بل ته پهٔ دُنيا کښې «أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ» سلام عام کړئ.

د طفيل بن أُبيّ بن كعب ﷺ روايت

طفيل بن أُبيّ بن كعب ﷺ وائي: چې زۀ به عبد الله بن عمر ﷺ خواته راتلمه، کله چې به د هغۀ خواته راغلم، نو هغۀ به زۀ سحر وختې ځان سره بازار ته بوتلم، نو وائي: کله چې به زۀ د هغۀ سره بازار ته لاړم، نو «لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى سَقَّاطٍ وَلاَ عَلَى صَاحِبِ بَيْعَةٍ وَلاَ مِسْكِينٍ وَلاَ أَحَدٍ إِلاَّ سَلَّمَ عَلَيْهِ».[1]

"نو چې چا سره به میلاویدو نو هغۀ ته به ئې سلام کولو".

پۀ لاره چې ځې او څوک هم مخې له درځې، مالدار وي، کۀ غریب وي، بوډا وي، او کۀ ځوان وي، ټولو ته وایه: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" خومره نیکۍ به دي کټلې وي، چې د کلې بل سر ته رسیږې، او هغه به درته وائي: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" نو څومره دُعاګانې تاته پۀ لږ وخت کښې جمع شوې، نو چې "خیر راغلے" وائې، نو "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" وایه. نو دغه عبد الله بن عمر ﷺ به سحر بازار ته لاړو تر مازیګره پورې به بازار کښې ګرځیدو، څوک چې به ورسره میلاویدو نو هغۀ ته به وئیل: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" دغه طفیل ﷺ وائي: يَو ورځ راغلم د عبد الله بن عمر ﷺ خواته نو وائي: ما ته وائي: چې راځه چې ځو بازار ته، نو وائي: ما ترې يَو ورځ تپوس اُوکړو، چې کله زۀ ستا خواته راشم، ځان سره مې ملګرے کړې، او بازار ته مې بوځې، حالانکه بازار ته تلل خو ښه خبره نۀ ده، جائز دي خو تقوٰی خو دا ده: چې سړے د بازار د تلو نه ځان اُوساتي؛ ځکه «وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا».[2]

"پۀ تمامو ښارونو او زمکو کښې ناخوښه زمکه الله ته دبازارونو زمکه ده"؛ ځکه ګناهونه پکښې زیات کیږي، فحاشې، عُریانې او دهوکې پکښې زیاتې

(1) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (8411)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (671)].

کېږي، دروغ پکښې ډېر وي. نو وائي: ما ورته اووئيل: چې ته په ما باندې څه کوې، چې ما بازار ته بوځې او خپله هم بازار ته روزانه روان ئې، او څه اَخلې هم نه؟ خو بس نيغ روان ئې، او "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" وائې، نور خو ته څه کار بازار کښې نه کوې.

نو وائي: ما ته ئې اووئيل: چې «يَا أَبَا بَطْنٍ» دا طفيل چې وو دده لږه غوندې خيټه لويه وه وائي: «يَا أَبَا بَطْنٍ» مونږ چې بازار ته سحر وختې ځو، نو «مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ» "مونږ د سلام دپاره ځو"، چې بازار کښې خلق ډېر دے، نو «نُسَلِّمُ عَلَى مَنْ لَقِينَاهُ» "چا سره چې مونږ ميلاوېږو نو په هغوي مونږ سلام اچوو ددې دپاره ځو".[1]

دا يَو قسم تَحيه او دُعا ده، نو مونږ ددې دپاره ځو، چې خلقو باندې سلامونه واچوو، مونږ خو هسې بازار کښې نه گرځو. نو سلام اچول دا د مسلمان شِعار دے، او دا د مسلمان نښه ده.

آداب د سلام او د هغې د کولو طريقه

سلام به څنګه اچوو، طريقه ئې څنګه ده؟ اکثر خلق چې سلام اچوي، نو هغه ترينه خِيرې جوړ کړي، هغه وائي: "السَّامُ عَلَيْكُمْ"، نبي ﷺ ته يهود راغلل، او قصدًا عمدًا ئې دا اُووئيل: "السَّامُ عَلَيْكَ" نو نبي ﷺ ورته اووئيل: "وَعَلَيْكُمْ"، سيده عائشې صديقې ﷞ چې واوريدل، نو بس په کنځلو باندې شوه، او په خِيرو باندې شوه، يهودو ته، نبي ﷺ ورته وائي: عائشې چپ شه، کنځلې او ردې بدې مه وايه، نو عائشه ﷞ نبي ﷺ ته فرمائي: د الله پيغمبره تا د يهودو دا سلام وانوريدو؟ دوي خو تا ته خِيرې اُوکړې؛ څکه "سام" مرض ته وئيلے کيږي، او دا رنګې مرګ ته هم وئيلے کيږي، "السَّامُ عَلَيْک" معنی دا ده: "الله دې په تا باندې مرګ راولې"، يعنې

(1) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (8411)].

الله دي مرۀ کړه. نو نبي ﷺ ته فرمائي: دا خو تا ته خيرې کوي؟ نو نبي ﷺ ورته اُوفرمائيل: د دوي هغه خيرې دي واوريدې او زما هغه جواب دي وانوريدو، نو وائي: څنګه؟ نو وائي: چې کله هغوي ما ته اُووئيل: چې "السَّامُ عَلَيْكَ"، نو ما ورته اُووئيل: "وَعَلَيْكُمْ"، بس خبره ختمه شوه، ما د هغې جواب ورکړو، او تا ته پته نشته عائشې، چې هغوي زما دپاره کومې خيرې کوې نو الله ئې نۀ قبلوې، او زما خيرې الله قبلوې، نو هغوي چې ما ته اووئيل: چې الله دي مرۀ کړه، نو هغه نۀ قبليږي، او چې ما اووئيل: چې الله مو مرۀ کړه، نو هغه به خامخا قبليږي.[1]

نو بعضې خلق چې هغوي ميلاويږي، نو وائي: "السَّامُ عَلَيْک" کله چې وائي: "السَّامُ عَلَيْک" تلوار ډيره مۀ کوه "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" وايه.

اول صرف سلام دغه دے، چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" بيا بهتر سلام دا دے: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ"، او چې چا باندې دي سلام واچولو، هغۀ له پکار دي چې جواب درکړي، "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" بعضې خلق وائي: "وَالَيْكُمُ السَّلَامُ" نو د "وَالَيْكُمُ السَّلَامُ" خو څۀ معنى پاتې نۀ شوه. دا دے: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" نو دوي ترينه "عين" ختم کړي، او وائي: "وَالَيْكُمُ السَّلَامُ".

او "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" دے، نو بعضې خلق وائي: "السَّلَامَا لَيْكُمْ" "عين" ترينه ختم کړي، هسې ځان ستړے کوي.

"السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" نو پۀ جواب کښې "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" او بهتره دا ده: چې څوک سلام اچوي چې "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ" اُووائي، او جواب ورکونکے اُووائي: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" يو تکے د هغې نه سيوا اُووائي، کنې کم از کم د هغې جواب خو دي ورکړي.

(1) [رواه البخاري، رقم: (6030، و6401)].

د عمران بن حصين ﷺ روایت

عمران بن حصين ﷺ وائي: يَو سړے د نبي ﷺ خواته راغلو، او نبي ﷺ ته وائي: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ"، نبي ﷺ اُوفرمائيل: «وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ»، هغه سړے كيناستو، نبي ﷺ اُوفرمائيل: «عَشْرٌ»، دهٔ لس (10) نيكئ اُوكتلې؛ ځكه صرف "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" ئې اُووئيل، بل سړے راغلے، هغهٔ اووئيل: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ" نبي ﷺ هغهٔ ته هم د سلام جواب ورکړو، هغه سړے هم كيناسو، نبي ﷺ اُوفرمائيل: «عِشْرُوْنَ»، دهٔ شَل (20) نيكئ اُوكتلې؛ ځكه دهٔ ورسره "وَرَحْمَةُ اللهِ" سيوا كړو، بل سړے راغلے، هغهٔ اُووئيل: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ" پوره سلام ئې اُووئيلو، هغه هم كيناستو، نبي ﷺ د سلام جواب ورکړو، بيا ئې اُوفرمائيل: «ثَلَاثُوْنَ»، دهٔ دِيرش (30) نيكئ اُوكتلې؛ ځكه دهٔ درې واړه الفاظ اووئيل، "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ".[1]

داسې سلام چې دے اُووئيلو نو دِيرش (30) نيكئ درته ميلاوٗ شوې. نو چې څومره يَو سړے د نيكو خواهش كوې نو مكمل سلام دې كوې.

د سيده عائشې ﷺ روايت

يَو حديث كښې راځي، سيده عائشه ﷺ فرمائي: چې نبي كريم ﷺ ماته اُوفرمائيل: چې اے عائشې رضي الله عنه! «هَذَا جِبْرِيلُ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ» "عائشې! جبرئيل ﷺ راغلے دے، دا دې ولاړ دے او پهٔ تا باندې سلام وائي"، جبرئيل ﷺ فرمائي: چې زما سلام عائشې ﷺ ته اُوايه، سيده عائشه ﷺ فرمائي: «وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ» "پهٔ

---

[1] [رواه الترمذي، رقم: (2689)، وأبو داود، رقم: (5195)].

جبرئيل ﷺ دي سلام وي، د الله رحمتونه دي وي، او د الله برکتونه دي وي".[1]

او دا وو عظمت د سیده عائشې ﷺ چې جبرئیل ﷺ هغې ته سلام کړے وو، او دا رنګې د نبي ﷺ هغه بي بي اُمّ المؤمنین سیده خدیجة الکبری ﷺ د نبي ﷺ اوله بي بي وه، نبي ﷺ به غارِ حرا کښې ناست وو، او د الله پاک عبادت به ئې کولو، سیده خدیجې ﷺ به نبي ﷺ ته غار ته ډوډئ راوړه، یَو ځل سیده خدیجه ﷺ راروانه وه، نبي ﷺ له ئې ډوډئ راوړه، جبرئیل امین ﷺ راغلے، او نبي ﷺ ته وائي: چې خدیجه ﷺ راروانه ده، ستا خو اله راځي، زما سلام په هغې اُورولیه، «وَبَشِّرْهَا بِبَیْتٍ فِي الْجَنَّةِ» "او هغې ته زیرے ورکړه چې الله به هغې له په جنت کښې بنګله ورکوي".[2]

جبریل ﷺ سیده خدیجې ﷺ باندې هم سلام وئیلو؛ ځکه دا دوه بِیبیاَني د نبي ﷺ په بِیبیاَنو کښې لُوې مقام والا وي. سیده خدیجة الکبری ﷺ او سیده عائشه ﷺ نبي خو به ظاهرًا فرق نهٔ کولو، نبي ﷺ خو به ظاهرًا تولو ته یَو شان کتل، خو د زړهٔ محبت خو جُدا شے دے، نو د نبي ﷺ د زړهٔ محبت هم د دې دواړو سره زیات وو.

اَوله بي بي خو د سختئ او د تکلیف بي بي وه، ړومبئ بي بي وه سیده خدیجة الکبری ﷺ د هغې په ژوند نبي ﷺ بلې بي بي سره نکاح نهٔ وه کړې.

او دویمه بي بي سیده عائشه ﷺ وه چې د هغې تصویر جبرئیل ﷺ د ریښمو په کپړه کښې بند کړے وو، او نبي ﷺ ته ئې راوړے وو، چې دا به ستا بي بي وي، او الله به ئې تاته په نکاح باندې درکوي.

نو بهر حال سلام چې څوک کوي، نو د هغې پوره جواب ورکول او سلام هم پوره وئیل پکار دي.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (3217، و6249)، ومسلم، رقم: (2447)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (3820)، ومسلم: رقم: (2432)].

نو د سلام آداب دا دي: سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ وئيلي دي: «يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى المَاشِي» "کوم سړے چې په سورلۍ باندې سور دے، نو سورلۍ والا" به پيدل تلونکي باندې سلام اچوي"، مثلًا: يَو سړے په سائيکل يا موټر سائيکل هر شي باندې چې روان دے نو دے به پيدل تلونکي باندې سلام اچوي، «وَالمَاشِي عَلَى القَاعِدِ» "کوم سړے چې روان دے هغه به په ناست سړي باندې سلام اچوي". [1]

او علامه آلوسي خپل تفسير روح المعاني کښې وائي: چې کوم سړے ملاست يا ناست وي، نو راتلونکے به په دوي باندې سلام اچوي، يا دغه شان يَو ډله راروانه ده، په هغې کښې لږ کسان دي، بله ډله کښې زيات کسان دي، نو دا لږ کسان به په هغه ډيرو کسانو سلام څکښې اچوي، دا اَدب دے. او که داسې نۀ وي او ډيرو کسانو په لږو کسانو باندې سلام واچولو نو ثواب به ورته ورکولے شي.

بل دا چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: يَو روايت کښې راځي چې کشر له پکار دي چې په مَشر باندې سلام واچوي، او کچرې داسې اُوشول چې دا کشر سلام نۀ اَچوي نو دا مَشر له پکار دي چې سلام پرې واچوي. [2]

"بَابُ السَّلَامِ عَلَى الصِّبْيَانِ" محدثين باب قائموي، نبي ﷺ په ماشومانو باندې هم سلامونه اچولي دي، ماشوم ته به هم سلام کوئ.

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللهِ مَنْ بَدَأَهُمْ بِالسَّلَامِ». [3]

سيدنا ابو اُمامه ﷺ ذکر کوي چې نبي ﷺ فرمائي: چې الله ته ډير محبوب سړے هغه دے چې هغه په سلام کښې څکښې شو په بل مسلمان باندې.

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (6232، و6233)، ومسلم، رقم: (2160)، والترمذي، رقم: (2703)].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6231، و6234)، والترمذي، رقم: (2704)، وأبو داود، رقم: (5198)].

(3) [رواه أبو داود، رقم: (5197)].

يَو حديث كښې راځي چې «اَلْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيءٌ مِنَ الْكِبْرِ».[1]

"کوم سړے چې ابتداء او شروع كول يعني مخكښې والے كوي په سلام كښې نو هغه د تڪبر نه بيزاره دے"، كو شش كوئ چې په سلام كښې په يَو بل باندې مخكښې شئ. اُوس خو خلق وائي: كۀ هغه سلام اُوكړو خو زۀ به جواب ورکړم، او كۀ سلام ئې اُونۀ كړو، پس پريدوه ئې. يَو بل سره خوا كښې تير شي. پدې باندې د سړي مرتبه كميږي نه، بلكه پدې باندې د سړي مقام او مرتبه اوچتيږي، چې سړے يَو بل ته سلام كوي، نو كوشش دې اُوكړي چې يَو بل باندې په سلام اچولو كښې مقدم شي.

حديث كښې راځي، چې نبي ﷺ باندې په سلام اچولو كښې څوك نۀ دې مخكښې شوي؛ ځكه چې څوك به هم نبي ﷺ ته مخې له راغلے د لرې نه به نبي ﷺ هغۀ ته مُسكے شو، او سلام به ئې ورباندې واچولو، نو چې څوك درله مخې له راځي، نو كوشش كوه چې په تا مخكښې نۀ شي تۀ پرې سلام واچوه.

يَو روايت كښې راځي، نبي ﷺ فرمائي: چې كله په تاسو كښې يَو سړے د خپل مسلمان وُرور سره ميلاؤ شي نو «فَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ» "نو سلام پرې واچوه"، «فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ» په لاره روان وي او "مخې له اُونۀ راغله" دا يَو كس د اُونې په يَو طرف لاړو او دا بل كس د اُونې په بل طرف لاړو، مينځ كښې د اُونې پرده راغله، معمولي غوندې جُدائي راغله، خو چې بيا ميلاؤ شي بيا دې سلام واچوي.[2]

نو سلام له دومره اهتمام ورکړئ، چې مينځ كښې اُونۀ يا ديوال راشي او بيا يَو بل سره ميلاؤ شي، بيا سلام اُوكړئ.

---

(1) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (8407)].

(2) [رواه أبو داود، رقم: (5200)].

د صحابي نبي ﷺ ته لږ وخت درې کرتې سلام کول او د هغوي جواب ورکول

يَو حديث کښې راځي، نبي ﷺ جومات کښې ناست وو، يَو صحابي راغے، او نيت ئې اوتړلو، مونځ ئې اُوکړو، خو ډير په تلوار ئې اُوکړو، د رکوع او سجدې وغيره خيال ئې اُونۀ ساتلو، د قراءت خيال ئې اُونۀ ساتلو، نو د نبي ﷺ خواته راغے، او وائي: "السَّلاَمُ عَلَيْكَ"، نبي ﷺ ورته اُوفرمائيل: «وَعَلَيْكَ السَّلاَمُ، ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ» نبي ﷺ جواب ورکړو، او ورته وائي: "ورشه مونځ اُوکړه، ستا مونځ نۀ دے شوے"، نو هغه صحابي بيا راغے، او مونځ ئې اُوکړو، نو بيا د نبي ﷺ خواته راغے، نبي ﷺ جومات کښې ناست دے، بيا ورغلو، وائي: "السَّلاَمُ عَلَيْكَ"، نبي ﷺ ورته اُوفرمائيل: «وَعَلَيْكَ السَّلاَمُ، ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ»، په دريم ځل باندې بيا مونځ اُوکړو، بيا راغے، سلام ئې اُوکړو، بيا ورته نبي ﷺ وائي: "ورشه مونځ اوکړه ستا مونځ نۀ دے شوے". درې ځلې هغه صحابي راځي، او نبي ﷺ ئې واپس کوې، چې مونځ اُوکړه ستا مونځ نۀ دے شوے.[1]

اوس اهمه خبره دا ده، چې د نبي ﷺ مسجد به څومره وو؟ خو په يو ځائے کښې به نبي ﷺ ناست وو، او بل ځائے کښې به هغه صحابي ولاړ وو، او ددې ځائے نه ځي، او بل ځائے ته کيږي، او سلام اچوي، او نبي ﷺ «وَعَلَيْكَ السَّلاَمُ» وائي.

ددې وجې نه سنت طريقه دا ده، چې يَو سړے خپل کور ته هم ځي، چې هغه سلام کوي، مونږ خو پدې باندې شرميږو.

ماشومان چې د سکول نه راشي، نو هغوي سلام اچوي، خو هغوي هم صرف دغه زده کړي دي چې سکول نه راشي او کور ته دننه شي نو سلام به کوي، او چې توله ورځ بهر کيږي، او دننه کيږي، نو سلام نشته، دا خو څۀ لازمي نۀ ده، چې صرف

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (6251)].

د سکول نه راشي، نو سلام به کوي، او چې د پټي نه راشي نو سلام به نهٔ کوي، پهٔ هر حال کښې سلام پکار دے.

ددې وجې نه سيدنا أنس ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي وو: «يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ».[1]

"تهٔ چې کله کور ته دننه شې نو کور والو بانديې سلام واچوه، د الله برکت به وي پهٔ تا بانديې او ستا پهٔ کور والو بانديې". پهٔ خپلې بي بي بانديې به هم سلام اچوې، بعضې خبرې داسې وي چې هغه مونږ پهٔ ځان بانديې د پښتو د وجې نه بنديې کړې دي، ددين کارونه مو پهٔ ځان بانديې بند کړي وي، سلام چې دے دا پهٔ خپله بي بي بانديې هم اچولے شې. د دُنيا خبرې ورسره کولے شې، او د دين خبرې ورسره نهٔ شې کولے؟ چې کور ته دننه شې نو پهٔ خپلې بي بي سلام واچوه "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ".

او بل دا چې پهٔ يَو کس بانديې هم سلام اچوې، نو "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" د جمع صيغه وايه، (1) د اَدب د وجې نه، (2) او دويم دا چې فرشتې وي د دغه انسان سره نو هغه هم پکښې راغلې "عَلَيْكُمْ" د جمع صيغه ده. پهٔ خپلې بي بي سلام اچوه، پهٔ خپلو خويندو سلام اچوه، پهٔ خپلو خپلوانو چې کومې محرم زنانه دي چې تا سره ئې نکاح نهٔ کيږي، پهٔ هغوي بانديې هم سلام اچوه.

تَر دې پورې، چې حديث کښې راځي، چې بوډئ ګانې زنانه اګر کهٔ پردئ دي، خو هغه زنانه چې د ډير بوډئ والي د وجې نه ستر او پرده نهٔ کوي، پهٔ هغوي هم سلام اچولے شي، خو چې بوډئ ګانې وي، ځوانو جينکو بانديې به سلام نهٔ اچوې، پردو ښځو بانديې به سلام نهٔ اچوې، چې ځوانې وي، خو چې بوډئ وي، نو پهٔ هغوي بانديې

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2698)].

سلام اچولے شي. باقي باتي خبلي زنانه چې ستا محرمې زنانه دي، ستا ورسره نکاح نۀ کیږي، نو سلام پرې اچولے شي، باتې خپله بي بي دہ، نو پۀ هغې باندې خو پۀ طریق اولی سلام آچولے شي، پۀ خپلو بچو او خبلې بي بي باندې سلام اچوہ.

بچو له دا آدب ورکړہ، زُوې له دا آدب ورکړہ، چې بهر ځي، او بیا راځي، نو سلام کوہ، سلام سره ډیر خیر او برکت کور کښې راځي.

سلام به پۀ چا باندې اچوې؟

بل دا چې سلام به پۀ چا باندې آچوې، او پۀ چا به سلام نۀ آچوې؟ دا آدب هم زده کول غواړي.

نو امام آلوسي رحمه الله پۀ تفسیر روح المعاني کښې دا پۀ اشعارو کښې ذکر کړې دي، چې سلام به پۀ چا باندې آچوې، او پۀ چا باندې به نۀ آچوې؟ نو امام آلوسي رحمه الله فرمائي:

سَلَامُكَ مَكْرُوْهٌ عَلٰى مَنْ سَتَسْمَعُ ... وَمِنْ بَعْدِ مَا أُبْدِي يُسَنُّ وَيُشْرَعُ

ترجمه: وائي: ستا سلام مکروه دے پۀ هغه چا چې اُوس به ئې ته واورې، او ددې نه سیوا پۀ نورو خلقو باندې سلام سنت او جائز دے، سلام اچوہ.

مُصَلٍّ وَتَالٍ ذَاكِرٍ وَمُحَدِّثٍ ... خَطِيْبٍ وَمَنْ يُصْغِيْ إِلَيْهِمْ وَيَسْمَعُ

ترجمه وتشریح: مونځ گزار باندې به سلام نۀ اچوې، یَو سړے مانځۀ باندې ولاړ دے، سلام پرې مۀ اچوہ؛ ځکه هغۀ خو مونځ کوي د الله پۀ عبادت کښې مشغول دے، یَو سړے د قرآن کریم تلاوت کوي، نو هغۀ باندې سلام مۀ اچوہ، یَو سړے د الله پاک ذکر کوي، نو هغۀ باندې سلام مۀ اچوہ، یَو سړے دے حدیث خلقو ته لُولي نو پۀ هغۀ باندې سلام مۀ اچوہ، درس کوي تدریس کوي نو پۀ هغۀ باندې سلام مۀ اچوہ.

بعض جاهلان جماعت ته راذننه شي بیان به شروع وي، او دے به وائي: "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" دا د سلامونو وخت نۀ دے، بیان ته غوږ کیده. نو چې سلام سنت دے، سلام

به نهٔ اچوي، نو لاس خو به په طريقِ أولیٰ نهٔ ميلاويږي. نو بعضې خلق د بيان په شروع کښې پاسي، نو يَو بل سره غاړه ميلاووي، ميلمه به راشي، نو د هغهٔ سره به لاسونه ميلاووي، دا درته چا وئيلي دي؟ کهٔ عالم هم راشي نو لاس به نهٔ ميلاووئ، بيان شروع دے بيان ته به متوجې کيږي، دے به د بيان نه پاسي او عالم ته به متوجې شي، عالم راغے لار ورته پريده، دننه به په خپله راځي، تهٔ به هغه وخت کښې لاسونه نهٔ ميلاووې، بيان ته به متوجې کيږې، تهٔ د الله کتاب آورې، ددي نه به بل خوا توجه نهٔ اړوې. نو يَو سړے مونځ کوې، تلاوت کوې، ذکر کوې، حديث لولې، نو سلام به پرې نهٔ اچوې، او چې هغهٔ ته ئې غوږ کيښودے وي، هغهٔ باندې به هم سلام نهٔ اچوې.

مُكَرِّرِ فِقْهٍ جَالِسٍ لِقَضَائِهِ ... وَمَنْ بَحَثُوا فِي الْفِقْهِ دَعْهُمْ لِيَنْفَعُوا

ترجمه وتشريح: سړے دے فقه ځان له يادوې، د فقهې کتاب زده کوې، سبق وائي، دا رنګې يَو سړے قاضي صاحب دے چې هغهٔ د خپلې فيصلې دپاره ناست دے خلقو له فيصلې کوي، په يَو لويه فيصله کښې آنختے دے فيصله کوې، په هغهٔ باندې سلامونه مهٔ اچوه. کوم کسان د فقهې کتاب لولې، بحث کوې، د فقهې مسائل چيړې هغوي باندې سلامونه مهٔ اچوه، هغوي پريدوه چې يَو بل ته څهٔ فائده اُورسوې، او چې تهٔ سلام اُوکړې، نو د هغوي د ذهن نه به هغه توله خبره بهر شي.

مُؤَذِّنٍ أَيْضًا أَوْ مُقِيمٍ مُدَرِّسٍ ... كَذَا الأَجْنَبِيَّاتُ الْفَتِيَّاتُ امْنَعْ

ترجمه وتشريح: وائي: يَو سړے چې آذان کوې، آذان شروع دے نو د آذان په وخت کښې پرې سلام مهٔ آچوه، يَو سړے إقامت کوې نو هغهٔ باندې دغه وخت کښې سلام مهٔ آچوه. يَو سړے درس او تدريس کوې نو په هغه باندې دغه وخت کښې سلام مهٔ اچوه، دا نهٔ چې هر وخت کښې پرې سلام مهٔ اچوه، بلکه د درس په وخت کښې پرې سلام مهٔ آچوه. دارنګې پردئ جينکئ ځوانانې په هغوي باندې سلام مهٔ آچوه، پردو زنانو

باندې سلامونه مهٔ اچوه.

وَلُعَّابُ شِطْرَنْجٍ وَشِبْهُ بِخُلْقِهِمْ ... وَمَنْ هُوَ مَعَ أَهْلٍ لَهُ يَتَمَتَّعُ

ترجمه وتشریح: کوم خلق چې لکیا دي، او جوارې کوي، او شطرنج باندې لوبې کوي، او څوک چې دغه شان نُور پهٔ غتو ګناهونو کښې اخته دي، فاسقان فاجران دي، نو پهٔ هغوي باندې سلام مهٔ اچوه. زجرًا د زُورنې د وجې نه پهٔ هغوي باندې سلام مهٔ اچوه. او کوم سړے چې خپلې بي بي سره خپلې محرمې زنانه سره خبرې کوي، ښځه او سړے خبرې کوي نو پهٔ هغوي سلام مهٔ اچوه.

وَدَعْ كَافِرًا أَيْضًا وَمَكْشُوفَ عَوْرَةٍ ... وَمَنْ هُوَ فِي حَالِ التَّغَوُّطِ أَشْنَعُ

ترجمه وتشریح: وائي: پریدوه کافر لره، کافر باندې به سلام نهٔ اچوې، نو دے خو چې د هندوانو او سیکهانو خواته لاړ شي، نو هغوي ته هم وائي: "السَّلَامُ عَلَيْكُم" هندوان او سیکهان خو کافران دي، پهٔ هندوانو او سیکهانو به سلامونه نهٔ اچوې، بس غلے دوکان ته دننه شه دوائي ترې راواخله. علاج ترې کول جائز دي، علاج ترې کولے شې، خو سلام به پرې نهٔ اچوې.

یَو سړي خپل عورت ښکاره کړے دے، سلام به پرې نهٔ اچوې. څهٔ معنی؟ وړو بولو ته ناست دے، یا اِستنجا کوي، یا لامبي. پهٔ داسې خلقو به سلام نهٔ اچوې؛ ځکه د هغهٔ عورت ښکاره دے، نو داسې خلقو خواته مهٔ ځه، سلام پرې مهٔ اچوه.

یَو سړے لُویُو بولو ته ناست دے، پهٔ هغهٔ خو سلام ډیره بده خبره ده، ډیر ناروا دي. بعضې خلق وي چې هغوي کله واړهٔ بول اُوکړي، نو پهٔ لار به رازوان وي، او خبرې به هم کوي، نو چې سلام پرې منع دے، نو خبرې هم منع دي، نو چې اَودس ماتے دي اُوکړو، نو اَرخ ته اُودیږه، صحیح طریقې سره اَودس اُوچ کړه، او بیا راروان شه.

وَدَعْ آكِلاً إِلاَّ إِذَا كُنْتَ جَائِعًا ... وَتَعْلَمُ مِنْهُ أَنَّهُ لَيْسَ يَمْنَعُ

ترجمه وتشريح: يَو چې ډوډۍ خوري په هغه باندې سلام مه اَچوه. هان! كه ته اُوږے ئې، نو بيا پرې سلام واچوه، خو پدې شرط چې تاته پته وي، چې دے خلقو له ډوډۍ وركوي، شوم او بخيل نه دے.

اُوس كه يَو سړے داسې دے چې ته پرې سلام هم واچوې، او هغه وائي: "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ"، او د ډوډۍ سَت ئې درته ونكړو، نو سلام پرې مه اچوه، هله به پرې سلام اَچوې، چې ته اُوږے ئې، او ستا زړه غواړي، چې زه سلام اُوكړم، نو دے به ماته د ډوډۍ سَت اُوكړي، نو سلام پرې واچوه، چې د ډوډۍ سَت درته اُوكړي، نو ورشه ورسره كينه، او كه اُوږے نه ئې، نو په ډوډۍ خوړونكي سلام مه اَچوه.

كَذَلِكَ أُسْتَاذٌ مُغَنٍّ مُطَيِّرٌ ... فَهَذَا خِتَامٌ وَالزِّيَادَةُ تَنْفَعُ

ترجمه: دغه رنگې اُستاذ د رباب، او تنگ تكور غږونكے او كونترې او مرزان لُوبونكے، دا اختتام دے او زيات فائده وركوى.[1]

دا څو ځايونه دي، چې پدې كښې سلام اچول منع دي، جومات ته راځي نو جومات كښې سلام اچولے شي، خو پدې طريقه او پدې شرط باندې چې سلام به غلے غوندې اچوي، چې ستا خوا كښې څوك وي، چې هغه ئې واوري، مونځ كونكي په مونځ كښې كډوډ نه شي، تلاوت كونكے په تلاوت كښې كډوډ نه شي. دا رنگې يَو سړے چې جومات ته راغے، او اَودس كوي نو علماء كرامو ذكر كړي دي، فتاوى رحيميه ذكر كړي دي: چې اَودس كونكے، چار اَندام كونكے هغه باندې هم سلام اَچول مناسب نه دي؛ ځكه هغه هم يَو قسم عبادت كښې مُبتلا دے، نو چې هغه باندې سلام اچول مناسب نه دي نو بيا خبرې كول خو په طريقِ اَولىٰ نه

[1] [روح المعاني: 99/3، طبع دار الكتب العلمية - بيروت].

دي مناسب. نو داسې حالاتو کښې د دُنيا خبرې کول هم ګناه ده.

الله رب العزت دې مونږ او تاسو له د عمل کولو توفيق راکړې، او الله رب العزت دې دا سنت طريقه زمونږ او ستاسو په عمل کښې راولي؛ ځکه دا خو مونږ منو چې سنت طريقه ده، خو ډير خلق اول سلام نه اَچوي، او که سلام آچوي نو سلام ئې غلط وي. او بعضې خلق که ته په هغوي سلام واچوې، نو هم تاله د سلام جواب نه درکوي، بلکه هغه به وائي: "پخير راغلې"، نو چې څوک درته سلام کوي "اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ"، نو ته ورته "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" وايه، "پخير راغلې" که ورستو وائې نو بيا ورستو ئې وايه؛ ځکه د سلام جواب "خير راغلے" نه دے، بلکه "وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ" دے. الله دې د صحيح عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ

(سورة العصر: 1-3)

موضوع

دَ کامیابۍ لار

بتاریخ: 2006-03-31

بمقام: جلسۍ

خطیب

فصیح اللسان لذیذ البیان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د کامیابۍ لار

اَلْحَمْدُ لله نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّآتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهٗ وَلَا آخِرَ لَهٗ لَا ضِدَّ لَهٗ وَلَا نِدَّ لَهٗ وَلَا مُمِدَّ لَهٗ وَلَا بَشِيْرَ لَهٗ وَلَا نَذِيْرَ لَهٗ وَلَا وَزِيْرَ لَهٗ وَلَا مُشِيْرَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحَابِه وَسَلَّمَ عَبْدَهٗ وَرَسُوْلَهٗ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نِعْمَتَانِ مَغْبُوْنٌ فِيْهِمَا كَثِيْرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ».[2] (أو كما قال رسول الله ﷺ).

عزتمندو، مسلمانانو رونړو! ما ستاسو مخکښې د قرآن کريم نه يَو سورت اُولوستو، سورت العصر، او د احاديثو د رسول الله ﷺ نه ما يَو حديث عرض کړو. سورت عصر کښې الله رب العزت دا ذکر کوې، چې انسان په تاوان کښې دے، انسان تاواني دے، بيا د انسان د تاوان نه د بچ کيدو دپاره الله څلور اصول ذکر کوې، کجرې انسان په دې څلورو اُصولو باندې عمل اُوکړو، نو دا انسان د تاوان نه بچ دے. الله رب العزت فرمائي: ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ "شاهد دے مازيکر، يا زمانه

(1) [سورة العصر: 1-3].

(2) [رواه البخاري، رقم: (6412)، والترمذي، رقم: (2304)].

شاهد ده، چې انسان په تاوان کښې دے" د تاوان نه څوک بچ دے؟ ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ "مګر هغه خلق د تاوان نه بچ دي، چې هغوي ايمان راوړے او عمل صالح ئې کړے دے، يَو بل ته د حق بيان کوي، او يَو بل ته د صبر بيان کوي"، نو دا خلق د تاوان نه بچ دي. اصل کښې حقيقت دا دے، چې د انسان ګټه او تاوان هغه ديني لحاظ باندې دے. د دين ګټه او نقصان مراد دے، يعني دُنياوي او ظاهري لحاظ سره چې سرے سوچ اُوکړي، نو انسان خو تاوان نۀ دے کړے، خو کۀ د دين پۀ اعتبار سره سوچ اُوکړي، نو انسان تاوان کښې دے، ولې کله چې انسان پيدا کيدو، او دې دُنيا ته راتلو نو بربنډ راغلے وو، کله چې د دُنيا نه ځي نو ځان سره ئې کفن يَوړو، نو دۀ خو تاوان نۀ دے کړے، کله چې انسان دُنيا ته راتلو نو ماشوم راغلے وو، کله چې د دُنيا نه ځي نو لوي سړے تړې جوړ شوے دے، کله چې دُنيا ته راتلو نو ګنده راغلے وو، او کله چې د دُنيا نه ځي نو پاک ځي، چې د دُنيا نه ځي نو کفن ئې ځان سره يَوړو، خوشبو ئې ځان سره يَوړه، لوي سړے د دُنيا نه لاړو، نو تاوان ئې د کوم ځائے نه اُوکړو، دۀ خو ګټه اُوکړه؟ خو دا ګټه نۀ ده، اصل ګټه د آخرت ده، انسان چې پيدا شو، دے بالکل د ګناه نه پاک وو، دۀ سره يَو ګناه هم نۀ وه، اُوس دا سړے بوډا والې ته چې رسيدلے دے، او مړۀ کيږي، نو د ځان سره ئې د ګناهونو پنډونه يَوړل، دا د انسان تاوان دے، او کۀ د تاوان نه بچ کيږي؟ نو دا کوم څلور اُصول چې قرآن کريم ذکر کړې دي، پدې به بچ کيږي، پۀ بل شې باندې د تاوان نه نۀ شي بچ کيدے.

علماء کرام د دې آيت معاني کوي، الله رب العزت فرمائي: ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ "شاهد ده زمانه چې يقينًا انسان پۀ تاوان کښې دے". دا څومره زمانه چې د انسانانو تيره شوه، څومره انسانان چې دُنيا نه لاړل، دا څومره زمانه چې اُوشوه، دا ټوله

زمانه ددې خبرې ګواه ده، چې يقينًا انسان په تاوان کښې دے، انسانان خو دُنيا ته ډير زيات راغلي دي، مالدار مالدار خلق دُنيا ته راغلي دي، ليکن هغوي ته په مال باندې فائده نۀ ده ميلاؤ شوے. مال باندې سرے د الله د عذاب نه نۀ شي بچ کيدلے.

د قارون واقعه

قارون د دُنيا په اعتبار دومره لوې سرمايه دار وو، چې قرآن کريم کښې الله د هغۀ تذکره کوي: ﴿وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ﴾.[1]

الله وائي: "ما قارون له دومره مال ورکړے وو چې د هغۀ د مال خزانې به د يَو ځائے نه بل ځائے ته په اُوړلو باندې درنې وې، ليکن هغې مال د الله د عذاب نه بچ نۀ کړو". الله رب العزت فرمائي: ﴿فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ﴾.[2]

"ما قارون او د هغۀ کور په زمکه باندې اُومنډلو"، او د هغۀ هغه مال مې هم په زمکه کښې اُومنډلو، ډير مالدار انسان وو، ليکن الله وائي: سره د هغې مال نه مې دُنيا کښې تباه او برباد کړو، ژوندے مې زمکې کښې ښخ کړو، او هغې مال او دولت د الله د عذاب نه بچ نۀ کړو. دا خبره ياد ساتئ! چې دُنيا کښې خپل مال باندې دهوکه نۀ شئ، مال او دولت سړے د الله د عذاب نه نۀ شي خلاصولے، تاريخ پدې باندې ګواه دے.

(2) دويمه معنى: ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ "زمانه ګواه ده، چې انسان په تاوان کښې دے". سړے په بادشاهت باندې د الله د عذاب نه نۀ شي بچ کيدے، او که په بادشاهت باندې سړے خلاصيدے شوے، نو پکار دے چې هغوي بچ شوي وے.

---

(1) [سورة القصص: 76].

(2) [سورة القصص: 81].

د فرعون واقعه

فرعون دومره لوئے بادشاه وو، چې هغهٔ د خدايئ دعوی کړې وه، او فرعون وئيلې وو، چې ﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾.[1]

"زهٔ ستاسو هغه اُوچت رب يم، زما نه اُوچت رب ستاسو بل نشته"، ليکن فرعون سره ددې چې د خدايئ دعوی ئې هم کړې وه، او د ټول مصر خلق د هغهٔ منونکې وو، خو الله فرعون او د هغهٔ قوم ټول پهٔ درياب کښې تباه کړل، پهٔ خپله بادشاهئ باندې خلاص نهٔ شو.

د نمرود واقعه

نمرود بادشاه چې هغهٔ هم د خدايئ دعوی کړې وه، د ابراهيم ﷺ سره ئې مقابله راغله ابراهيم ﷺ ورته وائي: ﴿رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ﴾.[2]

ابراهيم ﷺ اووئيل: "زما رب هغه ذات دے چې هغه ژوندې کول او مړهٔ کول کوې"، نمرود اووئيل: دا کار خو زهٔ هم کولے شم. دومره سرکش وو، ليکن هغه نمرود بادشاه د يَو ماشې د وجې نه تباه او برباد شو، پهٔ بادشاهت دهوکه نهٔ شې.

پهٔ نسب سړے نهٔ خلاصيږي

کهٔ تهٔ وائې: چې زما پلار او زما نيکهٔ ښهٔ سړي تير شوې دې، او د هغوي پهٔ وجه به زهٔ د الله د عذاب نهٔ خلاص شم، نو د هغوي پهٔ وجه د الله د عذاب نه نهٔ شې خلاصيدے.

د نوح ﷺ د زوِې واقعه

نوح ﷺ پيغمبر دے، زوِې کافر دے، نوح ﷺ خپل زوِې د الله د عذاب نه نهٔ شې خلاصولے، نوح ﷺ بچ کيږي، او د هغهٔ زوِې د هغهٔ مخکښې تباه کيږي، او

(1) [سورة النازعات: 24].

(2) [سورة البقرة: 258].

نوح ﷺ ئې بچ کولے نهٔ شي، دغه نوح ﷺ دے الله ورته وائي: کشتۍ کښې سور شه، خو خپله ښځه به کشتۍ کښې نهٔ سورے، ښځه ئې پاتې شوه، او تباه شوه.

د لوط ﷺ د بي بي واقعه

لوط ﷺ پیغمبر دے، هغهٔ ته الله د عذاب نه نجات ورکړو، او ښځه ئې کافره وه، هغه الله د عذاب نه نهٔ بچ کوي، قرآن کريم کښې الله دَ هغې ذکر کوي: ﴿ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَتَ نُوحٍ وَامْرَأَتَ لُوطٍ﴾.[1]

الله مثال ذکر کوي د دوؤ کافرانو زنانو چې هغه دواړه زنانه د پیغمبرانو پهٔ نکاح کښې وي، خاوندان ئې پيغمبران دي، الله ته ډير محبوب دي؛ څکه پيغمبر الله هغه سرے جوړوي چې هغه الله ته ډير محبوب وي، ليکن خپله ښځه د الله د عذاب نهٔ شي خلاصولے، او پهٔ قوميت باندې سړے د الله د عذاب نه نهٔ شي خلاصدلے. چې يَو سړے وائي: زهٔ سيّد يم، نو بچ به شم، نا بلکه هر سړے به خپل عمل باندې بچ کيږي.

رسول الله ﷺ فرمائي: زهٔ د تمام اولاد د آدم ﷺ سردار يم. ليکن د نبي ﷺ سره خپل ترهٔ څومره محنتونه کړي وو، څومره تکليفونه نه ئې بچ کړے وو، ليکن د نبي ﷺ هغه ترهٔ د نبي ﷺ پهٔ وجه نهٔ شي بچ کيدلے.

د نبي ﷺ بل ترهٔ ابو لهب چې قرآن کريم کښې الله فرمائي: ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾.[2]

"هلاک دي شي دواړه لاسونه د ابو لهب او هلاک شو"، د نبي ﷺ ترهٔ دے، خو د نبي ﷺ پهٔ وجه نهٔ شي بچ کيدلے، انسان به خپل عمل باندې خلاصيږي.

---

(1) [سورة التحريم: 10].

(2) [سورة اللهب: 1].

د عاديانو او ثموديانو حالت

په قوت او طاقت سره د الله د عذاب نه نهٔ شي خلاصيدے، او که خلاصيدے شوے، نو عاديان او ثموديان به خلاص شوي وے، دومره د قوت والا خلق وو، چې هغوي به يَوه اُونه اُونيوله نو هغه به ئې د جرړو سره را اوباسله، دومره د قوت والا وو، ليکن هغوي هم الله تباه کړل.

"نو دا توله زمانه ګواه ده، چې انسان په تاوان کښې دے". د دې تاوان نه به هله بچ کيږي چې په الله باندې ايمان راوړي، او د ايمان نه ورستو بيا نيک عمل اُوکړي، بيا د حق بيان اُوکړي، او بيا يَو بل ته د صبر وصيت کوي هله به د تاوان نه بچ کيږي.

(3) دريمه معنی: ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ "شاهد دے عمر د انسان په انسان باندې، چې انسان په تاوان کښې دے". د انسان دا عمر ددې خبرې شهادت کوي چې انسان په تاوان کښې دے، ولې؟ ځکه چې الله به د انسان نه په ورځ د قيامت تپوس کوي چې انسانه ما تا له عمر درکړے وو، نو تا دا عمر په څهٔ کښې تير کړے وو؟ نو چې کله الله د انسان نه تپوس کوي نو انسان به څهٔ جواب ورکوي؟

د قيامت په ورځ د پنځو خبرو باره کښې تپوس

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ...» "د قيامت په ورځ به هميشه دپاره انسان په خپل ځائے ثابت قدم ولاړ وي چې تر څو پورې د پنځو (5) خبرو تپوس ترې شوے نهٔ دے".

(1) يَو تپوس: «وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ؟» "د ځوانئ باره کښې به الله تپوس کوي چې تا دا خپله ځواني په څهٔ کښې تيره کړې وه؟"، ستا په بدن داسې يَو وخت راغلے وو، ستا لاس روغ وو، ستا خپې روغې وو، ستا غوږونه روغ وو، تا صرف د دُنيا کار کړے وو، او که د دين دې هم څهٔ کار کړے وو، نو ددې نه دا معلومه شوه چې هر

ځوان په تاوان کښې دے، چې هغهٔ کښې دغه څلور شرطونه نهٔ وي.

نبي ﷺ فرمائي: اُوهٔ (7) کسان به الله د عرش د سورې لاندې اُودروي، يَو پکښې هغه کس دے «وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ».[1]

"هغه ځوان به الله دعرش د سُورې لاندې اُودروي کوم ځوان چې خپله ځواني د الله پهٔ عبادت کښې تيره کړې وه". داسې ځوان به د قيامت پهٔ ورځ د عرش د سُورې د لاندې ولاړ وي. دا څومره د سعادت خبره ده.

(2) دويم تپوس: «عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ؟» "خپل عمر دې پهٔ څهٔ کښې تير کړے وو؟" پنځوس او شپيتهٔ کاله عمر مې درکړے وو، تا پدې خپل عمر کښې زما د رضا څومره کاروَنه کړې وو؟ دا تپوس به الله کوي.

نبي فرمائي: "د هغه انسان عذر د قيامت پهٔ ورځ نهٔ قبليږي چې د هغهٔ عمر الله شپيتو کالو ته اُورسوې، او دهٔ خپل رب نهٔ دے رضا کړے، الله به ورته وائي: ستا عذر قبول نهٔ دے". نو انسان پهٔ تاوان کښې دے، د انسان عمر پهٔ انسان باندې ګواه دے، چې انسان پهٔ تاوان کښې دے.

(3) «وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ» "د مال باره کښې به الله تپوس کوي چې دا مال دې کوم ځائے کښې ګټلے وو؟" حلال دے ګټلے وو، کهٔ حرام دې ګټلے وو، دا دې جائز طريقې باندې ګټلے وو، او کهٔ ناجائز طريقې باندې دې ګټلے وو، غلا دې کړې وو، او کهٔ ډاکه دې کړې وه، او کهٔ حلاله مزدورې دې کړې وه؟ اوس خو مونږ صرف پهٔ جمع کولو باندې پوهيږو، دا پته به قيامت کښې لګي.

(4) څلورم تپوس: «وَفِيمَ أَنْفَقَهُ» "تاله چې ما کوم مال درکړے وو هغه مال دې

---

(1) [رواه البخاري، رقم: (1423، و6806)].

کوم ځائے کښې لګولے وو". دا مال دې زما په رضا کښې لګولے وو، او کۀ زما خلاف کښې دې لګولے وو. دا تپوس به الله کوي.

افسوس پکار دے! نن کۀ د دُنیا معامله وي، مونږ او تاسو د هغې دپاره قرض راخلو، د هغې دپاره مونږ سره وخت شته، لیکن د الله او د الله د پیغمبر د خبرې دپاره مونږ سره نۀ وخت شته او نۀ راسره پیسې شته. د دې تپوس به الله کوي. کۀ چا دا اووئیل: چې یَو میله لګي او هغې کښې تجارت کیږي بیا د هر کس سره پیسې ډیرې دي، او د هغې دپاره خلق قرض پیسې راخلي، د دُنیا دپاره د مخکښې نه پیسې جمع کوو، او د دین کار چې راشي د هغې دپاره مونږ سره بیا یَو روپۍ نۀ وي. دا یاد اُوساتئ! کومې پیسې چې تا دُنیا باندې اولګولې هغه خو تولې لاړې، او کومې پیسې چې تا د الله په دین باندې اُولګوې دا ستا دپاره لوی آجر دے.

د یَو عالم باره کښې شکایت

د یَو عالم باره کښې عبد الله بن مبارک ﷫ ته چا شکایت اُوکړو، چې دے هر وخت پیسې لګوي، هر وخت خیراتونه کوي، دۀ ته لږ نصیحت اوکړه، چې دا پیسې دومره زیاتې نۀ لګوي. عبد الله بن مبارک ﷫ هغه عالم را اُوغوښتو، او تپوس ئې ترې اُوکړو، وائي: تۀ رشتیا داسې کوې، نصیحت ئې ورته کولو، هغه عالم ورته وائي: ستا نه تپوس کوم، کچرته یَو سړے وي، او یَو کلي کښې اوسیږي، او ځان له بل کلي کښې کور واخلي، او دا سړے هغه بل کلي ته په کډه باندې ځي، نو دے به ځان سره نوي کور ته هغه تول سامان اُوړي، او کۀ به زوړ کور کښې بۀ څۀ سامان پریدي؟ عبد الله بن مبارک ﷫ ورته وائي: ځان سره به تول سامان اُوړي، نو هغه عالم ورته وائي: دا کور زۀ پریدم، او آخرت کښې ځان له کور جوړوم، نو زۀ څنګه دلته ځان له سامان پریدم؟ ماته خو هغه کور د سامان نه ډکول پکار دي، ماله خو هغه کور آبادول

پکار دي، دا کور خو زۀ هسې هم پرېدم، زما خو د آخرت کور مقصد دے، نو مسلمانان چې مرگ منې، نو د دُنيا کور که وران شې، وران دي شي خو هغه کور جوړول غواړي چې هغه د آخرت کور دے، چې هغه د هميشه دپاره کور دے.

د يو عالم مقوله

«صَدِيْقُ الْاِنْسَانِ مَنْ يَّسَعُ فِيْ عِمَارَةِ آخِرَتِه وَاِنْ كَانَ فِيْهِ ضَرَرٌ لِدُنْيَا» "د انسان دوست هغه دے چې هغه د انسان د آخرت د آبادولو سوچ کوي، اګر که دُنيا کښې ورته ضرر ميلاوېږي"، اګر که دُنيا کښې پرې مال لګي، اګر که دُنيا کښې پرې دے خرابيږي، خو دا نقصان نۀ دے، دا ددۀ فائده ده، او دا ددۀ دوست دے، چې آخرت ورته جوړوي، او د انسان دشمن هغه سړے دے، چې هغه ورته د دُنيا د آبادولو کوشش کوي، او آخرت ورته تباه کوي، دا د انسان دشمن دے.

خو افسوس دا دے! چې مونږ خپل ځان نۀ دے پيژندلے، دُنيا خو هسې هم پاتې ده، آخرت آبادول غواړي، ددې مال باره کښې به الله زمونږ نه تپوس کوي، چې زما پۀ دين دې څومره مال لګولے دے؟

(5) پنځم تپوس: «وَعَنْ عِلْمِهِ مَاذَا عَمِلَ فِيْهِ».[1]

"چې تا کوم علم کړے وو پۀ هغې دې څومره عمل کړے وو؟" تا مسئله او بيان واوريدو، نو پۀ څومره خبرو دې عمل کړے وو، دا تپوس به الله زمونږ نه کوي، چې د يَو مسئلې پته درته نۀ وه، نو خبر دے، خو چې کله تا مسئله واوريده، د الله او د الله د پيغمبر خبره دې واوريده، نو بيا تا پۀ هغې کښې پۀ څومره خبرو عمل کړے وو؟ دا پنځۀ تپوسونه به د انسان نه قيامت کښې کيږي. نو د انسان دا عمر پۀ انسان ګواه دے، چې انسان پۀ تاوان کښې دے؛ ځکه ددۀ دوکاندارۍ د الله د حکم

(1) [رواه الدارمي في "سننه"، رقم: (578)، والبيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (1648)].

خلاف، ددۀ زمینداري د الله د حکم خلاف، ددۀ شکل د نبي ﷺ د طریقې نه خلاف، ددۀ تول لین دَین د الله د حکم نه خلاف، ددۀ غم او ښادۍ د الله د حکم نه خلاف. نو دے به په قیامت کښې د الله دربار کښې څۀ جواب ورکړي؟

(4) څلورمه معنی: ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ "د مازیګر دا قیمتي وخت په انسان باندې ګواه دے، چې انسان په تاوان کښې دے". چې دا دومره قیمتي وخت دے او مونږ د هغې څۀ خیال نۀ ساتو، د مازیګر دا قیمتي وخت به مونږ باندې ګواهي کوي، چې انسان په تاوان کښې دے.

د تاوان نه د بچ کیدو لار

اُوس ددې تاوان نه به مونږ څنګه بچ کیږو؟ ددې تاوان نه د بچ کیدو علاج مونږ ته قرآن کریم ښائي. د دُنیا د تاوان نه د بچ کیدو کوشش مونږ کوو، لیکن د آخرت تاوان مونږ ته ښکاري او بیا هم د هغې تاوان نه ځان نۀ بچ کوو، پکار دا دي چې د آخرت د تاوان نه مونږ ځان بچ کړو، د تاوان نه د بچ کیدو طریقه مونږ ته قرآن ښودلې ده: ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ ددې تاوان نه هغه خلق بچ دي، چې "هغوي ایمان راوړے دے"، مؤمنان د تاوان نه بچ دي، "داسې مؤمنان د تاوان نه بچ دي چې هغوي نیک اعمال کوي"، عمل کوي خو په طریقه د نبي ﷺ باندې.

ایمان څۀ ته وائي؟

رسول الله ﷺ فرمائي: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ».[1]

"تر هغه وخته پورې د انسان ایمان نۀ شي کامل کیدلے چې تر څو پورې د هغۀ تمام خواهشات د هغه دین نۀ وي تابع شوے، کوم دین چې ما راوړے دے". اګر چې

(1) [رواه البغوي في "شرح السنة"، رقم: (104)].

دا سرے په خُلې باندې دعوٰی کوي، چې زۀ مؤمن يم، قرآن کريم کښې الله فرمائي:
﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ...إلخ﴾.[1]

"اے مؤمنانو! چې تاسو په خُلې باندې د ايمان چغې وهئ چې مونږه مؤمنان يُو، د زړۀ نه په الله باندې ايمان راوړئ".

رسول الله ﷺ سره صحابه کرام رضي الله عنهم جهاد له تلې وو، نبي ﷺ نه يَو صحابي تپوس کوې ورته وائي: اے د الله پيغمبره! کچرې نن زۀ پدې ميدانِ جهاد کښې شهيد شوم، نو «أَيْنَ أَنَا يَا رَسُولَ الله إِنْ قُتِلْتُ؟» "نو زۀ به چرته يم؟"، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: کچرې تۀ په ميدان جهاد کښې شهيد شوې، نو تۀ به ډارک جنت ته ځې، هغه صحابي پاسيدو، لاس کښې ئې کجورې وې، کجورې ئې د لاس نه اُوغورزولې، چې زۀ دا کجورې خورم، او بيا جهاد له ځم، نو پدې خو دير وخت لګې، توره ئې راوغسته، او ميدانِ جهاد له لا رو، تردې پورې چې هغه صحابي ميدانِ جهاد کښې شهيد شو، او د دُنيا نه لا رو.[2]

ايمانِ کامل ديته وائي، چې کله د انفاق مسئله راغلې ده، رسول الله ﷺ په مِنبر ناست دے، او وائي: اے زما صحابو! د جهاد دپاره چنده راجمع کړئ، نبي ﷺ د جهاد دپاره ترغيب ورکوې، هر يَو کس د خپل وَس مطابق چنده ورکوې، سيدنا عثمان بن عفان ﷺ مالداره صحابي دے، هغه پاسيدو، وائي: اے د الله پيغمبره! دوه سوه اُوښان سَره د ساز وسامان ما د الله د رضا دپاره مجاهدينو له وقف کړل، بيا نبي ﷺ اعلان کوې، او ترغيب ورکوې، بيا ورته سيدنا عثمان بن عفان ﷺ وائي: دوه سوهِ اُوښان نور هم زما د طرف نه د الله لا ره کښې قبول کړه، نبي ﷺ په مِنبر ناست وو، نبي ﷺ چې

---

(1) [سورة النساء: 136].

(2) [رواه مسلم، رقم: (1899)].

د سيدنا عثمان ﷺ دا كار اُوليدو، نو د رسول الله ﷺ دا مخ وُروور رُوښانه كيدو، او ډير زيات خوشحاله شو. نبي ﷺ فرمائي: «مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ».[1]

"سيدنا عثمان ﷺ ته به هيڅ ضرو ميلاؤ نهٔ شي كهٔ د نن نه بعد نور عمل نهٔ كوي"، دا عمل د سيدنا عثمان ﷺ دپاره ډير دے. ايمان كامل خو دا وو، چې د نبي ﷺ پهٔ يَوه خبره صحابه كرام پاسيدل، دا د د ايمانِ كامل نخښه ده.

كله چې صحابه كرام د جهاد نه واپس شول، د صحابه كرامو بدنونه مبارك زخميان دي، د چا يَو خائے مات دے، او د چا بل خائے مات دے، او د چا ټول بدن زخمي دے، نبي ﷺ خپله توره او نيزه كوزوله جبريل امين ﷺ راغے، وائي: ما له نيزه نهٔ ده لرې كړې، او تا خپله زغره او نيزه لرې كړه، شابې! بيا د كافرانو مقابلې ته اُوځئ، نبي ﷺ اعلان كوي، چې اے صحابه كرامو! پاسئ او د كافرانو مقابلې ته لاړ شئ، او هغه صحابه كرام به ما سره جهاد له ځي چې كوم صحابه كرام ما سره پهٔ جنګ اُحد كښې وو، هغه صحابه چې جهاد له نهٔ شو تللے دومره زخميان وو، چې هغوي پهٔ يَو بل باندې لاس آچولې دې، او خپې ځان پسې راښكې، هغوي پهٔ كور كښې نهٔ پاتې كيږي. دا د ايمان كامل نښه ده. الله وائي: "هغه انسان د تاوان نه بچ دے چې ايمان ئې راوړو او نيک اعمال ئې اُوكړل".

يَو خو زمونږ ستاسو ايمان دے چې رسول الله ﷺ فرمائيلي وو: «يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى مِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اسْمُهُ وَلَا يَبْقَى مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا رَسْمُهُ».[2]

"پهٔ خلقو به داسې دُور او داسې زمانه راشي چې خلقو كښې به صرف د اسلام نوم پاتې شي".

---

(1) [رواه الترمذي، رقم: (3701)].

(2) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (1763)].

هر سړے به دعوی کوي چې زهٔ مسلمان يم، ليکن دے کامل مسلمان چرې هم نهٔ شي جوړيدے، دا خو د منافقانو هغه ايمان وو، چې ظاهرې شکل ئې د مسلمان جوړ کړے وو، او حقيقت کښې منافقت کولو، ظاهرې شکل ئې د مسلمان جوړ کړے دے، او باطن کښې دے بالکل د اسلام نه پاک دے، دا هغه مصنوعې اسلام دے، صرف د اسلام نوم باقي دے او د قرآن به صرف رسم باقي پاتي شي، هر سړے به تلاوت کوي او عمل به نهٔ کوي.

د سيدنا ابو الدرداء ﷺ حالت

سيدنا ابو الدرداء ﷺ جومات ته لاړو، او مونځ ئې اُوکړو، او واپس کور ته راغلو، ابو الدرداء ﷺ غُصه دے، بي بي ترې تپوس کوې، ولې څهٔ وجه ده چې تهٔ دومره غُصه ئې؟ هغه ورته وائي: هغه طريقې چې د نبي ﷺ زمانه کښې وې، هغه نولو خلقو پريښودي دې. صرف هغې وخت کښې به خلقو مونځ پهٔ جمع باندې کولو، اونن هم پهٔ جمع باندې مونځ کوې، هغې وخت کښې خلقو داسې کول، نو کهٔ اُوس وخت کښې الله يو صحابي ژوندے کړو، او دا ماحول ئې اُوکتو، نن خو هغه مونځ هم خلق داسې کوې چې شکل ئې د مونځ نهٔ دے.

نو ددې تاوان نه به ښنکه بچ کيږو، چې مونږ کامل ايمان راوړو، کامل ايمان څهٔ دے؟ چې کومه د الله او د الله د پيغمبر خبره ده، چې هغه اُومنو، کهٔ د دين او دُنيا مقابله راغله، نو مونږ به دين غوره کوو، او دُنيا به پريږدو.

د دُنيا باره کښې د نبي ﷺ فرمان مبارک

رسول الله ﷺ فرمائي: «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ، وَجَنَّةُ الْكَافِرِ».[1]

"دُنيا د مؤمن دپاره جيل دے، او د کافر دپاره جنت دے".

مسلمان به دُنيا کښې داسې ژوند تيروې، لکه ښنکه ژوند چې يو سړے جيل

(1) [رواه مسلم، رقم: (2956)].

کښې تېروي، دے به بالکل د الله خلاف نۀ کوي، دے به تمام اعمال د آخرت دپاره کوي. او نبي ﷺ فرمائي: دُنيا د کافر دپاره جنت دے، دا دُنيا د کافر د مزو ځائے دے، دا د مسلمان د مزو ځائے نۀ دے، مسلمان به دُنيا کښې د آخرت د آبادولو کوشش کوي.

حديث کښې راځي، سيدنا عمر فاروق ﷺ يَو ورځ راغے، او رسول الله ﷺ پۀ يَو پوزې باندې ملاست وو، هغه پوزے د مېزرې نه جوړ شوے وو، او نبي ﷺ پۀ هغې باندې ملاست وو، او د نبي ﷺ سَر مبارک ته يَو بالخت پرُوت وو، د هغې بالخت اوچاړ د څرمنې نه وو، او دننه پۀ هغې بالخت کښې د کجورو پتې بندې شوې وې، نبي ﷺ پۀ هغې باندې سَر مبارک کېخودے وو، او پۀ هغې پوزې باندې پۀ زمکه باندې ملاست وو، چې کله عمر ﷺ د هغۀ حال ته اُوکتل، نو عمر ﷺ پۀ ژړا باندې شو، او ورته وائي: د الله پيغمبره! دغه د قيصر خلقو ته اُوګوره او کسرٰی ته اُوګوره دا څومره کافران دي، او د الله دوشمنان دي، ليکن الله ورله دومره مال ورکړے دے، چې هغوي پۀ اُوچتو اُوچتو تختونو باندې ناست دي، او تۀ د الله محبوب پيغمبر يې او تۀ پۀ پوزکو باندې ملاست يې، چې ستا بدن کښې نښې جوړې کړې دي، نبي ﷺ ورته وائي: اے عمره! دا مزې خو د کافرانو دپاره دُنيا کښې دي، او د مسلمانانو دپاره به دا مزې پۀ آخرت کښې او جنت کښې ميلاوېږي.

بل حديث کښې راځي، د نبي ﷺ سره سيدنا عبد الله بن مسعود ﷺ راغے، او ورته وائي: اے د الله پيغمبره! د الله نه سوال اُوکړه، چې الله تاله داسې مال درکړي، لکه څنګه مال يې چې روم والو له ورکړے دے، قيصر او کسرٰی ته يې ورکړے دے، داسې مال د الله نه اُوغواړه، تۀ خو د الله پيغمبر يې، او دغه کافران دي، نبي ﷺ ورته يَو عجيبه خبره کوي، نبي ﷺ ورته وائي: «مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلاَّ كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ

شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا». (1)

"واه ابن مسعودا زما او د دُنيا خو داسې مثال دے لکه يَو مسافر چې لار باندې روان دے، او د هغې مسافر ګرمې اُوشوه، ستړے شو، راغے د يَو وُنې لاندې کيناستو او لږ غوندې آرام کوي" دے ځان له د سورې د لاندې بنګلې نۀ جوړوي، دے ځان له د سُور د لاندې بسترې او قالينونه نۀ غوړوي، صرف لږ ساعت دپاره د سُورې لاندې ناسته کوي، او بيا خپل سفر باندې روانيږي، ابن مسعوده! زۀ خو چې دُنيا ته راغلے يم زۀ د آخرت پۀ سفر باندې روان يم، زما او د دُنيا خو دومره تعلق دے، لکه يَو مسافر چې د سُورې لاندې ناست دے، صرف خپل ګزران دُنيا کښې تيروم، زما مقصد آخرت دے چې ماله به الله راکوي. دا د نبي ﷺ حال دے.

سيده عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي: چې نبي ﷺ د دُنيا نه لاړو او د نبي ﷺ کور کښې چرته هغوي درې ورځې پۀ مړه باندې ډوډۍ نۀ ده خوړلې. (2)

درې درې ورځې به د نبي ﷺ پۀ کور کښې اُور نۀ بليدو، د خوراک به څۀ نۀ وو، او چې ډوډۍ به ئې خوړه نو ترکارې به نۀ وه، صرف سَرکه به وه، او چې سَرکه به ميلاؤ شوه، نو نبي ﷺ به وئيل: سَرکه ډيره ښکلې تَرکارې ده، نبي ﷺ به د هغې سره ډوډۍ خوړه. ليکن مقام ئې څومره اوچت دے، د صحابه کرامو مقام څومره اوچت دے، دا تاوان نه سړے پۀ مال نۀ بچ کيږي، د تاوان نه سړے پۀ ايمان بچ کيږي. نو الله فرمائي: ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ "مګر هغه کسان د تاوان نه بچ دي چې هغوي ايمان راوړے دے، او هغوي نيک اعمال کوي".

---

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2377)].

(2) [رواه مسلم، رقم: (2976)، والترمذي، رقم: (2358)].

عمل صالح څهٔ ته وائي؟

عمل صالح هغې ته وائي: چې هغه پهٔ طريقه د نبي ﷺ باندې وي، نو هغه نيک عمل دے، او کهٔ د هغهٔ پهٔ طريقه باندې نهٔ وي نو هغه نيک عمل نهٔ دے، کهٔ هر څومره ښهٔ عمل دے.

د قاضي بيضاوي رحمه الله قول

قاضي بيضاوي رحمه الله وائي: "الصَّالِحَةُ مِنَ الْأَعْمَالِ مَا سَوَّغَهُ الشَّرْعُ وَحَسَّنَهُ".[1]
"نيک عمل هغه دے چې هغه نبي ﷺ کړے وي، چې پهٔ شريعت د نبي ﷺ کښې شته"، نو هغه نيک عمل دے، او کهٔ نبي ﷺ يَو کار نهٔ دے کړے، نو هغه نيک عمل نهٔ دے.

(3) دريم شرط: ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ﴾ "هغه خلق د تاوان نه بچ دي چې هغوي يَو بل ته د حق بيان کوي"، يَو بل ته پهٔ حق باندې حکم کوي، حق څهٔ ته وائي؟ مفسرين ذکر کوي: "د الله پهٔ تابعدارئ باندې او د الله د پيغمبر پهٔ تابعدارئ باندې يَو بل ته حکم کوي" دا خلق د تاوان نه بچ دي. خپله هم ښهٔ کار کوي، او نُور خلق هم ښهٔ کارونو ته رابلي، دا خلق ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ﴾ داخل دي.

(4) څلورم شرط: ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ "يَو بل ته پهٔ صبر باندې وصيت کوي"، تکليف ورته د الله پهٔ لاره کښې راځي، مشکلات راځي، دوي يَو بل ته د الله پهٔ دين باندې د صبر کولو وصيت کوي، يَو بل ته د صبر تلقين کوي، چې کلک شه، ددې بدلې به راله الله آخرت کښې راکوي. دا خلق د تاوان نه بچ دي. دا يَو ډير جامع سورت دے.

---

(1) [تفسير البيضاوي تحت آية سورة البقرة: 25].

د امام شافعي رحمه الله قول

امام شافعي رحمه الله فرمائي: کچرې پدې سورت کښې يَو سړے سوچ اُوکړي، نو کهٔ دا ټول قرآن کريم نهٔ وے نازل شوے، او دا يَو سورت عصر نازل وو، نو دا هم د خلقو دپاره کافي وو، کهٔ يَو ذي عقل انسان پهٔ دې کښې سوچ اُوکړي.

کوم حديث چې ما وئيلے وو، نبي ﷺ فرمائي: «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ».[1]

"دوه نعمتونه داسې دي چې زيات خلق پهٔ هغې کښې پهٔ تاوان کښې دي"، دوه نعمتونه الله پهٔ خلقو باندې کړي دي، او خلق د هغې شکريه نهٔ آداء کوي.

(1) يَو «الصِّحَّةُ»: يَو صحت دے، روغ بدن دے، چې الله ورله روغ بدن ورکړے دے، او دے پدې روغ بدن د الله شکريه نهٔ اداء کوي، د الله د رضا کارونه نهٔ کوي، نو ددې نعمت باره کښې به ترې الله تپوس کوي.

(2) دويم «وَالْفَرَاغُ»: دويم فارغ وخت دے، چې فارغه وخت ورله الله ورکړے دے، موقع ورله الله ورکړې ده، او دے پکښې د الله حکمونه نهٔ مني، دا سړے پدې فراغت کښې تاواني دے.

بعض خلقو ته فراغت ميلاؤ شي، نو هغه پهٔ ګناهونو کښې مبتلا شي، او د الله د رضا کارونه پکښې نهٔ کوي. ډير بيماران د صحت پهٔ آرمان دي، چې الله مونږ له صحت راکړه، نو مونږ به ستا د دين خدمت اُوکړو، او تاله الله روغ بدن درکړے دے، او تهٔ د الله حکم نهٔ مني، مونږ له پکار دي، چې د خپلو اعمالو اصلاح اُوکړو، او مونږ د هغې ځائے دپاره محنت اُوکړو، چې هغه هميشه دپاره ځائے دے، چې هغه د

(1) [رواه البخاري، رقم: (6412)، والترمذي، رقم: (2304)].

آخرت محنت دے، چې د آخرت محنت او کوشش اُوکړو، زمونږ آخرت به خنګه جوړیږي. زمونږ آخرت به هله جوړیږي چې مونږ د هغې خلقو سره نابسته پاسته اُوکړو، کوم خلق چې مونږ ته د آخرت لار ښَئوي، د علماء کرامو سره کینو د نیکانو خلقو سره کینو، نو مونږ ته به آخرت یادیږي، او که دا کار نۀ کوو، بلکه د بدعمله خلقو سره کینو نو ورځ پۀ ورځ به ګناهونو کښې مبتلا کیږو.

د ښۀ او بد ملګرې مثال

رسول الله ﷺ فرمائي: د نیک عمله او بد عمله انسان مثال داسې دے، لکه عطر فروش او د لوهار، اُوس که ستا ملګرتیا د عطر فروش سره ده تۀ د عطر فروش دوکان کښې ناست ئې، یا به هغه تاله عطیه درکړې، ستا ملګرے دے، نو یَو شیشه به د عطرو ډکه کړي او تاله به ئې درکړي، نو ستا نه به خوشبوئي ځي، یا به ترې ځان له پۀ پیسو باندې واخلې، او که پۀ پیسو دي هم وانۀ غستله نو هغه خوشبوئي خو چرته تلې نۀ دي هغه به درباندې خامخا راځي، چې د عطرو پۀ دوکان کښې ناست ئې.

او کله چې ستا ملګرتیا د یَو لوهار سره ده، او تۀ د هغۀ سره دوکان کښې ناست ئې، نو یا خو به ستا کپړې اُوسوزي، یا به ستا کپړې تُورې شي، او که دغه نۀ وي نو هغه بدبوئي خو چرته تلې نۀ ده، د اِیرو هغه ګرد وغبار خو چرته تلے نۀ دے.

نو نبي ﷺ فرمائي: د نیک عمله انسان نه به تاته فائده میلاویږي، یا به تاته څۀ علم اُوښائي، او که دغه نۀ وي نو پۀ هغۀ چې کوم رحمتونه راوریږي، پۀ هغې کښې ورسره تۀ شریک ئې، او بدعمله ملګرې سره چې کرځې نو هغه به تا پۀ ګناهونو کښې مبتلا کړي، او که داسې وُنۀ شي، نو پۀ هغۀ چې کوم قهر او غضب نازلیږي، نو پۀ تا به هم دغه قهر او غضب نازلیږي.

د لقمان حکیم ﷺ خپل بچي ته نصیحت

«یَا بُنَیَّ! إِذَا رَأَیْتَ قَوْمًا یَذْکُرُوْنَ اللهَ تَعَالی فَاجْلِسْ مَعَهُمْ» "کله چې ته داسې خلق اُووینې چې هغوي د الله تذکرې کوي، د الله او د الله د پیغمبر خبره کوي راشه دغې خلقو سره کینه" کچرې ته عالم ئې نو «یَنْفَعُكَ عِلْمُكَ» "تاله به ستا علم فائده درکړي"، جاهل ئې نو هغوي نه به څۀ واورې نو تا نه به عالم جوړ شي، او بچیه! کۀ نۀ عالم جوړ شوې، او نۀ تا د هغوي نه څۀ یاد کړل، نو پۀ هغوي چې کوم رحمتونه راوریږي، پۀ هغې کښې ورسره تۀ شریک ئې. او بیا ورته وائي: خبردار! د ناکاره خلقو سره مۀ کینه؛ ځکه تۀ عالم سړے ئې او ستا ناسته د ناکاروه خلقو سره ده، نو تاله ستا دا علم هیڅ فائده نۀ درکوي، او کچرې تۀ جاهل ئې، او د ناپوهه خلقو سره ناسته پاسته کوې، نو ستا دا جهل او ناپوهي به نوره هم سیوا شي، او کۀ چرې هیڅ هم ونۀ شي نو پۀ هغوي چې کوم قهر او غضب نازلیږي تۀ ورسره هم پۀ دغه قهر او غضب کښې شریک ئې."[1]

الله دې د عمل کولو توفیق را کړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ)

(1) [روح البیان تحت آیة سورة البقرة: 152].

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ

(سورة طه: 124)

موضوع

دَقرآن کريم نه دَمخ اړولو سزا

بمقام: جلبي

خطيب

فصيح اللسان لذيذ البيان علامه عبد الحق ربّاني حفظه الله

د قرآن کریم نه د مخ اړولو سزا

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ أَعْمَالِنَا، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، أَبَدِيٌّ سَرْمَدِيٌّ لَا أَوَّلَ لَهُ وَلَا آخِرَ لَهُ لَا ضِدَّ لَهُ وَلَا نِدَّ لَهُ وَلَا مُمِدَّ لَهُ وَلَا بَشِيْرَ لَهُ وَلَا نَذِيْرَ لَهُ وَلَا وَزِيْرَ لَهُ وَلَا مُشِيْرَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَسَنَدَنَا وَمَوْلَانَا وَحَبِيْبَنَا وَشَفِيْعَنَا وَحَبِيْبَ رَبِّنَا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَسَلَّمَ عَبْدَهُ وَرَسُوْلَهُ.

أَمَّا بَعْدُ! فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَإِنَّ لَهُ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمٰى * قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْ أَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا * قَالَ كَذٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيْتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى﴾.[1]

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ».[2] (أو كما قال رسول الله ﷺ).

زما عزتمندو، مسلمانانو رونړو! ما ستاسو مخکښې د قرآن کریم نه د سورت طه درې آیاتونه مبارکه اُولوستل، او د احادیثو د رسول الله ﷺ نه ما ستاسو مخکښې یَو حدیث مبارک عرض کړو.

عزتمندو! حقیقت دا دے، چې قرآن کریم داسې یَو انقلابي کتاب دے، چې انسان کښې انقلاب بغیر د قرآن کریم نه په بل څۀ باندې نۀ راځي، الله رب العزت

(1) [سورة طٰه: 124-126].

(2) [رواه مسلم، رقم: (817)].

په مَا كَانَ وَمَا يَكُونُ باندې عالم دے، چې کله الله انسانان پیدا کول، د انسانانو د پیدا کولو نه مخکښې الله د انسانانو په حال عالم وو، نو که ددې انسانانو اصلاح د آسماني کتابونو نه بغیر په بل څه باندې کیدے شوه، نو الله به آسماني کتابونه نه رالیږل. او بیا آخر کښې الله داسې یَو کتاب راولیږلو، چې مخکښې کتابونه صرف د هغې اُمت سره خاص وو، او د هغې پیغمبر سره خاص وو، چې هغه پیغمبران د دُنیا نه تلي دي، نو د هغهٔ هغه شریعت هم ختم شوے دے، بیا نوے شریعت شروع شوے دے، او قرآن کریم الله داسې کتاب راولیږلو چې د جناب محمد رسول الله ﷺ د راتلو نه وروستو تر قیامته پورې د تمامو مسلمانانو د هدایت دپاره کافي کتاب دے، مخکښې کتابونه خاصو قومونو ته لیږلے شوي وو، مخکښې انبیاء علیهم السلام خاصو قومونو ته لیږلے شوي وو، د جناب محمد رسول الله ﷺ خصوصیت او د قرآن کریم خصوصیت دا دے چې دا د تمامو مخلوقاتو دپاره دے.

د نبي ﷺ فرمان مبارک

رسول الله ﷺ فرمائي: «بُعِثْتُ إِلَى الأَسْوَدِ وَالأَحْمَرِ».(1)

"زهٔ لیږلے شوے یم د تُور رنګ والا ته، او سُر رنګ والا ته"، زهٔ عربو والو ته هم لیږلے شوے یم، او عجمو دپاره هم لیږلے شوے یم.

کله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ﴾.(2)

"نهٔ دے لیږلے مونږ تا لره مګر د تولو خلقو دپاره". نو قرآن کریم یَو داسې انقلابي کتاب دے، چې بغیر د قرآن نه په بل څه انقلاب نهٔ راځي، کومه علاقه او کوم کلي کښې چې د الله د کتاب درس او تدریس کیږي، ضرور به الله هغه کلي

(1) [رواه محمد بن علي الترمذي في "نوادر الأصول": 3/ 128].

(2) [سورة سباء: 28].

کښې انقلاب راولې، او چې کوم کلې او علاقه کښې د الله د کتاب درس او تدریس نۀ وي، نو هغه کلې کښې انقلاب نۀ شي راتللے. قرآن کریم داسې انقلابي کتاب دے.

د نبي ﷺ د قرآن کریم لوستل

چې کله جناب رسول الله ﷺ وادي نخله مقام کښې مونځ کوې، او قرآن کریم لولې، نو پیریان راغلې دې، نو هغوي د رسول الله ﷺ نه قرآن اوریدلے دے، نو د یَو خو مِنتو اَوریدلو نه بعد پۀ هغې پیریانو کښې داسې انقلاب راغلے دے، چې هغه پیریان خپل قوم ته دعوت چلوې، قرآن کریم داسې انقلاب کتاب دے، چې پیریانو ته هم د انقلاب والا ښکارې، قرآن کریم کښې الله د پیریانو تذکره کوې: ﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا﴾.[1]

"اے زما پیغمبره! تۀ دي خپل اُمت ته اُووایه چې ما ته وحي کړے شوې ده، چې شان دا دے څۀ کسانو د پیریانو نه هغوي قرآن کریم واوریدو"، کله چې هغوي قرآن کریم واوریدو نو هغې پیریانو کښې څنګه انقلاب راځي، او هغې پیریانو اووئیل: "چې مونږه یَو نا آشنا کتاب واوریدو"، ﴿يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا﴾.[2]

"داسې کتاب چې لار ښائي اصلاح طرف ته نو مونږ پرې ایمان راوړو، او هیچرې نۀ شریکوو مونږ د خپل رب سره هیڅا لره". د قرآن د وئیلو مقصد دا دے، چې ددې پۀ بیان سره به خلقو له د الله توحید رسوے، کوم ځائے کښې چې انقلاب نۀ راځي، نو وجه دا وي، چې هغه خپله هم توحید نۀ پیژني، او خلقو ته هم توحید نۀ ښائي، چې توحید څۀ ته وائي؟ خپله هم سنت او بدعت نۀ پیژني، او خلق ترې هم نۀ خبرَوي، نو څنګه چې د قرآن حق دے، او دغسې قرآن نۀ وائي نو انقلاب نۀ راځي.

---

(1) [سورة الجن: 1].

(2) [سورة الجن: 2].

پیریانو چې قرآن اوریدلے دے، نو هغوي وائي: مونږ به د خپل رب سره هیڅوک نه شریک کوو، اولنے آواز د توحید کوي. نو د قرآن کریم په بیان چې کوم انقلاب راځي، دغسې انقلاب په بل کتاب نه راځي، په قرآن کریم چې څنګه هدایت حاصلیږي دغسې هدایت په بل کتاب نه حاصلیږي، قرآن کریم کښې الله فرمائي:

﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾.[1]

"دا کتاب چې دے هیڅ شک نشته پدې کښې هدایت دے، د متقیانو دپاره".

کله الله رب العزت فرمائي: ﴿هُدًى لِلنَّاسِ﴾.[2]

"دا د تمامو خلقو دپاره د هدایت کتاب دے". کله الله رب العزت فرمائي:

﴿وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾.[3]

"د هدایت او د رحمت کتاب دے د مؤمنانو دپاره"، نو بغیر د قرآن کریم نه هدایت نه شي راتللے بغیر د قرآن کریم نه انقلاب نه شي راتللے.

قرآن کریم پریښودل

چې کله دي قرآن کریم پریښودو، او بل کتاب پسې روان شوې، نو ګمراه به شې. رسول الله ﷺ فرمائي: «وَمَنْ ابْتَغَى الهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللهُ».[4]

"چا چې د قرآن کریم نه علاوه بل کتاب کښې هدایت طلب کړو، نو الله به ئې ګمراه کړي". د هدایت کتاب قرآن کریم دے، نن چې په ډیرو علاقو کښې انقلاب راغلے دے، دا انقلاب د قرآن کریم د بیان په وجه باندې راغلے دے.

---

(1) [سورة البقرة: 2].

(2) [سورة البقرة: 185].

(3) [سورة يونس: 57].

(4) [رواه الترمذي، رقم: (2906)].

د سیدنا عمر فاروق ﷺ واقعه

هغه عمر فاروق ﷺ چې د اسلام نه مخکښې د مسلمانانو په دوشمنئ کښې مشهور سړے وو، لکه څنګه چې اسلام کښې مشهور دے. توره ئې راغستې ده، رارروان دے څوک ترې تپوس کوي: چرته ځې؟ هغه ورته وائي: محمد ﷺ قتلّوم، وائي: ولې ئې قتلَوې، څۀ وجه ده؟ وائي: هغه د نبوت دعوٰی کوي، او زمونږ خدايانو پسې (لات، منات او عُزّی) پسې خبرې کوي، چې هغوي څۀ نۀ شي کولے، لار کښې يَو صحابي مخې له ورغلو، او ورته وائي: چې تۀ هغه نۀ شې وژلے، تۀ به د هغۀ د خاندان نه څنګه خلاص شې؟ پۀ هغۀ باندې دا خبره نا آشنا اولګيده، غُصه ورته ورغله، وائي: زما پۀ خيال تۀ هم مسلمان شوے ئې؟ نو هغۀ ورته اووئيل: آؤ، هغۀ سره ئې جنګ کولو، يَو بل باندې ګوزارونه کوې، نو هغۀ ورته اووئيل: تۀ ورشه د خپل کور حال اُوکوره، چې ستاسو کور کښې ستا اَوخے او ستا خور مسلمانان شوې دې، پدې سيدنا عمر ﷺ نور هم غُصه شو، رارروان شو، او چې کله رانزدې شوې، او هغه اَوخے او خور ئې ناست دې، او سيدنا خباب ﷺ ورته د قرآن يَو پاڼړه ښائې، سيدنا عمر ﷺ د قرآن هغه آواز واوريدو، آواز ئې چې اُوکړو، نو هغه خو غُصه ناک انسان وو، سيدنا خباب ﷺ خو دننه زر کوټه کښې پټ شو، او هغه خور او اَوخے دواړه چې وو، نو دروازه ئې کولاؤ کړه، چې سيدنا عمر ﷺ دننه راغے، هغه خور ئې هم اُووهله، هغه اَوخے ئې هم اُووهلو، او ورته وائي: چې تاسو خپل دين پريښودے دے، دواړۀ ئې اُووهل، حتّی چې خپلې خور باندې وينې راماتې شوې، او بيا ورته وائي: چې تاسو ماله هغه پاڼړه راکړئ، چې تاسو اُوس کوم سبق وئيلو، هغې خور ورته اُووئيل: چې دا دغسې نۀ شم درکولے، تردې چې تۀ اول غُسل اُوکړې، سيدنا عمر ﷺ ئې ديته تيار کړو، چې هغۀ مخکښې غُسل اُوکړې، نو غُسل ئې اُوکړو، نو چې راغے نو د قرآن کريم هغه نُسخه

ئې راوغسته، (په ليكلو باندې پوهيدو) نو شروع ئې اُوكړه، ﴿طٰهٰ * مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰٓ * إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ﴾.[1]

(ددې لړ غوندې لوستلو سره د سيدنا عمر ﷺ په زړه کښې نرم والے راغے، يا خو هغه سيدنا عمر وو چې نهايت سخت طبيعته وو، او د خپلې خور او آوخې د وهلو پسې راغلے دے، رسول الله ﷺ پسې توره کړخوله، چې هغه قتل کړې، يا چې کله ئې قرآن کريم آوريدلے دے، نو زړه کښې انقلاب راغلے دے). او سيدنا عمر فاروق ﷺ وائي: ما رسول الله ﷺ ته اُورسوئ، چې زۀ په هغۀ باندې ايمان راوړم، سيدنا خباب بن اَرت ﷺ راغے، او ورته وائي: چې عمره زيرے واخله، چې ستا دپاره نبي ﷺ دُعا غوښتې وه. (او نبي ﷺ دُعا دا کړې وه چې هغې وخت کښې مسلمانان نهايت تکليف کښې وو، مسلمانان کمزورې وو، نبي ﷺ دُعا کوې: «اللّٰهُمَّ أَيِّدِ الْإِسْلَامَ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَوْ بِأَبِي جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ».[2]

"يا الله! اسلام له مضبوط والے ورکړې، يا خو زما ترۀ (ابو جهل ابن هشام) مسلمان کړه، يا عمر فاروق ﷺ مسلمان کړه، کوم يَو چې پدې دواړو کښې تاته خوښ وي، نو هغۀ ته ايمان نصيب کړه).[3] مقصد دا دے چې انقلاب د قرآن کريم سره راځي، د قرآن کريم نه علاوه داسې بل کتاب نشته چې هغې سره انقلاب راشي.

د صحابه کرامو حالت

هغه صحابه کرام رضي الله عنهم چې د يَو بل دوشمنان وو، د يَو بل سره ئې په

---

(1) [سورة طه: 1-3].

(2) [رواه الحاكم فى "المستدرك"، رقم: (4486)].

(3) [تفسير القرطبي: 164/11، طبع دار الكتب المصرية - القاهرة].

کلونو دوښمنې تېره شوې وه، د اسلام نه مخکښې په دورِ جاهلیت کښې، لیکن کله چې هغوي د قرآن کریم آواز واوریدو، او په ایمان باندې مشرّف شول، نو هغوي د یَو بل رونړه ګرځې، قرآن کریم اعلان کوې: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾.[1] •

ترجمه: "منګولې اُولګوئ په رسئ د الله باندې ټول او مه تَس نَس کیږئ، یاد کړئ نعمت د الله په تاسو باندې کله چې وئ تاسو دوښمنان د یَو بل، پس مینه ئې واچوله په مینځ د زړونو ستاسو کښې، پس اُوګرځیدئ تاسو په نعمت د الله باندې رونړه رونړه، او وئ تاسو په غاړه د دوغل د اُور باندې، پس بچ ئې کړئ تاسو د هغې نه، دارنګې بیانوې الله تاسو ته خپل دلائل ددې دپاره چې تاسو لار اُوموموئ".

پدې آیت کښې الله وائي: په قرآن کریم باندې منګولې اُولګوئ، څکه اختلاف ډیر ناکاره شے دے، کله کله خلق وائي: ددې مُلیانو خپل مینځ کښې اختلاف دے، یَو مُلا یَو څه وائي، بل مُلا بل څه وائي، یَو ځائے نه یَو شان آواز راځي، او بل ځائے نه بل شان آواز راځي، دین یَو دے، پیغمبر یَو دے، مذهب یَو دے، کتاب یَو دے، اسلام یَو دے، یو بیا ولې دومره اختلاف دے؟ مونږ ورته وایُو: اصل کښې تهٔ د حقیقت نه خبر نهٔ ئې، تا خو صرف دیته وکتل چې دا هم مُلا دے، او دا بل هم مُلا دے، د یَو هم سپینې کپړې دې، او د بل هم سپینې کپړې دې، تا صرف ظاهرې شکل ته وکتل، تا حقیقت ته ونهٔ کتل چې دا یَو مُلا د کوم ځائے نه خبره کوې، او دا بل مُلا د کوم ځائے نه خبره کوې، اتفاق خو د الله کتاب سره راځي، کله چې یَو سړے د الله د کتاب خبره کوې نو دې سره اتفاق راځي، عوام خو نهٔ پوهیږي، نو هغوي وائي: هر

(1) [سورة آل عمران: 103].

مُلا د قرآن کريم نه لکيا دے؛ ځکه مخې ته قرآن کريم پروت وي، چې حقيقت کښې سرے د قرآن نه بيان کوې نو بيا اختلاف نهٔ راځي؛ ځکه الله وائي: "قرآن کريم باندې تول منکولې ولکوئ، او د قرآن کريم بيان کښې د چا لحاظ مهٔ کوئ".

د قرآن پيغام خلقو ته رسَول

الله رب العزت خپل پيغمبر ته وائي: ﴿يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾.[1]

"اے زما پيغمبره! اُورسوه خلقو ته هغه مسئلې کومې چې تاته د الله د طرف نه نازلې شوې دي، او کهٔ تا دا کار اُونکړو، نو تا زما اَحکامات ونهٔ رَسوَل خپل رسالت دے ونهٔ رسَوَلو". يا الله! دا خو ډير کران کار دے، الله فرمائي: ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ "الله به تا د خلقو نه بچ کوي".

نبي ﷺ فرمائي: «العُلَمَاءُ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ».[2]

"علماء د اَنبياؤ وارثان دي". نو د علماؤ کار به دا وي چې الله کوم اَحکامات نازل کړي دي، دا به خلقو ته رسَوي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر د چا نيته نشې رامخکښې کولے، او نهٔ د چا رزق کمولے شي. ﴿قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا﴾.[3]

"ورته اُووايه چې هغه تکليف به رارسي کوم تکليف چې الله مقرر کړے دے". که پهٔ دين باندې مرګ وے، نو شيخ القرآن علامه محمد طاهر ﷫ به پهٔ خپل مرګ نهٔ وے مړهٔ شوے، څومره ځله قاتلانه حملې پهٔ هغهٔ باندې شوې وي، څومره خلقو د هغهٔ د قتل بندوبستونه کړي دي، ليکن هغه پهٔ خپل مرګ مړهٔ دے. مقصد

(1) [سورة المائدة: 67].

(2) [رواه الترمذي، رقم: (2682)، وأبو داود، رقم: (3641)].

(3) [سورة التوبة: 51].

زما د خبرې دا دے: چې انقلاب د قرآن کريم سره راځي.

نجاشي بادشاه کښې د قرآن کريم د وجې نه انقلاب

هغه نجاشي بادشاه چې لا مسلمان شوے نۀ دے، د قرآن کريم د آوريدو سره خومره انقلاب پۀ هغۀ کښې راځي، کله چې صحابه کرام رضي الله عنهم حبشې ته هجرت أوکړو، د مکې مشران او کافران راجمع شول، وائي: دا صحابه خو هلته لاړل، دوي به هلته ځان له ملګرې پيدا کړي، او ځان به مضبوط کړي، او بيا به مونږ باندې حملې کوي، ځان سره ئې ډالۍ تيارې کړې، او نجاشي بادشاه ته ئې ډالۍ أوليږلې، څۀ کسان ئې مقرر کړل، چې تاسو ورشئ او نجاشي بادشاه ته أووايئ چې ستا دې ملک ته څۀ کسان راغلي دي، د خپل پلار نيکۀ طريقه او دين ئې پريښودے دے، او ستا ملک ته راغلي دي، زمونږ دين هم نۀ مني، او د عيسى عليه السلام دين هم نۀ مني، د خپل ملک نه ئې أوباسه، چې مونږ ئې د ځان سره واپس بوځو، نجاشي بادشاه ورته اووئيل: دا کسان ما ته پيش کړئ، چې دا څنګه خلق دے، صحابه کرام رضي الله عنهم راغلل، سيدنا جعفر طيار رضي الله عنه هم پکښې دے، (دوي چې کله راغلل، نو هغۀ خو نجاشي بادشاه وو، د عيسى عليه السلام مذهب والا وو، خو چونکه دغه وخت کښې خو هغوي د عيسى عليه السلام هغه طريقې هم پريښودې وې، خو عيسايان خو وو، نو هغې بادشاه ته به خلقو سجدې کولې، دغه د عربو کوم خلقو چې تلے وو، هغوي ورته هم سجدې أوکړې، دغه صحابه کرام رضي الله عنهم چې کله راغلل، نو هغوي نجاشي بادشاه ته سجده أونکړه، دغه شان نيغ راغلل، او د هغۀ مخې ته أودريدل، او سجده ئې ورته أونکړه)، دوي ورته اووئيل: أوګوره جي! دا څومره بے آدبه دي، څومره غريبانان دي، او ستا ملک کښې أوسيږي، او بيا هم تاته سجده نۀ کوي، بادشاه ورته وائي: دا سجده مو ولې أونکړه؟ هغوي ورته اووئيل: ددې نه مخکښې

زمونږ دا سَر به وُني ته هم ښکته کيدو، دا سَر به کتې ته هم ښکته کيدو، هر شي ته به ښکته کيدلو، د کتو عبادت مونږ کولو، د وُنو عبادت مونږ کولو، مونږ ته الله پيغمبر رالُوليږلو، او هغه مونږ ته اووئيل: چې د يَو الله عبادت اُوکړئ؛ بيا هغې سردارانو نجاشي بادشاه ته اووئيل: چې دوي د سيدنا عيسى ﷺ منكر دي، بادشاه ترې تپوس اُوکړو، صحابه کرامو ورته اووئيل: چې مونږ راتلو نو اُوس يَو سورت راغے، سورت مريم: ﴿كهيعص ۝ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا ۝ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا ۝ قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُن بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا﴾.[1]

دا ئې شروع کړو، نجاشي بادشاه چې د سورة مريم تلاوت واوريدو، نو د نجاشي بادشاه د سترګو نه اُوښکې روانې شوې، او د هغۀ د پادريانو د سترګو نه هم اُوښکې روانې دې. (داسې انقلابي کتاب دے). او د مکې هغه مشرکانو ته وائي: چې دوي زما پۀ ملک کښې کوم ځائے کښې چې ګرځي نو دوي آزاد دي، دوي زۀ د خپل ملک نه نۀ اُوباسم، او وائي: زۀ پوهه شوم چې دا کتاب او کوم کتاب چې پۀ عيسى ﷺ باندې نازل شوے وو يَو ذات راليږلي دي. نجاشي بادشاه باندې د قرآن اوريدو انقلاب راوستو، او بيا هغه وروستو مسلمان شوے دے؛ ځکه نبي ﷺ پۀ هغه بان دې غائبانه جنازه کړې وه.

اوس هم بعضې خلق راپاسي، وائي: مونږ غائبانه جنازې کوو، ولې؟ وائي: نبي ﷺ چې نجاشي بادشاه باندې غائبانه جنازه کړې وه، هغه خو د نبي ﷺ معجزه وه، داسې بل يَو کس اُوښايئه چې نبي ﷺ پۀ هغه باندې غائبانه جنازې کړې وي، صرف نجاشي بادشاه مړ شو وو؛ نورو ځايونو کښې صحابه کرام مړۀ شوي نۀ دي؟ هغه نبي ﷺ ته معجزتًا الله مخې ته راوړے وو، دا بغير د نجاشي نه نبي ﷺ د چا غائبانه

---

(1) [سورة مريم: 1-4].

جنازه نهٔ ده کړې، غائبانه جنازه عمر فاروق ﷺ نهٔ ده کړې، ابو بکر صدیق ﷺ نهٔ ده کړې، صحابه کرامو کښې چا غائبانه جنازه نهٔ ده کړې.

نو مقصد دا دے کهٔ پو سرے وائي: چې پدې ملک کښې انقلاب راشي، پدې خلقو کښې انقلاب راشي.

لکه اوس خلق نوې نوې ایجادات کوې، خو دا خبره یاد اُوساتئ! چې بغیر د قرآن نه پهٔ بل کتاب انقلاب نهٔ راځي، د انقلاب دپاره واحد د الله کتاب او سنت د نبي ﷺ کافي دې. ددې دپاره خلقو مختلفې طریقې اُوکړې، چا وئیل: چې د حکومت نه به انقلاب راشي، ګُرسو ته اُورسیدل، حکومت ته اُورسیدل، خو لیکن قرآن پاتې شو، انقلاب پهٔ خلقو کښې رانغلے، هغه خلق چې د هغوې د اول نه مشن د قرآن وو، شیخ القرآن علامه محمد طاهر ﷺ چې اول ئې وړُو ماشومانو ته قرآن شروع کړے وو، او هغوې باندې ئې قرآن کریم یاد کړے وو، اُوس هم د هغوې مشن قرآن کریم دے، ان شاء الله تر مرګه پورې به زمونږه مشن قرآن کریم ئې. الله دې مونږ او تاسو پدې خپل مشن بر قرار اُوساتې.

اوس کوم خلق چې د قرآن کریم نه مخ اَړوې، د قرآن کریم نه اِعراض کوې، قرآن کریم ته شاه کوې، نو د هغه خلقو څهٔ حال دے؟ پدې دُنیا کښې هم ذلیل او رسوا دې، او آخرت کښې خو خود ذلیل او رسوا دې.

نن چې دا مسلمانان دومره پهٔ ذلت او دومره پهٔ ښکته راروان دې، دا ولې؟ یا خو هغه دُور وو، چې درې سوه دیارلس صحابه کرام رضي الله عنهم پهٔ تمامه دُنیا کښې د هیچا نه نهٔ یریږې، د زرو کافرانو سره جنګیږې، او د چا نه نهٔ یریږې، او هغوې ته فتح میلاویږې، یا خو هغه دُور وو، چې د مسلمانانو یَو اَدنیٰ اَمیر بادشاه ته مخامخ ولاړ دے، او هغهٔ ته وائي: "أَسْلِمْ تَسْلَمْ" اسلام رواړه، بچ به شې کنې مونږ

صحابه کرامو تا باندې حمله کوو، یا خو هغه دور وو، چې مسلمانانو به کافرانو ته خطونه لیږل چې اسلام راوړئ کنې خیر مو نشته، او یا هغهٔ دُور راغے چې مسلمانانو باندې غیر مذهبه دباؤنه کوې، چې د خپلې خبرې نه واپس شئ، کنې ستاسو خیر نشته، څوک د قرآن درس بندوې، وائي: ددې نه شر جوړیږي، څوک احادیث بندوې، وائي: ددې نه شر جوړیږي، حق څوک نهٔ شې وئیلے، هر سړے یریږي، وجه څهٔ ده؟ اصل وجه دا ده: چې مونږ د الله کتاب پریښودے دے، دا مونږ یَو رَواجې غوندې کتاب کرځولے دے، نو زمونږ د زړونو نه هغه انقلاب ختم شوے دے، زمونږ د زړونو نه هغه جذبه ختمه شوې ده، ددې وجې نه غیر مذهبه مونږ باندې غُصې کوې، غیر مذهبه مونږ باندې ځان زُورَور حسابوې، کچرې یَو مسلمان خپله سینه کښې قرآن وردننه کړو، او ددهٔ عقیده او عمل د قرآن کریم مطابق برابر شول، یاد ساتئ! مسلمان به چرته هم د کافرانو نه ونهٔ یریږي. الله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ﴾.[1]

"الله وائي: چا چې زما د کتاب نه مخ واړولو، یقینًا د هغهٔ زندګي به ډیره زیاته تنګه وي"، یَو معنی خو علماء کرام دا کوې چې "د دُنیا دا زندګي به ئې ډیره زیاته تنګه وي"، چرته به ورته سُکون نهٔ میلاویږي، چرته به ورته راحت نهٔ میلاویږي، ولې چې د الله کتاب ئې پریښودو، الله به دهٔ باندې دا ټوله زندګي تنګه کړي. دُنیا کښې به ورته سُکون نهٔ میلاویږي؛ څکه چې حدیث قدسي دے، نبي ﷺ فرمائي: چې الله فرمائي: «يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، وَإِلاَّ تَفْعَلْ مَلأْتُ يَدَيْكَ شُغْلاً وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ».[2]

---

(1) [سورة طٰهٰ: 124].

(2) [رواه الترمذي، رقم: (2466)].

"اے بني آدمه! ته زما عبادت ته ځان اُوزګار کړه، زما عبادت ته ځان فارغ کړه، زهٔ به ستا سينه د مالدارۍ نه ډکه کړم، او ستا فقر او غريبي به ختمه کړم".

کهٔ ظاهرًا درسره مال نهٔ وي، ظاهرًا درسره دولت نهٔ وي خو ستا سينه کښې به ما داسې اِستغناء کيښودې وي، ستا به هيچا ته ضرورت نهٔ راځي، ستا سترګې به مړې وي، ستا زړه کښې به صبر او قناعت پيدا کړم، لږ مال کښې به ستا دپاره ډير خير او برکت واچوم، او کچرې داسې کار دې اُونکړو، نو لاس به دې د کار نه نهٔ خالي کوم، او ستا غريبي به هم نهٔ ختموم، زړهٔ او سترګې به دې دغه شان اوږې وي.

دا څوک چې دُنيا کښې ډير مُستغرَق (ورډوب) دې، چې نهٔ مونځ ته اُوزګاريږي، او نهٔ قرآن ته اُوزګاريږي، دا ئې الله نهٔ اُوزګاروې، سحر به هم لګيا وي، ماښام به هم لګيا وي، چرې به هم دے موړ نهٔ شي. تهٔ د الله دين ته ځان اُوزګار کړه، الله به رزق درکوې، د دُنيا ګټل ناجائز نهٔ دې، دُنيا ګټه، خو داسې مهٔ کوه چې د دين او دُنيا مقابله راځي، دين پريدې او دُنيا پسې ځې، داسې کوه چې دُنيا هم ګټه، او دين هم ګټه، خو چې کوم ځائے کښې د دوارو مقابله راځي، نو بيا به دُنيا پريدې او دين به اخلې، نو دُنيا به دې هم ښهٔ وي، او آخرت به دې هم ښه وي، او کهٔ چرې دغسې نهٔ وي، نو دُنيا دې هم تباه ده، او آخرت دې هم تباه دے.

قال الشاعر:

نرقع دنيانا بتمزيق ديننا   فلا ديننا يبقى ولا ما نرقع[1]

يو شاعر وائي: مونږ دُنيا ته پيوند اُولکولو پهٔ پيوند کولو د دين باندې چې د دُنيا تقاضا راشي، نو دين نه لږه ټکړه جدا کړو، او دُنيا ته ئې اولګوو، دين مو هم تباه کړو، اوآخرت مو هم تباه کړو، نهٔ راسره دين باقې پاتې شو، او نهٔ راسره دُنيا باقې پاتې شوه.

[1] [روح البيان تحت آية سورة الأعراف: 41].

الله رب العزت فرمائي: ﴿وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ﴾.[1]

"نۀ دے ژوند د دُنیا مګر څکه ده دهوکې ده".

د دُنيا مثال

د دُنيا داسې مثال دے، يَو سړے اُودۀ دے، او پۀ خوب کښې لُوئ لُوئ بادشاهۍ اوليدلې، اُوچت اُوچت محلات ئې اُوليدل، کله پکښې ګدا شي، او کله پکښې بادشاه شي، نو چې را وِيخ شي، نو بيا هيڅ شے نۀ وي، نن درسره مال دولت شته، يَو څو ورځې پس به درسره هيڅ شے نۀ وي.

يَو سړي خوب ليدلے وو، غوا ئې لاس کښې نيولے ده، ميله کښې ولاړ دے، يَو سړے ورپسې راغے، او ورته وائي: دا غوا پۀ څو خرڅے؟ نو دۀ ورته اُووئيل: دا په اَتلَس زره خرڅوم، هغۀ ورته اووئيل: نه کۀ پۀ پنځلَس زره ئې راکوې، نو ښۀ ده، کني نۀ ئې اَخلم، دے ورته وائي: نه پوره پۀ اَتلَس زره ئې خرڅوم، د دواړو خبرې شروع دې، پدې کښې د خوب نه راپاسيدو، نۀ غوا شته، نۀ مالک شته، نۀ پيسے شته، ده بيا سترګې پټې کړې، او ځان سره وائي: دغه پنځلَس زره روپۍ راوړه، دغه هم ډيرې دې، نو هغه چرته وي؟ د دُنيا دغه مثال دے، نن به درسره هر څۀ وي، صبا به درسره هيڅ نۀ وي.

پنځۀ څيزونه غنيمت ګڼکښې د پنځو نه

رسول الله ﷺ فرمائي: «اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ» "پنځۀ څيزونه غنيمت اُوګڼړه ګڼکښې د پنځو نه":

(1) يَو «شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ»: "ځوانې غنيمت اُوګڼړه ګڼکښې د بوډا والې نه". الله دريابدې داسې دُور راوستے دے، چې لاس دې روغ دې، خپې دې روغې دې، غوږونه

(1) [سورة آل عمران: 185].

دي روغ دي، تول بدن دي روغ دے، پدې ځوانۍ کښې د الله د دين خدمت اُوکړه، هسې نهٔ چې بوډا شې، او بيا آرمانونه کوې، بيا به در نه وخت تلے وي، دا ځواني صرف الله د دُنيا دپاره نهٔ ده درکړې، پدې ځوانۍ کښې د الله د دين خدمت اُوکړه.

(2) دويم «وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ»: "خپل صحت غنيمت اوکنړه مخکښې د بيمارۍ نه"، بدن دي روغ دے، پدې روغ بدن د الله د دين خدمت اُوکړه، بيا به کټ کښې پروت ئې، او آرمان به کوې چې هائے! الله چې زما بدن کښې دومره طاقت وے چې ستا د دين خدمت مې کړے وے، نو څومره به ښهٔ وے، نن درله الله روغ بدن درکړے دے، ددې روغ بدن شکريه اداء کړه.

(3) دريم «وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ»: "مالدارې ستا مخکښې غنيمت اُوکنړه د غريبۍ نه"، مال الله درکړے دے، د الله پهٔ دين ئې اُولګوه، صبا به بيا غريب ئې، او بيا به وائې: ما سره مال نشته کنې ما به د الله پهٔ دين باندې مال لګولے وے، اوس د الله پهٔ دين باندې مال اُولګوه.

(4) څلورم «وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ»: "فارغه ناسته ستا غنيمت اُوکنړه، مخکښې د مشغولتيا ستا نه"، داسې دُور به راشي چې فارغ وخت به درسره نهٔ وي، نو بيا به وائې: چې ډير زړهٔ مې کيږي، خو وخت به درسره نهٔ وي، ددې وجې نه د عربۍ معقوله ده: "لَا تَدْفَعَنَّ عَمَلًا عَنْ وَّقْتِهِ" "تهٔ يَو کار د خپل وخت نه مهٔ وروستو کوه"، د بل وخت دپاره، څکه کيدے شې، د هغه وخت دپاره داسې يَو کار وي، چې بيا هغې کښې بل کار وي، او دا کار هم تهٔ وروستو کړے، بيا به د ټولو کارونو طاقت نهٔ شې لرلے، د دين د کار دپاره خپل وخت مقرر کړه، او د دُنيا د کار دپاره خپل وخت مقرر کړه، نو دواړه به چليږي.

چې نن زمانه کښې هم يَو سړے څان جاهل پريدې، نو دا نهايت بدبخته انسان دے، او دا حجت پدې خلقو قائم شو، زنانو به وئيل: چې مونږ څنګه مسئله واورو،

الله رب العزت داسې آلات پيدا کړل چې په هر کور کښې نارينه او زنانه د قرآن درس آوريدے شي، الله د خلقو هغه عذر ختم کړو، چې ځان ته دي په درې ځلور سوه ريډيو واغستو، نو خپل کور کښې پرې د قرآن او حديث درس آوره، قيامت کښې څوک دا نۀ شي وئيلے چې الله زۀ ناخبره ووم. نو "فارغ وخت غنيمت اُوګنړه، مخکښې د مشغولتيا نه".

(5) «وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ»: "دا خپل ژوند غنيمت اُوګنړه مخکښې د مرګ خپل نه".[1]

د مرګ نه مخکښې نيک اعمال اوکړه، د الله کتاب زده کړه، او په هغې عمل اُوکړه، د الله د حکمونو تابعدارې اُوکړه، کنې مرګ به دربانديې راشي او بيا به آرمان کوې، چې يا الله! ما دُنيا ته واپس کړ، زۀ به ډير نيک عملونه اُوکړم، خو بيا دُنيا ته راتلل ګران دي.

رسول الله ﷺ فرمائي: «فَإِنَّكُمُ الْيَوْمَ فِي دَارِ الْعَمَلِ وَلاَ حِسَابَ وَأَنْتُمْ غَدًا فِي دَارِ الْآخِرَةِ وَلاَ عَمَلَ».[2]

"نن تاسو د عمل په ميدان کښې يئ، حساب کتاب درسره نشته، صبا به په داسې يَو مقام کښې يئ چې صرف حساب کتاب به کيږي، هلته نور عمل نۀ کيږي". نو کۀ دلته نيک اَعمال اُونکړې نو قبر کښې نيک اعمال نۀ کيږي، ميدان محشر کښې نيک اعمال نۀ کيږي، بيا به آرمانونه کوو، خو آرمان څۀ فائده نۀ ورکوي، د انسان دا ژوند ډير قيمتي دے، خو کۀ انسان پدې پوهه شو.

(2) دويمه معنی: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا﴾

الله وائي: "چا چې زما د کتاب نه مخ واړولو، د هغۀ د دُنيا دا ژوند به ډير زيات تنګ وي،" هيڅ خوشحالي به ورته مۀ ميلاويږي، مال او دولت به ډير وي، ليکن په

(1) [رواه الترمذي، رقم: (2333)].

(2) [رواه البيهقي في "شعب الإيمان"، رقم: (10132)].

هغې مال او دولت کښې به د هغهٔ دپاره څهٔ خوند او سُکون نهٔ وي.

يَو ځل ما سره يَو سړے جومات ته راغے، او ماته وائي: چې زهٔ انګلينډ، دوبئ او کويت ته تلے يم د مال دولت ما سره څهٔ کمے نشته، بچې مې شته ښځه مې شته، جائيداد مې شته، خو حيران پدې يم چې يَوځائے کښې ماته راحت او سُکون ميلاؤ نهٔ شو. نو چې ما د هغهٔ هغې حالت ته اُوکتل، نو يقيني چې د هغهٔ پهٔ هغه خبره ماته ډيره تسلّي ميلاؤ شوه، چې شکر دے، چې زهٔ د الله کور کښې ناست يم، او ښهٔ پهٔ مزو کښې يم.او بيا مې هغهٔ ته اووئيل: تا قرآن وئيلے دے؟ نو هغهٔ اووئيل: نا، نو ما ورته اووئيل: دا يَو کار اُوکړه، چې قرآن شروع کړه، او پابندئ سره مونځ شروع کړه، کهٔ ستا زړه کښې اِطمينان او خوشحالي رانغله نو بيا ماته اُووايه. چا چې د الله کتاب ته شاه کړې ده، د هغهٔ نه اِطمينان ختم شوے دے.

هغه لُوې لُوې مالداران خلق چې مال ئې زيات دے، جائيداد ئې زيات دے، هر حيثيت باندې ښهٔ ماړهٔ دي، ليکن سړے چې د هغوي حال اُوکورې، نو چې د شپې اُودهٔ کيږي، نو هغوي د نشې ګولئ اَچوي، زميندار سړے هغهٔ له د ماسخوتن پهٔ مونځ کښې خوب ورځي، د ماسخوتن پهٔ درس کښې خوب ورځي، او کوم چې سرمايه دار خلق دے، او دين سره ئې تعلّق نشته، د شپې دُولسو بجو پورې به ګپ لګوي خوب ورله نهٔ ورځي. اِطمينان چې حاصليږي دا د قرآن سره حاصليږي، دا د الله د تابعدارئ سره حاصليږي.

(3) دريمه معنى: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا﴾

الله وائي: "چا چې زما د کتاب نه مخ واړولو، زما کتاب ته ئې شاه کړه، د هغهٔ د قبر زندګي به ډيره تنګه وي". د قبر ژوند به ئې نهايت تنګ وي، دا قبر به پرې تنګ شي، دومره به پرې تنګ شي، تردې پورې چې د هغهٔ دا پوښتئ به يَو بل کښې ننوځي،

د قرآن د نهٔ وئیلو پهٔ وجه باندې قرآن کریم ته پهٔ شاه کولو باندې.

مشکوٰة شریف کښې د عذاب قبر باره کښې احادیث راځي:

رسول الله ﷺ فرمائي: "کله چې یَو انسان وفات شي، او قبر کښې کیخودلے شي، نوه فرشتې ورله هیبت ناک شکل کښې راشي، (یَو ته "نکیر" وائي، او بل ته "منکر" وائي) د دغه انسان نه تپوس کوي، ستا رب څوک دے؟ نو چې کله مسلمان بنده قبر کښې پروت وي، نو هغه مسلمان بنده جواب ورکوي، زما رب الله دے، بیا ترې هغه ملائک وائي: چې مونږ ته پته وه، چې تهٔ به مونږ ته داسې جواب راکوې، بیا ترې ملائک تپوس کوي: ستا دین څهٔ دے؟ هغه مسلمان بنده جواب ورکوي: زما دین اسلام دے، بیا ترې تپوس کوي: تهٔ د هغې سړي باره کښې څهٔ وائې: چې هغه تاسو کښې رالیږلے شوے دے، دے ورته وائي: هغه د الله پیغمبر وو، او د الله بنده وو، هغه ملائک ورته وائي: مونږ ته پته وه چې تهٔ به مونږ ته دغه شان جواب راکوې، (نو ملائک خنکه پوهه شول، چې تهٔ به مونږ ته داسې جواب راکوې؟ ملائکو ته پته دا وه، چې دا ملائک د انسان نه روح اِخلي، او نیک عمله انسان وي، نو د هغهٔ روح علّیّین ته ځي، او د بدعمله انسان روح سجین ته ځي، نو ملائکو ته د هغې وخت نه پته وه، کله چې ددهٔ روح علّیّین ته ځي، چې دا نیک عمله انسان دے)، نو ددهٔ نه تپوس کوي، چې تا دا دومره ښکلې ښکلې جوابونه چرته زده کړي وو؟ نو دغه مسلمان بنده به وائي: «قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُهُ» "ما د الله کتاب لوستے وو، او ما پهٔ هغې باندې ایمان راوړے، او ما ئې تصدیق کړے وو"، دا جوابونه ما د الله کتاب کښې زده کړي وو". نو د قرآن کریم د لوستلو سره انسان د قبر سوال جواب ورکولو کښې کامیابیږي.

"او چې کله يو بد بخته انسان مړ شي، کله يو کافر او مشرک انسان مړه شي، ملائک ترې تپوس کوي: ستا رب څوک دے؟ دے ورته وائي: ماته خو پته نشته، چې زما رب څوک دے، ملائک ترې تپوس کوي: ستا دين څۀ دے؟ دے ورته وائي: «هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي» "هائے هائے!!! ماته پته نشته، چې زما دين څۀ دے"؟ ملائک ترې تپوس کوي: چې تۀ ددې پيغمبر باره کښې څۀ وائې؟ دے وائي: ماته پته نشته، چې زما پيغمبر څوک دے؟؛ (څکه دے د الله د کتاب نه لرې وو، نو کله چې دغه ړومبے سرے پوره جوابونه ورکړي)، نو الله ملائکو ته وائي: زما دي بنده رشتيا اوونيل، ددۀ نه چې تاسو کوم تپوسونه اُوکړل، دا بالکل رِشتيا دي، لا ړې شئ او زما بنده له د جنت نه بستره راوړئ، او لاندې ئې ورته اُوغوړوئ، زما بنده د خاورو نه اُوچت کړئ، او د جنت بستره ورته خوره کړئ، دا قبر ورته کھولاؤ کړئ، او قبر ورته دومره کھولاؤ شي، څومره چې ددې مړي نظر لګي. او کله چې بدعمله انسان دے، او جواب ئې ورنکړو، نو الله فرمائي: زما دي بنده دروغ اوونيل، اے زما ملائکو! دۀ ته د جهنم د اُور نه يو بستره راوړئ، لاندې ئې ورته اُوغوړوئ، نو هغۀ له لاندې د جهنم د اُور بستره اُوغوړولے شي، الله رب العزت فرمائي: اے زما ملائکو! ورشئ ددۀ دپاره د جهنم د دروازو نه يو کھړکئ راکھولاؤ کړئ، او الله رب العزت وائي: دا قبر پرې راجوخت کړئ، قبر پرې راجوخت شي، تر دې پورې چې پوښتئ ئې يو بل کښې ننوځي"، او نبي ﷺ فرمائي: "کافر انسان باندې قبر کښې اَويا اژدهاګانې مسلط کړے شي، هغه ئې چيچي، کۀ هغۀ يوه اژدها دې دُنيا ته رابنکاره شي، او صرف پدې دُنيا باندې پوکے هم اُوکړي"، نو نبي ﷺ فرمائي: "پدې دُنيا کښې به چرې هم

شینکے را زرغون نهٔ شي".[1]

د نبي ﷺ د بې بې سیده عائشې ؓ کره یَو یهودنړه زنانه راغله، سیده عائشې ؓ ته وائي: الله دې تا د عذاب قبر نه محفوظ کړي، سیده عائشه ؓ فرمائي: چې نبي ﷺ راغے، ما ترې تپوس اُوکړو، دغې زنانه ماته دُعا اُوکړه، پهٔ دُعا کښې ئې راته اُووئیل: چې الله دې تا د عذابِ قبر نه اُوساتي، عذابِ قبر شته؟ نبي ﷺ اوفرمائیل: آؤ، د قبرِ عذاب حق دے.

مسلمان به عذابِ قبر مني؛ ځکه د صحیح احادیثو نه عذاب قبر ثابت دے، نو الله فرمائي: ﴿فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ﴾.[2]

"یقینًا د هغهٔ زندګي به ډیره زیاته تنګه وي، د قبر زندګي به ئې تنګه وي، چا چې د الله کتاب ته شا کړه، او پورته به کړو مونږه دهٔ لره پهٔ ورځ د قیامت ړوند". ﴿قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا﴾.[3]

"وائي: به دے، اے زما ربه! ولې دې را پورته کړو ما لره ړوند؟ پهٔ تحقیق سره ووم زهٔ لیدونکے، زما خو سترګې وې". ﴿قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنسَىٰ﴾.[4]

الله به ورته وائي: "اے زما بنده تاته دُنیا کښې زما آیاتونه راغلې وو، هغه تا

(1) [رواه أبو داود، رقم: (4753)، وأحمد في "مسنده"، رقم: (18534)].

(2) [سورة طه: 124].

(3) [سورة طه: 125].

(4) [سورة طه: 126].

پرېښودي وو، دا رنګه نن ته پرېښودلے شوې زما د رحمت نه"؛ ځکه تا زما آياتونه پرېښودي وو.

چې چا دُنيا کښې د الله کتاب ته شا کړې ده، دُنيا ئې ذليله ده، او آخرت ئې هم تباه او برباد دے، او چا چې د الله کتاب باندې خپله زندګي جوړه کړې ده، دُنيا کښې هم نيک بخته دے، او آخرت کښې به هم نيک بخته وي. الله دې د عمل کولو توفيق راکړي.

(وَآخِرُ دَعْوٰنَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

ادارة الكتابة والتوزيع
كاتب: ابو عبد الله ضياء الرحمن الحنفي
0307-5134893

اختتام كتابة الحروف: بتاريخ: 2020/01/30ء، بمطابق: 05/جمادى الأول/1441هـ بوقت: 12:30م